باسمه تعالی

وَاَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّٰهِ

او حج عمره الله‌تعالی دپاره پوره کړی

لدنوي زیاتونو سره

ښپږم چاپ

معراج الحجاج والمعتمرین

پښتو

مؤلف

ابوالولی الحاج مولوی گل رحمٰن حقانی

المهاجرمدنی مدظله العالی

فاضل دارالعلوم حقانیه اکوړه خټك



لومړی فصل
دحج فضائل
اوآداب


دوهم فصل
دحج
مسائل

دریم فصل
دپوره حج اداکولو
ترتیب اومناسك

څلوم فصل
دعمری فضائل
او مسائل

پنځم فصل
ددیار حبیب ﷺ
سفراوزیارت





ناشر

مکتبه فاروقیه
محله جنگی پشاور پېښور

مکتبه اشرفیه
محله جنگی پېښور

مکتبه رشیدیه
هنگو

دکتاب نوم : معراج الحجاج والمعتمرين پښتو

مؤلف نوم : ابوالولي الحاج مولوي ګل الرحمن حقانی
المهاجر مدنی مدظله العالی

نظرثانی: مولوی نورالله وفاء

کمپوزنګ چاری: مولوی نورالله وفاء،اوابوسعید الحاج
مولوی فضل الرحمن (فضلی)

مالی همکار : الحاج مولوی عبدالغنی المهاجرمدنی

زیراهتمام : ابوعطاءالرحمن قاری مجیب الرحمن(مدنی)

تعداد : (۱۰۰۰)

چاپ : شپیږم


دچاپ کال:/۱۰/جمادی الاول/۱۴۳۴/هـ ق/الموافق/۱حمل۱۳۹۲هـ ش/الموافق/۲۱/۳/۲۰۱۳ء

ناشر:
مکتبه فاروقیه،مکتبه اشرفیه،محله جنګی پشاور،مکتبه رشیدیه هنګو

باسمه تعالى

وَأتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّٰهِ ط

اوحج اوعمره الله تعالى دپاره پوره کړی



﴿ شپږم چاپ ﴾

له نويو زيادتونو سره

مؤلف

ابوالولي الحاج مولوي ګل الرحمن حقانی المهاجر مدنی مدظله العالي

فاضل دارالعلوم حقانیه اکوړه ختک

لومړی فصل:- دحج فضائل اوآداب

دوهم فصل: دحج مسائل

دريم فصل: د پوره حج اداکولو ترتيب اومناسک

څلورم فصل: دعمری فضائل اومسائل

پنځم فصل:دد يارحبيب صلى الله عليه وسلم سفراوزيارت

ناشر:

مکتبه فاروقيه،مکتبه اشرفيه،محله جنګی پشاور،مکتبه ...

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿ د معراج الحجاج والمعتمرين دمضامينوفهرست ﴾

{مضامين .... صفحه}

﴿فهرست مضامين﴾.........(أ)

﴿تقريظات﴾.........(ض)

﴿دناشرتحليل ﴾ .... (غ)

﴿خطبه ﴾......... ....(۱)

{لومړى فصل:- دحج فضائل اوآداب }.........(۲)

﴿لومړى بحث:- ترغيب وتشويق﴾.........(۲)

﴿الف:- قرآن كريم دمباركو آياتونو توضيح﴾.........(۲)

﴿ب:- ديوجامع حديث شريف توضيح﴾.........(۸)

﴿ج :- دسلف صالحينو رحمهم الله تعالى آثار﴾.........(۱۱)

﴿دوهم بحث :- ترهيب وزورنه﴾.........(۱۳)

﴿الف :- د قرآن كريم يوآيت شريف توضيح﴾.........(۱۳)

﴿ب :- ديو مبارک حديث شريف توضيح﴾.........(۱٦)

﴿ج :- دسلف صالحينو رحمهم الله تعالى آثار ﴾.........(۱۸)

﴿دريم بحث:- د حج آداب اودحج اجمالي ترتيب﴾ ....(۱۹)

﴿الف:- د حج مهمو ادابو توضيح﴾......... .. ...(۱۹)

﴿ب:- دحج اجمالي ترتيب﴾.........(۳۱)

﴿۱ - داحرام تړلو طريقه﴾......... . . ..(۳۱)

﴿۲- د تلبيه ويلو ترتيب﴾.........(۳۲)

﴿ ۳- حرم شريف ته د داخلېدو اداب﴾.........(۳۳)

﴿۴- د طواف کولو طریقه﴾.................(۳۴)

﴿۵- د طواف دوور کعتونو ادا کولو ترتیب﴾.................(۳۶)

﴿٦- دسعی کولو طریقه﴾.................(۳۷)

﴿۷- دذی الحجې په اتم تاریخ منی د تللو ترتیب﴾.................(۳۸)

﴿۸- د منی نه عرفات ته د تللو ترتیب﴾.................(۳۹)

﴿۹- دعرفات نه مزدلفې ته دراستنیدلو ترتیب﴾.................(۴۱)

﴿۱۰- له مزدلفې څخه منی ته دروانیدلو ترتیب﴾.................(۴۲)

﴿۱۱- دجمرې عقبې ویشتلو طریقه﴾.................(۴۲)

﴿۱۲- دقربا نی کولوطریقه﴾.................(۴۳)

﴿۱۳- د حلق اوقصر کولوطریقه﴾.................(۴۴)

{دوهم فصل: دحج مسائل}.................(۴٦)

﴿لومړی بحث: د حج شرائط﴾.................(۴٦)

﴿الف :- دحج واجب کیدو شرطونه﴾.................(۴٦)

﴿ب:- دحج دوجوبِ آدا شرطونه﴾.................(۴۷)

﴿ج:- دحج دصحیح کیدو شرطونه﴾.................(۴۸)

﴿د:- دحج دفرضیت ساقط کیدوشرطونه﴾.................(۴۹)

﴿دوهم بحث: د حج په اړوند مهم مسائل﴾.................(۵۰)

﴿دریم بحث: د حج ارکان، واجبات، اوسنتونه﴾.................(۵٦)

﴿الف :- د حج فرضونه﴾.................(۵٦)

﴿ب:- د حج واجبات﴾.................(۵۷)

﴿ج:- د حج سنتونه﴾.................(۵۹)

﴿د:- ددریم بحث متعلقه مسائل﴾.................(۵۹)

﴿څلورم بحث: د حج ډولونه﴾.................(٦۲)

﴿الف:- د حج تمتع بیان﴾.................(٦۳)

﴿۱:- د حج تمتع تعریف﴾............ ....(٦٣)
﴿۲ :- د حج تمتع د صحت شرطونه﴾.........................(٦٣)
﴿۳:- د حج تمتع مناسک﴾.......... .. ..(٦٥)
﴿۴:- د حج تمتع ارکان﴾........... ....(٦٥)
﴿۵:- د حج تمتع واجبات﴾........... .. ..(٦٥)
﴿٦:- دحج تمتع سنتونه﴾........ ....(٦٦)
﴿فائده عامه﴾............. ....(٦٦)
﴿ ب:- د حج قران بیان ﴾.......... ....(٦٦)
﴿۱:- د حج قِران تعریف﴾..................................(٦٦)
﴿۲:- د حج قِران صحت شرطونه﴾..............................(٦٧)
﴿۳:- د حج قران شرط﴾............ ....(٦٧)
﴿۴:- د حج قران ارکان﴾.......... ....(٦٨)
﴿۵:- د حج قِران واجبات﴾....................................(٦٨)
﴿٦:- د حج قِران سنتونه﴾........... ....(٦٨)
﴿۷:- د حج قِران مستحبات﴾....................................(٦٩)
﴿۸:- دحج قِران مکروهات﴾....................................(٦٩)
﴿۹:- د حج قران جنایات﴾......................................(٦٩)
﴿ ج:- د حج افراد بیان ﴾......................................(٦٩)
﴿ ۱:- د حج افراد تعریف﴾............ ....(٦٩)
﴿۲:- دحج افراد شرط﴾...(۷۰)
﴿۳:- دحج افراد ارکان﴾..(۷۰)
﴿۴:- دحج افراد واجبات﴾......................................(۷۰)
﴿۵:- د حج افراد سنتونه﴾......................................(۷۰)
﴿ د:- حج بدل بیان ﴾..(۷۱)

﴿ ۱:– حج بدل تعریف﴾........................(۷۱)
﴿۲:– دحج بدل شرطونه﴾........................(۷۱)
﴿۳:– د حج بدل دصحت شرطونه﴾........................(۷۲)
﴿ هـ:– د څلورم بحث متعلقه مسائل﴾........................(۷۲)
﴿۱:– دحج بدل ضروري مسائل﴾........................(۸۰)
﴿ ۲:– داحصارضروري مسائل ﴾........................(۸۸)
﴿ ۳:– دحج فوت کیدوضروري مسائل﴾........................(۹۳)
﴿ ۴:– دمیقات ضروزي مسائل ﴾........................(۹۴)
﴿فائده نافعه ﴾........................(۹۶)
{ دريم فصل: د پوره حج اداکولو ترتیب اومناسک }........................(۹۷)
﴿اول بحث: داحرام بیان﴾........................(۹۷)
﴿الف):– داحرام تړلوترتیب﴾........................(۹۷)
﴿ب): داول بحث متعلقه مسائل ﴾........................(۱۰۰)
﴿ دوهم بحث: داحرام احکام ﴾........................(۱۰۱)
﴿الف) احرام دصحیح کیدو شرطونه﴾........................(۱۰۱)
﴿مسائل متعلقه﴾........................(۱۰۲)
﴿ب): داحرام واجبات﴾........................(۱۰۲)
﴿ج) – داحرام سنن﴾........................(۱۰۳)
﴿د) – داحرام مستحبات﴾........................(۱۰۳)
﴿ه) داحرام مباحات﴾........................(۱۰۴)
﴿ مسائل متعلقه ﴾........................(۱۰۵)
﴿و) – داحرام ممنوعات﴾........................(۱۰۷)
﴿ز) – داحرام مکروهات﴾........................(۱۰۸)
﴿مسائل متعلقه، اودجنایاتو مهم احکام ﴾........................(۱۰۸)

﴿اول:- دواجب شوی دَمْ د صحت شرطونه﴾.........(۱۱۹)
﴿دوهم:- دواجب شوې صد قې دصحت شرطونه﴾.........(۱۲۳)
﴿دريم:- دواجب شوې روژې دنيولو شرطونه﴾.........(۱۲۴)
﴿دجناياتومتفرقه مسائل﴾.........(۱۲۵)
﴿فائده نافعه : دجنايتومهم قواعد﴾.........(۱۳۹)
﴿دريم بحث:-مکی مکرمی اومسجد حرام ته دداخليدلوطريقه﴾.........(۱۴۲)
﴿الف :- دداخليد لو آداب﴾.........(۱۴۲)
﴿ب:- ددعا قبليدو ځايونه﴾.........(۱۴۵)
﴿ج:- دحرم شريف حدود﴾.........(۱۴۶)
﴿د:- دحرم شريف دوه مبارک ځايونه﴾.........(۱۴۹)
﴿۱) - حجراسودمبارک﴾.........(۱۴۹)
﴿۲) مقام ابراهيم عليه السلام﴾.........(۱۵۱)
﴿هــ:- ددريم بحث متعلقه مسائل﴾.........(۱۵۲)
﴿څلورم بحث:- د طواف بيان﴾.........(۱۵۵)
﴿الف:- د طواف طريقه﴾.........(۱۵۵)
﴿ب:- د طواف ارکان﴾.........(۱۶۰)
﴿ج:- د طواف شرائط﴾.........(۱۶۰)
﴿د:- د طواف واجبات﴾.........(۱۶۰)
﴿هــ:- د طواف سنن﴾.........(۱۶۱)
﴿و:- د طواف مستحبات﴾.........(۱۶۱)
﴿ز:- د طواف مباحات﴾.........(۱۶۲)
﴿ح:- د طواف محرمات﴾.........(۱۶۲)
﴿ط:- د طواف مکروهات﴾.........(۱۶۳)

﴿پنځم بحث:- دطواف اوو(۷) قسمونوبيان ﴾
﴿الف:- دطواف قدوم احکام﴾..........(۱۶۴)
﴿۱) دطواف قدوم فرائض﴾..........(۱۶۴)
﴿۲) دطواف قدوم واجبات﴾..........(۱۶۴)
﴿۳) دطواف قدوم سنن ﴾..........(۱۶۴)
﴿۴) دطواف قدوم مستحبات﴾..........(۱۶۵)
﴿ب:- دطواف زيارت احکام﴾..........(۱۶۵)
﴿ج: - د طواف صدر احکام﴾..........(۱۶۶)
﴿د:- طواف نذري احکام﴾..........(۱۶۶)
﴿هـ:- د طواف عمرى احکام﴾..........(۱۶۷)
﴿و:- د طواف تحيه احکام﴾..........(۱۶۷)
﴿ز:- د طواف نفلي احکام﴾..........(۱۶۷)
﴿د پنځم بحث: - متعلقه مسائل﴾..........(۱۶۸)
﴿ طواف کې د ځينوحجاجوکراموخطاګاني﴾..........(۱۶۸)
﴿شپږم بحث: - دسعى بيان﴾..........(۱۷۵)
﴿الف :- دسعى کولوطريقه﴾..........(۱۷۷)
﴿ب:- دسعى صحت شرائط ﴾..........(۱۷۷)
﴿ج:- د سعى واجبات﴾..........(۱۸۰)
﴿د:- د سعى سنن﴾..........(۱۸۱)
﴿هـ :- د سعى مستحبات﴾..........(۱۸۱)
﴿ و:- د سعى مباحات﴾..........(۱۸۱)
﴿ ز:- د سعى مکروهات ﴾..........(۱۸۲)
﴿ ح:- د حج خطبې﴾..........(۱۸۲)
..........(۱۸۲)

﴿شپږم بحث متعلقه مسائل﴾..........(۱۸۳)
﴿سعی کې د ځینو حاجیانو صاحبانو خطاګاني﴾..........(۱۸۴)
﴿ اوم بحث: د حج پنځو ورځو احکام﴾..........(۱۸۶)
﴿ الف:- دحج اولي ورځي احکام﴾..........(۱۸۶)
﴿ب:- دحج دوهمي ورځي احکام﴾..........(۱۸۷)
﴿۱- دوقوف عرفی طریقه﴾..........(۱۸۷)
﴿ ۲- دوقوف عرفی دعاګاني﴾..........(۱۹۰)
﴿۳- دجمع تقدیم شرطونه﴾..........(۱۹۸)
﴿ج:- دوقوف عرفې صحت شرطونه ﴾..........(۱۹۹)
﴿د:- دوقوف عرفی واجبات ﴾..........(۲۰۰)
﴿هـ :- دوقوف عرفی سنن ﴾..........(۲۰۰)
﴿و :- دوقوف عرفې مستحبات﴾..........(۲۰۰)
﴿ ز:- دوقوف عرفې مکروهات﴾..........(۲۰۱)
﴿ ح :- وقوف عرفه کې دځینې حاجیانو خطاګاني﴾..........(۲۰۲)
﴿اتم بحث:-عرفا ت نه مزدلفې ته دروانیدلومناسک﴾..........(۲۰۳)
﴿الف: - دعرفات نه مزدلفې ته د ستنید لو ترتیب ﴾..........(۲۰۳)
﴿ب:- دجمعه تاخیر شرائط ﴾..........(۲۰۴)
﴿ج: - وقوف مزدلفې د صحت شرطونه﴾..........(۲۰۶)
﴿ د:- دوقوف مزدلفې سنن﴾..........(۲۰۶)
﴿ هـ :- دوقوف مزدلفې مستحبات ﴾..........(۲۰۷)
﴿و:- دوقوف مزدلفې لازم دم جنایات﴾..........(۲۰۷)
﴿ ز:- مزدلفې ته په راستنیدوکې دځینې حاجیانو خطاګاني﴾..........(۲۰۸)
﴿ نهم بحث: دحج دریمی ورځې احکام﴾..........(۲۰۹)
﴿ الف:- له مزدلفې څخه منی له د روانیدلو ترتیب﴾..........(۲۰۹)

﴿ب:- دجمرې عقبې ويشتلو طريقه﴾.......................(۲۱۱)
﴿ج:- دجمروويشتلو صحت شرطونه﴾.......................(۲۱۳)
﴿د:- دجمروويشتلو مكروهات﴾.......................(۲۱۴)
﴿هـ:- دجمرو ويشتلو لازم دم جنايات﴾.......................(۲۱۵)
﴿و:- دجمرو په ويشتلو كې د ځينې حاجيانو خطاګانې﴾.......................(۲۱۵)
﴿لسم بحث :- د قربانى احكام﴾.......................(۲۱۷)
﴿الف:- دقربا نى طريقه﴾.......................(۲۱۸)
﴿ب:- دقربانى صحت شرطونه﴾.......................(۲۱۸)
﴿فائده نافعه﴾.......................(۲۲۰)
﴿يولسم بحث:- دسرخريلواوكمولواحكام﴾.......................(۲۲۲)
﴿الف:- دسرخريلواوكمولوطريقه﴾.......................(۲۲۲)
﴿ب:- دسرخريلواوكمولولازم دم جنايات﴾.......................(۲۲۳)
﴿ج:- دسرپه خريلواوكمولوكې دځينې حاجيانو خطاګانې﴾.......................(۲۲۴)
﴿دولسم بحث:- دطواف زيارت احكام﴾.......................(۲۲۶)
﴿الف:- د طواف زيارت طريقه﴾.......................(۲۲۶)
﴿ب:- د طواف زيارت صحت شرطونه﴾.......................(۲۲۷)
﴿ج :- د طواف زيارت واجبات﴾.......................(۲۲۹)
﴿مهمه فائده﴾.......................(۲۲۹)
﴿ديارلسم بحث:- د حج څلورمى ورځى احكام﴾.......................(۲۳۱)
﴿الف:- ديوولسم تاريخ درمى طريقه﴾.......................(۲۳۱)
﴿ب:- درمي ضروري احكام﴾.......................(۲۳۳)
﴿څورلسم بحث:- د حج پنځمى ورځى احكام﴾.......................(۲۳۴)
﴿الف:- د حج پنځمي ورځي درمي ترتيب﴾.......................(۲۳۴)
﴿ب:- دحج پنځمي ورځي ضروري احكام﴾.......................(۲۳۴)

﴿پنځلسم بحث:- دحج شپږمي ورځي احکام ﴾ .... (۲۳۵)
﴿الف: - ديارلسم دذى الحجې منى کي معطل کېدوحکمت﴾.......... (۲۳۵)
﴿ب:- مکې معظمې ته دواپسي ترتيب ﴾.......... (۲۳۶)
﴿فايدنافعه﴾.......... (۲۳۶)
﴿ج:- درخصتي طواف احکام ﴾.......... (۲۳۸)
﴿۱:- درخصتي طواف وجوب شرطونه ﴾.......... (۲۳۸)
﴿۲:- درخصتي طواف صحت اداء شرطونه﴾.......... (۲۳۹)
﴿ ۳:- درخصتي طواف واجبات﴾.......... (۲۳۹)
﴿ ۴:- درخصتي طواف طريقه ﴾.......... (۲۴۰)
﴿توصيه نافعه ﴾.......... (۲۴۲)
{څلورم فصل: دعمرى فضائل اومسائل} .... (۲۴۵)
﴿لومړى بحث: دعمرى فضائل ﴾ .... (۲۴۵)
﴿الف :- قرآن کريم د يوآيت شريف توضيح﴾.......... (۲۴۵)
﴿ب :- د دريومبارکو احاديثو توضيح ﴾.......... (۲۴۶)
﴿دوهم بحث:-دمکى معظمى تاريخي مقدس مشاهداومساجد﴾.......... (۲۵۰)
﴿الف:- دمکى معظمى مقدس مشاهد﴾.......... (۲۵۰)
﴿۱- مکه معظمه ﴾.......... (۲۵۰)
﴿۲- کعبه شريفه ﴾.......... (۲۵۱)
﴿۳ - حجراسودمبارک ﴾.......... (۲۵۳)
﴿۴- ملتزم شريف ﴾.......... (۲۵۴)
﴿۵- رکن يماني شريف﴾.......... (۲۵۵)
﴿۶- حطيم شريف ﴾.......... (۲۵۶)
﴿۷- ميزاب رحمت ﴾.......... (۲۵۷)
﴿۸ - مکان خد يجة الکبرىٰ رضى الله تعالى عنها ﴾.......... (۲۵۸)

﴿ صلى الله عليه وسلم ﴾..........(۲۵۹)
﴿۹ – مولدی نبي صلى الله عليه وسلم﴾..........(۲۵۹)
﴿۱۰- مکان صدیق اکبر رضی الله تعالى عنه﴾..........(۲۵۹)
﴿۱۱- مولدعلي کرم الله وجهه ﴾..........(۲۵۹)
﴿۱۲ - دارالارقم ﴾..........(۲۶۰)
﴿۱۳- مولدحضرت سید الشهداء حمزه رضى الله تعالى عنه ﴾..........(۲۶۰)
﴿۱۴- د مکې معظمې قبرستان جنة المعلى ﴾..........(۲۶۲)
﴿ د:- دمکی معظمی مبارک مساجد﴾..........(۲۶۲)
﴿۱-مسجد الرایه﴾..........(۲۶۲)
﴿۲- مسجد الجنّ﴾..........(۲۶۲)
﴿۳-مسجد الشجرة﴾..........(۲۶۳)
﴿۴-مسجد تنعیم﴾..........(۲۶۳)
﴿۵-مسجد الغنم﴾..........(۲۶۳)
﴿۶-مسجد طوی ﴾..........(۲۶۳)
﴿۷-مسجد الجعرانه﴾..........(۲۶۴)
﴿۸-مسجد ابوقیس﴾..........(۲۶۴)
﴿۹-مسجد الکبش﴾..........(۲۶۴)
﴿۱۰ - مسجد العقبه﴾..........(۲۶۴)
﴿۱۱ - مسجد الخیف﴾..........(۲۶۵)
﴿۱۲ - مسجد مشعرالحرام﴾..........(۲۶۵)
﴿۱۳ - مسجد نمره﴾..........(۲۶۵)
﴿هـ:- دمکي معظمي مقدس غرونه﴾..........(۲۶۵)
﴿۱_جبل ثور﴾..........(۲۶۵)
﴿۲_جبل النور﴾..........(۲۶۶)

﴿۳-جبل ابوقبیس﴾..........................(۲۶۶)
﴿۴-مقام حدیبیه﴾..........................(۲۶۶)
﴿ دریم بحث: دعمرې مسائل ﴾ ....(۲۶۷)
﴿دریم بحث: دعمرې ادا کولوطریقه﴾ ....(۲۸۰)
﴿الف :- دعمرې اداب﴾..........................(۲۸۰)
﴿ب :- دعمرې احرام طریقه﴾..........................(۲۸۰)
﴿ج :- د طواف ترتیب ﴾..........................(۲۸۲)
﴿د:- طواف شوطونو منتخبي دعاګانې ﴾..........................(۲۸۵)
﴿هـ :- دسعی طریقه ﴾..........................(۲۹۰)
﴿جامعه فائده﴾..........................(۲۹۳)
{پنځم فصل:دد یارحبیب صلی الله علیه وسلم سفراوزیارت}...(۲۹۵)
﴿اول بحث: د مدینې منورې خواص اوفضائل﴾..........(۲۹۵)
﴿الف:- د مدینې منورې خواص﴾..........................(۲۹۵)
﴿ب:- دمدینې منورې جعرافیایې حالات﴾..........................(۲۹۸)
﴿ ج:- دمدینې منورې نباتات ﴾..........................(۳۰۳)
﴿دوهم بحث:-دمسجدنبوي شریف بنیادي معلومات﴾...(۳۰۵)
﴿الف:- د مسجد نبوي صلی الله علیه وسلم مختصرتاریخ﴾..........(۳۰۵)
﴿۱)- د مسجد نبوي شریف بنیادي تعمیر﴾..........................(۳۰۵)
﴿۲) - دمسجدنبوي شریف اوله توسیع ﴾..........................(۳۱۲)
﴿۳- د مسجد نبوي شریف دوهمه توسیع ﴾..........................(۳۱۵)
﴿۴) - د مسجد نبوي شریف دریمه توسیع﴾..........................(۳۱۸)
﴿۵)- د مسجد نبوي شریف څلورمه توسیع﴾..........................(۳۱۹)

﴿ملحقات﴾.........(۳۲۲)
﴿ب: د مسجد نبوي شريف
﴿۱) - رياض الجنّة ﴾.........(۳۲۲)
﴿۲) - منبرنبوي شريف ﴾.........(۳۲۴)
﴿۳) - محراب نبوي شريف﴾.........(۳۲۶)
﴿۴) - صفه واصحاب صفه رضي الله تعالى عنهم ﴾.........(۳۲۹)
﴿۵) - درحمتونو او برکتونو ستني﴾.........(۳۳۰)
﴿۱- اسطوانة مخلقة﴾.........(۳۳۰)
﴿۲- اسطونة عائشه رضى الله تعالى عنها﴾.........(۳۳۱)
﴿۳- اسطوانة ابي لبابه رضى الله تعالى عنه﴾.........(۳۳۲)
﴿۴- اسطوانة سرير ﴾.........(۳۳۴)
﴿۵ - اسطوانة الحرس ﴾.........(۳۳۵)
﴿۶- اسطوانة الوفود ﴾.........(۳۳۵)
﴿۷- اسطوانة تهجد﴾.........(۳۳۶)
﴿۸ - اسطوانة جبريل عليه السلام ﴾.........(۳۳۶)
﴿فايدنافعه﴾.........(۳۳۶)
﴿۶) - مکبره يامقصوره مبلغين ﴾.........(۳۳۷)
﴿۷) - مواجه مبارکه شريفه﴾.........(۳۳۸)
﴿۸) - ګنبده خضراء شريفه﴾.........(۳۴۱)
﴿۹)- عجيبه واقعه﴾.........(۳۴۲)
﴿دريم بحث:دروضي مطهري متعلقه ضروري مسائل﴾.........(۳۴۶)
﴿څلورم بحث : د زيارت اداب اوطريقه﴾.........(۳۵۳)
﴿الف:- د زيارت اقدس صلى الله تعالى عليه وسلم اد ب ﴾.........(۳۵۳)

﴿ب:- دزيارت اقدس صلى الله عليه وسلم كولوطريقه﴾............(٣٧١)
﴿ج:-حضرت ابوبكرالصديق رضي الله تعالى عنه باندې دسلام كولوطريقه﴾..(٣٧٣)
﴿د:-حضرت عمرفاروق اعظم رضي الله تعالى عنه باندې دسلام كولوطريقه﴾..(٣٧٣)
﴿ه :- دواړومباركانو رضي الله تعالى عنهما باندې دسلام كولوطريقه﴾.....(٣٧٤)
﴿و:- دوباره رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې دسلام كولوطريقه﴾....(٣٧٤)
﴿ب:- د مقد سه مقابرو دزيارت كولوشرعي طريقه ﴾..........(٣٧٥)
﴿ ١) - داهل بقيع دزيارت ترتيب اودسلام كولوطريقه﴾..........(٣٧٦)
﴿٢-دجنة البقيع مقبري اهميت﴾...................(٣٧٦)
﴿٣- اهل بقيع باندې دسلام كولوطريقه﴾..............(٣٧٨)
﴿٤) - دأحد فديانواوشهيدانودزيارت كولوطريقه﴾...........(٣٨٥)
﴿ ٥- دجبل أحد مبارك اهميت﴾...................(٣٨٥)
﴿٦- دأحد شهيدانوباندې دسلام كولوطريقه﴾.............(٣٨٦)
﴿ پنځم بحث:- د مد ينې منورې مقدس مساجد﴾.....(٣٨٧)
﴿الف: - مسجد قبا ﴾..........................(٣٨٨)
﴿ب: - مسجد جمعه ....(٣٩٠)
﴿ج: - مسجد غمامه ....(٣٩١)
﴿د : - مسجد سيد ناابوبكرالصديق رضي الله تعالى عنه ....(٣٩١)
﴿هـ :- مسجد سيدنا عمرفاروق رضي الله تعالى عنه﴾..........(٣٩٢)
﴿ و:- مسجد علي كرم الله وجهه﴾......................(٣٩٢)
﴿ز:- مسجد مشربه ام ابراهيم رضي الله تعالى عنهما﴾..........(٣٩٢)
﴿ ح: - مسجد قبلتين ﴾..........................(٣٩٣)
﴿ط:- مسجد ذوالحليفة﴾........................(٣٩٤)

﴿ي: – مسجد فتح﴾.......................(۳۹۵)
﴿ ک: – مسجد سقیا﴾.......................(۳۹۷)
﴿ل: – مسجد بنوحرام﴾.......................(۳۹۷)
﴿ م:- – مسجد ذ باب﴾.......................(۳۹۷)
﴿ ن:– مسجد الفضیح ﴾.......................(۳۹۷)
﴿س:– مسجد بني قریظه ﴾.......................(۳۹۸)
﴿ع:– مسجد اجابه ﴾.......................(۳۹۸)
﴿ف:– مسجد اُبَيّ رضي الله تعالی عنه﴾.......................(۳۹۸)
﴿ ش:– مسجد بنو ظفر﴾.......................(۳۹۸)
﴿فائده عامه ﴾.......................(۳۹۹)
﴿ شپیږم بحث:–آبار–کوهیان– متبرکه ﴾.......................(۴۰۱)
﴿ الف:– بئراریس ﴾.......................(۴۰۱)
﴿ب:– بئرعریس﴾.......................(۴۰۱)
﴿ ج :– بئربصه ﴾.......................(۴۰۲)
﴿د:– بئربضاعه﴾.......................(۴۰۲)
﴿هـ بئربئرحاء﴾.......................(۴۰۲)
﴿ و:– بئررومه﴾.......................(۴۰۲)
﴿ز: – بئرعهن﴾.......................(۴۰۳)
﴿اوم بحث: وطن ته دواپسئ اداب﴾
﴿الف:– سلام وداع ترتیب﴾.......................(۴۰۴)
﴿ب:– دحاجیانواستقبالیه ﴾.......................(۴۰۴)
﴿ج:– دحج اداکولوځخه وروسته قابل اهتمام نصائیح﴾.......................(۴۰۶)
.......................(۴۰۸)

﴿ تقريظ ﴾

فضيلة الشيخ علامه صاحب الشجاعة حامل الشريعة والطريقة المحقق المدقق بقية السلف الشيخ بهرمند نفع الله المسلمين بعموم فيضه شيخ الحديث ورئيس المدرسين بجامعةالعلوم الاسلاميةزرگری.

﴿بسم الله الرحمن الرحيم﴾

الحمدلله نحمده ونصلی ونسلم علی رسوله الكريم وعلی اله واصحابه اجمعين امابعد بنده دا رساله چې مولانا گل رحمن اطال الله عمره دحج دمناسکو په اړه ليکلې مختلف مواضع وکتله ، ډېره مې خو ښه شوه ، اودامُغنيه بيامنده، دلويو لويو شرحونه يې را مختصره کړيدي، مصنف ډېر کوشش پکې کړی ، الله دې ښه بدله په دارينوکی ورکړي ، اودارساله دې ورته په خپل دربارکی قبوله کړي .امين يارب العلمين))(العبدبهرمندعفی عنه خادم جامعة اسلامية زرگری هنگو)

﴿تقريظ﴾

حضرت علامه جامع الاصول والفروع صاحب الورع والتقوی صاحب الشجاعة والسياسة شيخ الحديث بمفتاح العلوم هنگو مفتی دين اظهر مدظله العالی.

﴿بسم الله الرحمن الرحيم﴾

الحمدلله الذی فی السماء عرشه وفی الارض سبيله وفی الجنةثوابه وفی النارعقابه والصلوة والسلام علی النبی الذی كان اسمه فی التورات احيد وفی الذبورماحی وفی الانجيل احمدوفی القرآن محمد(صلی الله عليه وسلم)وبعدُكلفنی اخی الكريم الاستاد گل الرحمن بقرأة ماجاء فی رسالةمعراج الحجاج والمعتمرين خاصةًباحكام الحج والعمرةالخ وكانت وافيه للعرض علی مذهب ابی حنيفة رحمه الله تعالی ونسأل الله العلی القدير ان ينفع بها المسلمين وان يجعل عمله هذاخالصًا لوجهه الكريم وان يجعله فی ميزان حسناته انه نعم المولی ونعم النصيرآمين.بنده دين اظهربن شيراصغر(مرحوم)

﴿تقریظ﴾

حضرت علامه صاحب المناقب العالية، والمفاخرالبهيّة،جامع العلوم الظاهرية واللّدنيّة، ومجمع الكمالات العلمية والعملية، وصاحب الشجاعة والسياسة،شيخ المشائخ عبد الواحد نقشبندی مدّ ظله العالی.

حامدا مصليا مبسملا امابعد:

دمعراج الحجاج ، والمعتمرين ، والزائرين كتاب مى لږڅه وليده دعدم فرصت له كبله مى چندان مطالعه پكى ونكړه واقعًا چه داكتاب ددې عصردټولوكتابودمناسكو دحج اوعمرى اوزيارت چه په زيات شمير په مختلفو ژبوسره تصنيف اوطبع شوى دى دټولوپه امتيازكتاب دى او مصنف ددي كتاب الحاج مولوي خليفه گل رحمن صاحب په دينى اوعلمى اوسياسى اوتاريخى اوتدريسى اوظاهرى اوباطنى علوموااوچاروكښى ممتازدى اوفريضه دحج چه داسلامى دين دپنج بناء دجمله څخه دى زيات اهم دى اومناسک ئى بلكل قابل دتشريح اودنشراواشاعت دى .داځكه چه اكثرحجاج كرام په فقط عادى اورواجى په تش نامه حج كوى اودفقهى نسكى مسائلو څخه ناخبره دى خصوصًا دپښتوژبى پښتانه حجاج كرام بيازيات مستحق دپښتو ژبى دمناسكودنشراواشاعت دى څښتن متعال جل جلاله دى دمصنف صاحب دالوړ دينى، علمى، خدمت قبول كړى اومزيدتوفيق دې نصيب كړى .آمين.

(۲۷/۹/۲۰۰۳) المهتمم فقير عبد الواحد نقشبندى عفى عنه.

﴿ تقريظ ﴾

فضيلة الشيخ حضرت علامة بقية السلف ماهر الفنون جامع المعقول والمنقول الشيخ سيف الله متع الله المسلمين بعموم فيضه شيخ الحديث بجامعة العلوم الاسلامية زرگری.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الحمدلله الذى احكم بكتابه اصول الشريعة الغراء ورفع بخطابه فروع الحنيفية السمحة البيضاء، والصلوة على من لانبىّ بعده ولادةً محمدن المبعوث هاديًا للناس مبشرًا ونذيرًا وداعياً الى الله باذنه سراجًا منيرًا، وعلى اله واصحابه الذين هم نجوم الهداية من المهاجرين والانصار، والذين اتبعوهم باحسان امابعد پس له حمدنه اودرودنه ماځپل نظرقاصر دِمعزز مکرم رورمولوى ګل رحمٰن صاحب تاليف معراج الحجاج والمعتمرين بانـــدې واچولونومـــاته دَحج په مسائـــلو کې بحربسيط (لوى درياب) ښکاره شواوپښتنو حاجيانو ته ډيـــر مفيد کـــتاب دى الله تعالى نه سوال اوالتجاء کوم چې مولوى ګل رحمٰن صاحب دغه سعى اوکوشش قبول کړي او دغه تأليف دِ مولا نا موصوف لپاره داخرت دِمشکلات او دِاسانولو ذريعه وګرځوي او الله تعالى دغه تأليف مقبول اومحبوب دخواصواوعوامو وګرځوي أمين ثم امين حسبنا الله ونعم الوكيل)

العبد الضعيف سيف الله غفرالله له

﴿ تقريظ ﴾

فضيلة الشيخ جامع المعقول والمنقول حامل الشريعة والطريقة ماهر الفنون
حضرت العلامه محمد معلم متع الله المسلمين بعموم فيضه المدرس بمدرسة
جواهر القران اوچت كرم ايجنسى

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العلمين والصلوة والسلام على سيد الانبياء والمرسلين وعلى اله واصحابه الطاهرين اما بعد : كله چې دغه رساله چه مسمى دہ په معراج الحجاج والمعتمرين سره دتاليفاتودجناب محترم جامع المعقول والمنقول مولوى ګل الرحمن حقانى صاحب ماته وړاندې شوه څوچې ددي رسالى په هكله خپل نظروړاندې كړم نوكه يوخواته زه ددې قابل نه يم چې پداسې علمې مسائلو کې نظر ورکړم څکه دهر فن لپاره رجال وي اودهرمقام لپاره مقال وي،اوبل خوادومره لويوشخصيتونودخوښولواوتقريظ كولونه وروستو زما نظر څه شى دى ،اودريم داچې رساله دداسې معتمداومحتاط مؤلف اودمعتمدوكتابودحوالوپه درلودلوسره هيڅ شاهداوتقريظ ته محتاجه نه وينم (ولهامنهاعليهاشواهد) خوبياهم چې دكتاب څيني پاڼې مې ولوستې نو ډيرې معتمدې مدللې او دشاباسى وړمې وموندې دمولوي ګل رحمن صاحب همت اودينې......خدمات دستائيلووړدى الله دي ددوى په عمركې بركت واچوي اوددې په شان دنوروتاليفاتومزيدتوفيق دې ورپه برخه كړي امين.

بنده محمدمعلم پکتياوال خادم علوم اسلاميه

﴿دناشر تحليل﴾

﴿باسمه تعالى﴾

الحمدلله رب العلمين والصلوة والسلام على اشرف المرسلين وعلى اله وصحبه ومن تبعهم الى يوم الدين امابعد

محترمو! حج دهغه عبادت یادګاراوبقاده چې دحضرت ادم علیه السلام له زمانې نه هریوملت اومذهب کې پاتې شویدي،دحج فریضه داسلام له څومهموبناؤ وڅخه شمیرل کیږي،داهغه عبادت دی چې هم بدني اوهم مالي بلل کیږي،پدی عبادت کې یوفکورانسان دی ته پوره متوجه کیږي چې دنیایی ژونداومادی شیې ورځې یواځې په یوه څادراویوه لنګ کې هم تیریدلی شي اوسړی پوهیږي، چې دالله تعالی په حضورکې قرب دانسان په ښکلواوفاخرانه جامو، ښکلااوښان جوړولو پورې اړه نلري بلکه له لوی خدای سره دارتباط اصلي رشته ،دالهي اوامرو دتعمیل اوپه عین حال کې له عاموانسانانو سره دوروروولی اوالهي هم مسلکی ګله ژونددي اودلوی خدای دعبادت داداکولولپاره خپل مال اوسر وسیله ګرځولی دي،لهذاعلماء کرام دحج دمناسکو په ارتباط ډیرې رسالې لیکلې دي البته محترم مولوی صاحب ګل رحمن حقانی مهاجرمدني دامت برکاتهم دکتاب څانګړتیاداده چې یو خوایې خپل تألیف د مشهورواو متداولوکتابونوپه حوالوسره ښائیسته کړی دی، اوبله خوایې دمقدسو مقاماتو لنډ تاریخ لیکلی چې سړی وکولای شي چې دامهمه فریضه له عاشقانه ذوق اوشوق سره اداکړی شي چې هغه پخوانی یادګارورته په نظرراځي جذبات یې ورسره تازه کیږي ، لهذامونږ هم پدې صدقه جاریه کې دشراکت په خاطراقدام و کړي الله تعالی ددین لوی خدمت زموږاوستاسي نه قبول کړي

امین یارب العلمین بجاه سید المرسلین صلی الله علیه وسلم.

﴿خطبه﴾

بسم الله الرحمٰن الرحيم

اَلحَمْدُ للّٰه الّذي هَدَانَا إلَى خَيْرِ مِنْهَاجٍ، وَاَنْعَمَ عَلَيْنَا بِالْعَيْشِ فِيْ اَطْهَرِالْبِقَاعِ وَرُؤْيَةِ خَيْرِ الْفِجَاجِ،وَسَلَكَ بِنَا سَبِيْلَ الْحَقِّ سَبِيْلاً لَيْسَ بِهِ اِعْوِجَاجٌ، والصَّلاةُ والسَّلَامُ عَلَى الرَّحْمَةِ الْمُهْدَاةِ وَالسِّرَاجِ الوَهَّاجِ، عَدَدَ مَاسَبَّحَ مُسَبِّحٌ وَصَلَّ مُصَلٍّ وَحَجَّ الْبَيْتَ مَنْ حَاجٍ، وَعَلَى آلِهِ وَصَحْبِهِ وَالْأَزْوَاجِ وَعَلَى اَتْبَاعِهِ وَمَنْ سَارَ عَلَى اِثْرِهِ وَاسْتَمْسَكَ بِذٰلِكَ الْمِعْرَاجِ؛

امابعد:- وايي عاجزبنده كل الرحمٰن حقاني ((مهاجرمدني)) دمحترم حاجي ملاصاحب عبدالرحمٰن زوى دمشهوروليِ الله حافظ جي صاحب طراب خان المسي دپكتيا څاځي اريوب اوسيدونكى،چې كله زه الله تعالى دحج فريضې په اداكولومشرف كړم،نوزيات حاجيان اوعمره كوونكې مې ليدل چې دحج اوعمرې مناسكو څخه ناخبره وو، نو په مناسكو كې به يې زياتي خطاګانې كولى،اونه ورته دمباركو مقاماتوتا ريخ پوره معلومات وو، چې په هغو ځايو كې بې دمناسبو آدابو لحاظ ساتلې وى، اونه ورته مكمل فضائل معلوم وو چې دحج تكاليف او مشقات يې په روڼ تندې سره برداشت كړې وى،لهذا دخپل شرعي مسئوليت دآداكولو په اساس مې دخپل توان مطابق د"معراج الحجاج والمعتمرين" په نامه يو مدلل مكمل اوپه محتوياتودحج اوعمرې مشتمل كتاب وليكلو، چې دفضائلو، مسائلو، اوتاريخي معلوماتو نقل مې دمعتمدومتداولواومشهوروكتابونوپه حوالوسره وكړو،چې په پنځو فصلونو

باندي مشتمل دی لومړی فصل: دحج په فضائلو اوآدابو کي...، دوهم فصل: دحج په مسائلو کي ...، دریم فصل: د پوره حج اداکولو په ترتیب اومناسک کي...، څلورم فصل:دعمری په فضائلواومسائلوکي ....،اوپنځم فصل: دد یارحبیب صلی الله تعالی علیه وسلم په سفراوزیارت کي... دی؛ الله تعالی دي داخدمت رانه قبول کړي،اوماته اونورو مسلمانانو ته دي ترینه فائده ورسوي، او الله تعالی دي مسلمانانو خصوصًا دحجاج کرامو اوعمره کونکو ورونړودفهم اوقبولیت وړيي وګرځوي، آمين يارب العالمين بجاه سيدالمرسلين صلی الله تعالی علیه وسلم، وباالله التوفيق وهوالمستعان.

{ لومړی فصل: دحج فضائل اوآداب}

﴿لومړی بحث: ترغیب وتشویق﴾

محترمو!دحج فضیلت په ارتباط زیات قرآني آیتونه اونبوي احادیث او دسلف صالحینو آثارراغلي، نوموږ به يي موشت نمونه خروارد‌ترغیب وتشویق په خاطر په لنډه توګه توضیح وکړو...

﴿الف :– دقرآن کریم مبارکو آیتونو توضیح﴾

﴿وَأَذِّن فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالاً وَعَلَى كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ-لِيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ فِي أَيَّامٍ مَّعْلُومَاتٍ عَلَى مَارَزَقَهُم مِّن بَهِيمَةِ الأَنْعَامِ فَكُلُوا مِنهَاوَأَطْعِمُوا الْبَائِسَ الْفَقِيرَ﴾.سورت الحج آيت/ ۲۷ – ۲۸.

ژباړه:– اوآوازوکړه په خلقوکي دحج،نوراځي به تاته پیاده اوسواره په هره تیزرفتاره اومانده سوارلی ،چي راځي به دهري لاري ليري نه چي حاضرشي فائدوخپلو ته،اوپه معلوموورځوکي الله نوم یاد کړي په هغه څه چي ورکړي

دي دوی ته الله تعالی له څارؤونه،پس خوري دهغې نه،اوخوراک ورکوي مصیبت وهلو محتاجوته.

توضیح:- محترمو! داسمانونواوزمکې له پیدایښت سره سم ملایکو دبیت الله شریفه جوړه کړېده دالله تعالی په امر سره، بیاآدم علیه السلام، بیا شیث علیه السلام، بیاابراهیم علیه السلام، بیاعمالقو، بیا بنوجرهم، بیا قصی، بیا قریشو مخکې دنبي کریم صلی الله تعالی علیه وسلم دبعثت څخه، بیاعبدالله بن زبیر رضي الله تعالی عنهما، اوبیاحجاج بن یوسف په خپل وارسره جوړه کړېده؛(کمافی التاریخ مکه وتفسیرروح المعانی اوابوحیان)اونورومفسرینو هم دمذکور ترتیب نقل کړیدی.اودلته سورت الحج کې بناء دابراهیم علیه السلام ذکردی، نومراد دادی چې دهغه دزماني نه مخکې داسې نړیدلي وه چې بنیادونه یې هم ورک شوي ؤو،چې بیاابراهیم علیه السلام ته الله تعالی بنیادونه ښکاره کړل،او هغهٔ علیه السلام تجدید دبناء اواعلان دحج یې وکړو.اوابن خاتم رحمه الله تعالی دابن عباس رضی الله تعالی عنهما څخه نقل کوي چې کله حضرت ابراهیم علیه السلام ته دحج دفرضیت اعلان حکم اوشو،نودوی الله تعالی ته عرض اوکړو چې دلته ځنګلي میدان دی څوک اوریدونکی نشته کوم ځای چې ابادي ده هلته به زمااوازځنګه ورسیږي؟الله تعالی ورته اوفرمائیل چې ستاذمه داري یواځې اعلان کول دي تولي دنیاته یې درسولواوخورولوذمه داري په مونږه ده،حضرت ابراهیم علیه السلام په مقام ابراهیم اودریدوداعلان یې وکړوکوم چې الله تعالی ډیر اوچت کړواوپه ځینوروایتونوکې راغلی دي چې ده علیه السلام جبل ابوقبیس

نه رخوت په غوږونوکې یې ګوتې کیښودې ښي طرف اوکیڼ طرفته مشرق اومغرب هر طرفته یې دا اواز اوکړوچې ای خلقوستاسو رب خپل کورجوړ کړی دې،اوپه تاسو یې ددې حج فرض کړیدې،نوتاسوټول دخپل رب حکم اومنی . یا الله تعالی طاقت اوقدرت ستا په قدرت کې دې،نوموږ کال په کال ددې حکم منونکې کړي آمین بجاه سید المرسلین صلی الله علیه وسلم.

په دې روایت کې داهم راغلي دي چې دحضرت ابراهیم علیه السلام دا آواز الله تعالی ټولې دنیاته اورسولو، اویوائې ددغه وخت ژوندو انسانانوته نه بلکه کوم انسانان چې ترقیامته پورې پیدا کیدونکې وو په طوردمعجزی یې دغو ټولوته ورسولو،اودچا په قسمت کې چې الله تعالی حج لیکلې وه هریو ددې آواز په جواب کې لبیک اللهم لبیک اوویل یعنې دحاضریدو اقرار یې وکړو. حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهما فرمایې چې دحج دتلبیی اصل بنیاد دابراهیمي نارې جواب دی.(کما في تفسیرالقرطبي والمظهرې).لهذا دبیت الله شریف دحج کولوسلسله هغه وخت نه تر ننه پورې چې په زرګونو کالونه تیرشویدې جارې اوساري دي،او ټولو پیغمبرانو علیهم السلام اوددوئ امتونه هم ددې پابند پاتې شو، اود حضرت عیسیٰ علیه السلام څخه پس چې کوم دور دجاهلیت تیرشوی دی پدیکې هم دعربواوسیدونکې اګر چې بت پرستئ کې اخته شوې وومګردحج دارکانو همغسې پابندوو څنګه چې دحضرت ابراهیم علیه السلام نه منقول اوماثور وو.

پس اوس یوڅومهمې نکتوته متوجی.شو:اوله دا چې پدی آیت شریف کې "رِجالا" کلمه څکه مخکې راوړئ چې دپیاده حج کولو ثواب ډیردی، او

دابن عباس رضی الله تعالی عنهما څخه مرفوع روایت دی چې کوم کس
پیاده دحج لپاره ولاړ شي اوبیا راواپس شي هغه لپاره په هر قدم باندې
دحرم اوه سوه (۷۰۰) نیکیانې دي چا عرض وکړو چې دحرم دنیکیو څه
مطلب؟رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل چې دحرم شریف هره
نیکې دیولاکه نیکیانو سره برابره دی. صححه الحاکم کذا فی العیني قلت
وفی المستدرک بلفظ من حج من مکة ماشیا حتی یرجع الی مکة وهکذا
فی الکنز. امام غزالی رحمة الله تعالی علیه لیکلې چه کوم کس پیاده حج
باندې قادروي نو بیا پیاده حج کول ورته افضل دي لکه ابن عباس رضی
الله تعالی عنهما خپل اولاد ته دوفات په وخت دپیاده حج وصیت کړی وو
؛ پس پیاده حج کول افضل دي خوچې پیاده لاره کې امن وي،البته بیاهم
کم ازکم مکه مکرمه نه خو عرفات پورې پیاده تلل پکار دي چې د لوي
ثواب حصول څخه علاوه دنورو مستحباتو رعایت هم پکې کیدلا ئ شي،
او موټرانوکښې اکثر مستحبات خو پریږده دلمانځه پوره اهتمام نه شي پکې
کیدلائ ،لکه موږ په خپلوسترګومودحالت لیدلي دي،اوبل داچې مسافه
هم دومره اوږده نده څکه مکه مکرمې څخه منیٰ ته درې میله مسافه ده،
اومنیٰ څخه چې سړی روان شي عرفات ته تقریبًاشپږ میله مسافه جوړیږي
نو دومره اندازه مزل خوخلق دچکر اوشوق په خاطرهم کوي، لهذا دعظیم
ثواب اودحج مکمل مستحباتو دآداکولو څخه دسستې کاهلی په وجه
محروم کیدل مناسب کار ندي.

دوهمه داچې پدی آیت شریف کې"ضَامِرٍ" کلمه ذکرشویدي نودغه هغه سوارلی څاروی ته وائی چې نري بدن والا وي، چې په رفتار کولو باندې ستومانه کیږي نه، اویاهغه څاروی ته وائی چې دډیرسفر کولو په وجې لاغر (ډنګر) شوی وي،البته پدې أیت مبارک کې ددریاب ذکر ندی شوی ځکه چې دریاب دمکی مکرمې سره متصل نده، نوکچیرې دریاب کې هم راشي نو بیابه هم په وچه باندې مزل کوي تر بیت الله شریف پورې.

دریمه داچې پدې آیت شریف کې"لِيَشْهَدُوْامَنَافِعَ لَهُمْ"الخ جمله کي بعض مقاصد دحج ئي بیان کړیدي،نو مراد دمنا فع نه اُخروي فائدې چې دحج دمناسکو په ادا کولو سره حاصلیږي لکه ثوابونه ، ښښنه دګناهو ، اوقبولیت دعاګانو وغیره، اویا منافع په صیغه دنکره سره راوړې ددې عموم طرفته یې اشاره کړیده چه پدیکې دینې نفعی خوبې شماره ده، البته دنیوي نفعی هم پکې ډیره لیدلې شي خصوصاً داډیره دتعجب خبره ده چه خپل شوق ذوق سره حج لپاره روپۍ جمعه کړې بیاورباندې حج وکړې، لکن ددنیا تاریخ کښې څوک یوه واقعه داسې نه شي ښودلی چې څوک سړی په حج او عمره کولو سره فقیر او محتاج شو، ددینه علاوه په نورو کارونولکه مثلا دمکان په جوړولویادواده کوژدن په رسمونوکی مصرف خرچ کولوسره په زرګونو خلق محتاج اوفقیران شوې هر ځای لیدلا ی شي بلکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلې ، حج اوعمره نیستي (فقیرې) اوګناهونه داسې غوځوې اولرې کوي څنګه چه داور بټی داوسپنې اوسروزرو خرابۍ لرې کوي (کمارواه الترمذي).او الله تعالی په دې سفر دحج اوعمره کې

په دنیوي لوړه تنده اوفقر کې نه اختلا داخصوصیت هم ایښودی چه سړی په دنیوی لوړه تنده اوفقر کې نه اختلا
داخصوصیت هم ایښودی چه سړی ، تعلقات اورشته
کیږي، اوهمدارنګه دنړۍ مسلمانوتر مینځ اخوت محبت ، تعلقات اورشته
اتحاد قائم کولو لپاره حج بهترینه موقع ده، اوهمدارنګه دامیرانو اوغریبانو
اختلاط یو مقصودی شئ دی چه په دې سره یوطرفته دامراء څخه غرور
لري شي،اوبله خوادغرباءحوصله اوچته اوبلنده شي چې دیوبل له ضروریاتو
سره خبر شي نو دحج سفر ددي عجیبه مشاهده ده، اوهمدارنګه دآثار
قدیمه وۀ تحفظ اودې اسلافوبالخصوص دمخکې انبیاء علیهم السلام داحوالو
علم اواستحضاردسفر حج خصوصې ثمره ده، اوهمدارنګه دعلمې اوعملي
اواخلاقي سطحی دلوړ تیا لپاره سفرحج یو زرین فرصت دی، ځکه چه په
دې موقعه ځای په ځای علماء کرام موجودوي چه دهغوئ دعلمې خدماتو
اوعلمې تجربوداسلام داشاعت دترقي ذرائع، اوداسلامې مراکیزواوکارنامو
په وسائلوغیره باندې تفصیلي اطلاع حاصلیږي،اوسړي ته دداستفادې او
افادې موقعه په لاس ورځي، اوبل طرفته داولیاء کرامو ابدالو اقطاب وغیره
یوه معتمده ډله هرکال په حج کې شریکیږي نودهغو فیوضاتواوبرکاتو
اوانواراواوکمالا تونه داستفادې بهترینه موقعه وي، اوهمداراز دالله تعالی
لطف اورحمت ځانته متوجه کول، دتضرع اوعاجزۍ په زریعه اود الله تعالی
سره تعلق ټینګیدل، اوزیاتیدل او دآخرت حالاتو ته متوجه کیدل، اوله دنیا
څخه بې رغبته کیدل د سفرحج بهترین مُظهردی، او همدارنګه دحج
سفردتو حید اوداعمالواواخلاقوتربیت اودشهواتودتخفیف اوبنه تکامل،
اودتجردلله اودتقوی، اودهمت دلوړتیا،اودعشق حقیقې اعلیٰ درس دی.

﴿ب :- دیوجامع حدیث شریف توضیح﴾

(عَنْ أبي هريرة ﷺ مَنْ حَجَّ لِلّٰهِ فَلَمْ يَرفُثْ وَلَمْ يَفسُقْ رَجَعَ كَيَومٍ ولدتْهُ أُمُّهُ)

(متفق عليه).

ژباړه: دابي هريرة رضی الله تعالی عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلي: چاچې خالص دالله لپاره حج او کړو خبرې یې پکې ونه کړې (چې دښځوسره کیدئی شي)، اوګناهونه یې اونه کړل، نوداسې به دګناهونونه پاک بیرته راستون شي لکه چې مورنه پیداشوی وي (بخاری ومسلم)

توضیح: محترمو! په دې حدیث شریف کې درې مضمونه ذکرشویدي:-

اول مضمون صحیح نیت: یعني داحج به سوچه دالله تعالی درضاپه خاطروې یعنی دکوم دنیوې غرض، شهورت، ریا، سمعت، وغیره لپاره به نوي، نوداډیره دتعجب خبره ده چې دومره تکلیف اوخرڅ وکړې بیائی په فاسد نیت لکه دتفریح وسیراوسیاحت، یادشهرت اوریا، یادنیوی اغراض اوتجارت وغیره په خاطرېي ضائع کړې، البته کچیرې دضرورت په وخت کی تجارت کوې چې دسوال کولو نه پرې بچ شي نوباک یې نشته، لکه دیته سورت بقره ایت (١٩٨) کښې اشاره شوې.

دوهم مضمون رفث: یعني پدې کښې ډیراقوال دې اوځنې اقوال دادی: ١- رفث جماع یعني دخپلې بې بې سره همبستری کول . ٢- ښځوته فحش خبرې کول . ٣- دا یوه جامع شامله کلمه ده هرهغه فعل اوقول ته وایې چې سړی دخپلې ښځې نه اراده کوې لکه جماع اودواعی دجماع.

دریم مضمون فسق:یعني پدې کې هم ډیراقوال دي اوځني اقوال دادی: ۱- ګناه کبیره .۲- هغه ګناهونه چې حرم کې یا په وخت داحرام کښې کیږې لکه ښکار وغیره کول . ۳ - دغیرالله په نامه ذبحه کول. ۴ - په ناکاره نومونواو لقبونوسره څوک یادول،یاکنځل کول نودکلمه ټولواقولو ته شامل دی،اوجنګ جګړه هم پکې داخل دي، نو په دی حدیث شریف کې دې خبرې ته اشاره ده چې حج کونکې لره اخلاق جمیله پکاردی، او ددې لپاره علاج دقوت شهوانیه کمزورې کول دي چې په لفظ دې (لم یرفث) کې ورته اشاره ده، اوهمدارنګه قوت نفسانیه (نفس اماره) او قوت وهمیه شیطانیه کمزورې کول دی چې په لفظ د(وَلَمْ یَفْسُقْ)کې ورته اشاره ده چې دادرې واړه قوتونه داخلاق رزائلو لپاره منشا اواسباب دي ، اودا درې واړه په هر وخت کې منع دي لیکن په حالت دحج کښې ددی دربو دمنعې کیدوزیات تاکید راغلی، ځکه چې حج کونکې بیت الله شریف سره حاضر وي نو هغه لره بل طرفته هیڅ توجه جائز نه ده سِوا دعبادت اوخشوع او تضرع الی الله نه، حاصل داچې رفث په ځای ذکر تلاوت دینې دعوت او ښائسته خبرې کول پکار دی،اودفسق په مقابل کې دالله تعالی اودهغه پیغمبر صلی الله علیه وسلم طاعت اوفرمانبردارې کول پکار دی ، اودجنګ وجګړې په ځای موافقت موانست، اورضاپکار دئ، بلکه کچیرې بل چا له طرفه ورته ضرراوتکلیف ورسیږي په خوش خُلقي سره دهغه برداشت کول ورته مناسب دي، نو په نتیجه کې به دحج نه داسې پاک دګناهونوڅخه

راستون شي لکه ماشوم چې دموره پیداشي اوهغه معصوم وې، یعنی په هغه باندې کومه ګناه اولغزش وغیره نه وي.

پس علماء کرام فرمائی:چې داقسم احادیثومبارکوڅخه واړه ګناهونه مراد کیږي اګرچې دحج په باره کښې داسې ډیر احادیث وارد شوي، لهذاد بعضې علماء کرامو تحقیق دادئ چې حج سره صغائراوکبائردواړه قسمه ګناهونه معاف کیږي ،لیکن ددې معاف کیدلودا مطلب ندی چې دلمانځه ،روژی ،زکوة ،چې کومو عباداتوادراک (موندل) ممکن وي ترینه ساقط شول،اویا دچاقرض ورباندې وي ترینه ساقط شي، اویا حقوق العباد ورته معاف شول بلکه مطلب یې دادی چې عباداتو کې سستې اوتاخیربه ورته معاف شي، یعني په اداء دقرض یاپه حقوق العبادکې یې چې تا خیر کړیدی، نو دتاخیراوسستئ ګناه به ورته معاف شي، لهذاعبادات ممکن الادراک عبادات اوقرض اوحقوق العباد (دبندګانوحقوق) به لازمی اداکوي، اویاترینه دهغه کبائروعفوه مراد ده چې هغوئ لره بدل نه وي لکه شراب څښل ، زنا وغیره، یاعفوه دهغه حقوق الله تعالی مراد ده چې مخکې دقدرت نه په اداء دهغوئ باندې سرئ مړشي،یعنی لکه څنګه چې سفر اومرض په وجه روزه اوخوری بیاده اقامت اوصحت څخه مخکی وفات شي. اویاعفوه دهغه حقوق العباد ده چې مخلوق یې ورته معاف کړې اوترینه راضي شي. (هذاملخص من کلام الفقهاء والمحدثین).

نوحج مبرورهغه دی چې شرعی طریقی باندي یې آداکړې وي اوڅه ګناه یې پکې نه وې کړې نودحج مبرورجزاء جنت دی؛لکه چې دیوصحیح حدیث

شریف مضمون دی چې دحج مبرورجزاء سوادجنت نه بله نده(متفق علیه).
ځنې علماء کرامو فرمائلي:چې حج مبرورهغه دی چې پکې ریاءاونمائش
نوي،اوځنې علماء فرمايي: چې حج مقبول ته حج مبرورويلي شي.نوزم
عزتمنده حاجي وروره، کچیرې ته په دغه اجربریمن اوکامیاب شي نويقيناً
نیکمرغه یې مګرګوره چې دغه مبرورحج په ګناهونو کولو سره نقصاني نه
کړي، اودعباداتو په پرینښودلويې بربادنه کړي، ځکه چې ستا دمقبول حج
له علاماتو څخه داده چې ته به دنیکۍ چارې اوعبادات کوي، اوله منکراتو
څخه به ځان ساتي،اوستا د حج دنه قبلیدودا نښه ده چې ته به دحج څخه
وروسته دګناهونومرتکب کیږي،په نیکو چارواوعباداتوکې به تمبلې اوسستي
کوي، ګوره حاجي وروره چې له حج څخه ستا یوازې دابرخه نه شي چې
یوازې حاجي لقب وګټې،اوصباته به ته له دنیاڅخه فانه اوجلا کیږي اوتاته
نه معلومه ده چې داعمالوارزښت په القابواواشکالو کې نه بلکې په قبلیدو
کې دی،نوالله تعالی دې موږاوستاحجونه مبروراوګناهونه مغفور اوهلې ځلې
مقبولې وګرځوي آمین یارب العالمین. والله تعالی اعلم بالصواب.

﴿ج :- دسلف صالحینو رحمهم الله تعالی آثار﴾

(علامه الوسي رحمة الله تعالی علیه لیکلي دي:"اِنَّ الْحَاجَ اِذَا اتَّقَی فِیْ اَدَاءِ حُدُوْدِ الْحَجِ وَفَرَائِضِهِ غُفِرَتْ لَهُ ذُنُوْبُهُ کُلَّهَا" وروی ذلک عن ابن عباس رضی الله تعالی عنهما.(۱)

(۱)تفسیر روح المعانی ج ۳ ص۹۴)

ژباړه: يقيناً حاجي چې دحج حدودواوفرائضو په اداء کښې کله پرهيزګاري وکړي، نوټول ګناهونه به ورته معاف شي، اوداروايت دحضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهما څخه شويدی .

توضيح: محترمو!حج دګناهونودمعافې سره سره دګناهونوڅخه منع کونکی دي،اوعباداتودزيات ثواب حاصولولپاره حج ښه زريعه ده.علامه مفتي محمد شفيع رحمة الله تعالی عليه ليکلې دي: چې يوبزرګ فرمايې چې دحج نه په واپسئ کښې ديوګناه وسوسه زما په زړه کې راغله، دغيبونه ماته اواز اوشو چې تاحج ندی کړې؟نوداآواز زمااودهغې ګناه په منځ کې يوديوال جوړشو ،نوالله تعالی زه دهغې نه محفوظ کړم (۱).حضرت حسن بصری رحمة الله تعالی عليه فرمائلې دي: چې حرم شريف کې يوه روژه ديولاک روژوثواب لري، يو درهم صدقه ديو لاک درهم صدقې برابر ثواب لري،همدارنګه هره يوه يوه نيکې چې حرم شريف کې کيږي په غيرحرم کې ديولاکهه ثواب سره برابردي (۲)اومفتي اعظم عزيزالرحمن عثماني رحمة الله تعالی عليه ليکلې دي: چې فقهاء محققينو پدي تصريح کړيدي چې دنورو ټولو مالي اوبدني عباداتو همدا حکم دی، يعني دا زيات ثوابونه په نوروعباداتو کې هم شته . لکه چې درمختارکښې دي (وَكَذابَقِيَةُ الْقُرُبِ)اوشامې کښې دي (اَیْ كَالصَوْمِ وَالا عْتِكَافِ وَالصدَقَة وَالذِكْرِ وَالْقِراةِ الخ)يعنې دابحث بې دهغه حديث لاندي ليکلې چې پکې راغلې مسجد نبوې صلی الله عليه

(۱) تفسيرمعرف القران،

(۲) اتحا ف السا د ة

عَنِ الْعَالَمِينَ) (سورة ال عمران۹۷)

ژباړه :—اودالله تعالى لپاره په خلقوباندې حج دبيت الله (فرض) دی په هغه چاچې لارې خرچ اومصرف لري، اوچاچې کفراوکړو (په انکاردحج سره) نويقيناً الله تعالى غني اوبې پروا دی دټولوخلقونه.

توضيح: محترمو! محققينوعلماءکرام ليکلي دي: چې په اخردنهم (۹) کال دهجرت کې وروسته دتيريدو د مياشتي دحج نه په دې آيت شريف سره حج فرض شويدی، اونبي کريم صلى الله عليه وسلم وروسته دفرضيت دحج څخه يوکال هم حج نه دی وروسته کړی. [1]

پس حج په لغت کې قصدته ويل کيږي،اوپه شريعت کې:هوفعل مخصوص على مكان مخصوص فى وقت مخصوص يعنى حج عبارت دی له زيارت کولوڅخه دځاکل شويوځايونو، په خاص وخت کې، اوپه مخصوصو افعالو سره. نوپه مسلمان نارينه اوښځه باندې په ټول عمرکې يوځل حج فرض دی. په دې جمله کې دحج دفرضيت ډيرتاکيدات دي لومړی داچې په (وَلِلّهِ)کې ديته اشاره ده چې دا حق دالله تعالى دی، په دې کې به شرک جلي اوخفي نوي، اورياء، سمعت، تجارت، مـــــيله جوړه ول اوسياحت وغيره کول به ئي مقصد نوي.

اوعلامه قرطبى رحمة الله تعالى عليه فرمائيلي دي: چې لام لپاره د ايجاب اوالزام دی.دوهم داچې (عَلَى)په استعلاء اوپورخوالي اوپه تاکيد دوجوب باندې دلالت کوي. دريم داچې (النَّاس) په لفظ دعموم سره دی اګرچې

(۱) عينى

وسلم کښې یولمونځ په پنځوس زره اومکی مکرمی مسجدحرم شریف کې په یولاکهه حساب دی.(۱)

نو څرنګه چې درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په متعددورواياتوکې نقل شویدی چې مکی مکرمی مسجد حرام شریف کې دیولمونځ ثواب دیولاک لمونځو ثواب سره برابردی، اودلته داخبره هم قابل لحاظ دی چې څرنګه حرم شریف کې لمونځ ده بلکه هره یوه نیکې ثواب دیولاک نیکیانوثواب سره برابره دی، نودلته دګناه وبال هم زیات دی له دې وجې څخه بعضې علماء کراموکې مکرمې کې قیام مکروه لیکلی چې دلته دبني ادم څخه ګناه کیږي، نودلته ګناه کول هم سخت جرم دی، لهذا دقیام په وخت کې زیات وخت په ننه دحرمینو شریفینوکې تیرول پکاردي، اودطواف اوذکراو تلاوت اودرود شریف زیات اهتمام ضروري دی،اودوخت ضائع کول او بازارونوکې چکر وهلو څخه ځان ژغورل لازمي دي.والله تعالی اعلم بالصواب.

﴿ دوهم بحث ترهیب وزورنه ﴾

محترمو! په اسلامې ارکانو کښې حج یومهم رکن دی چې په دي سره دارکانو اتمام کیږي،او په دي کښې کوتاهي کول لوئ جرم دی،په دي هکله ډیر قرآنې آیاتونه اونبوي احادیث اودسلفوصالحینوآثارموجود دي نو مونږ به یې محض دتنبیه په خاطر ورته لنډه کتنه وکړو؛

﴿الف :- قرآن کریم دیوآیت شریف توضیح﴾

(وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلاً وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ اللهَ غَنِيٌّ

(۱) فتاوی دارالعلوم دیوبند (ص) ۵۸۳ (ج) ۶

مراد ددينه خصوص دی. څلورم داچې (مَن اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلاً) بدل دی د(النّاس) څخه نوداپه تکرار دلالت کوي،اوهم په تاکيدباندې، اوهم پدې سره تفصيل دی روسته داِجمال نه. پنځم داچې په (وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ اللهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ) کې اشاره ده چې حج پرېښودلو مشابهت دی دکافرانو سره، اوانکارکول خوعين کفردی، او په (غَنِيٌّ) کې هم ديته اشاره ده چې داسې انسان دالله تعالی خاص رحمت نه محروم دی،اوالله تعالی په ده باندې هيڅ پرواه نه کوي. اود(حِجّ الْبَيْتِ) په زيرد(حا)اوزوردهغې سره، نوپه کې دوه لغتونه دي په زيرسره په نيزد سيبويه صاحب مصدردی لکه چې په زورسره هم مصدروه،اوپدې کې اضافت د مصدردی مفعول وته چې(البيت) دی.

او(من استطاع اليه سبيلا) جمله کي دليل دی په دې چې استطاعت شرط دی لپاره دوجوب دحج برابره خبره ده که سمدستي وي اوکه په تراخی سره وي، لکن په دې شرط چې دهغه نه پاتې نه شي، اودکولو لپاره اسلام ،بلوغ،اوحريت شرط دي، اوسبيلًا څخه مرادتوښه اوسوارلئ ده، امام قرطبی رحمه الله تعالی داقول دعمراوابن عمراوابن عباس رضی الله تعالی عنهم اونوروتابعينواودامام شافعي اوامام اعظم ابوحنيفه رحمهم الله تعالی ګرځولي، اوحافظ ابن کثيررحمه الله تعالی دعکرمه رضی الله تعالی عنه څخه نقل کړيدی چې سبيلًاصحت دبدن ته وئيلی شي اوحافظ ابن کثير رحمه الله تعالی د"ومن کفر" متعلق دابن عباس رضی الله تعالی عنهما اودمجاهدرحمه الله تعالی وغيره نه نقل کړی چې مراد له دينه هغه څوک دی چې انکاروکړي دفرضيت دحج نه، اوحسن بصري رحمة الله تعالی عليه په ظاهرباندې حمل کړيدی،او(فان الله

غنى عن العلمين)جمله کي عجيبه لطيفې ته اشاره ده هغه داچې هرکله دبيت الله په باره کې(هدى للعلمين)اووئيلى شو، نودادى دپريښودلوسره يې څکه ټول عالم ذکرکړيدى چې بقاء دبيت الله سره بقاءددنيامتعلق ده،چې څو پورې کعبه شريفه موجوده وي اواحترام يې جارې وي نودنيابه اباده وي،لکه چې په دې مفهوم باندې بعضې رواياتونه دلا لت کوي نوهرکله چې کعبه شريفه ورانه شي نوالله تعالى به خپله غناء((بې حاجتي)) ښکاره کړي په فناء کولودعالم سره.

﴿ب :- ديومبارک حديث شريف توضيح﴾

(عَنْ عَلِى کرم الله وجهه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ الله صلى الله عليه وسلم مَنْ مَلَکَ زَادًا وَرَاحِلَةً تُبَلِّغُهُ اِلَى بَيْتِ الله وَلَمْ يَحُجَّ فَلاَعَلَيْهِ اَن يَّمُوتَ يَهُودِيًااَوْنَصْرَانِيًّا وَذَالِکَ اَنَّ الله تَبَارَکَ وَتَعَالَى يَقُوْلُ وَلِلّهِ عَلَى النَّاسِ حِجّ الْبَيْتِ مَن اسْتَطَاعَ اَلَيْهِ سَبِيْلاً) . (رواه الترمذى)

ژباړه:دحضرت علي کرم الله وجهه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلي کوم شخص سره چې دومره خرچ وي چې په هغي سره دسوارلۍ انتظام کولئ شي، چې بيت الله شريف ته پرى ورسيږي ،بياهم هغه حج ونکړي نوهيڅ پروا نلري که يهودي مړشي يانصراني بيارسول الله صلى الله عليه وسلم دتائيد لپاره "ولله على الناس حج البيت من استطاع اليه سبيلا" ايٓت شريف ولوستو(ترمذې شريف)

توضيح: محترمو!دمحدثينوحضراتو دقواعدوموافق ددې حديث شريف سند کې کلام شته مګر دامذکورايٓت شريف اونورروايات ددې مفهوم تائيدکوي

لکه دابي امامه رضی الله تعالی عنه په روایت کې دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلي: څوک چې سخت مشکل، یا ظالم بادشاه ،اویارنځورتیا یي دحج څخه نه بنده وي، اوبیاهم دحج کولونه بغیرمړشي که هغه غواړي یهودي دې مړشي یانصراني (رواه الدارمی کذا فی المشکوة وفی الا تحاف) نو ظاهردحدیث شریف څخه معلومیږي چې حج پرېښودونکې کافردی لکه په اٰیت شریف کې راغلي (وَمَنْ كَفَرَ فَاِنَّ اللهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ) پس په اٰیت شریف کې دتارک حج نه په کفر سره تعبیرشویدی، البته تاویل یې واضح دی هغه داچې په فرضیت دحج یې عقیده نوي، یا حج پرېښودل حلال ګڼي،یاداچې حج پرېښودل سړی کفرته راکاږي،اویادا عمل دکفردی ؛امّا وجه دتخصیص په یهودیت یانصرانیت سره یا خو دوجهې دتشبیه دعدم التفات اوعدم توجه ده کتابونو منزله وته په دوې باندي، اویا تشبیه په ترک دتعظیم دبیت الله کې دي،لهذا داسخته بدبختې ده چې په چاحج فرض شي بیاپه تلوکې قسم قسم بانی کوي چې آینده کال ته به په خیر سره ولاړ شم، نوپدې کې ډیرکلونه تیر شي،یاخو بیرته مفلس اوغریب شي،یامړشي،نوحج ترینه پاتې شي، اوپیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمائیلي څوک چې حج کول غواړي نو سمدستي دې کوي تاخیر اوبهانې دې نه کوي (رواه ابوداوؤد). ځکه چې دمرګ هیڅ معلومات نه وي چې کله به راځي، لهذاځیني فقهاء کراموعجلت اوبیړه په حج کولو کې واجب بللي، اوځیني علماء کراموبیا بیړه په حج کولو کې مستحبه فرمائیلې ده، پس ځینې کم بخت خلق سره

ددی سخت وعیده دحج کولو اراده هم نه لري په دنیاوي شهواتوکې مستغرق وي، اودآخرت ابدي زندګي ورسره هیڅ سوچ اوفکر هم نه وي.

﴿ ج :- دسلف صالحینو رحمهم الله تعالی آثار ﴾

(قال عمر رضي الله عنه "لَقَدْ هَمَمْتُ اَنْ اَبْعَثَ رِجَالًا اِلَى الْاَمْصَارِ فَيَنْظُرُوْنَ اِلَى مَنْ كَانَ لَهُ مَالٌ وَلَمْ يَحُجَّ فَيَضْرِبُوْنَ عَلَيْهِ الْجِزْيَةَ"). (۱)

ژباړه : حضرت عمر فاروق اعظم رضي الله تعالی عنه فرمايې زړه مې غواړي ، چې مختلفو ښارونوته خلق واستوم چې معلوم کړي چه کوم کسان باوجود دمال اوقدرت حج نه کوي چې په هغوي باندي جزیه مقرره کړي .

توضیح:محترمو!فرضې حج پرېښودل دزیات خسارې اونقصان سبب دی ځکه چې جزیه خوپه کفارو مقررکیږي مسلمان باندي خوجزیه نوي، البته داحکم په تغلیظ اوتهدیدباندې محمول دی،اویاپه منکردفرضیت حج باندې حمل دئ اوهمدارنګه دحضرت ابن عمر رضی الله تعالی عنهماڅخه نقل دی چې فرمايې کوم سړی چې تندرست وي اوسرمایدارهم وي چې حج ته تللئ شي اوبیاهم بغیر دحج کولوڅخه مړشي نو دهغه په مخ(تندی) باندې به دکافر لفظ لیکلی وي بیایې داایت شریف ولوستوچې(ومن کفر) الایه۲(۱).

دحضرت سعیدبن جبیر،ابراهیم نخعی، مجاهد،او طاوس رحمهم الله تعالی (چې په تابعینو علماء کرامو کې مشهورمجتهدین دي)فرمائیلې:چې دکوم سړې متعلق معلومه شي چې غني دي اوحج ورباندې فرض دي، اوهغه

(۱) تفسیر قرطبی (ج) ۲ (ص) ۹۹

(۱)۲تفسیردرالمنثور.

بغيردحج کولوڅخه مړشي په هغه باندې به دجنازې لمونځ نه کيږي.(۱) البته دڅلورو امامانو رحمهم الله تعالى په نزد دحج په نه کولوسره سړی نه کافرکيږي ترڅوچې يې ترينه انکارنوي کړی،مګربياهم دسخت وعيداو عتاب لاندې داخل ده.حالانکه ځينې بدبخته خلق بياهم دحج نه کولولپاره مختلفې بهانې (پلمې)جوړه وې، چې وادونه موندي کړي، ميله (مکان) مونشته، اوتجارتي کاروبارموخرابيږي؛ خوشريعت مطهره دغه غيرشرعي اَعذارنه قبلوي.اوځينې خلق بيا دفقرڅخه ويريږي چې ددنيامحبت يې دزړه څخه تاوشوی وي، حالانکه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلي چې حج اوعمره نيستي، وفقيری داسې غوځوي اولري کوې لکه څنګه چې داوربټۍ داوسپنو اودسرو سپينوزروخرابی لري کوې.(۲) لهذادشيطان په وسوسو، دنفس په دسيسو، اوددنياپه فريبوخطاکيدل نه دي پکارچې دسی ونه شي چې دغه لوی نعمت يعنى حج کولو څخه محروم پاتې شي،نوالله تعالى مودي ددغه عظيم نعمت يعنى حج کولوڅخه يوکال هم محروم نه کړي امين يارب العلمين بجاه سيد المرسلين صلى الله تعالى عليه وسلم.

﴿ دريم بحث:- دحج آداب اودحج اجمالي ترتيب ﴾

﴿ الف:- دحج مهموآدابو توضيح ﴾

محترمو! دانسان دژونداوژواک ټول هغه کړه وړه چې شريعت يې حدونه ټاکلي دي،اودهغوڅخه په ناسته ولاړه، هستوګنه نظافت، خبرواترو، خوړلو

(۱)اتحاف.

(۲)رواه الترمذی.

اوڅښنلو، اغوستلو،اودژوندپه نورواړخونوکي کاراخستل کيږي دهغې مجموعې ته اداب ويل کيږي دهمدغوآدابو دمراعت ساتلوپه واسطه ديو متمدن فرداوولس(مسلمان)اوديوه وحشي فرد،اوولس(فاسق ياکافر) پيژندګلوی اوامتيازکيدلی شي،بله خوا دآدابوپرځای راوړل اوپه خپل فردي اوټولنيزژوندکې دهغومراعات ساتل دانسان ژونداوژواک ته درنښت اوخوند ښښي، اوانساني کرامت پکې په فطري توګه ښه وده کولای شي،لهذاددغه آدابومراعت خوهروخت ضروري دی،خصوصًا دحج سفر کې ددغه آدابوانتهايې لحاظ لا زمي دی، اوپدې ارتباط علماء کراموډيرې معتمدې رسالې ليکلي دي،نودحج سفر کې هغه معتمدرسالې ځان سره ساتل او موقعه په موقعه هغه مطالعه کول پکاردي؛البته بې تعليمه حجاجو لپاره ضروري ده چې دحج ټول مسائل اوآداب ديومعتمد عالم څخه زده کړی، اوکه داسې ونکړي نوسره دادومره مصارفواوخرچواوسفردمشکلاتو او تکاليفو برداشت کولو سره به يې حج نيمګړی اوغيرمقبول شي،لهذامونږ به هم محترموحاجيانوصاحبانو لپاره په مختصره توګه دحج ځينې مهم آداب وليکو چې ترينه استفاده وکړی:-

١- کله چې الله تعالی کوم خوش نصيب ته دحج ياعمرې توفيق ورکړي يعني حج ورباندې فرض شي ياعمره ورباندې واجب شي،يادنفلي حج اوعمرې اسباب ورته برابر شي، نوبيا يې په آدا کولو عجلت ((بيړه)) پکارده، خصوصًا په فرضي حج اووجوبې عمره کي، دمعمولي عذرونوپه وجه يې مؤخرکول مناسب نه دي، ځکه چې په دې مواقعوکې شيطان ورته

رنګ په رنګ وسوسې اولغوه خیالات اوبې محله ضروریات سړي ته وړاندې کوي، اوپه زړه کې یې ورته غورځوي، الله تعالی فرمایې (قَالَ فَبِمَا أَغْوَيْتَنِي لأَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَاطَكَ الْمُسْتَقِيمَ)الاية [1] یعنې شیطان وویل قسم دی (دآدم په سبب) دې چې زه ګمراه کړم نو هرومروبه انسانانوته ستاپه سمه لاره کې کینم، بیابه خامخا دوی ته هروخت مخامخ، اوله شا ددوی، له ښیي طرفونوددوی،اوله کیڼوطرفونو دوی ته به راځم، او زیاتره به یې شکر ګذارونه مومې . دحضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهماڅخه نقل دی چې لدینه خاص طورسره دحج واله مراددی،نوپه ځینوبدبختوباندې دشیطن تسلط راشي،اوپه پریشانیوکې یې مبتلاکړي،په نتیجه کی یې دحج آداکولولوی سعادت څخه محروم کړي ،فلهذادغه وسوسې وخیالات فاسده اوموانع دحج دشیطان لخوا ګڼل او دفعه کول یې پکاردي،ځکه چې دمرګ څه پته نه لګیږي چې کله به راځي، نوښه کارونوکې خصوصًاحج اوعمرې کې خومسابقه پکارده، سستي پکی مناسبه نه ده.

۲-کله چې دحج سفراراده وکړی نومسنونه استخاره وکړه،البته حج لپاره خو داستخاري ضرورت نشته لکه مشهوره مقوله ده (درکارخیرحاجت هیچ استخاره نیست) لکن سفرحج چونکه اهم سفردی دلارې تکالیف یې زیات دي، نوددي کارولپاره به استخاره وکړي چې کله ولاړشم، په کومه لاره باندې ولاړشم،اود چاسره ملګری شم اوداسې نور.اوحضرت جابر رضی الله تعالی عنه فرمائیلي:چې موږته رسول کریم صلی الله علیه وسلم داستخارې

(۱) اعراف ۱۶\۱۷ایت

لمونځ داسې راښودو لکه چې قرآن يې راښودو، اووايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلي کله چې څوک کوم کارته قصد اواراده وکړي دوه رکعته لمونځ دې آداکړي اوبياد داسې ووايې :((اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْتَخِيرُكَ بِعِلْمِكَ ، وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ ، وَأَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِيمِ ، فَإِنَّكَ تَقْدِرُ وَلَا أَقْدِرُ ، وَتَعْلَمُ وَلَا أَعْلَمُ وَأَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ . اللَّهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الْأَمْرَ خَيْرٌ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي أَوْ قَالَ ــ فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ ــ فَاقْدُرْهُ لِي ، وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الْأَمْرَ شَرٌّ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي أَوْ قَالَ ــ فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ ــ فَاصْرِفْهُ عَنِّي ، وَاصْرِفْنِي عَنْهُ وَاقْدُرْ لِيَ الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ ، ثُمَّ رَضِّنِي بِهِ ــ وَيُسَمِّي حَاجَتَهُ)).(۱)

(۳)دحج تلونه مخکې بايد دحج تعليم اوترتيب، اعمال اومناسک به ديو معتمد باعمله عالم څخه ښه زده کړه،اويادحج يوښه معتمد کتاب دځان سره واخلي چې دهغې څخه ځان ښه پوه کړي، ځکه چې پدي طريقه به هغه يوخوا به دالله تعالى ذکراومسنون دعاګانوسره عادت شي اوورته يادبه شي، اوبله خوا به دحج اهميت اوقدرهم ورسره زيات شي چې دحج کولوپه وخت به ورته دحج خوند (مزه) حاصليږي، اودحج عشق اومحبت په خوند به هم پوهه شي، نوډير خلک په دي خطاء کيږي چې هلته به معلم دحج ټول افعال دحج راته ښايي ،خو خبره دا سې نه دي بلکه معلم خو صرف دخيمواوموټرو وغيره انتظاماتومسئول وي، اوحاجي صاحب ته دحج مسائلو دتعليم زمدارنه وي، لهذا دحج مسائل اوترتيب زده کول

(۱) رواه البخاری ج۱ص۲۰۲

حاجي ورورو ستا خپله زمه واري ده دمعلم په طمع مه کیږه.

(۴)-کله چې دحج سفراراده وکړی نو نیت خالص اوبرابر کړه،اودحج مقصد به یواځې دالله تعالی رضا حاصلول وي،نه سیاحت، تفریح،ریا، شهرت اودنیاوي اغراض،ځکه چې دابدترین مقاصددي،ترڅو چې ستاحج مبرور،اودالله تعالی څخه داجرت ترلاسه کولوجوګه وګرځې ځکه الله تعالی دنیتونوموافق معامله کوي.

(۵) - یوداسې دحج ملګرې ځان سره برابرکړه چې هغه دینداره وي، په دینې کارونوکې دِل چسپی اوشوق لرونکې وي،په لاره کې معین اوکومک کونکې وي،نیکواعمالوته ترغیب ورکونکې وي،دڅه حادثې پیداکیدلوپه وخت کې همت لوړوونکې وي،دبزدلې په وخت کې بهادري پیداکونکې وي،دپریشانې په وخت کې دصبر تسلې تلقین کونکې وي، نو کچیرې یودینې عالم سره ملګری شي نو داخو نورٌ علی نورٍ دی ځکه دمذکوره صفاتو باوجودبه دحج صحیح تر تیب ښوونکی هم وي چې ستا سره به مُعین وي؛ حتی علماء کراموليکلي چې خپل رشته دار څخه پردی ملګری ډیر بهتر دی، ځکه کچیرې په لاره کې دطبائعو داختلاف له وجې څه جنجال پیداشي اودملګرتیادختمیدوموقعه راشي نودرشته دار سره دقطع صله رحمئ ګناه کې سرئ مبتلا شي، البته کچیرې داختلاف خطره نه وي نو بیادخپلو رشته دارنو سره ملګرتیا کې کومه بدي نشته.

(٦) دحج لپاره دحلا ل اوپاکیزه مال انتظام وکړه چې مشتبه هم نه وي اوکه حرام مال باندي لکه ،رشوت ،غصب ، غلا ، خیانت ، اوظا...

باندی حج هم وکړي نو فرضي حج خو به یي آداشي، لیکن داحج بې مقبول اومبرورندی، لکه یو حدیث شریف مضمون دئ چې کوم سړئ حرام مال سره حج کوي هغه چې کله لبیک وایې دالله تعالی له طرفه ورته ارشاد کیږي چې ستالبیک ندی منظوربلکه دغه مردود دي، اویوبل حدیث شریف کې راځې چې الله تعالی حورته فرمایې چې ستا داحج مردود دي یعنې مقبول نه دئ؛ اوعلماء کرامو داهم لیکي چې کچیرې مال مشتبه وي نو په دی صورت به دحج لپاره په قرض باندي روپۍ راواخلي حج دې پری وکړي، بیا دې دغه مشتبه مال څخه داقرض آدا کړي.

(٧) حج دسفرکولونه دې مخکې دټولو ګناهونو نه توبه وباسه، اوهر قسم حقونه که هغه امانتونه وي،که قرضونه اوکه دبل چاحق یې په غیر مشروعه طریقه اخستی وي، نوهغه دي خپلو خپلو مستحقینو اواصلې مالکانو ته وسپاري، اویا ددوی راضې کولو لپاره منا سب انتظام وکړي، اوچې څوک ترینه خفه وي ببښنه اومعافې دي ترینه وغواړي، اودقضاشوي مونځونه یا نورعباداتو لکه نذرو، کفاراتو اومالي اوبدنې عبادات چې پري لازم شوي وي هغه دې پوره اوادا کړي، اودضرورت مطابق دې په کورکې دخوراک اوڅکاک وغیره شیان پریږدئ چې دهغوې خرچ اومصرف په ده باندې لازمي وي، چې دده ترراتلو پوري یې بندو بست وشي.

(٨) دځان سره دومره اندازه روپۍ دحلا ل اوپاکیزه مال څخه دمصرف او خرچ لپاره واخله چې دحج سفرپوره رفت آمد لپاره کافي وي،بلکه احتیاط لپاره څه اندازه زیاتې روپۍ اخستل بهتردي چې ضرورتمندانوسره دضرورت

په وخت کې کومک وکړی شي، اوبله خوا سوال ته هم محتاج نشي، لکه الله تعالی فرمايي(وَتَزَوَّدُوْ)الایه یعنې چې کله دحج اراده وکړي نو ضروري ځان سره مصرف اوخرچ واخلی ځکه چې توکل زبانې څه شئ ندی بلکې توکل قلبې بهتردي چې زړه يې مطمئن وي،یعنی چې دهغه په خپلو ملګرېو (روپيو)باندی دومره اعتماد نه وي څومره يې چې دالله تعالی په خزانوباندي اعتمادوي، اوپه بي صبرئ اوناشکرې کی نه مبتلا کیږي، اوهمداراز دضرورت سپک سامان هم ځان سره واخله ځکه چې په دی سفرکې نورهرشئ پیداکیږي، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ هرځايي دحج په موسم کی بازارجوړ وي.

(۹) دکورنه دوتلوسره دی دوه رکعته نفلي مونځ اداکړه،اوپه لومړی رکعت کې (قُلْ یایهاالکفرونَ)سورت اوپه دوهم رکعت کې(قلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدْ)سورت لوستل بهتر دي، اودوه رکعته لمونځ دې په خپل مسجد کې وکړي نوداهم اولی ده.

(۱۰)دخپل طاقت مطابق څه خیرات اوصدقه ورکړه ځکه چې صدقي سره مصیبتونه دفع کیږي، یوحدیث شریف کې دي چې صدقي سره دالله تعالی غوصه لري کیږي،اوهمدارنګه دصدقي بدله به یوالله تعالی درکوي او دقیامت په ورځ به يې دهرډول تکلیفونوڅخه ساتي.

(۱۱)دکورڅخه دوتوپه وخت کې دسفرمخصوصې ماثورئ دوعاګاني وکړه چې په صحیحواحادیثوکې منقول وي،لکه بِسْمِ اللّٰهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللّٰهِ وَلاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ اِلاَّ بِاللّٰهِ (کما في الترمذی وابي داود)، نوکله چې دادعاء وکړې نو ورته ووئیلئ شي چې خپل طرفته دې لاره بیامونده په لارکې به ستاحفاظ.

كيږي،اودشيطان څخه به ليرې وي؛اودا دوعاهم ولولې(أللهمَّ إِنِّي اَعُوْذُ بِکَ أَنْ اَضِلَّ أَوْ اُضَلَّ أَوْ اَزِلَ أَوْ اُزِلَّ أَوْ اَظْلِمَ أَوْ اُظْلَمَ أَوْ اَجْهَلَ أَوْ يُجْهَلَ عَلَیَّ رواه احمدوترمذی([1]) اوآية كرسی اونورې ماثورې دعاګانې به هم ولولئ.

(١٢)دځېل مقامې دوستانوملګروڅخه درخصتيدوپه وخت دعاګانې وغواړه ،اوته هم ورته دعاګانې وکړه، پس مسافربه مقيم ته دغه دعاوكړې أَسْتَوْدِعُ اللَّهَ دِينَکَ وَأَمَانَتَکَ وَخَوَاتِيمَ عَمَلِکَ))([2]).اومقيم به مسافرته دغه دعاوكړې اِسْتَوْدِعُ اللّٰهَ دِيْنَکَ وَاَمَانَتَکَ وَخَوَاتِيْمَ عَمَلِکَ(رواه ترمذی)، يابه دا دعاورته وكړئ (زَوَّدَکَ اللّٰهُ التقوٰی،وَغَفَرَ ذَنْبَکَ وَيَسرلَکَ الْخَيْرَحَيْثُ مَاکُنْتَ(رواه ترمذی) اوهغه مسافربه ورته جواب دغه دعا وواي أستودعک الله الذي لا تضيع ودائعه ياداسې نورې ماثورې دعاګانې .

(١٣) كله چې سفرشروع كيږي نو بايد انسان يوازې سفرونكړي اولاً خوبايد درې كسان وې ځكه چې په دې سره دسفرټول مشكلات حل كيږي، نودوی بايد دحج دقافلې لپاره يواميرهم وټاكې، چې هغه ديندارە، پوه تجربه كار،متحمل مزاجه، اومتواضع شخصيت وې، كه قريشي وې نوداخو ډيره بهتره دی، نبي كريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي چې كله درې كسان هم وې نويوكس ده اميرمقرر كړئ([3])چې خوک اميرمقررشوهغه لپاره دامارت حقوقولحاظ كول پكاردي،لكه دملګروداحوالوڅخه ځان

---

(١)رواه احمدوترمذی صحيح.

(٢) أخرجه النسائی ((الكبری))ج٥ص٢٥٠ص٨٨٠٥) ،، والحاكم ج١ص٤٤٢ رج٢ص٩٧) ، والبيهقی ج٥ص٢٥١)

(٣) ...

خبرول، دسامان نګراني کول،دهغوی دارام اوراحت اسباب په نظرکې ساتل وغیره چې دامیرصاحب ذمه داري ده.

(۱۴) که ممکنه وي نوسفربه دمیاشتې په اولوورځوکی د پنج شنبې اویا دوشنبې ورځې څخه شروع کړه،یوحدیث شریف کې راغلي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم به دسفرشروع دپنج شنبې په ورځ ښه ګڼلو([1])همدارنګه دځینو شرائطو اوحالاتو له امله دشپې سفرکول هم بهتــراوجائز کاردی.

۱۵ –دسوارلی په سوریدلواوکوزیدلوکې بایدمسنونې دعاګانې ولوله،اوښکته کیدل په احتیاط سره وکړه،اودسامان حفاظت لپاره به څوک مؤظف کړه. ځکه چې دنبي کریم صلی الله علیه وسلم عادت مبارک دا ؤوچې کوم منزل ته به رسیدونوفرمایل به یې چې دحفاظت کارچاته سپارلی شویدی؟اوپه سفرکې دسورلې دوسائلو اوباروړونکې څارؤو دآرام اوهوسایې لحاظ بایدهم وساتل شي، اوپه لارې کی موقعه په موقعه که دعاګانې درته یادوې نو وی لوله، اوکه څه درته یاد نه وي نوالله اکبر، سبحان الله ، الحمدلله ،اودرود شریف ولوله، دحضرت جابر رضی الله تعالی عنه څخه روایت دئ مونږبه چې ختلو نو تکبیربه مو وئیلو، اوچې کښته کیدلوبه نو تسبیح به موویلو ([2])اویوبل حدیث شریف دی دعا ښودنه هم راغلي دي اللّٰهُمَّ اطْوِ لَهُ الْأَرْضَ،وَهَوِّنْ عَلَيْهِ السَّفَرَ))([3]) .یوحدیث شریف دی چې کوم ځائ قافله یا مسافر واړه وي نودغه دعا به

---

(۱)ترمذی شریف.

۲ رواه البخاري

۳ والحاکم ج ۲ص۹۸ ، والبیهقی ((الکبری ج ۵ص۲۵۱)

وکړي اَعُوْذُبِکَلِمَاتِ اللهِ التَّامَاتِ مِنْ شَرِّمَا خَلَقَ. (متفق علیه) اوددی دعا ښودنه هم راغلي دي: اَللّٰهُمَّ إِنَّا نَسأَلُکَ فِي سَفَرِنَا هَذَا الْبِرَّ وَالتَّقْوَى ، وَمِنَ الْعَمَلِ مَا تَرْضَى ، اللّٰهُمَّ هَوِّنْ عَلَيْنَا سَفَرَنَا هَذَا ، وَاطْوِ عَنَّا بُعْدَهُ ، اللّٰهُمَّ أَنْتَ الصَّاحِبُ فِي السَّفَرِ ، وَالْخَلِيفَةُ فِي الْأَهْلِ ،اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِکَ مِنْ وَعْثَاءِ السَّفَرِ ، وَكَآبَةِ الْمَنْظَرِ ، وَسُوءِ الْمُنْقَلَبِ فِي الْمَالِ وَالْأَهْلِ . قال :
وَإِذَا رَجَعَ قَالَهُنَّ ، وَزَادَ فِيهِنَّ : آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ .[۱]

(۱۶) که بدون دمشقت نه پیاده حج کولئ شی چې په بل کوم مکروه شئ کې نه مبتلاء کیږي نوزیاته بهتره دئ، لکه څنګه چې مخکې دپیاده حج فضائلو بحث تیرشو فلهذا له مکی مکرمی څخه ترمنٰی اوعرفات پورې پیاده تلل، اوبیا بیرته پیاده راتلل ډیر زیات غوره دي،ځکه چې ډیرځلې دسوارلئ دمجبورئ په وجه سرېنه ډیر مستحبات پاتې شي حتٰی چې په ځنې اوقاتوکې دلمانځه دپاتې کیدو خطره هم وي، یا دجماعت لمونځ دزیاتې ګنې ،ګونې ،دلارې دبندیدو، دموټرو درش په وجه ترینه پاتې شي، سره لدینه چې دلمانځه ثواب دحج څخه زیات دئ، اودلمانځه پریښودل دستئ له وجهې هم ګناه کبیره ده، لِهذادلمانځه نهایت اهتمام ضروري ده، لهذاپیاده تلل چې عذر نوي بهتردي.

(۱۷) ټول دحج سفرشوق وذوق اوعاشقانه جذبې سره کړه ځکه چې دالویه خوش قسمتې ده چې دالله تعالی په میلمنوکې ستا نوم هم راغلئ دی،امید دئ چې دنیا کې بې خپل بیت الله شریفی زیارت درته نصیب

[۱] ومسلم ج۹ ص۱۱۰ :۱۱۱ .نووی) ، وأبو داود (۲۵۹۹) ، والترمذی (۳۴۴۷)

کړوپه اخرت کې به هم ددیدار الهې څخه نه محرومه کیږي، لهذاپه دې
سفر کې دا تَنَعُم اوزیب ،زینت، اسبابوڅخه ځان ساته،ځکه چې دا سفر
عاشقانه سفردئ معشوقانه سفرنه دی نو حج دعشق مظاهره ده لکه رسول
الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: اَلْحَاجُ اَلشعثُ اَلنفِلُ (۱)
یعنې حاجي ددې خواره واره ویښتوواله خیرن خچن وي.
۱۸- دحج په سفرکې چې کومه خرچه او مصرف کوی نوپه ډېره خوښۍ
اوفراخ زړه سره یې کوه،اوپه تنګ دلۍ سره دې دغه مبارک سفراخراجات
هیڅکله مکوه،ځکه چې دیوحدیث شریف مطابق یوروپۍ مصرف کول داو
سوو روپیوثواب سره برابره دی، البته اسراف مه کوئ، اوبل دچې په دې
سفرکې چې کوم مشقتونه اوتکلیفونه درته رسیږي په ډېره مینه یې برداشت
کوه، هیڅکله په دې باندې دناشکرۍ اوبې صبرۍ اظهارمه کوه، لکه امام
غزالي رحمة الله تعالی علیه لیکلي چې دې سفرکې سړی کوم خرچه ومصرف
کوي نوپه نهایت خوش دلۍ سره دې کوې، اوچې کوم جاني یامالي نقصان
ورته رسیږي نوطیب خاطر سره دې برداشت کوي، ځکه چې دا دده دحج
د قبول کیدلوعلامه ده. (۲)
(۱۹)په دوران دسفرکې به په زیات اهتمام سره دګناهونونه ځان ساتئ لکه
دفَحْشَاءنه:یعنې بربنداوسیدل،زناکول،نامشروع ارتباط ساتل،په بدو کارونو
اخته کیدل وغیره.اوهم دمُنکَرنه:یعنې دپلارظلم داولادپه هکله،دپلارسخت

(۱) مشکوة
(۲) اتحاف

زړه توب،داولاد بې لاره کې وغيره.اوهم دبَغيٌ نه:يعنې چې دپريشانی سبب وي لکه غلا،قتل،داړي(ډاکې)اچول وغيره،دروغ،وعده خلافي،خيانت،تور پورې کول، غداري اوټگي، نمامت (چوغلگري) غيبت،اوبدويل،دوه مختوب، بدگماني،بي ځايه ستاينه،بخل (شومتيا)حرص،طمع، بُغض، کينه، قهر غضب، فخر، غرور، پوچه وينا، اوظلم وغيره داخوهروخت ناجائزدي خو دحج سفر کي ترينه ځان ساتل زيات ضرورې دي، ځکه چې حج خو دتوبې دقبول کيدومرحله ده،نوددی گناهونه څخه په اخلاص سره توبه ايستل په کاردي، اوکول خو پريږده. اوهمد رنگه په هر عبادت کی دالله تعالی په لطف اوکرم سره دقبوليت مقام ته درسيدلو اميد لرل ضرورې دي، لکه صدق،سخاوت،عِفت (پاک لمني)امانت داري، شرم اوحيا، رحم (زړه سوی)،عدل اوانصاف،پرعهد ټينگار،احسان(نيکې کول) تواضع(خکسارې) ، اعتدال(ميانه روی)،شجاعت(زړه ورتيا)،اونظافت وغيره کي؛او همدرنگه د خوراک څښاک،مجلس،خوب،ملاقات،گرځيدو اوراگرځيدو،او دخبرو وغيره دآدابو لحاظ ساتل هم ضروري دي، ځکه چې دحج سفر دعباداتو کولو يوه زرينه موقعه ده،لهذا له دې موقعې څخه استفاده کول لازمی دی، اوبل دا چې ايمان خوپه مابين دخوف اورجاء (اميد) کې دی لکه حضرت عمرفاروق رضی الله تعالی عنه فرمايې: چې که قيامت کې دااعلان وکړی شي چې جنت يواځې يوشخص ته بخښش شويدی باقي ټول به جهنم ته غورځيږي نوزما(دالله تعالی رحمت نه)اميددی چې هغه يوسړی به زه يم، اوکه چيرته دااعلان وشي چې يواځې يوکس به جهنم ته ځي باقي نورټول به

جنت ته داخلیږي نوزما ویره ده چې هغه یوزه نه وم. نودالله تعالی رضا په ښواعمالوکې پټه ده، په هرعمل کې به داعقیده لري چې دادالله تعالی درضاسبب ده،اوهمدغه شان دالله تعالی قهراو غضب په بدواعمالوکې پټه دی، هربدعمل کې به سړي دایقین لري چې دادالله تعالی دغضب لعنت اوقهرسبب دی، نودامشت نمونې خرواره یوڅومهمو آدابو باندې تَنْبِیْه وه،اوڅه نورآدابو بیان به دمدینې منورې دزیات ترمضمون لاندې هم راشي ان شاءالله تعالی نوهغه هم ملحوظ کړه.الله تعالی دي مونږ وستاسي ته دصحیح پوره آدابودتعمیل اوتکمیل توفیق رانصیب کړي آمین یارب العالمین.

﴿ب:- دحج اجمالي ترتیب﴾

۱ - داحرام تړلو طریقه

محترمو!کله چې سړي میقات ته ورسي نوکه کېدای شي غسل دوکړي، اویادي اودس تازه کړي، بیابه احرام وتړي، پس دیوڅادرڅخه دي لنګ ووهي،اوبل څادردي دی پاسه واغوندې، سربه سرتوره کړي،البته داڅادرې به ګنډلي شوي نوي، اوسنت طریقه داده چې دوه رکعته نفل لمونځ دي هم وکړي خوکه مکروه وخت نه ؤو، چې په اول رکعت کې سورة فاتحې څخه وروسته قل یاایها الکفرون اودوهم رکعت کې دي سورة الاخلاص (قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ + اللَّهُ الصَّمَدُ +لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ +وَلَمْ يَكُن لَّه كُفُوًا أَحَدٌ) ولولي، لکن سربه بې دلمانځه په حال کې پټ وي،بیا دلمانځه څخه دفارغ کیدووروسته به سرلوڅ کړي،پس حج تمتع کی به اولاًدعمرې نیت وکړي اودا الفاظ به ووایي:اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اُرِيْدُ الْعُمْرَةَ فَيَسِّرْهَا لِيْ وَتَقَبَّلْهَا مِنِّيْ ای الله

تعالی دعمرې کولواراده کوم،قبوله یې کړې اوراته اسانه یې کړې، بیا کله چې یوم ترویه یعني ذوالحجی اتمه ورځ راشي بیا به دحج نیت و کړې...؛

اوکه دحج افراد اراده یې وه نومیقات کی به دحج افراد نیت وکړي اودااالفاظ به ووایي : اَللّٰهُمَّ اِنّيْ اُرِيْدُ الْحَجَّ فَيَسِّرْهُ لِيْ وَتَقَبَّلْهُ مِنّيْ وَاَعِنّيْ عَلَيْهِ وَبَارِكْ لِيْ فِيْهِ نَوَيْتُ الْحَجَّ وَاَحْرَمْتُ بِهِ مُخلصاً لله تَعَالَى...؛اوکه د حج قران اراده یې وه نومیقات کی به د حج قران یعني حج اوعمرې دواړونیت وکړي اودااالفاظ به ووایي: اَللّٰهُمَّ اِنّيْ اُرِيْدُ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ فَيَسِّرْهُما لِيْ وَتَقَبَّلْهُمَا مِنّيْ وَاَعِنّيْ عَلَيْهِمَا وَبَارِكْ لِيْ فِيْهِمَا نَوَيْتُ الْعُمْرَةَ وَالْحَجَّ وَاَحْرَمْتُ بِهِمَا مُخْلِصًا لِلّٰهِ تَعَالَى...

۲- دتلبیه ویلو ترتیب

محترمو!کله چې سړي داحرام نیت وکړي نوبیابه نارینه په زوره کلمات دتلبیه درې وارې ووایي،اوښځه به یې په ورو(قراره)آواز سره کلمات دتلبیه ولولي،او دتلبیه په الفاظوکې به کموالی نه کوي،داخبره یادلره چې احرام دتلبیه ویلوڅخه وروسته شروع کیږي نه داحرام دڅادرو تړلوسره،دتلبیه الفاظ دادی:: لَبَّيْكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ لاَ شَرِيْكَ لَكَ لَبَّيْكَ اِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لاَشَرِيْكَ لَكَ. [1]

زه حاضریم یاالله تعالی زه حاضریم،تاسره هیڅوک شریک نشته،زه حاضریم، بیشکه ټول تعریف اونعمت هم تالره دي،اوټول جهان هم ستادی،ستا سره هیڅوک شریک نشته، دغه الفاظ به نه کم کوي البته که

---

[1] رواه البخاري ۱۵۴۹، ومسلم۱۱۸۴).

نورالفاظ ورزيات کړي ښه خبره دي لکه لَبَّيْکَ وَسَعْدَيْکَ وَالْخَيْرُ کُلُّهُ بِيَدَيْکَ لَبَّيْکَ وَالرُّغْبىٰ اِلَيْکَ. او لدينه وروسته به دغه دعاووايي: اَللّٰهُمَّ اِنِّي اَسئَلُکَ رِضَاکَ وَالْجَنَّةَ وَاَعُوْذُ بِرَحْمَتِکَ مِنَ النَّارِ. بيابه ورو ورو درود شريف ووايي، اودخپلي خوښې دعاوي به غواړي، پس دسفرپه دوران کې خصوصًا دحالت د بدلېدوپه وخت به ډېره ډېره تلبيه وايي، لکه مثلاًدصبا،ماښام کېدوپه وخت،دکيناستو پاسيدوپه وخت، دفرض لمونځونو څخه وروسته، اودرخصتيدو په وخت اودخلقوسره دملاقات په وخت،دبهرتلو اودننه راتلوپه وخت، دسوريدو اوراکوځېدوپه وخت، دخوب څخه درابيداريدو په وخت، نوپه دې حالاتو کې دتلبيې زيات لوستلو داستحباب تاکېد راغلي دی.

۳- حرم شريف ته دداخلېدو آداب

محترمو! کله چې سړي مکې مکرمې ته راداخل شي، نوپه رسېدو سره به سامان په يو محفوظ ځای کی کيږدي، اواودس به تازه کړي، ،اومسجدحرام شريف ته به روان شي، په مسجدحرام شريف کې دداخلېدوپه وخت دي دروردشريف ولولي، او جماعت ته دورداخلېدو دعادي داسې ووايي :اَعُوْذُ بِاللّٰهِ الْعَظِيْمِ وَبِوَجْهِهِ الْکَرِيْمِ وَسُلْطَانِهِ الْقَدِيْمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ، وَالْحَمْدُ لله، وَالصَّلٰوةُ والسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ، اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا، وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ، اَللّٰهُمَ اغْفِرْلِیْ ذُنُوْبِیْ، وَافْتَحْ لِیْ اَبْوَابَ رَحْمَتِکَ ، اوکله چې يې په کعبه شريفه باندي يي نظرولګيږي نودرې واړې دي (اَللّٰهُ اَکْبَرُلَااِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ) اودرودشريف دی ووايي، اودخپلي خوښې دعادي دی وغواړي ځکه چې په دغه وخت کې دعا قبليږي.

۴- د طواف کولو طریقه

محترمو! کله چې مسجدحرام شریف ته داخل شي،نوبیابه ښی اوږه ښکاره کړي ،اوچپه اوږه به پټه کړي،نوڅادربه په چپه اوږه واچوي،بیابه دوهم طرف دڅادر دښی ترخ لاندې راولي،اوپه کینه اوږه باندې به یې واچوه، دفقهې په اصطلاح کی ورته اضطباع وایي، چې دا اضطباع خاص نارینه لپاره دي،اوزنانه به اضطباع نه کوي اوزنانه به په خپلوجاموکې طواف کوي،بیادي دطواف شروع کولولپاره شي خواته رانیږدي شي چیرته چې حجراسودمبارک لګیدلی دی،اوداسې به اودریږي چې ټول حجراسودیې ښی اړخ ته راشي،اودلته په ولاړه به عمرکوونکي دطواف نیت داشان وکړي: اَللّٰهُمَّ إِنِّي اُرِيْدُ أَنْ اَطُوْفَ لِلْعُمْرَةِ طَوَافَ بَيْتِکَ الْحَرَامِ فَيَسِّرْهُ لِي وَتَقَبَّلْهُ مِنِّيْ، یعنیای الله تعالی زه دعمرې اداکولو لپاره دبیت الله شریف څخه دطواف کولواراده لرم،نوته یې راته آسانه کړي،اوله ماڅخه یې قبوله کړي، که په عربي ژبه کې دانیت نه شي ویلي نو پښتو ژبه چې هره یوه ژبه وي دغه نیت به وتړي، که په ژبه یې څه الفاظ ونه ویل اوصرف په زړه کې یې دطواف اراده وکړه نوداهم کافي دی ، وروسته به دحجراسود داستلام لپاره ښی اړخ ته لږشان ورتیرشي چې حجراسودیې بیخي مخې ته راشي،حجراسودته به مخامخ اودریږي،اودواړه لاسونه به ترغوږونوپورې پورته کړي لکه څنګه یې چې دلمونځ لپاره پورته کوي، اوزنانه به تراوږوپورې لاسونه اوچت کړي،اودواړه ورغوي به حجراسودته مخامخ کړي بیا به داسې دعا وکړي .

بسم الله اَللّٰهُ اَکْبَرْ لَآإِلَهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ وَالصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ عَلَی رَسُوْلِ الله
أللّٰهُمَّ اِیْمَاناً بِکَ وَتَصْدِیْقًا بِکِتَابِکَ وَوَفَاءً بِعَهْدِکَ وَاِتِّبَاعًا لِسُنَّةِ نَبِیِّکَ مُحَمَّد
صلی الله علیه وسلم ؛نوبیابه لاسونه راښکته کړي حجراسودته به ورشي
اودواړه لاسونه به په حجراسود باندې کیږدي، اوحجراسودبه ښکل کړي
که درش (زیات خلق) له وجې څخه یې نه شي ښکلولی نودواړه لاسونه
یاصرف ښی لاس دي په حجر اسود باندي کیږدي،اوبیا به هغه خپل لاسونه
ښکل کړي،که داهم نه شوکېدی نوحجراسودته به په دواړو ورغوواشاره
وکړي، اوبیادي خپل ورغوې ښکل کړي، که په حجراسودخوشبویي
لګیدلي وي نوبیابه یې داحرام په حالت کې نه ښکلوي،اونه دي پرې
لاسونه لګوي، ځکه چې داحرام په حالت کې عطرلګول منعه دي، بلکه بیا
به په دغه دریمه اخري طریقه باندی ورته اشاره کوي، داستلام څخه اول به
عمره کوونکی تلبیه ویل بندکړي؛

اوهمدارازنارینه دي رمل یعنې اولودرېوشوطونوکې (دپهلواني) په شان تلل
کوي،چې اوږې به خوزوي اولنډلنډ قدمونه به اخلي،اوهم به داضطباع په
حالت کی طواف کوي،اوزنانه به بیغیرله رمل اواضطباع څخه طواف کوي؛
پس طواف به داشان شروع کړي:چې دکعبې شریفې ددروازي اړخ ته راوان
شي، نوکعبه شریفه به یې چپ طرف ته وي، البته اضطباع به په ټول طواف
کې کوي،اورمل به صرف درېواولوشوطونوکې کوي،اوحطیم به هم په طواف
کې دننه راولي، اوچې کله رکن یماني ته راورسیږي نوپه هغې باندي به
دواړه لاسونه یایولاس ولګوي،البته نه به یې ښکلوي،نوکله چې حجراسود

ته راورسي نوداول په شان به دهغه استلام وکړي، نودایوچکرشو په دغه شان به نورشپږچکرونه هم تکمیل کړي،دهرواراستلام په موقعه به تکبیراو تهلیل یعني اَللهُ اَکبَرُلَااِلَهَ اِلَّااللهُ وایي دطواف په دوران کې به ذکراو دعاکوي، څنګه چې په دې دوران کې (سُبحَانَ اللهِ وَالحَمدُلِلهِ وَلَااِلَهَ اِلَّااللهُ وَاللهُ اَکبَر) لوستل فضیلت راغلي دي اوهمداراز رکن یماني اوحجراسود ترمنځه رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنیَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّار دعالوستل ثابت دي،طواف چې څومره کعبې شریفې ته نیزدې وي هومره زیات غوره دي.

٥- دطواف ددوورکعتونواداکولو ترتیب

محترمو! کله چې دطواف څخه فارغ شي نوبیابه مقام ابراهیم شاته د طواف دوه رکعته واجب لمونځ اوکړي،که دلته رش وي اولمونځ نشي کېدای، نودغه لمونځ بیادمسجدحرام شریف په هرځای کې کېدی شي،په دې دواړورکعتونوکې دسورة فاتحه څخه وروسته په اول رکعت کې سورة الکافرون (قل یاایهاالکفرون) اوپه دویم رکعت کې سورة اخلاص لوستل مسنون دي، دطواف لمونځ څخه وروسته به بیا آب زمزم شریف ته راشي اوقبلې ته به مخامخ اودرېږي، بسم الله به ووایي، اوپه درېو ساو باندې به آب زمزم وڅښي او ښه ځان به پرې موړکړي، وروسته به الحمدلله ووایي اودغه دعابه وکړي :اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ اَسئَلُکَ عِلمًا نَافِعًا وَرِزقًا وَاسِعًا وَّشِفَاءً مِن کُلِّ دَاءٍ، بیا به حجراسودته راشي اواستلام به یې وکړي، لد ینه وروسته به په باب صفا باندې سعی لپاره صفاغونډۍ ته راشي .

٦- دسعی کولوطريقه

محترمو! کله چې دطواف لمونځ، اوأب زمزم.اوملتزم شريف څخه فارغ شي، نوحجراسودته به ورشي دهغه استلام به وکړي،اويابه ورته اشاره وکړي، بيابه صفا طرفته روان شي اوصفا غونډۍته درسيدلوڅخه مخکې به داکلمات ووايې: اَبْدَءُ بِمَا بَدَءَ اللّٰهُ بِهِ إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِن شَعَائِرِ اللّٰهِ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْهِ أَن يَطَّوَّفَ بِهِمَا وَمَن تَطَوَّعَ خَيْرًا فَإِنَّ اللّٰهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ. اوچې صفاته ورسيږي نوبيت الله شريف ته به مخ کړي داسې چې کعبه شريفه ورته ښکاريږي، اونيت دسعی به وکړي چې ياالله تعالی زه ستا درضا اوخوشحالی لپاره دصفا مروا ترمينځه دسعی داوو (٧) ګردشونو اراده لرم، ته يې ما لپاره اسان کړي، اومانه يې قبول کړي، دزړه نيت هم کافي دی، اوداسې به لاسونه پورته کړي څنګه چې دعالپاره لاسونه پورته کوي، اولاسونه به دلمانځه په شان هرګزنه اوچتوي، داده جاهلانو کاردی، بيابه حمد اوثنا اوتکبيردرې درې ځله ووايې، اولَااِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ اودرودشريف به ووايې اودعاګانې به وکړي. (١)

بيابه سعی شروع کړي اودشنوراډونوترمينځ دنارينه لپاره سنت دی چې ښه ګړندی لاړ شي، لکن دجاهلانو په شان منډې به نه وهي،اوپه عين حال کې به دادعاکوي: رَبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ وَتَجَاوَزْ عَمَّا تَعْلَمُ إِنَّکَ أَنْتَ الْاَعَزُّ الْاَکْرَمُ نَجِّنَا مِنَ النَّارِ سَالِمِيْنَ وَاَدْخِلْنَا الْجَنَّةَ آمِنِيْنَ،کله چې اخرې اودشنوراډو ته ورسيږي نوبيابه په خپل عادي تګ سره سعی ته ادمه ورکړي ،اوداتهليل به

(١) شرح لباب

هم ووايې: لَاإِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لَاشَرِيکَ لَهُ لَهُ الْمُلْکُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ حَيٌّ لَايَمُوتُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ،

دغه تهليل اوتقديس به ترهغه پورې وايې ترڅوچې ترمروا غونډۍ پورې رسيږي، اوپه مروا به هم دصفاپه شان بيت الله شريف ته مخ کړي، اوحمد اوثنا اوتکبير اوتهليل اودرودشريف به ووايې، اودعاګانې به کوي، نوکله چې دصفاڅخه مرواغونډۍ ته راغلي دايوشوط شو، اوبياچې صفاغونډۍ ته راغلي دابل شوط شو، چې اوه شوطه پوره کړي يعنې دصفاغونډۍڅخه شروع په مرواغونډۍ به ختم شي؛ پس کله چې دسعی څخه فارغ شي نومستحب ده چې مسجد شريف کې دوه رکعته دسعی نفل لمونځ وکړي.

۷- دذی الحجې په اتم تاريخ منی دتللو ترتيب

محترمو! کله چې دذی الحجې دمياشتې اتمه نيټه شي پس کچيرته حاجي متمتع ؤو،اوداتمې ورځې څخه دمخه يې عمره کړي وه، بيايې که په مکه مکرمه کې نيت داقامت کړی وي يانه، اويا يوسړی دمکې مکرمې اوسيدونکی وي، نودوی به دفرضي يانفلي ياحج بدل لپا ره په مسنونه طريقه احرام وتړي، يعنې دسنت مطابق دې غسل وکړي، اوداحرام څادرونه دې واغوندي، داحرام لپا ره دې دوه رکعته سنت لمونځ وکړي. دحج په نيت دې تلبيه ووايې، په دې سره به په احرام کی داخل شي، نوداحرام ټول احکام په ده لازم شو ،اوافضل دادی چې داتمې ورځې دراتللوڅخه مخکې دی سړی احرام وتړي ، دحاجی متمتع لپاره په حدودو دحرم شريف کې احرام تړل جائزده، لهذا مسجدحرام شريف پورې داحرام

کچیرته حاجي صاحب قارن یا حاجي مفرد وي نو ...
تړل خاص نه دی. (۱)
یي تجدید داحرام ته ضرورت نشته؛
پس داحاجی صاحب که حاجی متمتع وي،که حاجی مفرد وي،اوکه حاجي
قارن وي،داتمي ورځې دذی الحجې تراحرام تړلواوتړلمرختلووروسته
استحبابًا دمکې مکرمې څخه دمنی په لورې روان شي که څه هم دجمعې
ورځ وي، اوکه په اتمه شپه یې دمنی په لورې حرکت وکړو، یایې ترزوال
وروسته حرکت وکړو نوداهم جوازلري.(۲)اوداتمې ورځې دماسپښین
اومازدیګراوماښام اوماسخوتن اودنهمي ورځي دسهارلمونځونه په منی ک
کول سنت دی.

۸- دمنی نه عرفات ته دتللو ترتیب

محترمو!کله چې دذی الحجې دمیاشتي نهمه نیته شي نوحاجي صاحب
دسهارلمونځ په مستحبه طریقه په ښه روښنایي کې اداکړي،بیابه متص
تکبیرات تشریق ووایې، که څه هم دغه تکبیرات دتشریق دمناسکوڅخه ن
دي بلکه په هرمکلف لمونځ کونکي باندې واجب دی،بیابه تلبیه ووایې
اوداسې نوراذکاربه هم ووایې، پس هرکله چې لمردثبیرغره باندې راپور
شي،چې دجبل ضب په مقابل کې دی،یعني څوک چې عرفات ته ځي ...
چپ لاس یې دغرواقع دي،بیابه ترلمرختووروسته په مسنونه طریقه اوپه زیات
وقاراوپه زیاته آرامې اودتلبیه په ویلوسره سم به استحبابًادجبل ضب په لاره،

---

(۱) بحرالرئق

(۲) فتاوی عالمګیری ج ۱ ص ۲۲۶ الباب الخامس

(چې په ښې اوکي دتلوونکي دعرفات ته دغرواقع دي)عرفات ته روان شي، البته کچيرته اکثره حصه دشپې په منی کې تيره کړي بيا په شپې کی عرفات ته روان شي، اويا له دې څخه هم مخکې عرفات ته روان شي ،اويادلمرختو څخه مخکې عرفات ته روان شي داهم جائزدی،البته ګناهګار دی ځکه چې خلاف سنت کارېي وکړ،اودمنی څخه دوتلودعاګانې به وايي.[1] اوبيا به په داخل دحدودود عرفات کې خپل ځان دمشاغلوڅخه فارغ کړي،لکه خپل کيمپ پيداکول،خپل سامان محفوظ کول،اوخپل انډولان منظم کول وغيره ،که موقعه مساعده وي چې زوال داخل شي نوسنت غسل دوقوف دعرفی به وکړي،که موقعه مساعده نوي بيابه صرف په اودس باندې اکتفاوکړي،او افضل دادی چې په عرفات کې دجبل الرحمة ترڅنګ ځای ونيسي، پس هر کله چې عرفات ته ورداخل شي اوجبل الرحمةووينې،اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ، اَسْتَغْفِرُاللّٰهَ، لَاإِلَٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ به ووايي،اويومناسب ځاي به دناستی لپاره برابرکړي چې مسلمانانو ته په تلوراتلوکې تکليف نه رسيږي،اودده خپله توجه هم نه خرابيږي، لهٰذا خطرناکو،اودخلقومخصوصوځايونو،اوپه لارو،اوسرکوکې به نه کيني. ملخص التارتارخانيه ج٢ص ٤٥٢

که شرعي مانع نه ؤ ودماسپښين اومازديګرلمونځونه به دحج امام سره په مسجد نمره شريف کې دماسپښين په وخت کې يوځايي اداکړي، نوبيا به دماسپښين ترلمانځه وروسته ددعاګانولپاره دجبل الرحمة ترڅنګ مخ په قبله شريف اودريږي، چې جبل الرحمة اکثره حصه يي دراسته (ښی)اوګې

(۱) ارشادالساری ص ١٢٧

لورېي دقبله پر طرف مخته وي،اولږحصه يې راسته اوګي اود شا لوري
واقع وي، اودعرفات نهم سرک (روډ) اوهم دوزارت عدليه تعميربي دجې
اوګې لورې ترشا واقع کيږي، دغه ځای دزياتوعلماء کراموپه نظرموقف
النبی صلی الله عليه وسلم دی، په دغه ځای ياچې په کوم ځای دعرفات
کې وي هلته به دعرفات دعاګاني وکړې،دترمذی شريف په حواله چې
رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:چې دټولو ښخه زياته غوره
دعادعرفي دورځې دعا ده،اودټولونه زياته غوره دعاچې زمااوزما څخه
وړاندې پيغمبرانو عليهم السلام تيرشويدي داسې کړې ده:لاَاله إلاَّ الله
وَحْدَهُ لاَشَرِيْکَ لَهُ لَهُ الْمُلْکُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى کُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ؛ اودامام پ
څنګ کې به دجبل الرحمةپه تقريب فرضي وقوف دعرفات سرته ورسو ي.

۹- دعرفات نه مزدلفې ته دراستنيدلو ترتيب

محترمو! مزدلفه شريفه دعرفات لويديزاړخوته ددرې ميله په فاصله باندې پرته ده، چې کله دلسمې شپې دماښام وخت داخل شي اوڅوستورې هم معلوم شي، بيابه دمزدلفې په طرف راروان شي اودعرفات له حدودوبه راتيرشي، په لاره کې به دالله تعالی په ذکراوتلبيه باندې مشغول وي، دغه وخت دماښام لمونځ په عرفات ياپه لاره اداکول جائزنه دي، بلکه داواجب دي چې دماښام لمونځ ورروسته کړي، که چاعرفات يامزدلفه په لاره کې کړی وي نوپه مزدلفه کې يې دوباره کول واجب دي،کله چې مزدلفې ته راشي دادعابه وکړي اوپه مزدلفه کې چې هرځای ورته اسان ؤهلته به ترهرڅه دمخه دلمانځه انتظام وکړي، که امکان يې درلود بنه به داوي چې

دمزدلفې لپاره احتراماً غسل وکړي ځکه چې دحرم شریف حدود دي، ټوله شپه به مزدلفه کې په تلبیه ذکرتلاوت اودعاسره تیره وي . اودمزدلفې څخه به درمی لپاره شګې ځان سره راوړي.

۱۰- له مزدلفې څخه منی ته دروانیدلو ترتیب

محترمو! کله چې لمرختوته ددؤو رکعتو لمونځ کولوپه اندازه وخت پاتې شي،نومزدلفې څخه به منی په طرف راروان شي، اودلمرختوڅخه وروسته روانیدل خلاف سنت دہ، البته دم اوصدقه نه پرې لازمیږي. [۱]

بیابه منی ته په زیات وقارسره راروان شي، اوپه لاربه په جهرسره تلبیه وایې، که ممکنه وه ښه داده چې امام دعرفات له راښکته کیدوڅخه وروسته دجبل قزح یا دمزدلفې موقف څخه راښکته شي،اوبهتردادی چې دنن رمی لپاره اوه ګیټې(شګی)دمزدلفې نه ځان سره رواخلي،چې دکجورې دهډوکي هومره وي،اوکه دغه ګیټی (شګی) دبل ځای څخه رواخلي نوهم جائزدی، که په خپلو پښو تللی یایې موټرپه خپل اختیارکې ؤونودمحسر کندي په نس کې به په عجله (تیزی)سره تیریږي،چې په دې مقام کې په اصحاب فیل باندې عذاب راغلی ؤو.

۱۱- دجمرې عقبې ویشتلو طریقه

محترمو!منی شریفی ته په رسیدولوسره ترټولوڅخه اول کارصرف دجمرې عقبې ویشتل دي،اودغه جمره دنوروجمراتوڅخه مکې مکرمې ته زیاته نیږدې دہ،اوجمره عقبه له حدودو دمنی څخه خارج دہ. دجمرې عقبې

---

(۱) شرح لباب

دويشتلووخت داختردااولې ورځې دصبح صادق ترختلوڅخه، بيادډوهمې ورځې دصبح صادق پورې ده،البته ددې جمرې ويشتل دلمرختلوڅخه دمخه مکروه دي،اووروسته دلمرختلوڅخه مسنون دي،اووروسته دغروب څخه ترختلودصبح صادق پورې مکروه دي، مګردضعفاء اوزنانه لپاره مکروه ندي. [1] نو دجمرې ويشتلووخت کې به مخامخ جمره ته نوې بلکه ښۍ خواته به يې جمره وي چې ښۍ اوګې يې مسجد خيف منی لورې ته وي، اوچپه اوګه به يې دمکې مکرمې لورې ته وي، په دې حال کې به دعاوې وکړي، بياکه زيات رش اوزحمه نه وي نوکاڼی دې دغټې ګوتې په نوک باندې کيږدي،اودمسواک دګوتې دمينځ په ملګرتيادې په ښه احتياط سره څلی وولی،اودويشتلوسره به داسې وايې رَغْمًا للشَّيْطَنِ وَرِضًا للرَّحْمنِ بِسْمِ اللهِ اَللهُ اَکْبَرُ اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ حَجِّيْ مَبْرُوْرًاوَسَعْيِي مَشْکُوْرًا وَذَنْبًا مَغْفُوْرًا ،نودهرې شګې ويشتلو سره به داوايې،اودغه جمره به په پرله پسې توګه په اوؤ شګوولي،اوداولې شګې دويشتوپه شروع سره تلبيه سرته ورسېږه يعنې تلبيه به ختم کړي،البته نوراذکاراواحزاب ويلی شي،او دهغه څخه درې ګزه شرعي اويونيم ګزعرفي شګه ليرې ولويده اوخطا شوه، نوعِوض به يې په بله شګه باندې راګرځوي.

١٢- دقربانی کولوطريقه

محترمو!کله چې دجمرة العقبة دويشتلو څخه فارغ شي، بيا که حاجی صاحب

(١) شرح لباب

متمتع یا قارن وي وجوبًا به قرباني وکړي، اوکه حاجی مفرد وي نواستحبابًا به قرباني وکړي، پدي شرط چې شرائط دصحت قرباني اوسالموالی دعیبونو یې په نظرکې نیولي وي ، څوک چې په ذبحه کولو پوهیږي هغه ته په خپله ذبحه کول بهتر دی، اوکه په ذبحه کولو نه پوهیږي نوبیا به دذبح په وخت کې دی خپلې قرباني سره نږدې اودرېدل ورته مستحب دي، اوکه دذبح په وخت کې حاضر نوي اوپه بل چاباندې ذبحه وکړي خوچې وخت ورسره معلوم کړي نوهم جائزده،پس دقبله په مخ به څاروی څملوي اودادعابه ووایي.اَللّٰهُمَّ إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَالسَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ حَنِيفًا وَمَاأَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ لاَ شَرِيكَ لَهُ وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ، اَللّٰهُمَّ مِنكَ وَلَكَ بِسْمِ اللهِ وَاللهُ اَكْبَرُ.[1] تر دې وروسته به تېره چاړه دپسه وغیره په غاړه راکش کړي،ترحلالېدووروسته به یې پرخپل‌حال پرېږدي چې روح یې وخیږي، دساه وتلونه مخکې به یې مغزی نه ماتوي.

۱۳- دحلق اوقصرطریقه

محترمو! کله چې حاجی صاحب متمتع یا قارن د وجوبي قرباني،اوحاجی مفرد دنفلي قرباني څخه فارغ شي، نوبیادحرم شریف په حدودوکې دسرخریل او یالنډول حاجی باندې واجب دي ، چې حلق اوقصروکړي نوهم دي ورپسې تکبیروواېي اودغه دعا دي ولولي: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ قَضٰى عَنَّا مَنَاسِكَنَا اَللّٰهُمَّ زِدْنَا اِيمَانًا وَيَقِينًا اوخپلو والدینو اوټولو مسلمانانواومؤلف اوناشر(اوکاتب)

(۱) التاتارخانیه ، ج ۲ ص ۴۶۴ بزیا دة

اواهل عیال ته دي هم دزړه اخلاص څخه دعاګاني وکړي. پس منٰی کې درمی، ذبح، اوحلق وقصر کولو نه پس به مکې مکرمی ته لاړشي، اوطواف زیارت به وکړي، چې طواف رکن او طواف افاضه هم ورته وایې ، اوکه یې مخکې سعی نه وي کړي نو سعی به هم وکړي، اوهم به په طواف زیارت اولنیودریو ګشتو کې رمل (پهلوانې) هم وکړي، اوچاچې مخکې رمل اوسعی کړي وي نو دی به اوس رمل اوسعی نه کوي، اوچاچې طواف قدوم کې سعی کړې وي اورمل یې نه وي کړی، نوطواف زیارت کې به رمل (پهلوانې) نه کوي، اوددې طواف زیارت وخت دذالحجی دلسمې نیټې دصبا صادق په راختو سر ه شروع کیږي، چې ورپسې دوه ورځې نورې -١١ ، او -١٢- نیټه پورې هم جاري پاتې کیږي، خو په لسمه نیټه یې کول زیات غوره دي، له دې وروسته کول د دیارلسمې ورځې ترغروب پورې جائزدي، البته که مزید تأخیریې دحیض یا نفاس دوجې څخه وي نو بیامکروه نه دی، اودم هم نه پري لا زمیږي، اوکه بغیر دعذره وي نو مکروه دی، اودم هم پري لا زمیږي؛

اوهمدارازدطواف زیارت په دوران کې کچېري په احراموکې وي، اوګنډلې جامی یې نه وي اغوستې نواضطباع به کوي، اوکه داحرام څادرونه یې نه وؤ اغوستې اوګنډلې جامې یې اغوستې وي، نو بې غیر داضطباعه نه به طواف کوي، دطواف ترتیب مخکې تېرشویدی فلانعیده لخوف التطویل؛

پس کله چې دجمروویشتلوڅخه په دیارلسم تاریخ دذی الحجې فارغ شي، او دمکې مکرمې په لورې راروان شي نودعا دي ولولي، بیابه محصب مقام

ته راشي هلته به نزول وکړي چې داسنت مؤکده دی،چې پرېښودل يې گناه ده،اودلته به داماسپښين مازديگرماښام ماسختن لمونځونوکولوڅخه وروسته لږقدرخوب هم وکړي، بيابه دمحصب نزول څخه وروسته بابرکته ښارمکې مکرمې ته تشريف راوړي، ماثوره اوخپلې خوښې کړي دعاګانې به له ځان سره وايي،اوذکراو درودشريف ويلوسره به دابختورحاجي صاحب دغه بختورښارته ننوزي،اوطواف وداع لپاره به بندوبست وکړي، مکه معظمه کې قيام يعني پاتې کېدل غنيمت او سعادت دی،البته درخصتی وخت کی به يې دهجران اوښکي پر مخ رابهيږي او طواف وداع به کوي لکه دطواف ترتيب مخکې تېرشوي دی،اودا طواف صرف په آفاقي باندې واجب دی، اوپه مکې شخص ياپه هغو خلقوچې مکې مکرمې کې ميشته وي واجب نه دي. والله تعالی اعلم بالصواب المهاجر المدني عفي عنه.

{دوهم فصل: دحج مسائل}

﴿لومړی بحث: دحج شرائط﴾

﴿الف :- دحج واجب کيدو شرطونه﴾

محترمو! دحج دوجوب شرائط هغه شرائط دي چې دهغو په موجودګۍ کې حج فرض کيږي، اوکچيرې يولدې شرائطوڅخه نوي نو حج پرې فرض نه دی؛اول شرط:-اسلام ده نو په کافر باندې حج فرض ندی.دوهم شرط:- دحج په فرضيت علم ده که په دارالحرب کې اوسي اودحج له فرضيته نه ناخبره وي ، نو حج پرې فرض ندی . دريم شرط:- بلوغ ده نو په کوچنې باندې حج فرض ندی. څلورم شرط:- عقل ده نو په ليونې باندې حج فرض

ندئ. پنځم شرط:- حريت ده نوپه عبديعني مريي باندې حج فرض ندئ شپږم شرط: - استطاعت وقدرت ده نو په فقير باندې حج فرض ندئ چې دزاد (خرچى)اوراحلې(سپرلى)قدرت وطاقت نه لري.اوم شرط:-دحج وخت ده چې دشوال ذى القعده اوذى الحجه مياشتى دي يعنې دحج په مياشتوكې چې توان وطاقت دزاداوراحلې پيداكړي،نوكه دحج مياشتى نوي بياحج پرې فرض ندى.(١)

﴿ب:- حج د وجوبِ ادا شرطونه﴾

محترمو!په دې شرطونوسره حج نه لازميږي،بلكې په چاكې چې داشرطونه موجود وي او حج پرې واجب شوى وي، نو هغه بايد پخپله حج آداكړي، اوكه پكې داشرطونه نه وي نوبيادى پخپل ځاى بل څوک فى الحال وليږي چې حج بدل ورته وكړي،اويا دوصيت وكړي چې مانه حج بدل وكړي.

داقسم پنځه شرائط دي:-

اول شرط:- دبدن تندرستې اوروغوالئ . دوهم شرط: - دلا رې امن.دريم شرط: - عدم ممانعت يعنې دبنديخانې څخه خلا صوالئ ،اودبادشاه دولت اجازت نامه لكه پاسپورټ ويزه، دادرې شرائط دنارينه اوزنانه دواړو لپاره دي؛ البته ښځولپاره دوه شرطه نورهم زيات دي . څلورم شرط: - دښځې سره سفركې محرم ياخاوند تلل. پنځم شرط:- دعدت طلاق اوغيره څخه خالي كيدل يعنې چې دطلاق وغيره له عدته نه خلاصه وي. (٢)

---

١) ردالمحتار على الدرالمختا ر (ج) ١ (ص) ١١٣ . ١٥٣ فتح القد ير (ج) ١ (ص) ٤٢٢

(٢) التا تارخانيه (ج) ٢ (ص) ٤٢٩ ، ٤٣٥ نسخة الخالق على بحرالرائق(ج) ٣ (ص) ٣٣٩

﴿ج:- حج دصحیح کیدو شرطونه﴾

محترمو!داهغه شرائط دي چې بغیرلدې څخه حج نه صحیح کیږي یعنې په نشتوالي کې یې حج فاسدکیږي نو بیرته له سره حج راګرځول پري لا زمیږې پس دغه نهه -۹- شرائط دي:-

اول شرط:- اسلام: نو کچیرې دکفرپه حالت کې یې حج کړی وی، یا مسلمان دحج کولو نه وروسته نعوذباالله منهامرتد شوی وي نو حج لره یې اعتبار نشته، یعنې چې کافر مسلمان شي یا مرتد بیرته مسلمان شي نودوباره ورباندي حج کول فرض دي.

دوهم شرط: - احرام: نوبغیر داحرام څخه چې کوم افعال دحج آداء کړي هغه افعال دحج یي معتبرندی، نو حج یې نه صحیح کیږي، دوباره ورباندي حج کول فرض دي. دریم شرط:- وخت: یعنې دحج په میاشتو کې افعال حج لکه طواف، سعی،اووقوف عرفه وغیره په خپلوخپلووختونوکې آداکول لازمي دی،ورنه حج یې صحیح ندی دوباره ورباندي حج کول فرض دي.څلورم شرط:-مکان دحج: یعنې حج په خپلو مخصوصو ځایونوکې آداکول،لکه وقوف په میدان عرفات کې،اوطواف په مسجد حرم شریف کې،اوذبحه په حدودحرم کې، اورمی الجمار په منٰی کې وغیره، کچیرې کوم شخص دحج افعال که هغه فرض وي یاواجب وي یاسنت وي دخپل متعین خاص ځائ څخه علا وه په بل ځائ کې وکړي، نو افعال یې صحیح ندي دوباره ورباندي حج کول فرض دي.

پنځم شرط:-تمیز:او شپږم شرط:- عقل:یعنې په سوال جواب کې دملګرو

سره پوهیدنه،نوحج کونکی به بې تمیزه نوي چې دحج افعال نه پیژني،اولیوني به هم نوي، ورنه حج بې صحیح ندی دوباره ورباندي حج کول فرض دي.

اوم شرط:-عدم جماع:یعنې داحرام څخه بعداودوقوف عرفه څخه مخکې به یې خپلی کورواله سره جماع نوي کړي،نوکچیرې جماع یې وکړه نوحج بې فاسدشو ،البته باقې افعال حج به تمام کړي خوائینده کال ته ورباندې دحج قضاء لازمی ده.

اتم شرط : - مناسک دحج پخپله شخصاً کول: که هغه شرائط وي، که ارکان وي، اوکه واجبات وي ،البته په ځینوصورتونوکې یې نیابت دعذر په حالت کې جائزدی؛ کماسیأتي ان شاء الله تعالی.نهم شرط :- داحرام ترلوپه کال دحج آداکول: نه داچې آینده کال ته حج آداکول ترینه پاتې شي.[1]

﴿د:- دحج دفرضیت ساقط کیدوشرطونه﴾

محترمو!داهغه شرائط دي چې په دې شرطونوسره دحج فرضیت ترینه ساقط کیږي،اوغاړه بې ترینه خلاصیږي یعنې که په دغو کې یو شرط هم نه وي نوله فرضی حجه څخه بې غاړه خلاصه نده؛پس داشرطونه هم نهه-٩-دي.

اول شرط:-دحج دادابه وخت کې اسلام:یعنې دکفرپه حالت کې یې که حج کړی وي غاړه بې نه خلاصیږي چې مسلمان شي نوبل حج آداکول ورباندې فرض دی.

دوهم شرط:-ترمرګه پورې مسلمان پاتې کیدل:یعنې که یومسلمان دحج داداکولو نه که بعد العیاذبالله کافرشي نولومړی حج بې باطل شو،کچیرې

(١) ردالمحتار(ج) ١ (ص) ٢٠٢٠، ارشاد الساری الی منا سک ملا علی قاری (ص) ٤١

برته مسلمان شي نو بل حج آدا کول وربانديې فرض دی.دريم شرط: - حريت:چې مريئ نه وي. څلورم شرط: - عقل: چې ليونئ نه وي. پنځم شرط:- بلوغ: چې ماشوم نه وي. پس کچيرې مريې ، ليونی ، اوکوچنی حج وکړي نو فرض حج يې نه آداکيږي بلکه چې کله غلام آزادشي، ياليونی روغ شي، اوکوچنی بالغ شي، نوبيا دوباره وربانديې فرضې حج آدا کول لا زمی دې خو چې شرائط ورته موجود شي. شپږم شرط: - پخپله حج آدا کول چې کله يې قدرت لرونکی دي. اوم شرط: - دفرض حج نيت کول: که دنفلې حج نيت و کړي، نوبيا دوباره وربانديې فرضې حج آدا کول فرض دې. اتم شرط: - دخپل ځان لپاره دفرض حج نيت کول: که دبل چا لپاره يې دفرضی حج نيت و کړو، نوبيا دوباره وربانديې دخپل ځان لپاره دفرض حج آدا کول فرض دې.

نهم شرط:-جماع په کولوسره حج نه فاسد کول: يعنې دوقوف عرفه څخه مخکې د خپلی کورواله سره په جماع باندی بايدحج فاسدنه کړي.([1])

﴿دوهم بحث: دحج په اړوند مهم مسائل﴾

(١)مسئله : دحج دفرضيت لپاره داشرط دی چې دلارې توښه اودکور خرچه به ورسره موجوده وي، يعنې توښه،بارګير،اوهغه شيان چې حج کونکې لره يې چاره نه وئ مثلا کور،اودده په کورکې ددومره نفقی

[1]) ردالمحتار (ج) ٢ (ص) ١٩٣ ارشاد السار ی (ص) ٤٣

موجودکیدل چې دحج دمراسمو دآداکولو، اوبیرته کورته دراتګ پورې دده اهل عیال لپاره کافي وي.(١)

(٢)مسئله:که دیوانسان زمکه دضرورت څخه زیاته وه که څه حصه دحج د مصارفولپاره ترینه خرڅه کړي،اووروسته بیاهم دومره زمکه باقي وي چې دده اهل عیال دمعاش لپاره کافي کیږي،نوپدې انسان باندي حج فرض اولازمي دی،اوکه هغه باقي زمکه نه کافي کیږي نوبیاحجورباندی فرض ندی.(٢)

(٣) مسئله : یواځې دزمکې قیمت باندي حج نه فرض کیږي، البته کچیري زمکې آمدني دومره مقدار وي چې دده دحج رفت آمد خرچ، اودده اهل عیال نفقه لپاره پوره اوکافي کیږي، نوبیاحج ورباندي فرض دی،اوکه دومره مقدار نه پوره کیږي نوبیاحج ورباندی فرض ندی. (٣)

(۴) مسئله : دمال مشترکه حکم دادی چې که مثلا ددریو وروڼو مشترکه کاروباروي، که دمشترک کاروباردغه منافع (ګټه) په دریو حصوباندي دتقسیمولوڅخه وروسته دهریوحصه دارحصه دومره رقم جوړیږي چې دحج ټول مصارف ورسره پوره کیږي،نوپه هرحصه دارباندي حج فرض دی،البته دمال مشترکه ټوله نفعه باندي مجموعې طور سره حج نه فرض کیږي. (۴)

(٥) مسئله : دتصرف ملک حکم دادی چې که مثلا یوه ښځه وي دهغې اولاد مالداروي، اومورته یې پوره تصرف اختیارورکړی وي،نوکه چیرې

---

١) فتح القدیر(ج) ٢ (ص) ٣٢١ کتاب الحج

(٢) الفتاوی الهندیه (ج) ١ (ص) ٢١٨ الباب الاول فی تفسیر الحج

(٣) البحر الرائق (ج) ٢ (ص) ٣١١

(۴) الدرالمختار علی صدر ردالمحتار (ج) ٢ (ص) ٢٥ کتاب الحج

دمال په طورد ملک وي، اوحج دفرضیت باقې شرائط هم موجود وي نو پدی صورت کی پدی ښځی باندي حج کول فرض دی،البته يواځې په مال کې اختيارلرلوسره چې مال يي مِلكًا نوي ورکړی،نو پدی صورت کې ورباندی بياحج نه فرض کيږي.(۱)

(۶) مسئله:که ديوسړی زرعتې زمکه،مکانات،اونورجائيداد وغيره لرل چې له ضروري مصارفونه زيات وي،نوپدي شخص باندی حج کول فرض دی.(۲)

(۷) مسئله:دمکان اوکورجوړول داسې ضرورت ندی چې شرعًادحج لپاره مانع وي، لهذا که يوشخص سره دحج مناسب رقم موجود وي نو په ده باندي حج کول فرض دي،يعني د مکان جوړول ضروري ندې چې دحج لپاره مانع شی.۳)(۱)

(۸)مسئله:ديوچاغيرشادي شده کيدل دحج لپاره شرعًامانع ندی،نوکچیرې يوشخص سره دحج مياشتوکي دومره روپۍ موجودی وي چې حج يي ورباندي کولای شو،نو دغه شخص داروپۍ خپل اولادپه واده(شادي)کې مصرف کړي،نوپدي سره ترينه حج نه ساقط کيږي،که مړشوتارک دحج دی گنهگاردی، اودحج بدل وصيت کولورباندي لازمي دي.۴(۲)

(۹) مسئله : دحج آداکول دجومات له جوړولونه زيات ضروري اومقدم دي، که يوشخص سره دحج مصارف موجود وو نواولاً ورباندي حج فرض

---

(۱)(الفتاوی الهنديه (ج) ۲ (ص) ۲۱۷ کتاب الحج

(۲) (تنوير الابصار على صدر ردالمحتار (ج) ۲ (ص) ۴۲۲ کتاب الحج

(۱) ۳)البحرالرائق (ج) ۲ (ص) ۳۱۳ کتاب الحج

(۲) ۴)الفتاوی الهنديه (ج) ۱ (ص) ۲۱۷ کتاب المنا سک

دی، اودحج اداکولو څخه وروسته که ګنجایش ؤونو مسجد دې ورباندې جوړکړي داهم دثواب کارده.[۱]

(۱۰) مسئله : که یوسړئ دغریبۍ په وخت کې حج وکړو، بیاځه موده وروسته صاحب دنصاب یعني غَنِيّ شو، نودوباره ورباندې حج کول فرض ندی هغه اول حج یې کافي دی.[۲]

(۱۱) مسئله :که یوبالغ سړئ دپلارمال څخه دپلار په موجودګئ کې حج آداکړو، بیایې پلارانتقال یعني وفات شو اوداسړئ دپلار په مال ومیراث وغیره سره غَنِيّ شو، نو دوباره ورباندې حج کول فرض ندی.[۳]

(۱۲)مسئله:نفلي حج لپاره دوالدینونه اجازت اخستل پکاردي،بغیراجازت نفلي حج ته تلل مکروه دي، خودفرضي حج لپاره والدینونه اویابل کوم کس څخه اجازت اخستل ضروري نه دي.[۴]

(۱۳) مسئله : ښځه نفلي حج لپاره بغیر اجازت دخاوندڅخه نشي تللئ ، البته فرضي حج لپاره بغیر داجازت دخاوند څخه تللئ شي پدې شرط چې محرم ورسره وي.[۵]

(۱۴) مسئله : فرضي حج اداکولو نه وروسته فقراء مساکینو باندي دمال خرڅ کول دنفلي حج څخه افضل اوبهتردي،

۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار (ج) ۲ (ص) ۱۹۰ کتاب الحج
۲) الدرالمختار علی ها مش ردالمحتار (ج) ۲ (ص) ۱۹۰ کتاب الحج
۳) ردالمحتار (ج) ۲ (ص) ۲۱۰ کتاب الحج
(۴) (فتاوی هندیه (ج) ۱ (ص) ۲۲۱ باب الاول
(۵) فتاوی تاتارخانیه (ج) ۲ (ص) ۴۳۵ ،کتاب الحج

خصوصاً هلته چې د فقراء ضرورت زيات وي. [(١)]

(١٥) مسئله: قرضدار بغير دقرضې آداکولونه حج آداکولا ئ شي، البته اجازت غوښتل دقرض ورکونکي څخه مستحب یاواجب دی، خو دحج لپاره قرض (پور)ادا کول ضروري ندي. [(٢)]

(١٦) مسئله: زکات روپیوباندي حج کول درست دي، يعنې احمد دحج وس اوطاقت نلري، اومحمود دومره مال دزکات ورکړوچې حج ورباندي کيږي، اواحمد ور باندي حج وکړي نو حج بې صحيح شو. [(٣)]

(١٧) مسئله : که يوسړئ دحج اخراجات پوره کولائ شي لکن دهديه او خيرات طاقت نلري،نوحج ورباندې فرض ده.نودهديه اوخيرات مصارف ضروري ندي. [(٤)]

(١٨)مسئله:که کوچنې حج وکړوبياوروسته بالغ شو،اودحج وس طاقت بې هم درلودلونودبلوغ څخه وروسته دوباره حج کول ورباندي فرض دی. [(٥)]

(١٩) مسئله : که يوکوچنې دحج احرام تړلئ وؤ خومخکې دقوف عرفې څخه بالغ شو، اوبيا بې نوی احرام وتړلو نوفرضې حج بې صحيح شو. [(٦)]

(٢٠) مسئله : دوجوب حج لپاره مال حلال يامخلوط مال کيدل ضروري دې،که يوسړي حلا ل مال په قرض باندي واخلې اوحج ورباندي وکړي نو

---

(١) ردالمحتار (ج) ٢ (ص) ٦٦١ ،کتاب الحج مطلب فی تفضل الحج عن الصدقة

(٢) ردالمحتار کتاب الحج (ج) ٢ (ص) ٢٠٥

(٣) فتاوی ديوبند (ج) ٦ (ص) ٥٣٠

(٤)الشا می (ج) ٢ (ص) ٤٧٠

(٥) فتح القدير (ج) ٢ (ص) ٣٢٥

(٦) الشامی (ج) ٢ (ص) ٤٧٨

حج بې صحيح ده،اګرکه دغه شخص داقرضه دمال حرام څخه خلاصه کړي ،خوداسې کول مناسب ندي بلکه په حلال مال باندى حج کول پکار دى.(١)

(٢١) مسئله : دحج فرض کيدلو څخه ورسته تنګدست کيدل ياغريب کيدلو په وجه سره دحج فرضيت نه ساقط کيږي، دده په ذمه باندي دغه حج دين يعنى قرض دى، نوکه مرګ څخه مخکې يې وصيت وکړوچه په ماباندى فرضى حج پاتى ده، نو پدي وصيت باندي به عمل کولاى شي.(٢)

(٢٢) مسئله : دښځې لپاره دحج په فرضيت کې محرم ضرورې ده يعنې شرط دى،البته کچيرې بغير دمحرم نه دحج مناسک اداکړي حج خوبې صحيح دى البته مکروه والى څخه خالي نده .(٣)

(٢٣) مسئله : ښځه به حج دخپل خاوند اويامحرم سره اداکوي،پس محرم هغه ده چې نکاح يې ورسره على التأبيد

يعني هميشه حرام وي که هغه قرابةً وې يارضاعًا اويا صهريةً وي. ٤(١)

(٢٤)مسئله:ښځه دعدت په وخت کې د فرضى حج لپاره سفرنشي کولا ئ،که هغه عدت دوفات وي،ياعدت دطلاق بائن وي،اوياعدت دطلاق رجعې وي.٥(٢)

(٢٥) مسئله : په حراموروپيولکه سود،رشوت وغيره باندي حج،اوزکوة نه فرض کيږي،هغه به لازمًا بيرته خپلو څښتنانوته ورسپارلى شي، که هغوي

---

(١) الفتاوى الهنديه (ج) ١ (ص) ٢٢٠ البا ب الاول فى الحج

(٢) فتح القدير (ج) ٢ (ص) ٣٢٠ ، کتاب الحج

(٣) البحرالرائق (ج) ٢ (ص) ٣١٥ ، کتاب الحج

١) ٤)الفتاوى الهنديه (ج) ١ (ص) ٢١٩ ، البا ب الاول فى تفسير الحج

٢) ٥)ردالمحتار (ج) ٢ (ص) ١٩٩ ،کتاب الحج

معلوم نه وي نوبيا به په محتاجو خلقو صدقه کولی شي، لکن حج وغیره دې نه پرې اداکوي، کچيري يې حج ورباندي اداکړو نوفرضيت دحج خوترينه ساقط شو،البته حج يې مقبول نه ګرځي او اجر يې نشته. [1]

(٢٦) مسئله : ړوند، ګوډ، اوشل ، چې غني وي حج ورباندي فرض ندی، که یوغنې سړی وروسته عمر کې بیا ړوند، ګوډ ،اوشل شي نوده باندي حج فرض ده لهذا بل سړی به دحج بدل لپاره ضروري ليږي.([2])

(فائده) استطاعت به دخپل وطن څخه دحجاجودروانګی نه کیږي، لهذا که چيري حجاج رمضان المبارک میاشتی کی روانیږي، اودی په دغه وخت کی غني وه نوحج ورباندي فرض دی، بیا وروسته که فقیرشو نوفرضیت دحج ترینه نه ساقط کيږي. ([3]) والله تعالى اعلم بالصواب.

﴿دريم بحث: دحج اركان، واجبات، اوسنتونه﴾

﴿الف :- دحج فرضونه﴾

محترمواحج درې فرضونه لري،که هريويې ادانشي دحج فرضيت ورڅخه نه ساقط کيږي،چې هغه دادي:

(١)- شرعې اصولوسره سم داحرام تړل فرض دي.

(٢)- عرفات کې ادریدل وروسته ترزواله دنهمې ورځې ذی الحجی تر صبا صادق پوري فرض دي.

---

[1] ردالمحتار كتاب الحج (ج) ٢ (ص) ١٩١ (

[2] فتح القديربحواله مسائل حج

[3] شرح لبا ب

(۳) - څلور چکره دطواف زیارت کول فرض دي.([1])

﴿ب:- دحج واجبات﴾

محترمو! دحج واجبات شپږ دي چې هریوېي ادا نه شي نو دَمْ، اویااعاده دهغي ورباندی لازمیږي چې هغه دادي:

(۱)- سعی کول دصفااومروة په مابين(منځ) کې .

(۲) - حاضریدل په مزدلفه شریف کې دصبا صادق لخوا اګرکه په اندازه دیوساعت وي.

(۳) - دجمروویشتل.

(۴) - سرخریل اویا یې کمول.

(۵)- قارن اومتمتع حاجي باندي دحج قران اوتمتع لپاره قرباني کول .

(٦) - طواف صدراودرخصتې طواف کول.

البته ځنې کتابونوواجبات دحج پنځه دیرش (۳۵) پورې یادکړي . خودغه درحقیقت بلا واسطه دحج واجبات ندي بلکه دحج دافعالو واجبات دي، مثلا بعضې واجبات په احرام کې دي اوبعضې واجبات په طواف کې دي لکه مثلا:- اوم: - شروع دطواف دحجر اسود څخه شرط ده. اتم: - په ښې خواطواف شروع کول. نهم:- بې عذره لره په طواف کې په پښو تلل. لسم: - دطواف حالت کې عورت پټول. یوولسم: - دجامو اومکان پاکوالي. دوولسم:- تر هرطواف وروسته دوه رکعته دشکرانې لمونځ کول چې دا ترمرګه پورې نه قضاکیږي.د یارلسم:دسعې شروع دصفاڅخه کول.

---

(۱)خلاصة الفتاوى (ج) ۱ (ص) ۲۳۰

څوارلسم:- بدون دعذره څخه په سعی کی په پښوتلل. پنځلسم :- ترتیب کول په مابین ددجمرو ویشتلو اوسرخریلو اویایې کمولو اوذبح کولو کې. شپاړلس :- تعین کول دطواف زیارت په ورځوداخترکې. اولس: - دحطیم له شاوخوا څخه طواف کول. اتلسم:- تعین کول د سرخریلو اویا یې کمولو په حدود دحرم شریف کې. نولسم:- حاجي لره دقربانۍ په ورځو کې سرخریل البته نه عمرې والا لره چې هغه هروخت سرخریلې شي. شلم:- پرځودل دمحظوراتو اوممنوعاتو داحرام اودحرم شریف. یویشتم:- متابعت کول دامام په کښته کیدلوکی دعرفات نه، اوبل په وقوف عرفه کې څه حصه دشپې لخواداخلول. دوویشتم :- په مزدلفه کې دمابنام اوماسختن لمونځ یوځای کول. درویشتم:- دفرضویو منځونو ترمینځ ترتیب کول. څلرویشتم:- رمې دجمروله یوې ورځې څخه بلې ورځې ته نه ورسته کول. پنځویشتم:- دقارن لپاره رمې ترذبح د مخکې کول. شپږویشتم:- قارن اومتمتع دسرخریلونه مخکې دذبحې کول. اوویشتم:- په ایام دنحر کې ،اوهم په حدودودحرم شریف کی ذبح کول.اته ویشتم:- وروسته ترڅلوروشوطونونه دطواف زیارت اتمام کول. نه ویشتم:- له منعه شو یو شیانو څخه ځان ساتل لکه ګنډلې جامی او داسې نور که له چا نه دحج کوم واجب ترک شي دم (قربانې) وربانډې لازمیږي اودم یې دنقصان جبیره ګرځي .[1]

(۱) ... ۲ (ج) ۱۹۳ ، ۲۰۲

﴿ج:- دحج سنتونه﴾

محترمو!دحج سنت خوډيردي چې په مسائلودحج اوافعال دحج کې
انشاء الله موقعه په موقعه راځي خوځينې يې دادي:-

اول داچې:- آفاقي مفرد حاجی لپاره طواف قدوم کول،اوهمداراز د
حاجی لپار ه هم طواف قدوم کول سنت دی. دوهم:- په طواف
کې رمل (پهلوني)اواضطباع کول خوچې ورپسې سعې کول وي، ک
طواف قدوم کې يې رمل نه وي کړې نوبيا په بل طواف ياطواف زيار
کې رمل کول ورته پکار دې چې ورپسې سعې کول هم وي.
دريم:- په نهمه شپه دذی الحجی په منٰی کې حصاريدل اوشپې تيرا
څلورم:- په نهم ذی الحجه دلمر ختلونه پس دمنٰی څخه عرفات ته
پنځم:-دامام دتلونه پس دعرفات نه راتلل.شپږم:-په عرفات کې غ
کول.اوم: - دعرفات نه په واپسې کې په مزدلفه کې شپه تيرول. اتم
دمنٰی په ورځوکې په منٰی کې دشپې پاتې کيدل.نهم:- دمنٰی څخه واپ
کې محصب مقام کې ايساريدل اګرکه يوه لحظه هم وي؛ اوداسې نور.
پس دسنتو حکم دادی چې ددي پريښودل په قصد سره ګناه ده، اوپه ک
سره يې ثواب دی، البته په ترک سره يې جزاء نه لا زميږي. (۱)

﴿د:- ددريم بحث متعلقه مسائل﴾

(۱) مسئله:ښځه چې کله په حالت داحرام کې حائضه شي غسل به وکړ
احرام به وتړي، او ټول افعال دحج به کوي په شان دسړي بغير دطوا

۱) (معلم الحجاج عکسی ،ص ، ۹۰)

څخه،څکه چې دطواف لپاره طهارت واجب ده نودفرضې طواف به وروسته دطهارت څخه قضا راوړي، البته طواف سنت او طواف واجب ترینه ساقط دي يعني ورته معاف شویدي. (١)

(٢) مسئله : دذی الحجې په نهمه ورځ له زواله څخه بیا دذی الحجې دلسم تر صبح صادق وخت پورې په عرفات کې درېدل فرض دي که څه هم يوساعت وې البته له دې وروسته یامخکې وقوف معتبر ندی. (٢)

(٣) مسئله :دطواف زيارت څلور ګشته (چکره) فرض دي اودطواف زيارت دري ګشته (چکره) واجب دي (٣)

(۴) مسئله:لومړی وقت دطواف زيارت دلوئ اخترد‌صبح صادق دراختلو څخه شروع کیږي، اواخيري وقت نلري تر اخرې سلګې دمرګ پوري دحاجي په ذمه طواف زيارت کول لا زم دی، اولدې طوافه پرته داحرام څخه نه وزې، اوخپله ښځه ورته حلا له نه دی،

اوکله چې جماع وکړي دم (قرباني) وربانديې لا زم شوه.(۴)

(۵) مسئله : طواف زيارت په اوله ورځ کول بهتر دي، کچیرې څه عذر په وجه تر دريمې ورځې پوري طواف زيارت وکړې که دشپې وي يا دورځې هيڅ جزا وربانديې نه لا زميږي. (۵)

---

(١) هدایه باب التمتع (ج) ١ (ص) ٢۴٦ ، ورد المحتار (ج) ١ (ص) ٢٦٩

(٢) ارشاد الساري (ص) ١٣٧ ،

(٣) فتح القدير (ج) ٢ (ص) ٣٩٠ ، وارشاد الساری (ص) ١۵۵ ،

(۴) فتح القدير ج ٢ص ٢۴٦

(۵) ارشاد السار ی ص ١۵۴

(٦) مسئله : كه طواف زيارت دذى الحجى ددیارلسمې تر مازدیگر ځخه وروسته شو دَمْ (ګډه) ورباندي لا زم شو. [(١)]

(٧) مسئله : طواف زيارت بې عذره له خپل وخته وروسته كول ګناه ده، البته كچیرې دحیض اونفاس په عذرسره دخپل مقرره وخت ځخه مؤخر شو نو څه ګناه پكې نشته، اونه څه دم (قربانې) ورباندي لا زمیږي،اګر كه ايام نحر هم ترینه تیر شي(ففهم وقداخطاكثیرامن اهل العلم فى هذا) [(٢)]

(٨) مسئله : طواف زيارت په حالت دجنابت وحيض اونفاس كې كول‌ سره بدنه يعنې اوښ ياغوايې ورباندي لا زمیږې. [(٣)]

(٩) مسئله : طواف زيارت په بې اودسۍ سره كول ،اودطواف زيارت دوه يادري چكره پريښودل،اوطواف زيارت په جنابت كې كول،اوپس له اختره يې اعاده كول،اوطواف زيارت دكشف عورت حالت كې كول،اوپه طواف زيارت كې حطيم شريف نه داخلول،اوغيرمعذورطواف زيارت ماسواله خپلوخپوكول،اودطواف زيارت مخكې اوترحلق وروسته جماع كول، نوپه دې ټولو صورتونوكې دم پري لا زميږي. [(٤)]

(١٠) مسئله : نفلې طواف په فارغ وخت كې په طهارت سره كيدالا ئ شي چې هروخت يې زړه وغواړي، خوچې دبل فرضې طواف يادواجب طواف،يادفرضې لمانځه، يانورو شرعې كارو،اواوقاتو ځخه ددى نفلې

(١) فتح القدير ج ٢ ص ٢٤٦

(٢) تفسير روح المعانى ج ٢ ص ٨٥ تحت قوله تعالى اشهر معلومات

(٣) ردالمحتار ج ٢ ص ٢٨١

(٤) ردالمحتارج ٢ ص ٢٨١ ، ٢٩١ ، وهدايه ج ١ ص ٢٧٤

طواف وخت پرته وي، کچیرې نفلي طواف يې بې اودسی سره وکړو، نو صدقه ور باندې لا زم ده دصدقه فطرپه اندازه سره. [۱]

(۱۱)مسئله:دعذر له وجې ارتکاب دجنایاتو کول لکه دبیمارۍ حالت کې کنډل شوې جامې اغوستل وغیره نو په دې صورت کې جنایت کوونکی دذبح اودصدقې په مینځ کې مخیّرده چې ذبح کوي اوکه صدقه ورکوي. [۲]

(۱۲) مسئله:که یوسړې باندې حج فرض نه وونو نفلي حج نیت يې وکړو نو فرضې حج ترینه نه ساقط کیږي(۴)([۳])

فائده:که زنانه دحج ټول افعال بې دڅه بندیزنه داداکولوپه غرض په وختې ډول دحیض بندولوداروا‌ستعمال کړې نوڅه بدي نه لري.والله تعالی اعلم بالصواب.

﴿څلورم بحث: د حج ډولونه﴾

محترمو! حج په درې ډوله دی :-

(۱) حج افراد .

(۲) حج قِران .

(۳) حج تمتع .

پس حج افرادهغه حج ته ویل کیږي چې یوازي بې له عمرې څخه اداشي؛ اوحج قران هغه حج ته ویل کیږ ي چې وروسته دلمانځه احرامه،له میقات څخه دعمرې اوحج دواړونیت یوځاې وکړې؛اوتمتع حج هغه حج ته ویل کیږي چې حاجي صاحب دمیقات څخه احرام یوازي دعمرې لپاره وتړي،

(۱) ارشاد الساری ص ۹۸

(۲)) ردالمحتار ج ۲ ص ۲۲۷

کله چې مکې مکرمې ته داخل شي طواف اوسعی به وکړي،بیابه حلق یاقصروکړي نوعمره به سرته ورسیږي ، اوپه دي ترتیب به دئ حلا ل شي، اوپه مکه مکرمه کې به حلا ل پاتې شي کله چې دترویه(ذی الحجه اتمه) ورځ راشي دمسجدحرام څخه به احرام وتړي، دحج مفردپه څیربه دحج مراسم سرته ورسوي.په حج تمتع اوحج قران کې دم لازمیږي چې هدیه شکرانه هم ورته ویل کیږي،اوحج افرادکی دشکریه دم مستحب ده.(١)
فائده: داحنافو په نزدپه دې دریوکې حج قران افضل دی اود حج قران څخه بعد حج تمتع بهتر دی. (٢)

﴿الف:- دحج تمتع بیان﴾

١:- د حج تمتع تعریف

محترمو! تمتع حج هغه حج ته ویل کیږي چې حاجي صاحب دمیقات څخه احرام یوازي دعمرې لپاره وتړي،
اودترویه په ورځ یعني دذی الحجه اتمه باندي دحج احرام تړل.

٢ :- د حج تمتع دصحت شرطونه

محترمو! دحج تمتع دصحت شرطونه غالبًا یولس (١١) دي، کچیرې پدې شرائطو کې یو شرط هم پاتې شي تمتع بې صحیح ندی لهذا دم دشکریه ورباندي نه لازمیږي .
(١)داچې دعمرې اکثر یاټول شوطونه به بې دحج په میاشتوکې کړې وي،

---

١) تاتار خانیه ج ١ ص ٥٢٦ ، الفصل التاسع فی القارن
(٢) الدر المختار علی صدر ردالمحتار ج ٢ ص ٥٣٠ ، باب القران .

نوکچیرې اشهر الحج څخه بې مخکې دعمرې اکثر یاټول ګشتونه کړې وو بیابې تمتع نه صحیح کیږي .

(۲) دعمرې لپا ره به یې احزام، دحج احرام څخه مخکې تړلی وي .

(۳) دعمرې ټول یااکثر ګشتونه به یې داحرام دحج څانه لومړئ کړی وې.

(۴) عمره به یې نه وې فاسده کړي.

(۵) حج به یې نه وې فاسد کړي.

(٦) دحج اوعمرې تر مینځ به یې اِلمام صحیح نه وې کړې،یعنې خپل وطنې کور کې به یې شپې نه وي تیرې کړې.

(۷) دعمرې ټول طواف یااکثر اوهمدارنګه ټول منا سک دحج به یې په یوه سفر کې کړې وي اوکه چیرې یې څلور یازیات ګشتونه دطواف په لومړی سفرکې وکړل بیاخپل کوراووطن ته بیرته لا ړوبیابې لږ شمیرپاتې شوي ګشتونه دطواف په دوهم سفر کې دحج سره وکړل تمتع صحیح نشو اوکچیرې اکثر شوطونه دطواف یې په دوهم سفر کې دحج سره وکړل نو حج تمتع یې صحیح شوه .

(۸) داچې ترعمرې اداکولوبعدبه یې همیشه لپاره په مکه مکرمه کې داوسیدونیت نوي کړې، البته کچیری یې یوي اوډوٌمیاشتولپاره یې داقامت نیت کړې وي، نوبیا یې تمتع حج کول صحت لري.

(۹) عمره اوحج به یې یو کال کې اداکړې وي، کچیرې دعمرې احرام اشهرالحج کې وتړې اوعمره وکړې،اویاحج په دوهم کال وکړې نوبیایې تمتع نه صحیح کیږي .

(۱۰) دعمرې ټول یااکثر شوطونه به یې اشهرالحج څخه مخکې نوي

کړې، څکه چې بیا حج اوعمره په یوکال کې آداء نشوه، البته کچیرې دحج میاشتو څخه مخکې یې عمره وکړه،بیا خپل وطن ته بیرته لا رونیایې حج اوعمره پدې یوه کال کې وکړل نو تمتع یې صحیح شو.

(١١)تمتع کونکې به افاقي وي،اوهمدارنګه که دمکې مکرمې اوسیدونکې مدینې طیبې ته ولاړاوهغه یې خپل وطن مثلې وګرځولو نو داشخص هم په حکم دافاقې کې ده،اوهمدارازکه افاقې مکې مکرمې ته یوه مخیزه ولا ړوپه مکه مکرمه کې میشت شو،نودابیاپه حکم دمکي دى نوتمتع یې صحیح نشو.[١]

٣:- د حج تمتع مناسک

محترمو!حج تمتع کې په عمرى احرام تړل،اوپه اتم دذى الحجه دحج احرام تړل شرط دي.

۴:- دحج تمتع ارکان

محترمو! دحج تمتع ارکان دادي: دعمرې لپاره طواف کول، اووقوف دعرفات کول،اوطواف زیارت کول.

۵:- د حج تمتع واجبات

محترمو! دحج تمتع واجبات دادي: دعمرې لپاره دصفااومروه سعې کول، اودسر خریل یالنډه ول، اووقوف دمزدلفې کول، اواخرې جمره ویشتل په لسم دذى الحجة، او قربانې (دم تمتع) کول، اودحج لپاره سرخریل یالنډه ول، اودصفا مروه ترمینځ سعې کول، دټولو جمرو په یولسم اودولسم دذى الحجى ویشتل، اوطواف وداع کول .

---

(١) ملخص ردالمحتارعلى الدرالمختار ج ٢ ص ١٩٥ باب المتمتع

۶:- دحج تمتع سنتونه

محترمو! دتمتع حج سنت دادي: رمل کول يعني داوړوښوروول په طواف کې، اوپه منیٰ کې درمې لپاره شپې تيرول، اوپه محصب مقام کې کښته کېدل.(۱)

(فائده عامه) متمتع حاجي چې کله دعمرې څخه فارغ شي نوځان به حلال کړي، نوپدې وخت کې که نفلي طوافونه کوي، يانفلي عمرې کوي نوکولای شي کوم ممانعت يې نشته، اوبل په متمتع حاجی باندې طواف قدوم هم نشته. (۲) اوبل چې کله دحج احرام تړلو اراده وکړي نو تمام زمين حرم نه احرام تړلې شي، نودمسجد حرم شريف څخه داحرام تړلې لا زمي ندي بلکه افضل دی، اومکه مکرمه کې دحج احرام تړل افضل دی له نور حرم شريف څخه.(۳)

﴿ب:- دحج قران بيان﴾

۱:- دحج قِران تعريف

محترمو! حج قران هغه حج ته ويل کيږي چې دحج او عمرې دواړو نيت وکړي، او دواړو نه احرام وتړي يعني داسی به ووايي: نَوَيْتُ الْعُمْرَةَ وَالْحَجَّ وَاَحْرَمْتُ لَهُمَا لِلّه تَعَالَى. بيا به داسې تلبيه ووايې :لَبَّيْكَ بِعُمْرَة وَحَجٍّ اَللهُمَّ لَبَّيْكَ لاَ شَرِيْكَ لَكَ لَبَّيْكَ اِنَّ الْحَمْدَوَالنِّعْمَة لَكَ وَالْمُلْكَ لاَشَرِيْكَ لكَ(۴)

نوبيابه طواف دعمرې سره رمل وکړي، اوسعی به هم وکړي، بيابه هم په

---

(۱) ملخص ردالمحتار علی الدرالمختار ص ۲۲۰ الیٰ ص ۱۱۳ باب المتمتع

(۲) امداد الفتا وی

(۳) فتح التدير ص ۴۲۳ ج ۲ ، باب المتمتع

(۴) ارشاد الساری ص ۱۷۱ باب القران

احرام کې وي، اوسر به نه خرېي، طواف دقدوم به وکړي،اوکه غوږ
سعی به دحج لپاره هم وکړي، اوروسته به په خپل وخت ټول مناسک
تکمیل کړي.(١)

٢:- د حج قِران صحت شرطونه

محترمو! دقِران حج دصحت شرائط اته (٨) دي، کچیرې پدې شرائطو کې
یو شرط هم پاتې شي قِران بې صحیح ندی لهذا دم دشکریه وربانديې نه لازم:

(١) دحج اوعمرې مناسک په یو ځای اوپه یوه احرام سره ادا کول حکماً
یاظاهرًا دي، کچیرې له عمرې داتمام وروسته دحج احرام وتړي حج قران
بې صحیح ندی.

(٢) دعمرې له فاسدولو مخکې دحج احرام تړل.

(٣) دوقوف عرفات دمخکې دعمرې ټول یااکثر شوطونه اداکول .

(۴)حج اوعمره له فسادڅخه ساتل دي په جماع سره قبل الوقوف دعرفات
اوغیره سره.

(۵) ټوله عمره یااکثر شوطونه بې په میاشتو دحج کې ادا کول.

(٦) قارن به آفاقي وي ځکه چې مکې لره قران حج نشته .

(٧) عدم فساد دحج ، اونه فوت کیدل دحج .

(٨)که مکې سرۍ ترمیقات تیرشو،اوبیاواپس راغلونودحج قران احرام بې جائز دی.(٢)

٣:- دحج قران شرط

محترمو!دقِران حج شرط دادی:چې په حج اوعمرې باندی بې یوځای احرام تړلي وی.

---

(١) ملخص مبسوط امام سرخسی ج ٢ ص ٢٧

(٢) ملخص ردالمحتار ج ٢ ص ١٩١ باب القران. وارشاد الساری ص ٢٧١ ، ٢٧٢ .

۴:- دحج قِران ارکان

محترمو! دقِران حج ارکان دادی:

(۱) دعمرې دطواف څلور دوری ادا کول

(۲) په عرفات کې وقوف کول .

(۳) طواف زيارت کول.

۵:- دحج قِران واجبات

محترمو! دقِران حج واجبات دادی:

(۱) دصفا اومروه ترمينځ سعی کول .

(۲) په مزدلفه کې وقوف کول .

(۳) جمرة العقبة په لسم دذی الحجی ويشتل.

(۴) دشکرانې قربانې کول .

(۵) دسرخريل يالنډه ول .

(٦) په يوولسم اودولسم دذی الحجی باندې دټولوجمراتو ويشتل .

(۷) طواف وداع (رخصتې) اداکول .

٦:- د حج قِران سنتونه

محترمو! دقِران حج سنن دادی:

(۱) په طواف کې رمل يعنې اوږو ښوررول .

(۲) طواف قدوم سره درمل کول.

(۳) پر محصب کې کښته کيدل چې له منی څخه مکې مکرمې ته راځې

(۴) دځپل میقات څخه دحج اوعمرې یوځاې احرام تړل ،البته کچیرې اولاً دعمرې احرام وتړې اودطواف قدوم څخه مخکې بیادحج احرام وتړې قران حج بې صحت لري خو خلا ف سنت دی لې ګنهګار کیږي .

۷:-دحج قِران مستحبات:محترمو!دقِران حج مستحب دادې چې حاجي مفرد دطواف قدوم له شروع وروسته دعمرې احرام وتړې نو پدې صورت کې دعمري پریښودل ورته مستحب دي چې بیا قضاء راوړي .

۸:- دحج قِران مکروهات

محترمو!دقِران حج مکروهات دادې چې دحج له احرام وروسته دعمرې احرام تړل.

۹:- حج قران جنایات

محترمو! دقِران حج هغه جنایات چې دم پرې لازمیږ ي دادي:

(۱) له طواف قدوم وروسته دعمرې احرام تړل، اوبیادعمرې پریښودل، چې موجب دقضاء دعمرې اودرفض عمرې لوجی دم پرې لا زمیږي.

(۲)اودعرفات وقوف څخه وروسته دعمرې احرام تړل،چې بیاوجوباًوربانديپریښودل دعمرې دی،چې بیا قضاءراوړل اودم جبیره ذبح کول ورباندي لازمي دي.(١)

﴿ج:- د حج افراد بیان﴾

۱:- دحج افراد تعریف

محترمو! حج افراد دیته وایې چې یوازې دحج نیت وکړې، چې وایې به

(۱) ملخص ردالمحتار على درالمختار ص ۲۰۷ ،الى ۲۰۹ ج ۲ باب القران، وارشاد السارى ص ۱۷۳

اللّٰهُمَّ اِنّي اُرِيْدُ الْحَجَّ فَيَسِّرْهُ لِيْ وَتَقَبَّلْهُ مِنّيْ وروسته له نيته به تلبيه ووايي، اوپس له احرامه اوتلبيې به طواف قدوم اوسعی وکړي؛اوپه اتمه ورځ به دحج نور مناسک شروع کړي.([1])

۲:- دحج افرادشرط

محترمو! دحج افراد شرط دادی دحج لپاره احرام تړل.

۳:- دحج افراد ارکان

محترمو!دحج افراد ارکان دادی:(۱)وقوف عرفه.(۲)طواف زيارت کول.

۴:- دحج افراد واجبات

محترمو! دحج افراد واجبات دادی:

(۱) دذي الحجی په لسمه وقوف مزدلفه کول.

(۲) دجمره عقبه ويشتل.

(۳) دسرويښتولنډه ول يا خريل.

(۴) صفامروه تر مينځه سعی کول.

(۵) په يولسم او دولسم دذی الحجی ددريوواړو جمارتو ويشتل.

(۶) طواف وداع کول. البته قرباني پکې اختياري ده .

۵:- دحج افراد سنتونه

محترمو! طواف قدوم دحج افراد لپاره سنت دی، کچيرې حاجي مفردسعی دصفا اومروه دطواف قدوم نه بعد کوي، نو په طواف قدوم کې به رمل اواضطباع هم کوي، مګر افضل دادی چې سعی طواف

---

(۱) مبسوط امام سرخسی ج ۲ ص ۴ کتاب المناسک

زيارت نه بعد وکړي، لکه څرنګه چې حاجي قارن لپاره سعی طواف قدوم نه بعد افضل ده، کچیرې دسعې اراده نه لري نو رمل اضطباع به هم نه کوی، اوسعې به دطواف زيارت نه وروسته وکړې.(١)

﴿د:- حج بدل بيان﴾

۱:- حج بدل تعريف

محترمو! حج بدل ديته وايې چې يوشخص دهميشني عذر په وجه بل چاته امر وکړي چې زما له طرفه حج اداکړه.

۲:- دحج بدل شرطونه

محترمو! دحج بدل شرائط دادی:

(۱) عاجز کيدل يعنې چې نه يې شي ادا کولای.

(۲) دعجزهميشه والی تر مرګه پورې.

(۳) امردحاجي دی خپل نائب ته دحج اداکولو.

(۴) چا چې دحج امر ورته کړی وي، دهغه لپاره نيت کول .

(۵) دنائب خرچه داميرله مال څخه کول.

(٦) نايب به پخپله ترينه حج کوي ، اوبل څوک به نه استوي .

(۷) تعين دنائب دی دخپل حج لپاره .

(۸) وجوب دحج دی په آمير حاجي باندي.

(۹) وجود دعذر دی پخوا ترتعين کولو دنائب نه.

(۱۰) له خپلې سيمې (علاقې) نه دنايب تاکل او استول .

---

(١) ملخص ردالمحتار على درالمختار ج ٢ ص ١٦٠ الى ١٦٢ وعيني كنز ج ١ ص ٢٣٢

(۱۱)دنائب سفرحج کول دي بغیرپښنوڅخه په ریل،موټر،طیاره،اوغیره کې.

(۱۲) نائب حج صحیحه اداکول نه حج فاسده.

(۱۳) ، دآمر مطابق حج اداکول یعنې یاحج افراد یاحج قران اوغیره .

(۱۴) دیوه حج احرام تړل نه د دوؤحجونو.

(۱۵) دیوه تن لپاره حج کول نه مثلا ددوؤنفرو لپاره .

(۱۶) له میقاته احرام تړل.

۳:- حج بدل دصحت شرطونه: محترمو! دحج دصحت شرائط دادي:

(۱) امیر به مسلمان او عاقل وي .

(۲) نایب یا مامور به هم مسلمان او عاقل وي .

(۳) چې په خبرو اترو اوپه سوال اوجواب پوهیږي .

(۴) چې له نایبه حج پاتې نشي . (۱)

﴿هـ : دڅلورم بحث متعلقه مسائل﴾

(۱)مسئله : حاجي متمع چې له عمرې نه فارغ شي حلق یاقصربه وکړي نوحلال شو،په اتم دذی الحجې به دحج احرام وتړي، البته داتم دذی الحجې څخه مخکې احرام تړل افضل دي.۲(۱)

(۲) مسئله : متمع که چیرته یې هدیه ځان سره بوتللي وه، وروسته ترفارغ کیدو دعمرې څخه ځان نشي حلال کولی،بلکه دمفرداوقارن غوندې به احرام کې وسیږي.۳ (۲)

(۱) ملخص ردالمحتار ج ۲ ص ۳۲۷ الی ۳۲۹ ، ومعلم الحجاج ص ۲۸۱

(۱)۲)الفتاویٰ شامیه ج ۲ ص ۴۲۲)

(۲) ۳)الفتاویٰ الهندیة ج ۱ ص ۱۵۰

(۳) مسئله:په متمع حاجي باندې قرباني دحج دحرم شريف په حدودوکې کول افضله ده؛ که دقرباني کولوطاقت نه لري نود قربانۍ په عوض کی لس ورځې روژې نیول دي، او هغه داسې چې دعمرې داحرام څخه بعد،او دحج په میاشتو کې، اواوه ورځې روژه دایام تشریق دتیریدونه پس که په مکه مکرمه کې وي، اوکه په بل ځای کې، البته خپل وطن یې نیول کې افضل دي. که چیرته دغه درې ورځې مخکې روژې یې ونه نیولي نوضرور به قرباني کوي، که سمدستي قرباني ته تیارنه شو نو دسرخریل یالنډولو نه بعد چې څه وخت احرام څخه اوځي نودوه قرباني به کوي چې یوه به ددم تمتع وي اوبله به ددې وي چې قرباني کولونه لومړی یې ځان حلال کړیدی، اوکه چیرته ایام نحرڅخه وروسته شونودریمه قرباني به دوروسته کیدوهم ورکوي لکه چې حاجي قارن داسې کوي.(۱)

(۴) مسئله : متمتع حاجي صاحب باندې طواف قدوم نشته.(۲)

(۵) مسئله: په مکي سړي باندې حج تمتع نشته، کچیرته په تمتع اوقران حج کې یې شروع وکړه حج خو یې صحیح ده،البته ګناهګاردی اودم دجبره ورباندې لازم دی.(۳)

(٦) مسئله:متمتع حاجي لپاره یوه عمره وروسته دبلي نه جائزده،اوچې کله

۱) الفتاویٰ شامیه ج ۲ص ۵۳۸

۲)الفتاویٰ شامیه ج ۲ص ۵۳۸

(۳)الفتاویٰ شامیه ج ۲ص ۵۳۹

دحج نيت وکړي افضل دادی چې دحطيم څخه دحج نيت وکړي.(١)

(٧) مسئله : که متمتع دميقات يَلَمْلَمْ څخه په مياشتودحج کې احرام وتړلو بياله عمرې ادا کولو پرته نغ مدينې منورې ته دزيارت دنبي کريم صلی الله تعالی عليه وسلم لپاره ولاړ ، اوله هغه ځايه چې راستون شو نو عمره يې وکړه، نوعمره يې صحيح دی هيڅ شی ورباندې لازم نه دی (٢)

(٨) مسئله: قارن حاجي به لومړی عمره اداکړي، بيابه طواف قدوم وکړي، البته احرام به نه ماتوي.(٣)

(٩) مسئله : کچيرته حاجي قارن ورروسته له آداء دعمرې څخه سر وخريلو يابې لنډکړو،نودوي قربانۍ ورباندې لازمې شوی .(٤)

(١٠) مسئله : کچيرته حاجي قارن اولاً عاجز ؤودرې روژې يې وساتلې، بياپه ذبحه باندې قادرشوپه ايام نحرکې مخکې دسرخريلوڅخه، نو قربانۍ ورباندې واجب دی، اوکه ذبح باندې ورروسته دسرخريلوڅخه قادرشو، نوبياهيڅ شی ورباندې لازم نه دی.(٥)

(١١)مسئله:دحج قران دم شکريه لپاره نيت واجب ده،چې دجنايت له دم سره يې فرق وشي، کچيرته قارن اومتمتع حاجي مخکې دذبح څخه مړشو، نوپه ده باندې دذبح وصيت کول واجب دی، اودم قران اودم تمتع دداختر

---

(١) معلم الحجاج ص ٢٢١

(٢) فتاویٰ خليلية ج ١ ص ١٦٠

(٣)معلم الحجاج ص ٢٠٩

(٤)الفتاویٰ شاميه ج ٢ص ٥٣٢

(٥)الفتاویٰ شاميه ج ٢ص ٥٣٤

دقربانۍ قائم نه کيږي بلکه داخترقربانۍ هم ورباندې واجب ده که غني وي.(۱)

(۱۲) مسئله: په تلبيه کښې شرط داده چې تلفظ په ژبه ورباندوکړي، که په زړه باندې يې اکتفاء وکړی نوهغی تلبئي لره اعتبارنشته، حتی امام محمدرحمه الله تعالی عليه فرمايي که چيری يوکس ګونګ وو نو هغه به هم په تلبيه باندی شونډی اوژبه خوځوی.(۲)

(۱۳) مسئله: که چيری يوسړی اول سعی دصفااومرواوکړه، بیاورروسته ئې طواف وکړو، نودسعی يې اعتبارنه لري، يعنی دطواف څخه وروسته به بيا دوباره دصفااومرواسعی کوی،همدارزکه دمرواڅخه سعی ئې شروع وکړه، داهم صحيح نده، لهذاسعی به دصفاڅخه حساب کيږی.(۳)

(۱۴) مسئله:- که چری يوحاجی صاحب يوڅاته تحفه دحج ورکوی خودشرم اوحياء له وجی نه، اوپه زړه کښی ئې دمسلمان، اوياعالم عزت اواکرام نوی، اويادمجلس دشرم له وجی يې ورکوی، نوکه دغه مخکنی وجوهات وؤ نوبيائی اخستل دغه سړی ته باالاتفاق حرام دی، نوپه ده باندی واپس کول، يادی بدل ورکول لازم دی. (۴)

(۱۵) مسئله: هغه ښځه چی په حالت دعدت تيرولوکښی وی هغه به دحج اوياغيرحج لپاره سفرنکوی،ترڅوچی يې دعدت تيرشوي نوي.(۵)

(۱) معلم الحجاج ص ۲۱۳
۲ (ارشادالساری،ص۱۱۴)
۳ (العناية شرح الهداية، ج۳ص۸۷)
۴ (مرقات المفاتيح طبع ملتان، ج۴ص۱۷۴)
۵ (عالمګری، ج۱ ص۵۳۵)

(١٦) مسئله: که چیری یوسړی دنفلی حج، یادحج بدل، اویادحج نذری نیت وکړو،نوهمدغه حج ئی صحیح شوچی دکوم نیت یي کړیدي، لکن هغه فرضی حج نه تری ساقطیږی،نوهغه به بیا راتللونکي کال کوی.(١)

(١٧) مسئله: کچیری یوکوچنی (ماشوم) احرم وتړلوبیا دحج نه محصرشو، نودي به ځان حلال کړي البته دم اوقضاءورباندی نشته،اوهمدارنګه په ده کوچنی باندی په کسب کولودهغه شیانوسره چی هغه په احرام کی منعه دی څه شی نه لازمیږی ،اوپه مبسوط کتاب کی دی چی کچیری کوچنی په خپله پوهیده احرام ئی وتړلو،اویاله دڅخه پلاراحرام وتړلونواوس دغه کوچني محرم شوپه نیت دپلار سره،نواحرامونه (لنګونه) دواغوندی اودحج مناسک دخپل پلارسره اداکوي.(٢)

(١٨) مسئله: دښځی دحج لپاره محرم شرط ده که هغه ځوانه وی اوکه زړه چی مده دسفروی اویا به دښځی خاوند دی، پس محرم هغه څوک دی چی هغه سره ئی همیشه لپاره نکاح نه کیږی برابره خبرده که په خپلولی سره وي لکه تره ماما خوریه وغیره، اویا په رضاع سره چی تي ورسره رودلي وی اویا په سخر ګنی سره وی،البته دغه به آمین عاقل بالغ وی، لهذالیوانی ماشوم خائن به نوی، البته دکښی اختلاف دی چی داشرط دوجوب ده اوکه وجوب اداء دي، لکن صحیح دا ده چی دغه شرط اداء ده په وخت دمرګ کښی وصیت ورباندی لازم ده.(٣)

---

١ (الفتاوی الشامیه.ج٣ص٥٦٦)
٢ (فتح القدیر.ج٢ص٣٣٣)
٣ (التاتارخانیة.ج٢ص٤٣٤)

(۱۹) مسئله:دحج بدل کولولپاره داضروری نده چه مأموربه په خپله فرضی حج کړي وی، اګرچه افضل بهتره همدغه ده دوجی وتلوداختلاف څخه چي خپله فرضی حج یي کړي وی کمافی البدائع، لکن دامام مالک رحمه الله تعالی په قول باندی داجائزنده، اوداختلاف څخه وتل په اتفاق سره مستحب دی، پس آیاپه مأمورباندی په داخلیدودمکی مکرمی ته حج فرض کیږی اوکنه؟ جواب داده: چی نه پری فرض کیږی، ځکه چی ده په دی کال کښی دبل چاڅخه حج وکړ،او راتلونکی کال دي فقیردي ځکه په صورت کی ډیر حرج هم دی دده حج لپاره، پس عمره کافی کیږی په سقوط دواجبوکښی .(۱)

(۲۰)مسئله:—که یوکافرغنی ووچه کله مسلمان شونوفقیرشو،په دی حالت کښی په دباندی حج نشته په هغه پخوانی غنی والی سره،اویومسلمان غنی ووبیافقیرشو ،له دڅخه حج نه ساقطیږی،بلکه دده په ذمه حج لازم دی خامخابه ئی کوی.(۲)

(۲۱) مسئله: یوه قاعده ده: چه په هرچاکوم طواف لازم شی اوپه دوخت کی دئي کوم یوطواف نیت وکړی نودغه طواف ئي هغه لازمی طواف څخه اودریږی ،یعني برابره خبره ده چی دغه طواف نیت ئي کړی وی اوکنه، اویائي دبل طواف نیت کړی وی، پس محرم چی کله مکه مکرمی ته داخل شی بیاطواف وکړی څه نیت ونکړی،یادنفلی طواف نیت وکړی، نوکه

۱ (.(اللباب وشرحه،ص۴۹۷)
۲ ((ردالمحتارطبع رشدیه،ج۳ص۵۱۹)

چیری عمره کونکی وو نودغه طواف ئي دعمری شو،اوکه حج کونکی ؤ،نودغه طواف ئي دقدوم شو،اوکه حاجی قارن ؤ و دغه اول طواف ئي دعمری شو، اووروسته طواف ئي بل طواف دحج شو، برابره خبره ده که نفلی طواف نیت کړی وی یائي دبل طواف، ځکه چی احرام ددلپاره ترل شوي دی، نود طواف يي دهغه مستحق طواف څخه واقع کيږی اوپه نیت سره نه بدليږی.(۱)

(۲۲)مسئله:که یوسړی دحج بدل امروکړوهغه مأموردحج قران نیت وکړی نودامام اعظم رحمه الله تعالی په قول باندی دامامورنفقی ضامن ده هغه آمر لپاره، ځکه چی خلاف ئی کړی، البته صاحبين رحمهماالله وائي: چی ضامن نده ځکه چی قران افضل اوبهتردي، نوده لپاره ئی بهترحج اوکړ نودمخالفت نه شو، بلکه دده ګټه وشوه، نودداسی مثال ده لکه یوچاته یوسړی اوائي چی داشئ راته خرڅ کړه هغه ئی په زیات قیمت سره هغه شی ورته خرڅ کړی دمخالفت نه شو.اوامام اعظم رحمه الله تعالی فرمائي: چی د سړی ته دحج مفردآمرشوی، کله چی دحج قران نیت وکړی نودد آمرامرڅخه مخالفت شو لهذا دی ضامن ده هغه خرڅ کولو لپاره او حج لده څخه واقع شو، لکه حج تمتع چی وکړی نوعمره دآمرڅخه نه واقع کيږی ځکه دآمر امرئی نده عملی کړی،دمأمورتصرف اولایت په خپل سره باندی نشته،آیاته نه ګوری چی آمرامرنوی نودهغه څخه هغه نسک نه واقع کيږی، لهذادمړی څخه هم تمتع منعه ده

۱ (العناية، ج۲ص۴۶۵)

ځکه چې دمړی نه عمره نه کیږی، اومړی عمره نشی کولای .([1])

(۲۳) مسئله:- په اهل مکه اوځوک چی ددوي په حکم کښې وی په دوي حج تمتع اوقران نشته ،اوکه چیري وکړونوداکس ګنهګاردي په ده باندې پسه اودم دجزاء لازم دی له وجی دګناه، نودده لپاره خوارک هم دذبحي ځخه جائزنده، اوروژه ئي هم په بدل کښې صحیح نده، اګرچی داشخص محتاج هم وی.([2])

(۲۴) مسئله: دم تمتع اوقران دم دنُسک ده، یعنی دم دافعالو دحج ځخه ده، که صاحب دتمتع اوقران ئي وخوري هیڅ باک یي نشته.([3])

(۲۵) مسئله: که ځوک دعرفات دودریدلو ځخه وروسته محصراوبندشو، حتی تردی چی داختر ورځی تیری شوي بیا راخلاص شو،نوپه دکس باندی یودم دپریښودلود مزدلفی ده، یودم پریښودلو دجمروویشتلوده، یودم اوپسه دورسته کولودطواف زیارت ده یعنی دفرضی طواف .([4])

(۲٦) مسئله: که چیری یوچاداحرام تړلوپه وخت کښې داشرط ولګولو کیښوده چه که زه په لارکښې محصراوبندشوم نوزه به بغیرداستولودهدي اوپسه ځخه حرم شریف ته به ځان حلال کوم،نودغه شرط صحیح نده، ځکه چی بدون دپسه ځخه محصرځان نشی حلالولي،تر ځو چی په حرم شریف کښې ذبحه نوئی شوی اویائي دبیت الله شریف ځخه طواف نوي

۱ (خلاصة فتح القديرمع الكفاية، ج۳ص۷۳)
۲ (التاتارخانيه، ج۲ص۵۲۸)
۳ (العينى، ج۴ص۲۲۴)
۴ (ردالمحتارطبع جديد، ج۳ ص۱۹۱)

کړي، يعني که چيرې يوبې دڅخه نوی کړی نوداشخص هميشه لپاره محرم ده، په فتح القدير کتاب کښې فرمايلي:چې دغه مذهب معروف ده،او شارح اللباب رحمه الله تعالی فرمايلي دغه مکتوب ده په کتاب دمذهب کې يعنی ليکلی شوی په کتاب دمذهب کښې،البته علامه کرمانی رحمه الله تعالی اوعلامه سروجی رحمه الله تعالی دامام محمدرحمه الله تعالی څخه نقل کړې که چيرې داحرام ترلوپه وخت کښې دحلالودځان شرط کيښودلی وي نودغه لپاره ځان حلالول بغيردذبحې دپسه څخه جائزدی.(١)

﴿دحج بدل ضروري مسائل﴾

(١) مسئله : يواځې مالي عباد ت لکه زکات، اوبدني ومالي شريک عبادت لکه حج اوعمره، که پخپله نشي کولی نوبل يې ورته کولی شي؛ خو يواځې بدني عبادت لکه مونځ،روژه دبل لپاره نشي کيدی، دحضرت ابی رزين رضی الله تعالی عنه نه روايت دی چې هغوی رضی الله تعالی عنه عرض وکړو! يارسول الله! صلی الله عليه وسلم زماوالد ډيربوډا (کمزوری)ده دحج اوعمرې داداکولو وس يې نشته اوسفر هم نه شي کولی؟ نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمائل چې دخپل والد دطرفه حج اوعمره وکړه.(٢)

(٢) مسئله:کوم شخص باندې چې حج فرض نه وې دهغه طرفه حج بدل نه کيږي،نوپدې صورت کې به بل سړی پخپله نفلي حج اداکړي،اووددې ثواب به ژوندي يامړې عزيزانوخپلوانوغير ه ته وبښي،اوهمدغه حکم دايصال ثواب

---

١ (ردالمحتار، ج٢ص٢٣٣)

٢) رواه الترمذی وقال هذا حد يث حسن صحيح کما فی المشکوة ص ٢٢٣

دنفلي نمونځ،صدقې،تلاوت،ذکر،طواف،حج،اوعمرې وغیره هم دی.(۱)

(۳) مسئله : دچا لپاره چې نفلي حج کولی شي دهغه اجازت ته ضرورت نشته، بلکه دهغه داجازت نه بغیرنفلې حج کول ورته جائزدي اوثواب ورته رسیږي.(۲)

(۴) مسئله: که نفلي حج دبل چا لپاره کوی نودهغه وطن ته وراتلل ضروري نه دي خو چې مړي وصیت نه وي کړی، بلکه ایصال الثواب لپاره نفلي حج دکوم ځایې څخه چې ورته کوي نوحج ورته کولا ئ شي ،ځکه چې نوافلو کې توسع اوازادي دی،البته حج بدل لپاره چې وصیت یې کړی وي دهغه وصي وطن ته وراتلل ضروري دي.(۳)

(۵) مسئله : اولی داده چې حج بدل په هغه چاباندې وکړل شي چاچې خپل حج پخپله اداکړی وي، البته که چا پداسې سړئ حج بدل وکړوچې مخکې یې حج نه وې کړی، اوحج پري فرض هم نه وې، نوداسې حج بدل خو یې صحیح دي البته بهتر ندی، اوکه په دی حج بدل کوونکي سړې باندې حج فرض وؤ، خو هغه نه وه اداکړی، نو پداسې سړې باندي حج بدل کول مکروه تحریمې دي،البته حج بدل یې صحیح ده یعني غاړه یې پرې خلاصیږي.(۴)

(۶) مسئله : حج بدل کې دامیر اطاعت ضروري دی،لهذا که عمرو یئ

---

۱) الفتاوی الهندیه ج ۲ ص ۲۵۷ ، الباب الرابع عشر

۲) البحرالرائق ج ۳ ص ۶۲ باب الحج عن الغیر

(۳) الفتاوی تا تارخانیه ج ۲ص ۵۴۵

(۴) الفتاوی الهندیه ج ۱ ص ۲۵۷ الحج عن الغیر

زید دحج بدل لپاره ولیږلو خو عمرو دمیقات څخه دعمرې نیت وکړو،
بیابې ورروسته دحج پنځوورځوکې دحج بدل نیت وکړو،چونکې پدې
صورت کې عمر دزید دامرنه مخالفت وکړو، نودزید له طرفه حج بدل
نه صحیح کیږي یعنې نه ترې اداکیږي، نوپه راتلونکې کال کې به عمرو
دزیدله طرفه بل دوهم حج بدل کوي.([1])

(۷) مسئله : غالبادامیرلخوامأمورته دمطلق حج امر وي، که هغه حج
افرادوي،که تمتع اوکه قران وي،البته دامیر له طرفه دحج تعین کول ورته
بهتر دي، چې دغه فلانکې حج راته وکړه. ([2])

(۸) مسئله:حج بدل په هغه صورت کی صحیح دی چې دامیرله طرفه دحج
اداکولو څخه ورروسته بیاترمرګه وخت پورې دامیرپه حج کولوباندي قادر
نه شي،البته کچیرې عذر یې زائل شوبیایې دحج وس پیدا شو،نو بیاپه خپله
دغه امیرباندي حج کول فرض دي، اوهغه حج بدل به یې نفل شي.([3])

(۹) مسئله : داضرورې ده چې دفرض حج بدل مکمل اخراجات به امیر-
لیږونکې- وکړي،نو کچیرې چاحج بدل په خپل مال سره دامیر څخه
اداکړو، نو پدی صورت کی حج بدل یې صحیح ندی؛ کچیرې نفلې حج
وؤ بیایې حج صحیح ده څکه نوافلوکې توسع اوازادي دی.([4])

(۱۰) مسئله : فرضې حج بدل کوونکې لپاره دالازم دي چې دلیږونکې

---

(۱) رد المحتار ج ۲ ص ۶۰۰ باب الحج عن الغیر

(۲) الفتاوی الهندیه ج ۱ ص ۲۵۸

(۳) الدر المختار ج ۲ ص ۵۹۸ باب الحج عن الغیر

(۴) الفتاوی الهندیه ج ۱ ص ۲۵۷

دميقات نه به احرام دهغه لپاره وتړې، لهذاکه يوسړې وصيت وکړو چ
حج بدل دترينه يوسړئ وکړې، کله چې هغه کوفې ته ورسيدو مړشو
نفقه ترينه غلا شوه اونيمه خرچه يې کړې وه، نودثلث مابقيه څخه به د
وصيت کونکې له کور څخه حج کولئ شي (۱)

(۱۱) مسئله : چې په چا حج فرض شو البته ويې نه کړو،اودمړکيدو
وړاندې يې دحج بدل فرضي وصيت هم نه ووکړی، البته بيادهغه په اولاد
ياوارثانوکې چاحج بدل ورته اداکړو،نواميددی چې دغه حج به دمړي
داړخه اداشي، البته کچيرته وصيت يې کړي وو، بيا په وارثانوباندي حج
بدل کول ورته ضرور ي دي، البته که وصيت يې نه وؤ کړی بياپه وارثانو
باندې حج بدل کول ورته ضروري ندی،
البته که استحسانًا يې ورته کوي نوښه کارده.(۲)

(۱۲)مسئله:حج بدل کول په وارثانواووصي باندي ضروري نه دي چې
يواځې دوی به يې ورته ادا کوي،بلکه غيروارث اوغيروصي هم ترينه حج
بدل کولای شي.(۳)

(۱۳) مسئله :که وصيت کوونکي دحج بدل لپاره ځای تعين کړي وه نوله
هغه ځای به بالاجماع حج بدل احرام تړي،که ځای يې نه وو تعين کړی،
نوزمونږدعلماؤ په نزد دوصيت کوونکي دوطن څخه دحج بدل لپاره سفر
کول ضروري دی ،کچيرته دمړي دمال له دريمې حيصی نه دهغه دسيمې

(۱) جامع الصغير ص ۱۳۵ کتاب الحج
(۲) التاتارخانيه ج ۲ ص ۵۶۴ الفصل السابع عشر
(۳) فتاویٰ هنديه ج ۱ ص ۲۵۹ الوصية فی الحج

او وطن څخه حج نشي کيدلی، نوبياچې دکوم ځای څخه ممکن وي نوحج بدل دي ترينه په ثلث دمال سره اداشي.(١)

(١۴)مسئله:دحج بدل لپاره دائمي عذرضروري دی،لهذا که يوسړي څخه دعذر په وجه حج بدل وکړل شو،بياداعذردمرګ څخه وړاندې زائل شو،نوپه ده باندې پخپله دوباره حج کول لازمي دي،اوپه هغه حج بدل سره بې ذمه نه فارغ کيږي.(٢)

(١۵) مسئله :دخپل نفلي حج پرځای خپلووالدينوته نفلي حج کول افضل اواولی دي، بعضې احاديثوکې بې لس چنده زيات ثواب ذکرکړی ده.(٣)

(١٦) مسئله : دم داحصارپه اميرباندې لازم دی، اودم دقران اوتمتع اوجنايت په ماُموريعنې حج کوونکی باندې لازم دی، اګرچې اميرورته دقِران اوتمتع حج اجازت هم کړی وي، ځکه چې دادم شکريه دی چې الله تعالی دجمع بين النسکين دآداکولو توفيق ورکړو نوشکريه په حج کوونکی باندې لازمه دی .(۴)

(١٧) مسئله:که دښځې سره دومره مصارف وُوچې دځان اومحرم لپاره بې کافي کيدل نوحج پري فرض دی،البته کچيرته محرم اوزوج بې موجودنه وي نودحج فرضيت ترينه ساقط دی،يعنې په دغې ښځې باندې حج بدل کول لازمي ندي.(۵)

---

(١) التاتارخانيه ج ٢ ص ۵۵٢ الفصل السادس عشر
(٢) البحرالرائق ج ٣ ص ٦١
(٣) فتح القدير ج ٢ ص ٧٨ باب الحج عن لغير
(۴) البحرالرائق ص ٦۵ ج ٣
(۵) الاختيارلتعليل المختار ج ١ ص ١۴١ کتاب الحج

(۱۸)مسئله:حج بدل کې دامیرله ښاره څخه تلل ضروري اوشرط دي،البته دحج بدل له اداکولووروسته ماموربانديې دامِیروطن ته واپس راتلل ضروري ندي،البته بهترداده چې له حج ادا کولو وروسته دامیروطن ته واپس شي ځکه چې امیرته ثواب دنفقې ورکولی شي څومره چې نفقه زیاته وي نوثواب يې هم زيات وي.(۱)

(۱۹) مسئله :که یوسړي ته دعمرې امروشو، نوهغه امیرلپاره عمره وکړه، بیايې خپل ځان لپاره حج وکړونوحج يې صحیح دی؛اوکه یوه سړي ته دحج اَمروشو نو دامیرله طرفه يې حج وکړو،بیايې خپل ځان لپاره عمره وکړه نوعمره يې صحیح ده، اوهمدارازحج بدل اوعمره دواړه يې هم صحیح دي، البته دحج نفقه (خرچه) په لومړی صورت کې ،اودعمرې خرچه په دوهم صورت کې دمأمورپه مال کې واجب دی، نوآمیردمال څخه به خرچه نه کوي.(۲)

(۲۰) مسئله :که چیرته له وقوف عرفي نه يې مخکې حج فاسد کړو، نومأموردامیردخرچې ضامن دی یعني واپس به خپل مصرف وخرچه امیرته ورکوي، ځکه چې مأموردې فسادسبب جوړشوی، اوکچیرته وقوف عرفې څخه وروسته حج فاسدشو نومأمور يې ضامن نه دی ځکه چې دحج رکن اعظم چې وقوف عرفي ده هغه يې ادا کړیدی.(۳)

(۲۱) مسئله :مامورهمیشه دامیردحکم تابع دی،لهذاکچیرته دحج افراد

---

(۱) بدایع الصنائع ج ۲ص ۲۱۵ کتاب الحج
(۲) کتاب الفقه على المذاهب الاربعة ج ۱ ص ۷۰۸
(۳) الهدایه ج ۱ ص ۲۷۹ الحج عن الغیر

امرورته وشوهغه مامور حج قِران اوتمتع وکړو، نوحج دماموړله طرفه اداشواواميرته د خرچي واپس ورکولوضامن دی،البته کچيرته داميرله طرفه هرحج کولواختياروي نو مامور چې کوم حج وکړي نوداميرله طرفه به هغه حج ادا اوصحيح وي.[۱]

(۲۲) مسئله :دمديني منورې تللوخرچه په ماموربانديي لازمه ده،که چيرته اميرورته اجازت کړی وي نوبيادااميرله مال څخه خرچه کول ورته جائزده.[۲]

(۲۳) مسئله :ماموربه دحج بدل احرام داميرله طرفه تړي، اودده له طرفه به تلبيه هم وايې يعني لَبيک عَنْ فُلَانِ.که داميرنوم تړې هيرشي نوچې يواځې داميرنيت وکړي نوصحيح ده، اود زړه نيت هم کافي کيږي[۳].

مسئله:دمسلمان دطرف نه شيعه حج بدل نشي کولی ځکه چې شيعه زياتره کافر وي.[۴]

(۲۴) مسئله : ښځه دسړي لطرفه حج بدل کولی شي، البته افضل دادی چې سړی ترينه حج بدل وکړي.[۵]

(۲۵) مسئله : نابينا يعني يوړوند سړی که دومره وس اوطاقت ولري چې دځپل خدمت لپاره يې څوک ځان سره بوتللی شي نوکه بياهم دهغه څخه حج بدل وکړل شو صحيح ده.[٦]

---

(۱) الفقه الاسلامی وادلته ج ۳ ص ۵۱ النيابة فی الحج

(۲) الفتاویٰ حقانيه ج ۴ ص ۲٦۲

(۳) الدرالمختار ج۲ ص ۵۹۹ باب الحج عن الغير

(۴) احسن الفتاوی ج ۴ ص ۵۴٦

(۵) الدرالمختار ج ۲ ص ۳۳۱ باب الحج عن الغير

(٦) الدرالمختار ج۲ ص۷ ۲۳

(۲٦) مسئله: که یوسړی دغفلت په وجه دصحت په وخت کې حج ادانکړو،بیا معذوریاشیخ فاني شو،نوله ده څخه هم حج بدل صحیح ده اوحج ترینه اداکیږي.(۱)

(۲۷) مسئله : که یوسړي باندې حج فرض نه ؤونوبل سړي ورته نفلي حج وکړو، او یایې چاته روپۍ ورکړې چې مړي ته یې نفلي حج وکړي نود صورت صحیح ده،البته که دچا څخه یې پخوانی نفلي حج ورته واخیست داصحیح ندی ځکه چې احرام کې دحج نیت دهغه سړي له طرفه ضروري ده چې حج ترینه کوي، اوبل داچې نیکیانې خرڅیدای نشي .(۲)

(۲۸) مسئله : یوسړي باندې حج فرض ؤوپه کوم عذرباندې یې حج ونه کړو، نو هغه روپۍ په مسجد اومدرسه کې نه شي خرچ کولی بلکه په هغو روپیوباندې به ترینه حج بدل کیږي.(۳)

(۲۹) مسئله : یتیمانواوفقراءباندې خرچه کولوپه وجه باندې فریضی حج ترینه نه ساقطیږي، بلکه دعذرپه وخت به ترینه حج بدل په دې روپیوسره اداکیږي.۴(۱)

(۳۰) مسئله : که مامور په لاره کې وفات شو،نو دامیر فرضي حج څخه ذمه نه فارغ کیږي، بلکه دحج بدل لپاره به بل څوک لیږي.۵(۲)

(۱) ردالمحتارص ج ۲ص ۷ ۲۳
(۲) فتاوی دارالعلوم دیوبند ج٦ ص ۵٦۳
(۳) ()فتاوی دارالعلوم دیوبندص ج ٦ ص۵٦۷
(۱)۴فتاوی دارالعلوم دیوبند ج٦ ص ۵۳۲
(۲)۵ فتا وی دارالعلوم دیوبند ج ٦ ص ۵۷٦

﴿داحصارضروري مسائل﴾

(۱) مسئله:داحصارحکم: احصارپه لغت کې منع ته وايې اوپه اصطلاح کې چې څوک دحج اوعمري له احرام نه پس دوقوف عرفه اوطواف زيارت دواړو څخه په حج کې بندشي،او په عمره کې چې دعمره درکن يعنې يواځې طواف څخه بند شي نودغه سړي ته محصروايې،دشرعي په اصطلاح کې ديته احصار وايې ؛

پس داحصار اسباب دادي: چې دکوم دشمن په وجه منع کيدل که هغه مسلمان وي ياکافر،يادکوم درنده په وجه منع کيدل چې دفع کولوڅخه يې دی عاجزوي،اويادومره ګوډشي چې دګرځيدوراګرځيدو نه عاجزپاتې شي، يا دسفر په وجه يې مرض زيات شي که په خپل غالب ګمان سره وي، اويا کوم مسلمان ديندارہ طبيب ورته ويلې وي،يامحرم دښځې سره په لا ره کې وفات شي،ياابتداءًا احرام وتړې بيايې محرم يازوج موجودنه وې خوچې مکې مکرمې ته ددريويازياتوورځو مسافت وي ، اويا ترې رقم (سفرخرچ) هلا ک شي اوياغلا شي ، يايې سوارلۍ هلا که شي په چې بيا په پياده سفر قادر نه وي، که قادر وي بيا محصر نه ده، البته که قادروي خودهلا کت انديشنه وي نوبياهم محصر دی ، ياخاوند (ميړه) خپله ښځه دنفلې حج ياعمرې څخه منع کړي وروسته داحرام تړلوڅخه چې بلا اجازت يې احرام تړلی وي، ياڅوک حاکم يې منع کړې يايې قيد کړې، يا احرام نه وروسته په ښځه عدت واجب شي اګرچې محرم موجود وې، يادمکې مکرمې يادعرفات لا ره خطرناکه يابنده شي، اوداسې نور، نوداصورتونه داحصار

دي. اوچاته چې له احرام تړلو وروسته اوله وقوف عرفې نه مخکې څه داصورتونه ورپیښې شي نو هغه ته محصر وایې،البته که وقوف عرفه څخه وروسته داصورتونه پیښ شي هغه شرعاً محصر نه شي شمارلی.

داحصارحکم دادی:چې محصربه ددې مشکلاتو دختمیدوانتظارکوي،اود مانع لیرې کیدلونه بعد که دحج کولوموقعه وي نو حج به وکړې، که دحج کولوموقعه وي نوه بیابه عمره وکړې څان به حلا ل کړې، کچیرې انتظار کې ډیر وخت وؤ اودی زرحلا ل کیدل غواړې، نوکه دحج اویا یواځې دعمرې احرام یې تړلی وې نو کوم شخص ته به دم یاددم قیمت ورکړې چې ددي محصرله طرفه یې په حرم شریف حدودو کې ذبحه کړې،اوتاریخ اووقت دذبحې به هم ورسره تعین(مقرر) کړې، نو چې هلته ذبحه وشوه نو محصر حلا ل شو، لکن سرخریل غوره دې. کچیري محصرحاجي قارن وې نو دوه دمه به ترینه ذبحه کیږي، یو داحرام حج لپاره بل داحرام عمره لپار ه، لکن هریولپاره ددم تعین شرط نده چې ددم حج لپاره دي او ددم عمره لپار ه ده البته تعین افضل ده، که قارن څخه یودم ذبحه شي نوځان به نه حلالوي ترڅوچې بل دم ترینه ذبح شوی نه وي، څکه چې قارن ددواړو احراموڅخه په`یوځل حلال کیږي،اودم احصارلپاره ایام نحرشرط نه دی بلکه حرم شریف کې ذبحه شرط ده، که معلومه شي چې ذبح حرم شریف کې نه ده شوې بلکه زمین حل کې شوې ده نو دوباره حرم شریف کې ذبح ضرورې ده،خوداحصارلري کیدلونه وروسته په ده باندې قضاءدحج او عمرې واجب ده.

که چیرته احرام حج څخه حلال شوی وي نوپه قضاءکې یوحج اویوه عمره کولورباندې واجب ده،خو چې دحج وخت ختم شي اوداحصارپه کال حج ونه کړي،که داحصارپه کال حج وکړي نوپه دوباره احرام کې حج کولولپاره دقضاء نیت ضروري نه دی اوعمره کول هم نه واجبیږي، که دقِران احرام څخه حلال شوی وي نوپه ده باندې په قضاءکې یوحج اودوه عمري واجبیږي،خودده اختیار ده چې حج قِران کوي اوکه یوه عمره ترینه وروسته کوي،یاحج جداکوي اودوی عمرې جداوکړي،داحکم هم هغه وخت ده چې دحج وخت تیراو ووزي.که په دې احصارکال کې حج قِران وکړي نوبیادعمرې قضاء ورباندې واجب نه ده.

اوکه دعمرې احرام څخه محصِرځان حلال کړی وي نویواځې دیوې عمرې قضاء ورباندې واجب ده چې کوم وخت کې وغواړي نوعمره کولای شي، اووجوب قضاء دیوې عمرې په هرمحصرباندې ده، که هغه فرضي حج وي یانفلي حج، یاخپل حج وي یاحج بدل، اوحج یې صحیح وي یافاسد، اوکه هغه ازاد وي یاغلام، البته غلام باندې وروسته دازادکیدلو څخه واجب کیږي.

اوکه له دم احصارنه مخکې مانع زائل شي نوحج ته تلل ورباندې واجب دی، که له دم احصاراستولووروسته احصارزائل شو، نوکه دومره وخت وُوچې دم احصاراوحج دواړه یې موندلی شو، نوحج ته تلل ورباندې واجب دی، اوپه دم احصارباندې دده اختیارده چې څه ورباندې کوي کولی شي، اوذبحه یې واجب نه ده. اوکه دم احصاراوحج دواړه نه شي موندی،

یایواځې دم احصار موندئ شي حج نه شي موندی نو تلل ورباندې ضروري نه دي، دده اختیار ده چې ځي او کنه نه ځي ، اوکچیرې حج موندلی شي خو دم احصار هدیه نه شي موندئ نو ځان حلا لول ورته جائز ده، البته حج ته تلل ورته افضل دي، کچیرې لا ړنه شي نو کومه بدي نشته.

اوهمدارنګه که دحاجي قارن له هدی احصار استولو وروسته احصار زائل شو، نوکه قارن حاجی نه حج موندلی شي اونه هدیه نو تلل ورباندې واجب ندې، بلکه دده اختیار ده چې ذبحه دهدي پورې انتظار کوي چې بیا ځان حلا ل کړي،یا مکې مکرمې ته ځې دعمرې لپاره،اودعمرې کولوڅخه بعد ځان حلا ل کړې، خو که عمرې ته لا ړو نوبیا په قضاء کې دوهمه عمره ورباندي واجب نده،خوکه عمرې ته نه لاړونوبیاعمره ورباندي واجبیږي.

اوهمدارازکه دعمرې واله احصار زائل شو دهدی لیږلو څخه وروسته یا مخکې نوکه هدی موندلی شي تلل ورباندې واجب دي عمرې ته،اوکه دم احصار نه شي موندلی نو تلل ورباندې واجب ندې چې کله وغواړې عمرې ته تللی شي اوعمره کولی شي،ځکه چې عمرې لپاره کوم خاص وخت نشته لکه دحج لپار ه چې ده. اوکچیرې یوسړی محصر وې نه دم احصار پیداکولې شي، اونه دومره روپۍ لري چې دم احصار ور باندې واخلې،یاخو روپۍ شته لکن څوک داسې نه پیداکیږي چې دهغه په زریعې دم یاقیمت ددم ولیږې اوهلته یې ترینه ذبحه کړې،نودامحصرترهغه وخته پورې داحرام څخه نه شي خارج کیدلې ترڅوچې حرم شریف کې ذبحه نه وې ترینه شوې،یامکې مکرمې ته پخپله نه وې تللی چې هلته عمرې باندې ځان حلال

کړي، یعنې کچیرې دغه دواړوکارو کې یونه وې کړی نو هغه به همیشه په احرام کې وې؛ اوکچیرې یوسرې داشرط هم لږولی وې چې که زه محصر شوم نو دم به نه استوم، نوددم احصار ورباندې استول واجب دې. اوهمدارنګه که دقارن په استولی شوې قیمت باندې یودم وشو،نوترهغه ځان نه شي حلا ل ولی تر څو یي چي دوهم دم نه وې ذبحه کړې، البته امام ابویو سف رحمة الله تعالی علیه فرمایې چې که نه دم احصار استولی شي، اونه عمره کولی شي ،نو دلته به ددم احصار قیمت معلوم کړې، اوپه هر مسکین باندې به نصف صاع صدقه کړې، اوکه دهدی طاقت نه لري نو دهرې نیمې پیمانې په مقابل کې به یوه ورځ روژه ونسې، اوځان به ورباندې حلا ل کړې.(۱)

(۲) مسئله: که ښځې دمیړه له اجازې پرته دنفلې حج احرام تړلی وی اومحرم هم ورسره وې، لکن خاوندیې دحج کولو ځخه منع کړې نو دامحصره ده، دخاوند حق دی چې فی الحال ددې احرام خلا ص کړې خو دجماع نه په بل مانع سره حلا ل کول افضل دې، لکه خوشبویې لږول یا نوکونه وغیره پرې کول، لکن په ښځه باندې یودم اویو حج اوعمره واجب کیږي، په خلا ف دفرضې حج نه چې کچیرې محرم سره نه وې، اوخاوند یې بنده کړې، نو بدون دهدی د ذبحې ځخه نه حلا له کیږي.(۲)

---

(۱) وایّد القاری روایة ابی یوسف رحمه الله تعالی ان شئت الا طلاع علیه فار جع الی شرح الباب.

(۲) ملخص رد المحتار ج ۲ ص ۲۵۴ ومعلم الحجاج ص ۲۷۲ الی ۲۷۸

﴿دحج فوت کیدوضروري مسائل﴾

(۱) مسئله : دحج دپاتې کیدوحکم: پس چاچې دحج احرام وتړلواودلسمې نیټې دذالحجی دصبا صادق نه مخکې مخکې عرفات ته اونه رسیدلو نودهغه نه حج پاتې شو، اوورته شرعًا فائت الحج وئیلی شي، خو دعرفې ورځې د زاوال څخه تر صبح صادقه پورې که څه هم لږ وخت وقوف عرفه یې وکړونو حج یې پوره کیږي، نودفائت الحج حکم دادی چې هم په دغه احرام دې دعمرې کارونه یعنی طواف اوسعی وکړې، وروسته دې حلق یاقصر وکړې داحرام نه دې اوزې، خودطواف شروع کولو نه دمخکې دې تلبیه ویل بنده کړې. اوپه مفرد فائت الحج باندې یواځې دحج قضاء واجب ده، اوکه حاجی قارن وؤ اوعمره یې نه وه کړې، نودې لومړی یو طواف اوسعی به دعمرې لپاره وکړې، وروسته دې بله عمره دحج دپاتې کیدلو لپاره وکړې، بیادې په سر خریلو یا قصر کولو سره ځان حلا ل کړې،پدې صورت کې به په ده باندې یواځې دحج قضاء واجب وي، اودم قران به ترینه ساقط (ختم) شي، اوپه قضاء کې به عمره کول واجب نوي،اوددوهم طواف شروع کولونه مخکې مخکې دې تلبیه ویل بند کړې، اوکه عمره یې کړې وه نودده هم هغه حکم ده چې دمفرد بیان شو یعنې یواځې دعمرې کارونه به اداکړې چې طواف اوسعی ده،حلق یا قصربه وکړې او ځان به حلا ل کړې یعنې که عمره یې کړې وه اودنوې سره یې دحج نیت کړې وؤ(لکه متمتع) نوهغه به دغسې کوې، اوائینده کال کې به دحج قضاء راوړې.

دريم فصل: دحج مسائل

اركه حاجي متمتع وژنو تمتع بې په پاتې کيدلو دحج سره باطليږې، اوهمدا راز دحج په پاتي کيدلو سره طواف وداع اوقرباني هم نه لازميږې يعنې نه واجبيږي، اودم قران اودم تمتع هم ساقط (معاف) کيږي، او دفرضې يا نفلي، اونذري يا واجبی حج دپاتې کيدويوحکم داوۀ چې اوس مخکې تير شو. البته عمره نه پاتې کيږي ځکه چې عمرې لپاره ټاکلی نيټه (وخت نشته، دعرفې دلوېې اختر دورځې اودايام تشريق نه سواپه ټول کال کې عمره کيدايې شي دشپې هم اودورځې هم، لکن په دغه مذکوره ورځوکې عمره کول مکروه تحريمي ده، که چاپه دغه ورځوکې عمره وکړه نو سره دمکروه والې بې عمره هم وشوه (۱)

(۲)مسئله:دځلورو شيانو په وجه دحج قضا واجبيږي.اول:-وقوف عرفه پاتې کيدل.دوهم:- احصار يعنې وقوف عرفه نه بنديدل.دريم:-په جماع سره حج فاسدکول.ځلورم:- له احرام ترتړلووروسته احرام پريښودل.۲(۱)

﴿دميقات ضروري مسائل﴾

(۱) مسئله: دميقات حکم: محترمو! حضرت رسول اکرم صلی الله عليه وسلم دمکې مکرمې نه بهر خلکوته داسې ځايونه ټاکلي دي چې بې احرامه مکې مکرمې ته وردننه کيدل يې ممنوع کړيدی چې دهغې ځاينو څخه به بې احرامه نه ورتيريږې،دغې ځايونوته مواقيت وئيلی شي چې دميقات جمع ده؛لکه دمدينې منورې نه راتللونکې خلک به دبيرعلې نه احرام تړې چې

---

(۱) معلم الحجاج ص ۲۷۹ الی ۲۸۰

(۱) ۲) ملخص کتب الفقه

پخوانی نوم يې ذوالخليفة دی؛ اودشام دملک خلکو لپاره جُحفه ميقات دی
دادنبوت په زمانه کې آباد وؤ، خواوس آباده ندی ځکه دشام خلک اوس
دبير علې نه احرام تړې، اودنجد (رياض)اوطائف خلکو لپاره قرن ميقات
دی چې اوس ورته دانوم نه شي وئيلی ځکه دغه خلک اوس دوادي محرم
نه احرام تړې چې دغلته لوي مسجد هم جوړشوی دی .
اودعراقيانولپاره ذات عرق،اوديمنيانو لپاره يَلَمْلَمْ رسول الله صلی الله عليه وسلم
ميقات مقررکړی وؤ. اودهندوستانيانوپاکستانيانو، بنگله ديشيانوسمندري
جهازونه په هغه لا ره تير يږې چې ديلملم په محاذ (برابرى) کې راځي
نوځکه دوی هم ددغه ځاي څخه احرام تړې چې ورته افضل اوبهتر دې،
کچيرې ددغوملکونوخلق جده کې احرام وتړ ي ځنې علماء کراموددې
اجازت ورکړې دی، خومحقيقن علماء کرامو تحقيق دادي اوس دهوايې
جهازونو مسيردمنی اوعرفات يعنی حدود دحرم شريف داخل کی دي فلهذا
بغيرداحرام نه حدود حرم شريف ته دداخل کيدلو په وجه دم ورباندي
لازميږی نوددغو مذکورو ملکونو خلق لپاره احرام تړل د جده څخه
صحيح ندي، البته کچيرې ددي ملکونوخلق بمبئ ، کراچې ، اسلا م اباد
، لاهور ، کابل ، اوقندهار، خوست ، چې مسير يې سره يودی چې دهوايې
جهازپه زريعه سفر کوې، اوهم دغه ځايونونه يا دجهازدپورته کيدونه
يويادوه ساعته پس احرام وتړې نو هم درست ده، خو بغيراحرام نه به جدې
ته ځکه نه داخليږې چې هوايې جهازپه لا رکې دميقات څخه تيريږې،
اودميقات څخه بې احرامه تيريدل اومکې مکرمې ته رسيدل گناه ده چې دم

اوهمدارنګه دميقاتوداهل (خلقو) لپاره داحرام تړلو ځايې ررسره لا زميږې، ده زمين حل هغه دى چې مابين دميقات اودحرم شريف کى (زمين حل) رې، اودمکې مکرمې داهل (خلقو) لپاره ميقات دحج لپاره حرم شريف دى اودمکې معظمې داهل (خلقو) لره دعمرې لپاره ميقات تنعيم دى خصوصًا دحضرت عائشة رضي الله تعالى عنهامسجد دى.(1)

(۲) مسئله : که په يوه لا ره باندې دوه ميقاته وه که په ځان يې باور وې اومطمئن وؤ چې جنايت ترينه نه صادريږې نو اَوْ لى (بهتره) دادى چې له مکې مکرمې بعيد(ليري) ميقات څخه احرام وتړې، اوکه په ځان يې مطمئن نه وؤبيا دمکې مکرمې قريب ميقات څخه احرام وتړې ښه کار دى، پس که دجدي اوسيدونکي احرام دحرم شريف څخه وتړې، يادحرم شريف خلق احرام د زمين حل ياجدې څخه وتړې، ياافاق ليرې وطن خلق احرام دزمين حل، يادجدې، يا دحرم شريف څخه وتړې، نوپه دى صورتونوکى يو پسه دجزاء دميقات دتيريدلو په وجه ور باندې واجب ده، البته کچيرې په پورته صورتوکى هريو بير ته خپل ميقاته دمخه تر طواف شروع کولو، يادمخه تروقوف دعرفات راشي، اواحرام بيرته دخپل ميقات څخه وتړې هغه لا زم شوى دم پسه ترينه ساقط شو.(2)

﴿فائده نافعه﴾

محترمو!دميقات په مقرره کولو کې حکمت دادي لکه په اول فصل کې ئي بيان تيرشوچې اصلي مقصدپه حج کې اظهارعبوديت،اودخواهشاتواولذتونو

---

(1) عيني کنز، ج ۱ ص ۲۳۰، کتاب الحج مع زيادة
(2) ردالمحتار ج۲ص۱۵۳ومبسوط الامام سرخسي ج۲ص۱۶۸

نفسانیو پریښودل دي،اودحج لپاره دمختلفواولیری منطقواوعلاقوڅخه خلق راځی،نوکه خپل کورونو نه داحرام تړل ضروري وی، نوخلقوته به زیات تکلیف وو، نومحسن کائنات صلی الله علیه وسلم زموږدمصلحت اوآسانتیا په خاطرئي دمکی مکرمی دڅلوروطرفونونه میقاتونه مقرره کړل،نولدي ځای ددربارخداوندي ته داخلیدوپه خاطرئي یوخاص لباس اوهیئت جوړول لازمي کړل، چې دده خاص مقام تعظیم اواحترام وکړی شي، البته دمدینی منوری میقات ئي ترټولو میقاتونه په لری مسافه کي مقررکړو ځکه چې مدینه منوره مهبط وحی اومرکزایمان دي،اودارهجرت شرافت ورته حاصل دی،لهذاددی باشند ګانوته ترټولوزیات احترام اوتعظیم کول پکاردي.المهاجر المدني عفي عنه.

﴿دریم فصل: د پوره حج اداکولو ترتیب اومناسک﴾

﴿اول بحث: داحرام بیان﴾

(الف):– داحرام تړلوترتیب

محترمو! که یوشخص دحج اودعمری کولواراده وکړي نودمیقات (احرام تړلوځای) څخه به داحرام نیت وکړي، البته داحرام تړلونه مخکی به غسل وکړی یابه اودس تازه کړي، لکن دنظافت اوپاکوالی په لحاظ سره غسل کول ډیربهتردي،لهذا کومه ښځه(زنانه)چه دحیض یانفاس په حالت کی وي نودهغی لپاره هم غسل کول پکاردي که ضَرَر ورته نه رسیږي، اوهمداراز پوره نظافات اوپاکوالي هم مستحب دی لکه نوکونه پریکول، اوبریتو لنډه ول، اودبغلونو ویښته کاږل یاخریل، اودنامه لاندی ویښتان (اعانه) خرِیَل، اوکه عادت ئی وؤ دسرخرئیل، اودخپلی منکوحی سره همبستری کول،

اونيل لرول اګرکه خوشبويه وي،البته چي په بدن باندي يي ذات دخوشبوئی باتی نشی، يعني داکارونه داحرام ترلونه مخکي کول مستحب دی.

پس نارينه به يولنګ اويوڅادر چي دواړه به نوي اويابه وينځلی شوی وي راغوندي، نولنګ به ووهی اوڅادربه چاپيره کړی، که لنګ اوڅادردواړه دسپين رنګ وي نواولی اوبهتردي، ځکه چي کنډل شوي جامي اوکالي داحرام په حالت کي غوستل منعه دي،البته غوټه ورکول يامنځ ترمنځه کولفي ستنووغيره باندی داحراومضبوط کول اوپيوست کول مکروه دي لکن څه جرم ورباندي نشته،اوهمدرازپه خپل ځان به خوشبويه ولګوي، بيا به دوه رکعته داحرام سنت لمونځ وکړي، اوپه لمونځه کی به ئی سراو اوکه پټه وي، په اول رکعت کی به دفاتحه څخه وروسته قل يايهاالکفرون سورت ووائی، اوپه دوهم رکعت کی به دفاتحه څخه وروسته قل هوالله احد سورت ووائی ، کچيري مکروهه وخت نه وؤ، که مکروهه وخت وؤ نوبيا به بغيردلمونځه څخه به احرام وتړي،اودلمونځه نه وروسته به سرلوڅ کړي اوپه لوڅ سربه داحرام نيت وکړي، که دحج افراداراده ئی وي نوبيوازی دحج نيت به وکړی دنيت کلمات دادي: اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اُرِيْدُ الْحَجَّ فَيَسِّرْهُ لِي وَتَقَبَّلْهُ مِنِّيْ وَاَعِنِّيْ عَلَيهِ وَبَارِک لِيْ فِيهِ نَوَيتُ الحَجَّ وَاَحرَمتُ بِهِ مُخلِصاً للهِ تَعَالَى. اوکه دعمری اودحج تمتع اراده ئی وي نونيت به داسی وتړی: اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اُرِيْدُ الْعُمْرَةَ فَيَسِّرْهَالِيْ وَتَقَبَّلْهَا مِنِّيْ وَاَحْرَمْتُ بِالْعُمْرَةِ،اوکه دحج قران يعنی دحج اوعمری نيت که يوځاۍ کوي نوداکلمات به ووائی: اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اُرِيْدُ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ فَيَسِّرْهُما لِيْ وَتَقَبَّلْهُمَا مِنِّيْ وَاَعِنِّيْ عَلَيْهِمَا

وَبَارِکْ لِيْ فِيْهِمَا نَوَيْتُ الْعُمْرَةَ وَالْحَجَّ وَاَحْرَمْتُ بِهِمَا مُخْلِصًا لِلّٰهِ تَعَالٰی

اودعربی ژبی په ځای په بله ژبه کی نیت تړل هم درست دي، البته نیت که صرف په زړه سره وکړی اوپه ژبه هیڅ اونه وائی نو نیت يې صحیح کیږی، لکن په ژبه اوزړه دواړه سره نیت کول مستحسن ده،اودنیت نه پس به تلبیه ووائی په تلبیه ویئلوسره بایدهم نیت دحج اویا دعمری اوکړي اودتلبیې کلمات دادی: لَبَّيْکَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْکَ لَبَّيْکَ لاَ شَرِيْکَ لَکَ لَبَّيْکَ اِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَکَ وَالْمُلْکَ لاَشَرِيْکَ لَکَ، نوددی الفاظونه کموالی کول منعه دی، بلکه ددی الفاظوزیاتول ورسره سنت دی چی: لَبَّيْکَ وَسَعْدَيْکَ وَالْخَيْرُ كُلُّهُ بِيَدَيْکَ لَبَّيْکَ وَالرَّغْبٰي اِلَيْکَ،اوداسی نوره کلمات منقوله، اوتلبیه به دری ځلي ووائی، ورپسی به درود شریف ووائی،اوبیابه دادعا ووائی: اَللّٰهُمَّ اِنِّی اَسْئَلُکَ رِضَاکَ وَالْجَنَّةَ وَاَعُوْذُ بِرَحْمَتِکَ مِنَ النَّارِ،البته یواځی په نیت کولو سره احرام نه شروع کیږی ترڅو پوري چی ئی تلبیه په جهرسره نوي وئیلی،لکن دتلبیې ویئلو نه اول به دسرنه څادرهغه پلولری کړی،اودسفرپه دوران کی به تلبیه ډیره ډیره په متوسط آوازسره وائی،خصوصًا دحالتو دبدلیدوپه وخت به تلبیه په کثرت سره وائی مثلاًدصبااومابنام کیدوپه وختو کي،اودکیناستو اوپاڅیدوپه وخت کي،اووروسته دفرض مونځونونه، اودرخصتیدو اوخلقوسره دملاقات په وخت کي،اودبهردتلواودننه راتلوپه وخت کي اوداسی نور، نوپه دی حالاتوکی دتلبیې لوستلوداستحباب والی زیات تاکیدات راغلي دی، پس څه وخت چه ستاسو دی نیت سره تلبیه

اوریئله نو ستاسی محرم شوي، نواوس به داحرام ممنوعاتونه لکه رفث، ښکاراوکنډلو جاموغوستلووغیره څخه ځان ساتي، البته ښځه به په اوچت آوزسره تلبیه نه وائی بلکه په داسی شان سره به ئي وائي چه پخپله ئي اوري. چی ددي تفصیل به عنقریب ان شاءالله تعالی راشي. (۱)

﴿ب):- داول بحث متعلقه مسائل﴾

۱- مسئله: دبیهوشه احرام: که یوشخص سره دبیهوشۍ اولیونتوب خوف (ویره) پیداشي، نووصیت وکړي چي زمادبیهوشۍ په حالت کی زما له طرف احرام وتړئ، اوهغه وصي که دده تربیهوشۍ وروسته دده لخواحرام وتړلو،نوداحرام تړل ترینه بالاتفاق صحیح دي، کچیری یوخاص ملګری اویاخپلوانو ددغه بیهوشه شخص له طرف نه بغیردهغه وصیت اواجازت کولوڅخه احرام وتړي نودغه صورت هم صحیح کیږی، البته طریقه ئی داده چه دخپل احرام تړلو څخه مخکی یاوروسته به ددي بیهوشه له طرف نه نیت وکړي اوداسی به ووائی:اَللّٰهُمَّ اِنَّهُ يُرِيدُ الحَجَّ، یابه داسی ووائی: اَللّٰهُمَّ اِنِّي اُرِيْدُ الحَجَّ فَيَسِّرْهُ لَهُ وَتَقَبَّلْهُ مِنْهُ اوبیابه دده له طرفه تلبیه ووائی، لکن ددی حج په وقوع کی اختلاف دی چه فرضی دي اوکه نفلی. (۲) زموږاحنافو په نزد دغه له فرضی حج څخه ادریږی (۳)

۲- مسئله:که ولی اووارث یعني پلار،وروروغیره اقارب دکوچنی (ماشوم) له طرف څخه دنفلی حج احرام وتړي که هغه کوچنی عاقل وی اوکه غیر

---

۱ - ملخص تاتار خانیه ,ج۲ صـــ ۴۴۱ - ۴۴۲ ونورالایضاح کتاب الحج

۲ - ارشاد الساری/ صـــ ۷۰

۳ - غنیة المناسک/ صـــ ۴۲.

عاقل وي نوصحيح کيږي،پدی ترتيب سره چه يولنګ اوپټوبه ورواغوندی اوحسب طاقت به ئی دمحرماتواومحظورتوداحرام څخه ساتی،البته مناسک دحج چه څومره کوچنی(هلک)اداکولي شي هغه به اداکړی،اوباقی مناسک به ئی ورته ولی اوقريب اداکړی، نوداموجب دثواب دی،لکن په ارتکاب دمحظوراتواومفسداتوداحرام سره قضاءاوکفاره په کوچنی باندی نه لازميږی.(۱)

۳- مسئله: ښځه به په خپل عادی جامو(کپړو) کي دوه رکعته داحرام لمونځ وکړی اوداحرام په حالت کي به بې مخ لوڅ وي، اوکچيري په روئ بندی، اويارومل وغيره سره مخ پټ کړي جايزدی البته پدي شرطه چه هغه روئ بندی اودستمال وغيره ئی دمخ څخه ليری وي يعني چی په مخ باندي بي دغه پرده نه لګيږی چه ديته سدل الثوب وائی، اوباقی مناسک ئی دسړوپه شان دی ماسوادی يوڅوشيانوڅخه. چی ددي تفصيل به عنقريب ان شاءالله تعالی راشي. (۲)

﴿ دوهم بحث: داحرام احکام ﴾

(الف) احرام دصحيح کيدو شرطونه:

محترمو! داحرام دصحت شرطونه پنځه دي اول:- محرم به مسلمان وي نودکافر احرام نه صحيح کيږي. دوهم:- په زړه باندي نيت کول. دريم:- تلبيه يابل ذکرويل اويادبُدنی تقليد کول. څلورم:- تلبيه په ژبه ويل، کچيری په زاړه کي ئی ووائی نوبيا ئي احرام نه صحيح کيږی. پنځم:-

---

۱ - ارشاد الساری/ ص ۷۸

۲ -ارشاد الساری/ ص ۷۸

داحرام ساتل که دیوحج اوعمری دمناسکو پوری کیدودمخه یي په بل حج اوياعمری باندي احرام وتړلونولومړئ احرام يي فاسدشو. (۱) اويوبله جزئيه داهم ده چي په ژبه تلبيه ويل شرط دي البته په عوض دتلبيه ويلوکي دبُدْنی تقليد يعني دهديه شړل هم کفايت کوی.(۲)

﴿ مسائل متعلقه ﴾

۱-مسئله:احرام لپاره نيت اوتلبيه دواړه ضروری دی البته يوځل تلبيه وئيل واجب دي.(۳)

۲- مسئله: صحت احرام لپاره کومه خاصه زمانه يامکان اوخاص هيئت ياحالت شرط ندی، نوپه کوم قسم جاموکی چي احرام وتړی نواحرام ئی صحيح کيږی اګرچه جاموکی احرام تړل مکروه دي،البته پدي حالت کي اوسيدلوباندی جزاء يعنی دم ياصدقه واجبيږی، چی ددي تفصيل به ان شاءالله تعالی راشي.(۴)

(ب): داحرام واجبات

محترمو! داحرام واجبات مختصر دادي: دځپل ميقات څخه احرام تړل، اوممنوعات داحرام څخه ځان ساتل چه هغه لازم دم وي.(۵)

---

۱ -ارشاد الساری/ صـــ ۶۲.

۲ - رد المحتار /ج۲صـــ ۱۷۴.

۳ - معلم الحجاج/ صـــ ۱۰۰.

۴ - معلم الحجاج /صـــ ۱۰۰.

۵ - ارشاد الساری/ باب الاحرام صـــ ۶۲.

(ج) – داحرام سنن

محترمو!داحرام سنن دادي اول :– دحج په میاشتوکی احرام تړل دوهم:–دځپل مقامي میقات څخه احرام تړل،اویادځپلی لاری دمیقات نه احرام تړل. دریم:– داحرام لپاره غسل یااودس تازه کول. څلورم:– دوه لنګ اویوپټواغوستل. پنځم:– دوه رکعته داحرام سنت لمونځ کول. شپږم:– ماثوره تلبیه بی دکموالی اونقصان څخه وئیل. اوم:– دطواف ترنیت کولونه لږدمخه اضطباع کول، یعنی څادرپه چپه (ګس) اوږه اړول اوښی اوګه لوڅول. اتم:– دنوی یامینځلی شوی څادراولنګ اغوستل اوهم دسپین رانګه څادراولنګ نه احرام تړل. نهم:–داحرام څخه مخکی خوشبوئی استعمالول. لسم:– دنیت سره متصل تلبیه وئیل اودشروع په وخت کی په تکرارسره تلبیه وئیل. یولسم:– حائضی اونفاسی ښځی لره داحرام لپاره غسل کول،اوکه ماشوم غیرعاقل وی هغه ته هم داحرام تړلو لپاره غسل ورکول.(۱)

(د) – داحرام مستحبات

محترمو! داحرام مستحبات دادي اول:– داحرام تړلونه مخکی صفائي کول یعني دنوکونو پری کول،اودبریتونوپریکول یالنډول، اودنامه لاندی ټول ویښتان خرئیل حتی ددبری،اوکه عادت ئی وؤ دسرخرئیل، اوښځی لره هم داحرام له تړلودمخه دنامه لاندی ویښتانو کښل (نتف عانه)اوښځوته دنوره استعمالول.دوهم:–دنامه څخه دزنګنوترلاندی نمائي پنډي پوري دلانګ

---

۱ – ملخص رد المحتار /ج۲ ص ۱۷۰ – ۱۷۳ وارشاد الساری، ص ۶۳.

ترل اوپه اوړواوشااوځیګرباندي دپتوراتاوول.دریم:- بازاراو مسجدڅخه علاوه په اوچت آوازتلبیه وئیل البته ښځه به تلبیه په زوره نه وائی بلکه په پټه به ئی وائی، اودماتوری تلبیه څخه بعضی نورالفاظ زیاتول، اوهم دهری لوړی دختلو اودهری ژوری ته دښکته کیدلو په وخت ډیره تلبیه ویل، اودخپلو انډیولانو دملاقات اوهم دهری ډلی دحجاج کراموسره یوځای کیدو په وخت اودسهارداخلیدوپه وخت کي زیاته تلبیه ویل، اودمکی معظمی په مسجد حرام شریف کی اودطواف اوسعی په حالت کی، اوپه منی اوعرفات کی بشرط چه چاته ضررنوي دتلبیه وئیل، البته دطواف اوسعی دعمری کی به تلبیه نه وائی ځکه چه دعمری دطواف شروع سره دتلبیی وخت ختمېږي. څلورم:- دخپلی ښځی سره که مانع نوي داحرام څخه دمخه جماع کول.

(ه) داحرام مباحات

محترمو!داحرام مباحات دادي اول:-حمام ته دغسل لپاره تلل اوغسل کول ، دوهم:- په کوټه ،خیمه،موټر، اونوروشیانوکي کیناستل بشرط چه سرئی دکوټی،خیمی اوموټروغیره لوړچت سره نه لګیږي.دریم:-همیانی ترملاترل .څلورم:- دګوتمي په ګوته کول. پنځم:-دسترګوتوراول خوچه خوشبوئی نه لری. شپږم:- درګ وهل اوحجامه کول یعني وینوویستل.اوم:- دمات اوسست غابښ ویستل.اتم:-دسراوبدن په نرمۍ سره ګرول.نهم :دکنځلوپه غوړودپښویادلاسوچاودی یاپرهرونه غوړه ول، اوکنځلودغوړوخوړل. یعني هغه شیان چي خوشبوي نلري. لسم:- دمات نوک پریکول. یولسم:-

دخپلي ښځی دعضومخصوصه دليدلوپه سبب انزال كيدل. دولسم:- دفكروهلو په سبب انزال كيدل. ديارلسم:- په خوب كی داحتلام په نسبت سره انزال كيدل. څلورلسم:- لاس په پوزه (سونگه) اينبودل بدون د توكراوجامه څخه. پنځلسم: دغوړواودقفا(څټ) پټول. (١)

﴿ مسائل متعلقه ﴾

(١) مسئله: صرف په نيت كول سره دفرضی حج احرام نه صحيح كيږی ترڅوچه ئی تلبيه نوي وئيلی اويايي هغه شئ نوي كړی چه هغه قائم مقام دتلبيی وي كمامرّ.(٢)

٢-مسئله:داحرام دوه ركعته سنت لمونځ كول دصبائی اومازديگرلمونځونو څخه وروسته ممنوع دی، اودطواف وغيره لمونځ (نوافل ذات الاسباب) هم پدی وختو كي ممنوع دی، لكه څنگه چه مطلقًا نفلي مونځ كول پدی وختو كي جائزندی.(٣)

٣-مسئله:داحرام دوه ركعته سنت لمونځ دغروب اوطلوع اواستوی دشمس(لمر)وخت كی كول ممنوع دی، لكه څنگه چه مطلقًانوافل پدی وختو كي كول ممنوع دی يعني پدی وختوكي نوافل ذوات الاسباب لكه داحرام اوطواف وغيره لمونځ كول جائزندی.(٤)

---

١ - ملخص رد المحتار/ صـ ١٧٨ - ٢٢٥.

٢ - الفتاوی الهندية/ج ١ ص٢٢٢ كتاب المناسك.

٣ - فتاوی الهندية /ج١ صـ ٢٢٦ الباب الخامس.

٤ - رد المحتار /ج٢ صـ ٤٩٩ مطلب فی طواف القدوم

۴- مسئله: دحج اویاعمری داحرام تړلو اونیت کولوڅخه وروسته به سړي په بلنداوازسره تلبیه ووایي،البته دجهرمفرط په ځای به تلبیه په درمیانه آواز سره وائی لیکن ښځی به په دومره آوازسره تلبیه وائی چه پخپله ئي اوري.(۱)

۵- مسئله: داحرام په حالت کی دعطاری په دوکان کی کیناستل اوعطار سره مصافحه کول جایزدی، بشرط چه دده بدن پوری ذات دخوشبوئی یعنی عطروغیره ونه لګیږي، ځکه چی دزیاتو عطروغیره لګیدلوپه وجه ورباندي دم، اودمعمولی لګیدلوپه وجه ورباندي صدقه واجب کیږی. (۲)

۶- مسئله: که محرم میقات کي صرف نیت وکړاوتلبیه ئی ونه ویله،اوبیا ئی داخل دمیقات کی تلبیه ووئیله نودم پری لازمیږي .(۳)

۷- مسئله: داحرام په حالت کی چشمی (عینکی) په سترګوکول جائزدی، اوپه حج کی ئی څه نقصان نه لازمیږی.(۴)

۸- مسئله: دحج په دوران کی تجارت یعنی خریدفروخت کول جائزدی، البته که صرف تجارت ئی عرض وي اونه حج کول بیائی حج نه اداکیږی.(۵)

۹- مسئله: سړي داحرام په حالت کي دپښیو بوټانو اوموزووغیره استعمال نه شی کولی ،ځکه چه پوره ورځ یاشپه دجرابو اوموزووغیره په پښو کولو

---

۱ - فتح القدیر /ج۲ ص ۳۵۰ باب الاحرام.

۲ - البحر الرائق /ج۳ ص ۳ باب الجنایات.

۳ - هندیة /ج۱ ص ۲۵۳ الباب العاشر.

۴ - فتاوی دار العلوم دیوبند /ج٦ ص ۵۵۴ مسائل جنایات.

۵ - سورت بقره آیت ۹۸ تفسیر قرطبی /ج۳ص ۴۱۳ .

سره دم لازمیږی، البته دهغو پښیو بوټانو اوموزووغیره استعمال ورته جائزدی چه دقدم منځنی هډوکی پکی ښکاره وي یعني پټ نوي. (۱)

۱۰ مسئله: داحرام په حالت کي دخوشبوئی صابون وغیره استعمالول جائزندي، ورنه بیادم ورباندی لازمیږي. (۲)

۱۱ – مسئله: داحرام په حالت کي انجکشن (ستنه) وغیره لګول جائزدی، او داحرام په حالت کي کی هنداره (اینه) کی کتل، اوداحرام لباس (لنګ اوڅادرا) بدلول، اودچرګی، چیلی، اوغوا وغیره ذبح کول، اوغوښه ئی خوړل جائزدی؛ اود سږیو لپاره په بالښت سراومخ کیښودل، اودجامویا دډوډۍ پنډه په سرکیښودل، اوپه هغه صابون غیره باندي چي خوشبودارنوي دسراوګیره وینځل، اوبغیردخیری لیری کولونه لامبل، اوپه ګرمواوبایخو اوبو باندي لامبل، اوساعت (ګهړی) په لاس کول جائزدی. اودزنانه ؤ لپاره داحرام په حالت کي کنډلی غیرخوشبوداری جامه اغوستل،اومخ بربنډ ساتل اویا هغه پرده اچول چه مخ سره نه لګیږی،اوموزی، دستانی اوزیورات اچول، اودحیض اونفاس په حالت کی دطواف څخه علاوه دحج نورټول مناسک ادا کول جائزدي، کماعلم من قواعد الفقهیة حقانی عفی عنه.

(و) – داحرام ممنوعات

محترمو! داحرام ممنوعات دادي اول:– جماع،اودهغه اسباب یعني ښکلول اوپه شهوت لاس وروړل،اویاجنګ جګړه کول. دوهم:–

---

۱ – رد المحتار /ج۲ص– ۲۲۰.

۲ – رد المحتار /ج۲ ص– ۱۷۶.

ښکار کول، اویاښکارته اشاره اولارښونه کول. دریم:- قمیص ، پرتوګ، چپنه اوکوټ اغوستل، اویاخولۍ، اوپګړۍ په سرکول. څلورم:- دموزوروغیره پښوکول. پنځم:- په زغفرانو اویابل کوم خوشبویه شئ باندي رنګ شوي لنګ اوڅادراغوستل. شپږم:- دسراومخ پټول، اویا دسراومخ په خطمي ګل سره مینځل. اوم:- دوېښتانولنډول یاخریل، اتم:- دنوکانوغوڅول اوپري کول. لسم:- دحرم شریف ګیاه ریبل یاشوکول اویادخه شي وژل. (۱)

(ز) - داحرام مکروهات

محترمو! داحرام مکروهات دادي اول:- دعطرو یاخوشبویه صابن بویه ول. دویم:- دزیاتي خوشبوئی شئ یامیوه بویه ول. دریم:- مغلوبه خوشبوئی چي په خوړونکوشیانو کی موجودوي خوړل. (۲)

﴿مسائل متعلقه، اودجنایاتو مهم احکام﴾

۱-مسئله:دجنایاتو په ارتکاب(کولو)سره جزاء لازمیږی برابرخبره ده چه هغه جنایات یې قصدا کړی وي اوکه خطاءً اونسیانًا، اوهغه جنایات یې که په بیداری سره کړی وي اوکه په بی هوشئ سره، اوهغه جنایات یې که په اول ځل کړی وي اوکه په دوهم اودریم ځل، اوهغه جنایات یې که په خبرتیاسره کړی وي اوکه په بی خبرئ اوپه ناپوهئ سره، اوهغه جنایات یې که په خپل اختیارسره کړی وي اوکه په زبردستی سره، اوهغه جنایت

۱ - ملخص بحر الرائق /ج۳ص۶ باب الجنایات ورد المحتار /ج۲ص۱۷۵.
۲ - رد المحتار باب الجنایات /ج۲ ص ۲۱۷ - ۲۱۹

كوونكي كه غني وي اوكه مسكين، يعنى پدي مذكوروصورتونو كى جزاء اوكفاره ورباندى لازميږى.(١)

٢- مسئله: دجناياتو ارتكاب كه په عذرسره وكړى لكه دتبى اويخنى په وخت كى چپنى يابلى ګرمي جامه اغوستل اوځان پكي پټه ول، اويادجنګ په وخت كى جنګى حربى لباس اغوستل، او يادعذرپه وجه دويشتانوخريل، اويادنوكان پري كول وغيره نوپدي صورت كي دغه معذورجنايت كونكي اختيارمندده چه په كوم شيانو سره قرباني پري لازميږي، كه هغه په حرم شريف كي ذبح كوي، اوكه شپږومسكنانوته خيرات وركوي، اوكه دري ورځي روږي نيسي په دى حكم كي غني اوفقير برابردي، او په كوم ځاي كي چه صدقه پري لازميږي نودغه معذورجنايت كونكي ته اختيارشته كه يومسكين ته خيرات وركوي اوكه يوه ورځ روږه نيسي. (٢)

٣- مسئله: كه عاقل بالغ محرم اومحرمه ښځه يوپوره اندام لكه سر، ورون، پنډۍ، پتون ، دلاس ورغوى، اوبازو خوشبويه كړي نودم (قرباني) ورباندى لازميږى، اګرچي خوشبوئى لږه وي،البته كه خوشبوئى ډيره وه كه څه هم تراندام كم خوشبويه كړي بيا هم دم (قرباني) ورباندى لازميږى، پس لږه او ډيره په عرف سره معلوميږي؛كه ترپوره اندام نه كمه وو نوبيا صدقه (خيرات) ورباندى لازميږى، يعني كچيري يو محرم په لوئ اندام باندى خوشبوئى ولګوله، اويائى ديواندام نه زياته ولګوله، اويائي په

---

١ - رد المحتار باب الجنايات /ج٢ص ٢١٧.

٢ - رد المحتار باب الجنايات /ج٢ص ٢٢٧.وتسهيل الضروري

دریم فصل: د پوره حج اداکولوترتیب اومناسک
خلورمه حصه دکامل اندام باندي خوشبوئی استعمال کړي، اویائي په لږه خوشبوئي سره لوئ پوره اندام خوشبویه کړي، نودم (قرباني) ورباندی لازمیږی؛ اوکه ئي کوچنی اندام لکه پزه غوږ سترګه اوګوته خوشبویه کړی نودغه لوئ اندام نامکمله حکم لري په قرباني اوصدقی کي یعني که خوشبوئی ډیره وه نودم (قرباني) ورباندی لازمیږی،که خوشبوئی لږه وه نوبیا صدقه (خیرات) ورباندی لازمیږی؛

اوهمدرازکه ئي ډیره خوشبوئی په لنګ یاپه څادرپوری وتړله، اویائي په خوشبویه غوړو سره کامل اندام غوړکړ،اویائي غالبه خوشبوئی په اوم(خام) طعام کی ډیره وخوړله،او یائي خوشبوئی غالبه په څښبونکو شیانوکی لکه شربت وغیره کي زیاته وڅښله،اویائي په خوشبویه صابون وغیره سره سریاګیره ومینځله،اویائی په خوشبوئی شیانوتکراراً سترګي توری کړي، نوپدی ټولوصورتونو کی دم ورباندی لازمیږی. او که ئي ټول بدن په یو مجلس کي خوشبویه کړو نویوه جزاء ورباندی لازمیږی،البته که ئي ډیرو مجلسونوکي خوشبویه کړو نومجلسونو دډیروالي په شمیرجزاوي ورباندي ډیریږي، اوهمدرنګه په خوشبوئي لګولوکي جزاء لپاره دوخت اوږدوالي شرط ندي،نوکه ئي خوشبویي ولګوله اوپه دغه ګړي اوساعت کي ئي ومنځله (پریولل)نوقرباني اویا خیرات ورباندی لازمیږی څرنګه چي مونږ مخکي ذکر کړل، لکن کالي اوجامي لدي حکم نه مختلفي دي څکه په هغه کي دقرباني لازمیدولپاره یوه ورځ یایوه شپه اغوستل مقررشویدي.(۱)

۱- ملخص عینی کنز ص ۷۶۲ ورد المحتار /ج۲ص ۲۱۸ وتسهیل الضروري ص ۱۷۲.

۴- مسئله: که متفرقه خوشبوئی جمعه شی دلوئ اندام مقدارته رسیږی، اویا که جداجداخوشبوئی یوځاي شی نوانداز ه دکثرت ته رسیږی، نوپدې صورتو کي وربانديدم (قرباني) لازمیږي، البته دخوشبوئی ډیروالی اوکموالی ترعُرف اورواج دخلقو، اویارایه دعادل سړی پوری تعلق لري، اوهمدراز ډیروالی دخوشبوئی په ذات اواقسامو دخوشبوئی پوری تعلق لري، اوهمدارنګه د ګډوالي په وخت کي که خوشبوئي داسی بوئ کولولکه چه بلکل دکوم شئ سره ګډه شوی نوي، نوداغالبه ده، اوکه تراولني وخت ئي لږبوئ کولو نودامغلوبه شمیرلی شي.(۱)

۵- مسئله: که محرم په خپلو جامو (کالیو) خوشبوئی ولګوله کومي چي ده اغوستی وي، اویائی خوشبویه کړی شوي جامه واغوسته اودغه خوشبوئی شوي ځای دیوه لویشت پر یوه لویشت مقدارنه زیات وو، اویوه پوره ورځ یا یوه پوره شپه ئي دغه جامو (کالیو) اغوستی وو نو دم (قرباني) پرلازمیږي، کچیری لدینه کم وخت ئی اغوستی وي نوبیا صدقه به پری واجبیږی اګرچه دیوی لویشت اویاد لویشتی نه کمه وي. دا په هغه وخت کي که خوشبويي لږوه، او که خوشبويي ډیره وه نوبیا قرباني پرلازمیږي که څه هم خوشبویه شوي ځاي تریوه لویشتي کم وي. (۲)

۶- مسئله: که محرم لږه خوشبوئی پرکمه برخه دپوره اندام استعمال کړي، اویادجاماو کالو دلویشت پرلویشت څخه په لږه برخه خوشبوئی

---

۱ - فتح القدیر /ج۱ ص ۵۱۶ ورد المحتار /ج۲ص ۲۱۸- ۲۲۹ .

۲ - غنیة الناسک/ ص ۱۳۱.

استعمال كړي، اويامغلوبه خوشبوئی په څښنونكی شیانوكی یوواری وڅښي، اویاپه هغه صابون وغيره باندي چه خوشبوئی ورسره خلط وي جامي اویاځان ومينځي چه عادل ئی طيب نه بولی، نوپدي صورتونوكی نيمه شرعی پيمنه صدقه پری لازمیږی.(١)

٧- مسئله: كه محرم په ټول یاځلورمی برخی دسرئی نكريزی پوری كړي چه ټینګی نوي بلكه نرئ وي، نویودم پری واجبیږی، اوكه خوشتی (لندي) ټينكی نكريزی ئی یوی ورځی یایوی شپی پوری ولګولي، نوبيا دوه دمه پری واجبیږی، یودم به دخوشبویه نكريزولګولووي،اوبل دم به دسرپټولوپه وجه سره وي، اوكچيري ديوی ورځی یایوشپی نه ئی كمی پرسر لګولووي نوپدي صورت كي دخوشبوئی په وجه سره به پری یودم لازم وي، اودسرپټولو په وجه سره به پری صدقه واجب وي، دا مذكورحكم نارينه ؤ لپاره دي؛ اوپه ښځو(زنانه ؤ) باندی پدی صورتونوكي یودم دخوشبوئي لګولی واجب دي،اودسرپټولو په وجه سره ورباندي دم نه لازمیږي، ځكه چه ښځولپاره دسرپټول ممنوع ندي،اوهمداراز په ټوله ګیره (ږیره)، یاپوره تلی (ورغوی) باندی دنكريزی پوری كولوسره ورباندي دم واجبیږی، كه څه هم دعذرپه وجه سره وي.(٢)

٨- مسئله: كه محرم داحرام په حالت كی دګنډلو جاموپه عادتی توګه یوه كامله ورځ یا شپه واغوستلي نو دم ورباندي واجبیږي لكه قميص ،پرتوګ،

١- ارشاد الساری/ ص ١٣٠ ورد المحتار /ج٢ص ٢١٩.

٢- هدايه /ج١ ص ٢٦٦ ورد المحتار /ج٢ص ٢١٩.

بنیان ،واسکټ، اویادچپنی کوټ کرتی وغیره، اویاپوره ورخ یاشپه دجرا
او موزوپه پښو کول، اویاپوره ورخ اویاپوره شپه دستاني په لاس کول، او
پوره ورخ اویاپوره شپه هرهغه ګنډلی شوی جامی چه په عادی توګه د
کامل اندام لپاره جوړه شوی وي، یعني بغیردترلوپه هغه اندام پوری متصل
وي) اغوستل، اویاپوره ورخ یاپوره شپه د ټول سر، اویا دسرخلورمه برخه
پټول، اویادپګړی (لنګوټی) ترل چي پدی ټولومذکوروصورتونوکي دم پر
لازمیږی ؛ اوکچیري دیوی ورخی اویایوشپی نه ئی کم اغوستي وي نوبیا
صدقه پری واجبیږی، یعني دپسه قیمت به په دولسو ساعتو(ګنټو) تقسیم
کړي دهغي په اندازه به صدقه ورکړي. او که محرم غوږ ونه یاخټ یاد
ږیري هغه حیصه پټه کړی چي ترزني لاندي وي هیڅ شئ پري نه لازمیږی.(۱)

۹- مسئله: که محرم داحرام په حالت کی دعذرپه وجی سره ګنډلی جامی
واغوندي، اویابریتونه واغوندي، اویاني تریوی ورځی کمی ګنډلی جامی
پري کړي، اویا تریوی ورځی کم ټول سراوټول مخ پټ کړي، اویا یومحرم
دبل محرم سراویاخټ وخرئي، اویا یومحرم دبل محرم نوکانو ورپری کړي
، اویاپه جداجدا مجلسونوکی دیوه څخه ترشپاړسوپوری نوکان پري کړي
یعنی دهراندام څخه خلورخلور نوکان پري کړي چه په هریونوک یوه یوه
صدقه لازمیږی، اویا یو محرم دحلال سرې خټ وخرئی نوپدي تمام
صورتونوکی صدقه ورباندي لازمیږی.(۲)

---

۱ - خلاصة الفتاوی/ صـ ۲۳۲ ورد المحتار /ج۲صـ ۲۱۹ ومجامع المناسک.
۲ - ملخص رد المحتار /ج۲ صـ ۲۲۱ الی /ج۲صـ ۲۳۷.

١٠- مسئله: که محرم ددوارولاسونواوپښونوکان په یوه مجلس کی پری کړل نو دم وربانډی لازمیږی، البته که ئي ډیرومجلسونوکي نوکان پري کړل نومجلسونو دډیروالي په شمیرجزاوي وربانډي ډیریږي ،او کچیري ئي د پنځونوکانوڅخه کم له یو اندام څخه پري کړل نو صدقه پري واجبیږی،یعني پرهریونوک یوه صدقه پرلازمیږی،او کچیري ئي د پنځه نوکان دزیاتواندامونونه پري کړل مثلا، دوه نوکان ئي له یوه لاس څخه دوه نوکان ئي له بل لاس کړي اویونوک ئي له پښي څخه پري کړل، نوامام اعظم اوابویوسف رحمهما الله تعالی په نږد صدقه (خیرات) پرلازمیږی، اوصاحب هدایي رحمه الله تعالی لیکلي چي که دپنځونوکانونه زیات نوکانوېي متفرق پري کړل، صدقه (خیرات) پرلازمیږی البته که دهغوقیمت قرباني ته ورسید نوپه دغه وخت کي چي څومره دده خوښه وي نودقرباني قیمت څخه دی دغه صدقه کمه ادا کړي. (١)

١١- مسئله:که محرم دټول سریاڅلورمه حصه دسرویښتان وخرئیل اویایي غچي کړل،اویائی ټوله ږیری یائی څلورمه حصه دږیری (العیاذبالله تعالی) وخرئیله اویایي غچي کړه،نوپه دی صورتوکي دم پرلازمیږی،اوکه څلورمي حصی څخه کمه وي نوبیاصدقه (خیرات) پرلازمیږی؛اوکه سرئي دحرم شریف حدودو څخه خارج وخرئیلو،اویائی دځپل مقرره وخت څخه یعنی داخترورځو څخه په خرئیلو اویایي غچي کولوکي

١- فتح القدیر /ج٢ ص ـــ ٥٢٤. وتسهیل الضروري ١٧٣

تاخيروکړو نوپه دی صورتو کې هم دم پرلازميږی.(١)

۱۲- مسئله: که محرم دعذر وجی سره بغير دخپل مقرره وخت څخه سروخريئ نوصدقه (خيرات) پرلازميږی.(٢)

۱۳- مسئله: که محرم دخټ ويښتان،اويادیوه بغل اويادی دواړوبغلونو ويښتان وخريل، اويائي ديوه بغل څلورمه برخه ويښتان وخرئيل که ئې ويښتان زيات وی، اويائي دسينی (ټټر) ويښتان وخرئيل، اويائي دپنډۍ اوورن اويادبل کوم کامل اندام ويښتان وخرئيل، اويا ئي دنامه څخه لاندې حصی ويښتان وخرئيل، اويائی څلورمه برخه ددغو اندمونو وخرئيله، اويائي دويني دايستلو دځائ وخرېئلو نوپدی ټولوصورتونوکی دم پرلازميږی؛اوجزا په لازميدوکي دښځي اوسړي يوحکم دي، او همدرنګه جزاپه لازميدوکي فرق نلري که ئې خپله وخروي يائي بل څوک دده په امر يا بيله امر څخه ورو‌خروي، اوکه په خپل اختيار سره وي اويا په مجبوري سره وي، اوکه په ناخبرتيا کي وي او په خطاء سره وي، اوکه په قصد سره وي اوکه په هيري سروي، يعني جزا ورباندي لازميږی. (٣)

۱۴- مسئله: که يومحرم ښځه يالغړزني هلک ښکل اومچ کړي اويائي په شهوت سره مسحه کړي انزال وشي اوکه ونشي البته جامع الصغيرکی انزال شرط کړی ده لپاره دجزاء،اوياپه لاس اوورانه وغيره اندامونوسره

١ - عيني کنز/ ص ۲۷۱.

٢ - رد المحتار /ج٢ص ۲۲.

٣ - ملخص فتح القدير /ج١ ص ۵۲۲ ورد المحتار /ج٢ص ۲۲۱وتسهيل الضروري ص۱۷۴.

انزال وکړي، نوپدې ټولوصورتونوکي دم(پسه)وربانديلازميږي؛اوهمدرنګه که محرم خپلې ښځې سره په یوه کي ددوولارو جماع وکړه که په هیري سره وي او په قصد سره دعرفات تردریدومخکي نوحج ئي فاسد شو،اوپسه هم وربانديلازم شو،نوحج دي داسي پوره کړي لکه چي نوي فاسد شوي، اوتردي کال وروسته ئي قضاء هم پرلازمه ده، اوکه حج کونکي دعرفات تر اودریدووروسته دزیارت ترطواف اوسرخرولومخکي جماع وکړه نوبدنه(غويي یا اوښ) پر لازم شو، اوکه ئي سرخرولو وروسته او دزیارت تر طواف مخکي یا دزیارت تر طواف وروسته ترسرخرولومخکي جماع وکړه نوپسه وربانديلازم شو،اودوهم سفر حج کي ئي دخپلې ښځي جلا کیدل ضروري ندي؛ اوکه عمره کونکي مخکي ترڅلور شوطه جماع وکړه نوعمره ئي فاسده شوه هغه دي پوره کړي بیا دي قضاء راوړي اوپسه هم وربانديلازم دي، اوکه عمره کونکي وروسته ترڅلورشوطه جماع وکړه نو عمره ئي نه فاسدیږي اوقضاء هم وربانديلازم دي.(۱)
نشته البته پسه وربانديلازم دي.(۱)

۱۵- مسئله: که محرم ښکارووژني، اویائي وژونکي ته لارښوونه وکړه، او یائي ورته اشاره وکړه، نوجزاء پر لازمیږي، دامام ابوحنیفه اوابویوسف رحمهما الله تعالی په نزد ئي جزاء داده چي ښکارئي په کوم ځائ کي وژلی وي په هغه ځائ کي به ئي قیمت کړي، اویاهغه ته نژدی ځائ کي به ئي قیمت کړي،نودوه عادلان سړي به ئي قیمت معلومه وي، بیاښکاروژونکی

۱ - ملخص در المختار /ج۲ صـ ۲۲۵، وتسهیل الضروري ص ۱۷۵

اختیارلري که دهغه په قیمت سره هدی رانیسي او په حرم شریف کي ئي ذبح کوي، یا په هغه سره خوراکي شئ رانیسي اوپرمیسکینانوئي تقسیموي، نوهرمسکین ته به نیمه پیمانه دغنمو ورکوي، یا نیمه پیمانه دغنموپر ځائ به روژه نیسي، که له خوراکي شئ څخه تر نیمه پیمانه دغنموکم پاته شو،نوبیا ده ته اختیاردی که خیراتوي که دهغه پر ځائ یوه کامله ورځ روژه نیسي، دغه حکم په هغه ښکارکي هم دي چي کوچنئ وي قیمت ئي یو هدی ته نه رسیږي، البته امام محمد رحمه الله تعالی فرمائي: چي په هغوحیواناتوکي چي مثل ولري دهغه مثل واجبیږی لکه مثلاً په هوسئ کي پسه، او په شترمرغ کي غویی یا اوښ لازمیږی، اوهغه حیوان چي مثل نه لري په هغه کي دده قول دشیخینو په شان دي، اوکه محرم ښکارزخمي کړي، یائي وریښتان وورکاړي، یائي یو اندام ورپړي کړي، نوپدي صورتونو کي چي ئي څومره قیمت کم شوي وي هغومره تاوان پرلازمیږی؛که محرم دښکار غوښي خوړلوته مجبورشواوهغه ئي ووژلو بیا هم جزاء پرلازمیږی،اوهمدراز که محرم داسي حیوان ووژني چي غوښي ئي نه خوړل کیږي لکه څرونکي حیوانان لکه زمري لیوه اوخروغیره نوجزاء پرلازمیږی، لکن دهغه قیمت به تر پسه نه زیاتیږی، اوکه څرونکي حیوان پرمحرم حمله وکړه نوهغه ووژلو نوپه دي صورت کي هیڅ شئ نه پرلازمیږی،اوهمدراز که محرم ښکارذبحه کړي نوخوراک ئي نه محرم ته روا ده او نه غیر محرم ته ځکه چي محرم دښکارذبحه دمړه شوي حیوان په شان دي، اوکه محرم داسي حیوان ذبحه کړي چي په عادت کي ئي خلق غوښي خوري لکه پسه،غواچرګه او هیلئ

دريم فصل: د بوره حج ...

وغيره نوردا ذبحه ئي روادی،نوددغی غوښي خوراک ئي محرم اوهم نورو ته جائزده؛ البته که يو حلال سړي ښکار وکړي اوذبح ئي کړي اومحرم ورته لارښوونه اواشاره نه وي کړي، نوخوراک ئي ورته روا دي.(۱)

۱٦- مسئله: دحرم شريف ونه یاواښه (زرغونه) وغيره په څلورقسمه دی:

لومړی قسم زرغُنّه دی چی دکرلو رواج ئی وي لکه غنم وربشی وغيره،

دوهم چه دکرلورواج ئی نوي خوچاکرلی وي لکه دمسواک ونه وغيره،

دريم چه پخپله رازرغُنه شوی وي،اودکرلو رواج ئی هم وي، اوڅلورم چه پخپله رازرغُنه شوی وي خودکرلورواج ئی نوي لکه د کيکر وغيره ونې،

نوپه رومبی دری قسمه ونو اوبوټو په پری کولوسره دحرم شريف هيڅ جزاء نه واجبيږی،لهذاددی پريکول، اودبيخ څخه ويستل،اوپکارول ئی جائزدي، البته کچيری دا قسمه ونې اوبوټي دچاپه ملک کی وؤ نومالک ته ئی قيمت ورکول واجب دي،اودڅلورم قسم ونواوبوټوپريکول اودبيخ څخه ئي اوښکل دمحرم اوغير محرم دواړولپاره حرام دي، خواه دا قسمه ونې اوبوټي دچاپه ذاتی زمکه کي وي، اويا په عامه زمکه کي وي، البته دوچې ونی پريکول جائزدی. حاصل داچی دحرم شريف په ونی یاواښوپری کولوسره دهغه قيمت واجبيږی،نوکچيری ئي خوښه وی پدی قيمت سره دخوراکي شيان واخلي اوهغه دخيرات کړي، اوهرمسکين ته دغنمو دنيم اوړی په مقدارخيرات ور کړي، او یابه په دغه قيمت سره هدی واخلي نوهغه به په حرم شريف کی ذبح کړي، پس هر کله چی ئي ضمان(تاوان)

۱- رد المحتار / ج۲صــ ۲۲۲ – ۲۳۱ وتسهيل الضروري ص ۱۷۹

اداکړو نودغه وابنو اویا ونو کې به دپریکونکی ملک ثابت شي، چې استعمالول به ئي ورته روا شي، البته خرڅول به ئي ورته مکروه تحریمی وي، نوکچیری ئي خرڅ کړل نودهغی قیمت به صدقه کوي، اوخریدارئي بیاپه استعمال کي راوستلي شی یعنی خریدارئي په خپله پکاره ولی شي، اوکه دڅلورم قسم ونواوبوټو پریکړی شوي دچاپه ملکیت کې وو نو بیا دوه قیمته ورباندې واجبیږي یومالک وته اوبل به دحرم شریف په وجه سره صدقه کوي، اوکه داونه خپل مالک پریکړې نو یواځې یوقیمت (دحرم شریف په وجه) به ورباندي واجب وي، اوهمداراز دحرم شریف وابنوکې څاروی څرول، اویایې ریبل جائز ندي، اودحرم شریف دلندو ونو نه مسواک جوړول هم جائز ندي،البته دخیمې، تنور،اویادنغري جوړولو لپاره په زمکې کې کنستو سره، یا دچا تلونکې دسورلی یا خپلوپښو لا ندې راتلو سره چې دحرم شریف وابنه یاونه ماته شي نو هیڅ جزاء ورباندي نه واجبیږي، اوبل داچي دونې په جزاء کې روژه نیول جائزندي [۱]

۱۷- مسئله : دجنایاتو په جزاء اوکفاره کې درې شیان واجب کیږي اول: دم دوهم: صدقه او دریم: روژه ،اوددې هریوه لپاره خپل خپل شرائط دي چې ددي تفصیل به عنقریب ان شاءالله تعالی راشي.

﴿اول:- دواجب شوی دَمْ دصحت شرطونه﴾

محترمو!کچیرې جزاءکې دم ورکوي نوددي جزاءلپاره لاندیني پنځلس شرطونه دي.

---

(۱) معلم الحجاج . ص ۲٦۱ الی ۲٦۲

(۱) اوښ به پنځه کلن وي چې شپږم کال کې به داخل وي، اوغوایا مینبه به دوه کلنی وي چې دریم کال کې داخله وي، اوپسه ،او ووزه به یوکلنی وي چې دوهم کال کې داخل وي،البته چاغ پسه که داتویاشپږومیاشتووي هم صحیح دی،خوچې زیات څورب اوچاغ وي اودیوکلن سره برابروي.(۱)

(۲) له عیبه به خالي وي کوم عیب چې دقرباني مانع وي یعنې پوره غوږونه اویاد غوږواکثره حصه به یې پرېکړې شوې نوې ، اویا ئي پیدایښتي غوږونه نوې پیداشوي، اولکې اوپوزه به یې پرېکړې شوي نوي ، او لَم به یې ټول یااکثره حصه قطعه شوی نوي،اوغولانځه به یې وچه شوي نوي ، اوپه یوه سترګه به ړنده نوي، اویا دسترګې روښنایې (لیدل) به یې کمه شوي نوي اودومره به ډنګره اوخواره نوي چې بې غوښه شوې وي، اوپه یوه خپه به ګوډه نوي، اودومره به مریضه نوې چې خوراک نه شي کولاي، اوغاښونه به یې هم مات نوي، البته که څان مړه ولی شي بیا صحیح دي، اوخپل بچې نه به شیدې ورکولی شي اوکه شیدې نشي ورکولي بیا صحیح ندي،اوداهم عیب دي چې دانسان دقازوراتو(ګند ګي) پرته بل کوم شئ نه خوري.(۲)

(۳)ذبح به یې دحرم شریف په حدودوکي کوي چې منٰی هم پکې داخله ده.(۳)

(۴) دجنایت وروسته به لا زم شوی دم ذبح کوي، کچیري یې دجنایت څخه مخکې ذبحه کړو بیایې وروسته جنایت وکړو، نو بل پسه به هم ذبح کوي، هغه اول ذبح کول ئې صحت نلري.

---

(۱) بحرالرائق ، ج۳ ص ۷۵
(۲) الفتاوی الهندیه ، ج ۵ ص ۲۹۸ الباب الخامس
(۳) مبسوط امام سرخي ، ج ۲ ص ۱۲۶ باب النذر

(۵) څلورخپې حيوان به وي يعنې يواځې اوښ، غوائی، اوپسه صحت لري، نوچرګ اوپيل مرغ وغيره صحت نلري. (۱)

(٦) دجنايت لا زم شوی دم به ذبحه کوي ،نو دجنايت ژوندی پسه وغيره مسکنانوته ورکول روالدي .

(۷) دجنايت پسه وغيره به فقراء اومساکينو ته سپارلې شي، کچيرې ئې غني ته حواله کړې نوبيا صحت نلري. (۲)

(۸) دجنايت دغه ذبحه شوی پسه وغيره به نه ضائع کوي يعنې که خرڅ بې کړي، اويابې غني ته ورکړي،اويابې وغورځوي، اويابې داسی ضائع کړي چې داستفادې څخه ووزي، نو پدې صورتونوکې بې دم دجنايت نه صحيح کيږي، لهذا دهغه ذبحه شوې دم قيمت به فقراءُ ته ورکوې، البته دشکريه دم که دحج تمتع ياقران يامفرد ثوابی وي نوپه هغه کې فقراء وته تسليم کيدل شرط ندي، اودهغو فقط دوينو بهيدل دي، لکن که دشکريه پسه وغيره غوښې بې خرڅې کړي،اويابې قصاب ته په مزدورې کې ورکړي، نوبيادهغوروپيو ضامن دي چې هغه به بيرته په مسکينانو صدقه کوي. (۳)

(۹) داوښ ياغوابې په شريکانو کې به څوک داسې نوي چې دثواب نيت نه پرته ئې بل نيت کړی وي، کچيرې ديوشريک نيت فاسد وو نوبيا دټولو ذبحه خرابيږي، البته کچيرې دشريکانوجنايات مختلف وو لکه يوجزاء ترک د واجبو وي، اوبل جزاء دښکار وغيره جناياتو وي، نو شرکت بې

---

(۱) فتح القد ير ج ۸ ص ۴۲۵ کتا ب الا ضحيه

(۲) مبسوط امام سرخی ج ۲ ص ۱۲۲

(۳) ارشاد الساری ص ۲٦۱ ال ۲٦۲

دحج اواداکولوترتیب اومناسک ... د پوره حج اداکولو ...

صحیح کیږي، کچیرې دځینوپسه دشکریه دتمتع یا دقران وي بیا یې هم شرکت صحت لري (۱)

(۱۰) قرباني به په ایام نحر کې کوي که هغه قرباني دحج تمتع یا دقران یا دحج مفرد اویادحج نفلي وي، لهذا که داختر ورځوترمخه یې قرباني وکړه نودشکریه ذبحه دتمتع اویادقران ئي صحت نلري. (۲)

(۱۱) دذبح په وخت کې به نیت دکفارې دجنایت کوي،کچیرې دذبح په وخت کې یې نیت نوي کړی،بیاوروسته یې نیت وکړي، اویایې دکفاره دجزاء نیت کړی وؤمګر زیات وخت یې ترمینځ تیرشوی وو، نوبیا دغه ذبحه کول ئي صحت نلري (۳)

(۱۲)دجنایت داذبح شوی پسه به داسې یوچاته ورکوي چې هغه ته صدقه ورکول رواوي، اګرچې دحرم شریف مسکینان نوي، لهذا خپلو اصولوته لکه مور اوپلا ر، اوفروعو ته لکه زوی لمسی اونورو خکته نسل ته ئي په ملکیت یاپه اباحت سره ورکول نه صحیح کیږي البته که خپل مسکین ورور یا خور ته یې ورکړي بیاصحت لري.(۵) (۴)

(۱۳) ذبحه کونکې به مسلمان یا اهل کتاب وي نو کچیرې مشرک ذبحه وکړه نوبیائي ذبحه نه صحیح کیږي.

(۱۴)که ذبحه کونکې دامام شافعی صاحب په مذهب وؤاوبسم الله یې

---

(۱) ردالمحتار علی درالمختار ج ۵ ص ۲۰۷ کتاب الا ضحیه

(۲) مبسوط امام سرخی ج ۲ ص ۱۲۶ باب النزر

(۳) ارشاد الساری ص ۲٦۲

(۴) (۵)ارشاد السار ی ص ۱٦۲

قصدًا ورباندي پريښودہ، نوبيائي د احنافو په نزد ذبحه نه صحيح کيږي.
(۱۵)ذبحه شوي پسه به له ذبح کولومخکي دجنايت کونکي په ملکيت کي وي،کچيرې دبل چا پسه يې ذبحه کړو اووروسته يې ترينه اجازه واخيسته نودغه صورت صحت نلري۳)(۱)

﴿دوهم:- دواجب شوې صدقې دصحت شرطونه﴾

محترمو!کچيرې جزاءکې صدقه ورکوي نوددي دجزاءلپاره لاندیني اته شرائط دي.

(۱)بشپړه اندازه واجب شوي صدقه به ورکوې چې مقدار يې صدقة الفطر غوندې وې، يعني نيمه پيمانه که لږه اندازه هم کمه وې نوداصدقه نه صحيح کيږي،البته که صدقه ترمقدارزياته وه بياصحت لري اوثواب يې هم زيات دی.
(۲) جنسيت دصدقې به وي لکه مثلاًغنم چې اوړه وې ياستون، اويا لکه خرما ياوربشي اومميز(کشميش)، نوپدې کې دوزن اعتباردی، کچيرې يې نور خوراکې شيان ورکول نوهغه به په اعتبار دقيمت سره ورکوی نه په اعتبارد مقدار (وزن) سره، لکه مثلاً دغنمو نيمی پيمانی په قيمت باندي به وريژې، ياماش، اويا جوار،وغيره واخلي بيا به يې فقير ته ورکړې ،اوکه دغنمو نيمی پيمانی قيمت يې نقدې روپې ورکړې هم صحت لري .
(۳) هرفقيرته به مقداردصدقة الفطر غوندې ورکوې که لدينه يې کم ورکړل بياصحت نلري .
(۴)مسکين ته به يې ورکوي کچيرې غني يا دغني کوچنی زوئ اويا مريې

(۱) ۳)الشرائط الثلاثة فی ارشاد الساری ص ۲۶۲ .

ته يې ورکړې نو صحت نلري، البته که دغنې سرې لوی زوئ فقير وئ نوبيايې ورکول جائزدي،اويابه يې دزکات مستحقينوته ورکوي، که داسې ئې ونکړل بياصحت نلري.

(۵)ترجنايت وروسته به صدقه ورکوي،کچيرې صدقه يې ترجنايت ړومبې ورکړه بيا يې جنايت وکړونو هغه صدقه به بيادوباره ورکوې،هغه اوله يې خيرات شوه، اودواجبی په ځايې هغه نه ودريږې.

(۷)که واجبه صدقه کې خوارکي شيانو ؤو،نوپدي صورت کی به بالغو فقيرانو ته پوره خوراک ورکوي،که يوړکې ووړيعنی کوچنی ؤ،نوصدقه يې صحت نلري.

(۷) خوراک په دوه وخته سهار اوما ښام ورکوې، کچيرې يې يووخت ورکړې نوبيا يې صدقه صحت نلري.

(۸) ټول فقيران به ښه مړه وي، اوکه ځينې فقيران ماړه وؤاوځنې فقيران وږې پاتې شول، اويا ځنې فقيران دطعام نه مخکې ماړه وؤ اوځنې وږې وؤ، هغه وږې ماړه شول يا مړوفقيرانو خوبا لکل ونه خواړه، يايې لږ څه مقدار وخوړه نوپه دواړه صورتونو کې صدقه يې صحت نه لري،اوهمدا رنګه کفاره سره متصل نيت کول ضروري دي، که نيت کول مخکې وه ياوروسته وه نوکفاره يې نه ادا کيږي. (۱)

﴿دريم:- دواجب شوې روژې دنيولو شرطونه﴾

محترمو!کچيرې جزاء کې روژه نيسي نوددي دجزاءلپاره لاندينې پنځه شرائط دي.

(۱) منحص معلم الحجاج ص ٢٦٥

(۱) دروژې نیت کول .

(۲) دشپې لخوا دروژې نیت کول ، که دورځې څخه یې دروژې نیت وکړونو روژه یې نه صحیح کیږي .

(۳) دهمدې کفارې نیت به کوي، که دبلې کفارې نیت یې وکړي، یادنفلي روژې نیت یې وکړي ، نو کفاره یې نه صحیح کیږي.

(۴) نسبت کول دروژې دي هغه جنایت ته چې دهغه بدله کې روژه نیسي،لکه دم دتمتع اویادویښتولنډه ولو، وغیره ،نوکچیرې جنایت ته یې منسوبه نه کړي نوروژه یې صحت نه لري.

(۵) دروژې نیول درمضان مبارک اوایام نحر څخه به علا وه وي، که څه هم یې د کفارې صحت لري خومکروه تحریمي ده،اوتوالي(پرلپسی والی)پکې شرط نه دی.(۱)

﴿دجنایاتومتفرقه مسائل﴾

(۱) مسئله: که یوڅوویښتان دکیری اوسرڅخه ولویدل، نویوه لپه طعام یعنی دغنمو صدقه ورکول ددې په عوض کی کفایت کوي، البته کچیری دلسو(۱۰) نه زیات ویښتانویې پریوتل نوبیادم ورباندی لازم کیږی،او همدارنګه که دودې یې پخوله نوویښتان ئې وسوزیدل،نودم یعنې پسه ورباندې لازم ده.البته داقول غیر صحیح ده ځکه چې دم هلته لازم کیږی چې څلورمه حصه دسریادږیری ته یې خریل ورسیږي،اوپدې صورتو کی خودڅلورمی حصی څخه کمه اندازه دې.(۲)

(۱) ملخص ارشاد السا ری ص۲۶۷
۲)(فتح القدیرمع الکفایه،ج۲ص۴۴۵)

(۲) مسئله: که یوسړي داحرام حالت کی رقبه یعني څټ ګردن ټول وخرېیلو نودم وربالندي لازمیږی البته په څټ کښی څلورمه یادریمه یادوهم حصه یې وخریله نوصدقه وربالندي لازمیږی، اوکه ټول نوکان دلاسونواو ډېښونې لنډ اوپریکړل، په یوه مجلس کښی نویودم وربالندي لازمیږی، اوکه مجلس یې جداجدا ؤونو بیادهرمجلس لپاره جداجداپسه وربالندي لازمیږی، البته ګیره اوبریتونه یواندام حسابیږی.([1])

(۳) مسئله: په ملتقط کتاب کښی یې دامام اعظم صاحب نه یوروایت نقل کړی دي چی دمبارک فرمایلی:چی ما دسرکلونکی(نائي)څخه دري مسئلی زده کړي دي اول داچی:زه کله دسرخریلولپاره کیناستم نوراته ئی اوویل چی قبلی طرف ته کښینه،دوهم داچی:ماچپ طرف وروړاندی کړو،نوراته ئي اوویل چي ښي یعني راسته طرف راوړاندی کړه، دریم داچی: کله ماد تللواراده وکړه،نوراته ئي اوویل چی ویښتان دی دفن کړه، نوزه واپس شوم خپل ویښتان می دفن کړل.([2])

(۴)مسئله:که حاجی مفرددجمری عقبه ویشتلوڅخه مخکښی خپل سر وخرئی ،نودم دجنایت وربالندي لازمیږي ځکه ددوي په مابین کی ترتیب راجب دي .([3])

(۵)مسئله:قُمله یعني سپږه چه دخیروڅخه پیداکیږی که محرم سړی قتل کړه،نو ددی په عوض کی به صدقه ورکوي څومره ئی چه خوښه وي،البته

---

[1] (ردالمحتارطبع رشیدیه، ج۳ص۶۵۹)
[2] (التاتارخانیة، ج۲ص۵۴۳)
[3] (تسهیل الضروري، ج۱ص۱۷۷)

که دسپږه يي بدن کی نه وه،بلکه په زمکه باندي ئی پيدا کړه اوقتل ئي کړه،بياځه شی ورباندی لازم ندي،خوکه دغه سپږه يي بدن کی موجوده وه،اوبيايي په زمکه واچوله،نودا دي حکم داسی ده لکه چه وژلي يي وي، نوصدقه ورباندی واجب دي؛ کچيری يومحرم حلال سړی ته اوويل چی دغه سپږه زمانه واخله،اويائي جامه قمص وغيره ورکړچی سپږی پکښی اوګوره،نوهغه حلال سړی دغه سپږي ووژلي،نوپه اشاره کونکی اوامرکونکی دواړوباندی د وژليو سپږو جزاء لازمه ده، ځکه چي دغه دلالت يي دا وژلو موجب شو،کذا فی التنجس، نودوو يادرو سپږو حکم داسی دي لکه د يوی سپږي حکم، البته چی ددريو سپږو ځخه زياتی شی، نوبيا چی څومره وي په هغی ټولوکښی په اندازه ددوو کيلو غنموصدقه لازمه دي،خودا حکم هلته ده چی قصدا اوعمدا ئی وژلي وي، اوکه نيت يي دوژلونه وو پس په لمر سره اويا په بل شي سره ووژلي شي، نوبيا ځه جزاء ورباندی لازم ندي.(١)

(٦) مسئله:که يودسړی نه درخصتی طواف پاتي شو،بيا ځه وخت ورسته د عمره لپاره مکی مکرمی ته راغي،نو پدی صورت کی به اولاًداسړی دعمری طواف کوي،اوبيابه درخصتی طواف کوي،اوکه درخصتی طواف ئی زيات مده ورروسته کړو،نود دی تاخيرپه وجه کوم شی ورباندی نه لازميږي.(٢)

(٧) مسئله: کچيری فرضی طواف دحيض اونفاس په عذر سره داختوورځو ځخه ورسته شو،نوکوم شی اوکفاره ورباندی نه لازميږي،اوهمدارنګه

١ (فتح القديرمع الكفاية،ج٣ ص ١٨)
٢ (د رالمختار،ج٣ص٦٢٢).

درخصتي طواف دحيض،اونفاس په عذر سره که پریښودي شي نوپه دي صورت کی هم وربانديې دم نه لازمیږی، اوهمدارنګه دحنثی مشکل احکام اوشرائط احتیاطاً دښځی پشان دی په محرماتوکی،اوحنثی مشکل ته په عرف دخلقوکی نرښځی وائی.(۱)

(۸) مسئله: که یوسړی دحج قران اوتمتع دشکرئی پسه په ذبحه کولو قادرنه وو،نودری ورځی روژه ئی ونیوله، البته دسرخرئیلوڅخه وروسته دپسه په ذبحه کولوباندی قادرشو، نو پدی صورت کی دپسه ذبحه وربانډی لازمه نده،که یوسړی سره دهدي پسه موجود وه بیائی هم په خپل رخه کښی روژی ونیولي، لکن دذبح کولو څخه مخکښی دغه دهدیه پسه هلاک شو، نو پدی صورت کی یي هم روژه نیول صحیح دی.(۲)

(۹) مسئله: که چا مثلاًخپل سردولس(۱۲)ساعته پټ کړو،نوپه دغه سړی باندی دم لازمیږي،اوهمدارنګه که قمیص،پرتوګ،چپنه،اوموزی ئي کامله ورځ واغستی ، نوبیا هم یوپسه پری لازم ده، ځکه چی لبس یعنی اغوستل یوقسم دی.(۳)

(۱۰) مسئله:-که یوسړی مثلاً چپنه، اوکوټ وغیره په اوږو باندی واچول ،خوپه لستوني کښی یي لاسونه ورداخل نکړل،اویائي چادربغیردبټنواوتکمو څخه په اوږه واچولو،نو پدی صورت کی وربانديې دم نه لازمیږي،اوکچیري چپنه، اوکوټ وغیره یي په تکمه اوبټنو سره بند کړي وي پوره ورځ یي

---

۱ (العینی، ج۴ص۱۷۳)

۲ (فتح القدیرمع الکفایة، ج۲ص ۴۱۸)

۳ (العینی، ج ۴ص۲۴۷)

واغوندي،نوپدی صورت کی بیادم یعني پسه وربانديٰ لازم دي. (۱)

(۱۱) مسئله: دجناياتو دم يعني پسه په بالغ محرم باندي واجب کیږی، البته په ماشوم يعني کوچنی باندي دجناياتودم نه واجبه کیږي،

لکن په دی مسئله کی دامام شافعی رحمه الله تعالی خلاف ثابت دي.(۲)

(۱۲) مسئله: کله چی دمحصر څخه ذبحه په حرم شريف کی وشی نو ځان به حلال کړي، البته دسرخریل اولنډه ول وربانډی لازمي نه دی، برابره خبره ده که دامحصر حرم شریف کښی وي ،اوکه په زمین حل کښی وي یعنی یا دحرم شریف حدودو نه خارج وي. کذافی الهداية، البته صاحب الکافی رحمه الله تعالی فرمائي: چه که حرم شریف کی وي نودسرخریل اولنډول وربانډی لازم اوواجب دی.(۳)

(۱۳) مسئله: که یومکی سړي عمری لپاره څلورچکره کړی وؤ،بیااحرام په حج باندی وتړي، نوحج به بغیرد اختلاف علماء څخه ماتوي، اوپه ده باندی پسه دجنایت هم لازم ده، ځکه چی ده احرام دحج مات کړو؛ اوهمدارنګه که عمره ئی ماته کړه نوهم پسه دجنايت وربانډي لازم ده، البته په ماتولو دعمری کښی صرف قضاء دیوی عمری وربانډي لازمه ده،اوپه ماتولودحج کښی قضاء دحج اوعمری دواړو وربانډي لازمه ده، اوکچیری حج یاعمره ئی مات نکړل بلکه دواړه ئي اداکړل نوداهم جائزدي،البته په دی صورت کی هم په مکی سړي باندی یودم لازم دي،

---

۱ (فتح القدیرمع الکفایه، ج۲ص۴۴۳)

۲ (ردالمحتار، ج۳ص۶۵۱).

۳ (فتح القدیرمع الکفاية، ج۳ص۲۷۴)

خردغه دم دکفارى ده، نه دم دشکريه، ځکه چې مکې سړي اوهغه چې په حکم دمکې سړي کښې وي لکه مقيم، دجمعه کولودحج اودعمرې نه منع دي يعنې دحج تمتع اوقران کولو څخه منع شويدي.([1])

(۱۴) مسئله: دم دنذر،اودکفاري،او دم نفلي داخترورځوڅخه مخکې ذبح کول جائزه دي،البته دم يعنې پسه دحج تمتع اودقران چې اضحيه هم ورته وائي داخترورځوڅخه مخکې ئې ذبح کول جوازنلري،ځکه چې اضحيه ذبحه په رجوبًاداخترپه ورځوکښې کيږي،لکن دم(پسه)داحصاردشيخينورحمهماالله تعالى په قول باندې مخکښې داخترورځوڅخه يي ذبح کول جوازلري،لکن امام محمد رحمه الله تعالى فرمائي چې مخکښې داخترورځوڅخه ئې ذبح کول جائزنلدي، بلکه داخترپه ورځوکښې به داحصار دم ذبحه کولي شي.([2])

(۱۵) مسئله: کچيرې حاجي قارن مخکښې دعمرې دطواف څخه خپلې زرجي سره جماع (کوروالى) وکړي، نو حج اوعمر دواړه ئي فاسد شول، البته په دې وخت کښې به دغه سړي په دواړو مناسکوباندې راتګ کوي يعنې افعال دحج اوعمري به ادا کوي،لکن په راتلونکې کال کښې وربانديې باحج اوعمره دواړه لازم دي، البته دم دحج قران يعنې دشکريه پسه ترينه ساقط دي کذا في المحيط ،خوپه ده باندې دوه پسونه دجنايت لازم دی کمافي المحيط الامام السرخسي رحمه الله تعالى، که قارن حاجي دعمرې طواف څخه وروسته اودعرفات اودريدلونه دمخه يي دخپلې زوجي سره،

---

[1] (فتاوى هنديه،ج۱ص۲۵۳)

[2] (فتح القدير،ج۳ ص۸۱)

جماع وکړه، نوحج ئی فاسد شو،البته عمره ئی ندي فاسده ، خوپه د
باندی دوه پسونه دجنایت لازم دي، اوآینده کال به بیادوباره حج مه
کوي، لکن دم دشکرئی ترینه ساقط دي.(۱)

(۱۶) مسئله: کچیری واجبات دحج ئی په عذرسره پریښودل، نوکوم شی
ورباندي نه لازمیږي، ځنی علماءکراموویلی چه په پریښودلودواجباتو دحج
سره یوشی ورباندی لازمیږي، البته هغه شیان ترینه مستثنی دي چه په هغې
کښې دلیل راغلی وي،لکه پریښودل دوقوف دمزدلفه شریفه شول دعذر په
وجه سره، اووروسته کول دفرض طواف شو دځپل وخت نه دعذر په وجه
سره، ، اوپریښودل درخصتی طواف شول له وجی دحیض اونفاس نه، او
پریښودل دپیاده تګ(تلل)شول په طواف اوسعی کښې،له وجه کمزوري نه،
اوپریښودل خرئیل دسرلوجه دمرض نه یعنی چه په سریې کی څه مرض وي.(۲)

(۱۷) مسئله: طواف قدوم سنت ده کچیری اتم ۸ ګردش ئی سره دعلم
نه په اوو۷ ګردشونو باندی ورزیات کړو،نوبیانورشپیږشوطونه هم ورباندی
لازم شول،ددي لپاره چي بل طواف یي پوره شی،اوکه نور شپیږشوطونه
ئی پریښودل، نودم اویااعاده دطواف ورباندی لازمه ده ، البته که ګمان ئی
داوؤ چی دا اوم شوط دي،نوبیا څه ورباندی نه لازمیږي.(۳)

(۱۸)مسئله:محرم سړی به نه ښکار کوي اونه به ورته اشاره کوي،اوچاړه

---

۱ (عالمګیری.ج۱ص ۲۴۵)
۲ کمافی اللباب (ردالمحتار،ج۱ص۶۵۳)
۳ (ردالمحتار،ج۳ص۵۸۱)

به هم نه وركوي اوكه داسی ئی وكړل نوجزاء دښكار وورباندي لازمه دي.(۱)

(۱۹) مسئله: كوم سړي ځخه چي حج فوت شي هغه به په عمرى كول سره خپل ځان حلال وي، اوتلبيه به په طواف شروع كولوسره ختمه وي، او كوم سړي چي دحج نه محصرشي نوده سړي به تلبيه هغه وخت ختمه وي چي كله ترينه ذبحه وشي،چي پدي وخت كي ورته ځان حلالول هم جائزشي،اوهمدارنگه كه دجمري عقبي ويشتلوځخه مخكښې ئی سرو خريلو،نو پدي وخت كي به تلبيه ختم كړي. البته دترتيب نه كولو په وجه سره به وورباندی يودم لازم شي.(۲)

(۲۰) مسئله:كه كوم سړي فرضی طواف په جنابت حالت كښی وكړو،نود دي قضاء وورباندی لازمي ده، اوكچيری داخترپه ورځوكښی يي درخصتی طواف دپاكی په حالت كړی وي، نودغه طواف ئی دفرض طواف په بدل كښی شرعًا قائم مقام كيږی، فلهذا اوس داشخص فقط تارك درخصتی طواف شو نه دفرضی طواف، نوځكه يو دم دامام صاحب په قول سره وورباندی واجب شو، له وجی دورسته كولودفرضی طواف دورځو داخترځخه. كذافی المحيط (۳)

(۲۱)مسئله:كه كوم سړي درخصتی طواف ټول ياأكثر شوطونه دجنابت په حالت كی وكړل نودم پری لازميږي،اوكچيری خپل كورته راغلوبياځه وخت وروسته مكی مكرمی ته ولاړو، اوياپه مكی مكرمی كی وو نودغه طواف

۱ (البناية، ج۴ص۵۴)
۲ (العينى، ج۴ص۱۱۱)
۳ (عالمگيرى. ج۱ص۲۴۶)

اعاده يې په پاکی کښی وکړه، نوهغه لازم شوي دم يعني پسه ذبحه کول ورته معاف شول، اوپه تاخير سره هم کوم شی نه پري لازميږی په اتفاق دعلما ؤ سره،او کچيری کم شوطونه يعني چکرونه ئی دجنابت په حالت کښی کړو،نوکه مکی وي نوبيرته دی دغه طواف راوګرځوي،اوکه کورته راغلی وي،نودهرچکرلپاره به تقريباً ددوه دوه کيلوغنمو صدقه ورکوي.(۱)

(۲۳) مسئله: که دهديه يعنی اوښي، ياغوا، يابزي، اويامیږي بچی پیدا شي، هغه به هم ورسره حلال وي، اوکه دغه بچی يې خرڅ کړو،نودهغه روپی به صدقه کوي کذا فی التبيّن؛اوکه بچی ئي په خپله هلاک کړو، نوددی ضامن دي، نودده قيمت به مسکنانو فقيرانوته ورکوي، اوکه دده په قيمت ئی دهديه پسه واخست دابنه خبره ده. کذا فی البحرالرائق،(۲)

(۲۴) مسئله: کچيری دحرم شريف ونې اوبوټی يوچا پريکړل، يائې له بيخه ويستل، اويائې کوم حيوان پکښی وځرولو،په ده شخص باندی قيمت دهغی ورکول لازمي ده، برابره خبرده چی داونه يعنی درخته لويه وی اوکه کوچنی، همدارنګه پري کونکی يې محرم وي اوکه حلال، تردی چی په حاجی قارن باندی هم يوه جزاء ده، نو په دي جزاء سره به داسی دانی واخلې چی هغه خوړلی شی، هرفقير ته چی يې ورکړی روا دي، که هغه فقيرد حرم شريف وي اوکه غير دحرم شريف څخه وي، خوپه اندازه د دوه۲ کيلو غنموباندی، اولدينه کم فقيرته ورکول جائزندي،اوکه هغه طعام

۱ (الفتاوی هنديه، ج۱ص۲۴۶)
۲ (الفتاوی الهنديه، ج۱ص۲۶۱)

زیات وي، نوبیادده خوښه دی چی ددی په قیمت سره یو پسه واخلي اودهغی غوښی فقیرانوته صدقه کړي، که هغه یوفقیرته وکړي هم جائز دی، البته پسه هلته جائزده چی قیمت ئی مخکښی دذبحی څخه دجزاء دونی اوبوټی سره برابروي، نودغه واجب شوي قیمت يې دپسه په حلالوسره اداکیږی، اوکه دحلالوڅخه وروسته دهغی غوښه غله شوه نوبیاهیڅ شی ورباندی نشته وهوظاهرالروایة اه (١)

(۲۵) مسئله: که څوک مکی مکرمی ته داخل شي، اویاهلته حرم شریف کی څه وخت لپاره اوسیږی نودحج احرام به دحرم شریف دحدودو په داخل کښی تړي، لکه چی داهل مکه لپاره دغه حکم دي، اودعمری احرام به دزمین حل څخه تړی، یعنی دحرم شریف دحدودو نه خارج، کچیری دغه سړی دحج احرام دزمین حل څخه وتړي، اودعمری احرام دحرم شریف په حدودو کښی وتړي، نو دغه کس باندی دوه۲ پسونه لازم شول، له وجی دی پریښودلودمیقات دحج چی حدوددحرام شریف وو، اوپریښودل دمیقات عمری چی زمین حل وه چی خارج دحدوددحرم شریف نه دی، البته که دغه سړی طائف شریف اویاجعرانی مقام لاړودکوم حاجت لپاره، بیا دهغه ځای څخه احرام دحج وتړي، نوبیا کوم شی ورباندی لازم ندي، لکه مکی سړی چی بستان بنی عامریا جدی ته لاړشی، بیاوروسته له دغه ځای احرام وتړی څه شی ورباندی لازم ندي. (٢)

---

١ (الباب وشرحه، ص۴۲۵)

٢ (فتح القدیرمع الکفایة، ج۳ص۴۳)

(۲۶)مسئله:ذبحه دهديو(دپسونو)اگرچه نفلي وي بغيردحدود حرم شريف څخه جائزندي،لکن کوم ځای کی چی دحرم شريف په حدودکی خوښه وي ذبحه يې کولای شي،لهذاپه منی شريف پوری هم تخصيص دذبحی نشته.(۱)

(۲۷) مسئله: کچيری يومکی سړی دعمری احرام وتړي،بيادحج احرام هم ورباندی وتړي، پس کچيري دعمری طواف ئی نوی کړي نوعمره به اتفاقا ماتوی، اوکچيری آفاقی سړی وي يعنی دمکی مکرمی داهل څخه نوي، که هغه دعمری احرام وتړي،بيادحج احرام هم ورباندی وتړي، نوحج ئي قران وګرځيدو داحاجی قارن شو،اوبل صورت داچی که زيات شوطونه دعمری يي کړی وي بيا مکی سړی دحج احرام وتړي، نوپه دغه صورت کښی به حج ماته وي په اتفاق سره، اوکه داسی کارافاقی يعنی خارجی سړی وکړي نوحج ئي تمتع وګرځيدو داحاجی متمتع شو، خوچی طواف ئی په مياشتو دحج کښی کړی وي، اوبل صورت داچی کچيری دعمری کم څکرونه يعني شوطونه ئي کړی وو،اوبيايي دحج احرام وتړلو، نوپه دی صورت کښی اختلاف ده امام اعظم رحمه الله تعالی فرمائي چي حج به ماتوي؛ اوصاحبين رحمهما الله تعالی فرمائي چی عمره به ماتوي.(۲)

(۲۸) مسئله:دوه رکعته دطواف مونځ واجب دی،البته تعين دوخت اوتعين دمکان نه لري، تردي چی که هغه خپل کوراواهل ته واپس شو، بيايي هلته دطواف مونځ وکړونوهم صحيح کيږی،او دم ورباندی نه لازميږي .(۳)

---

۱ (فتح القديرمع الکفاية،ج۳ ص ۸۱)

۲ (فتح القديرمع الکفايه،ج۳ ص ۴۴).

۳ (العينی،ج۴ ص ۱۱۸)

(۲۹) مسئله: کله چی چاڅخه دعرفات اودریدل اوقوف پاتی شی، که په عذر سره وي اوکه بغیردعذر نه وي سره له دینه چی ګنهګاردی، خو باقی افعال دحج ورڅخه ساقط دی، نواوس په ده باندي ځان حلالول په افعالودعمری سره لازمي دي، دامام ابوحنیفه رحمه الله تعالی اوامام محمدرحمه الله تعالی په قول باندی، پس طواف اوسعی دصفااومروه به وکړي، اوسر به وخرئي او یا به یي لنډ کړي، کچیري فوت کونکی حاجی مفرد وۀ نوراتلونکی کال کښی به قضاء دحج راوړي، اوعمره اودم ورباندی نشته، یعني په خلاف د حاجی محصر څخه، همدارنګه درخصتي طواف هم ورباندی په اتفاق سره نشته، اوکچیری دغه فوت کونکی حاجی قارن ؤ، اوس کچیری عمري لپاره یي طواف کړی ؤمخکښی دفوت کیدووقوف دعرفات څخه، نودغه حاجی قارن حکم داسی ده لکه حاجی مفرد، ځکه چی رکن دعمري یي اداء کړیدي ، اوکچیری طواف دعمري ئی نوي کړی، نواوس به دغه حاجی صاحب اول طواف اوسعي دعمری لپاره وکړی، اوبل طواف اوسعی دصفااومروه به دقضاء کیدودحج لپاره وکړي، اوسر به وخرئي ، خودم پسه دشکرئي ترینه ساقط ده، نوراتلونکی کال کښی په ده باندی قضاءدحج دی، اوس داحاجی قارن چی حج ترینه فوت شوی ده دابه هلته تلبیه بندوي چی کله دځان حلالولپاره طواف شروع کړي، اوکه دغه حاجی متمتع ؤوچی ترینه وقوف عرفه فوت شوی ده نو تمتع ئي باطل شو، ځکه چی شرط تمتع دادي چی حج سره دعمری په همدی کال کښی ادا کړي، چی داشرط دلته ختم شو لهذا دم دتمتع ترینه ساقط شو، اوکه پسه ئی ځان سره روستلي وو نو په دي صورت کی د

حاجی متمتع اختیارده چه څه په دغه پسه باندي کوي، په خلاف دنفلی هدیه (پسه) څخه، اوپه ده باندی قضاء دحج دی فقط ، اودعمری نه خلاص دي.(۱)

(۳۰)مسئله: کچیري یوښځی ته حیض اونفاس پیداشو، نوکه ښځی په حالت دعذرکښی فرضی طواف وکړو، نوبدنه (اوښ یاغوا)ورباندی واجبه شوه، چی دحرم په حددوکښی به ئي حلالوي، اوهم یي دفرضی طواف څخه ئی ذمه خلاصه شوه، اودخپل خاوندسره کوروالی هم ورته روا شو.(۲)

(۳۱) مسئله: کچیری یوسړي داختر(عید) دورځی څخه مخکښی د حج تمتع یا حج قران لپاره قرباني وکړه، نود قرباني په اتفاق سره جائزه ندی، اوکه وروسته داخترورځو څخه یي قرباني وکړه داشخص پریښودونکی دواجبوشو په قول دامام اعظم رحمه الله تعالی باندي، نویو بل دم هم ورباندی لازم شولوجي دتأخیردقرباني دایام نحرڅخه. هکذافی البحرالرائق (۳)

(۳۲)مسئله: که دوهمه ورځ ئي اوله جمره پریښودله وسطی اوکبری ئی اوویشتلي ،نوښه خبره داده چی ټولي جمري بیا دوباره په ترتیب سره وویشتلي شي، اوکه بالفرض کومه جمره چی ترینه پاتی وه هغه ئی فقط اویشتله نوداصورت هم جائزده.(۴)

(۳۳) مسئله: که یو سړی دریوؤوجمروڅخه دیوی جمري ویشتل په یوه ورځ کښی پریښودل ، نوپه مقابل دهري شګی کښی به دووکیلوغنمو په

---

۱ (خلاصة اللباب وشرحه،ص۴۷۱)

۲ (کمافی الفتح القدیر، ج۳ص ۷۹)

۳ (الفتاوی الهندیة، ج۱ص ۲۶۱)

۴ (الهدایة شرح البدایة، ج۱ص۲۸۳)

اندازه صدقه ورکوي، ځکه چې هر يوه ورځې جداجدا نسک اوفعل لري، نوله دې وجې نه په پرېښودلو ديو کامل نسک باندې دم لازميږي، اوپه کم باندې صدقه لازميږي،مثلا لکه چادجمره عقبه ويشتل داختر په ورځ باندې پرېښودل نودم وربانډې لازم دی،اوکه په نورو ورځوکښې ئې دجمره عقبه ويشتل پرېښودل نوصدقه وربانډې واجب دی،خوداهلته چې په مخصوصو ورځو درميوکښې ئې قضاء نوي را وړی،اوکه په مخصوصو ورځوکښې ئې قضاء راوړی وي نودصاحبينوپه قول باندې دم ترينه ساقط دي، البته امام اعظم رحمه الله تعالى په قول باندې دم نه ترينه ساقط کيږي؛مثلاً کچيري يې دېوی جمرې ويشتلو څخه زيات پرېښودل لکه يولس کانړی (شگی) ئې پرېښودلی،او په لس شگوباندې ئی جمرې اوويشتلی نودم وربانډې لازم ده، ځکه چې داقاعده ده چې اکثرلره حکم دکل ده،يعنی اعتبارډېرولره وي.([1])

(۳۴) مسئله: په دواعی دجماع سره وربانډې دم لازميږی لکه معانقه يعنی غېږه ورکول، يالاس ورکول،اوياځان سره لگول په بد نظر سره بغير داندام مخصوص (شرمگاه) څخه،اوياښکلول اومسحه کول په شهوت سره نوپېدي صورتوکی دم اوپسه وربانډې لازم دي که انزال شوي وي اوکه انزال يې نوي شوي په صحيح قول باندي، اوپه جامع الصغيرکتاب کښې يې انزال شرط کړيدي وصححه قاضيخان فی شرحه.اوهمدرازدغه ښکلول اومسحه کول برابره خبره دی که دی خپله ښځه وي اوکه داجنبي (پره دی) ښځې وي، اوهمدراز بی گيرې هلک داجنبی ښځې په حکم کښې ده،اگرچه امام

[1] (العناية على الهداية، ج ۳ص ۳۶۸)

الحموی رحمه الله تعالی په دی کی توقف کړی یعنی غلی پاتی شوی؛ اوهمدراز دغه دواعی که مخکښی دوقوف عرفی څخه وي اوکه وروسته دوقوف عرفی څخه وي، دم ورباندي لازمیږی البته حج ئي ورسره نه فاسد کیږی.(۱)اوکه حاجی قارن وروسته تروقوف دعرفی نه جماع وکړه، نود حج لپاره ورباندی بدنه یعنی اوښ یاغوا لازمه دي، اوعمری لپاره ورباندي دم یعنی پسه لازم دي(۲)اودعمری هم دمذکورحکم ده چی په دواعی دجماع سره دم ورباندي لازمیږی اوعمره یي نه فاسد کیږی.(هندیه).

(۳۵)مسئله: کچیری یومحرم خپلی ښځی فرج ته په شهوت سره وکتل انزال ئی وشویعني منی ئی خارج شول نوهیڅ شی ورباندی نه لازمیږی،لکه چی فکرسوچ ووهی انزال ئی وشی کذافی الهدایة،اګرچی دافکرمکرر وکړي کذا فی غایة السروجی؛اوهمدارنګه کچیری شیطان ئی په خوب کښی خطاءاو غلط کړي انزال ئي وشي نوکوم شی ورباندی نه لازمیږی،سوادغسل کولو څخه، اوکه یوسړي دخپل لاس څخه کارواخسته چی استمنی بالید ورته وائی اومنی ئي خارج شول دامام اعظم رحمه الله تعالی په قول باندی پسه ورباندی لازم دي. کذا فی السراج الوهاج.(۳) والله تعالی اعلم بالصواب.

﴿ فائده نافعه : دجنایتومهم قواعد﴾

محترمو! دلته اوه هغه مهم قواعد ذکرکوؤ چې دجنایتو په حل کی حاجی صاحب ته په دوران حج کی آساني وي:

---

۱ (ردالمحتار، ج ۳ ص ۶۶۷)
۲ (فتح القدیر مع الکفایه، ج۲ص ۴۵۷)
۳ (الفتاوی الهندیه، ج ۱ص ۲۴۴)

(١) په حاجی قارن باندې داحرام په جنایت سره دوه جزاء ګانې واجبیږي، او په حاجی مفرد باندې یوه جزاء واجبیږي، البته حاجی قارن که بغیر داحرام تړلو نه دمیقات څخه تیر شو، نو یواځې یو دم ورباندې واجبیږي .

(٢) چې چیرته په جزاء کې مطلق دم ذکرشي نو مراد به تربنه دیو کال پسه ، یا وزه ذبح کول، یا دغوا، اوبښ اومه برخه ورکول وي، البته په دم کې دقربانۍ دټولو شرائطو لحاظ کول ضروري دي .

(٣)بدنه یعني پوره اوبښ،یاپوره غوا یواځې په دوؤ ځایونوکې واجبیږي،یوپه حالت دجنابت یاحیض اونفاس کښطواف زیارت کول،اودوهم دعرفې دوقوف نه پس اودطواف زیارت کولواودسرخریلونه وړاندې جماع(کوروالی)کول.

(٤) چې چیرته مطلق صدقه ذکرشي دهغې نه مطلب نیم اوړی غنم، اویا یو اوړی وربشې مراد وي، اوچیرته چې یوصدقه وټاکلی شي دهغې نه مراد خاص هغه مقدار (اندازه) وي، اودصدقې قیمت ورکول هم جائز دي بلکه زیات غوره دي چې نصف صاع دغنمو (پاوکم دوه سیره اونیمه چټاکې په انګریزي سیر)، اویا یوصاع دوربشې وغیره دقیمت په اندازې سره.

(٥) په کوم جنایت سره چې دم واجب شوی وي، دهغه په بدل کې طعام اوروژې نیول نه رواکیږي ،

(٦)واجب شوی دم به ضرورپه حدوددحرم شریف کې ذبح کولای شي،اودواجب شوي صدقې لپاره دحرم شریف حدودشرط نه دي،دنوروځایونوفقیرانوته یې هم ورکولی شي.

(٧)دجنایت دم نه پخپله خوراک کول جائزنه دي،اونه یې تري دنصاب خاوند (غني)خوړلی شي، دغیر نصاب خاوندچې دزکوة اخستلو حقدار وي هغه یې تربنه خوړلی شي، دجنایت په وجه دم اویا صدقه ورکول سمدستې واجب نه دي، البته دزراداکولو کوشش یې بېکار دی چې په ژوندهیڅ اعتبار نشته.

{دجنایات جدول}

چې حج ورباندې فاسدیږي:	چې بدنه یعنې غټ خاروی په ذبح کوی	چې ګډه،اویاداوښ یاغوائی اوومه برخه وي	چې نیم اوږی لازمیږي:	چې صدقه له نیم صاع کمه لازمیږي	چې قیمت ئې لازمیږي:
په عرفات تروقوف له مخه جماع کول.	که ئې په عرفات ترولوف وروسته مګرترسرخريیلو له مخه جماع وکړه.	۱-دهغو کارونو کول چې انسان جماع کولوته نژدې کوی لکه دښځې مسحه کول په شهوت سره.	۱-دسراوږیږي دویښتانو تر څلورمي برخې کم کټ کول. ۲- یویادوه نوکونه پریکول. ۳-په دومره ځای باندي عطرلګول چې تریوانده کم وی. ۴-تریوې پوره ورځي کم دجامو اغوستل. ۵-تریوې پوره ورځي کم دسر اومخ پټول. ۶-دبې اودسي په حالت کي طواف قدوم او طواف وداع اداء کول. ۷-دشیطان په ویشتلوکي دیوې کاني کمیدل.	دیوسپږي وژل یادیوملخ وژل له دوه یادریو،	ښکارکول دهغه شیانوچې په اوبوکي ژوندکوي اودهغو شیانوچې په ځمکه کې ژوندکوي که غوښه یې حلاله وي اوکه نه وي، اویا اشاره اودلالت کول چه شکارد داسی شیانوباندي، دهغه ځای اوسیدونکي دوه نفرچې عادلان وي هغه به ددغه شي قیمت معلوم کړي،که ددې قیمت هدیې ته رسیدو، بیاحاجی ته اختیاردې چې هدایه اخلي په حرم کي ئې حلالوي اوهرمسکین ته نیم صاع ورکوي ،اوکه دنیم صاع په بدله کي یوورځ روژه نیسي اوقیمت ئې یوپسه (میږي)ته رسیدوبیاداهم کولای شي چې خورک واخلی اوصدقې په دول ئې تقسیم کړي.
پسه دی په راتلونکی کال کی حلال کړي.	که ئې فرضې طواف دجنابت په حالت کې وکړ.	۲-سړي لپاره دګنډل شوجامو اغوستل بغیرله عذره اودښځولپاره صرف مخ پټول.		یوموټی صدقه کول،اوکه تردرې زیات وي بیانیم صاع صدقه کول.	
دحج قضاء دی راوړي.		۳-بغیرله عذره دسراوږیږي دویښتانو خریيلو-پوره ورځ دمحرم مخ پټول.			
		۴-په پوره اندام عطرلګول.پوره ورځ جامي اغوستل ۵-دیوې خپې اویایولاس نوکونه کټ کول.			
		۶-دطواف وداع پريښودل.			

یاداشت:-. دضرري اشیاء ووژل لکه مار،لارم،مچی اونور... نوپه دغه محرم باندي هیڅ شی نه لازمیږي.

﴿دریم بحث:- مکی مکرمی اومسجد حرام ته دداخلیدلو طریقه﴾

﴿الف :- دداخلیدلو آداب﴾

محترمو! کله چې محرم دمکې مکرمې ښارته رانږدې شي په ذی طوی، یابل ځای کې چې موقع اوفرصت پیداکړي نوغسل به وکړي چې داغسل سنت ده، اوداهم مستحب ده چې (دثنية كدا، چې المحجون دی) دلورې نه مکې مکرمې مبا رک ښارته راداخل شي، کله چې (المعلا ته) راورسيږي دمکې مکرمې نوراني ښارېې ولید نودادعابه وکړي اَللّٰهُمَّ هٰذَا الْبَلَدُ بَلَدُکَ وَالْبَيْتُ بَيْتُکَ، جِئْتُکَ اَطْلُبُ رَحْمَتَکَ ،وَأَوْمُّ طَاعَتَکَ، مُتبِعًا لّاَمْرِکَ ،رَاضِيًا بِقَدْرِکَ، مُسْلِمًا لَامْرِکَ، جِئْتُکَ مِنْ بِلَادٍ بَعِيْدَةٍ ،بِذُنُوْبٍ کَثِيْرَةٍ، وَاَعْمَالٍ سَيِّئَةٍ اَسْئَلُکَ مَسْئَلَةَ الْمُضْطَرِّ اِلَيْکَ، اَلْمُشْفِقُّ مِنْ عَذَابِکَ، اَنْ تَسْتَقْبِلَنِی بِمَحْضِ عَفْوِکَ، وَاَنْ تُدْخِلَنِی فِی فَسِيْحِ جَنَّتِکَ جَنَّةِ النَّعِيمِ، اَللّٰهُمَّ اِنَّ هٰذَا حَرَمُکَ فَحَرِّمْ لَحْمِی وَدَمِی وَعَظْمِی عَلَی النَّارِ، اَللّٰهُمَّ أَمِنِّی مِنْ عَذَابِکَ يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَکَ ،اَللّٰهُمَّ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَمَااَظْلَلْنَ، وَرَبِّ الْاَرْضِيْنَ السَّبْعِ وَمَااَقْلَلْنَ، وَرَبِّ الشَّيَاطِيْنَ وَمَااَضْلَلْنَ وَرَبِّ الرِّيَاحِ وَمَاذَرَيْنَ، فَاِنَّا نَسْئَلُکَ خَيْرَ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ وَخَيْرَ اَهْلِهَا، وَنَعُوْذُبِکَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ أَهْلِهَا وَشَرِّ مَافِيْهَا ،اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنَا خَيْرَهَا وَاصْرِفْ عَنَّا اَذَاهَا...)

بیابه خپل راسته طرفته اشاره وکړي چې مقبره دجنة المعلی ده دهغې مقبرې دارواحوپه خاطربه یوځلې الحمدلله یعنی سورة فاتحه،اودرې واره سورت اخلاص، اولومړی اواخیربه درودشریف ولولي، اوټولو ارواحوته به یې ثواب وروبښي، اودا دعابه ورته وکړي: اَلسَّلَامُ عَلَيْکُمْ دَارَ قَوْمٍ مُؤْمِنِيْنَ

وَاِنَّا اِنْشَاءَ اللهُ بِكُمْ لَاحِقُوْنَ (آمین)اوداسې نورې دعاګانې،کچیرې په مدعا لارراتلل ورته مشکل شول،نوبیا چې ورته هره یوه لا ره برابره شوه پرهغه به راشي؛چې کله یې دمکې مکرمې مبارک ښاروليدو پورته لیکل شوې دعاګانې به کوي، اوهرکله چې یې بیت الحرام ولید بیابه دهغې دلیدلو دعاګانې کوي، که دالمعلی په لاره راغلې چې تر منورې مقبرې راتیر شو اودبیت الحرم مناره یې ولیدله، اودالمدعی ځاې ته راورسیدلو نو ودې دریږي، اودا دعا به وکړي: اَللّٰهُمَّ اَنْتَ رَبِّیْ وَاَنَا عَبْدُکَ، جِئْتُ هَارِبًا مِنْکَ وَاِلَیْکَ، لِاُؤَدِّی فَرَایِضَکَ، وَاَطْلُبُ رَحْمَتَکَ، وَاَلْتَمِسُ رِضْوَانَکَ، اَسْئَلُکَ مَسْاَلَةَ الْمُضْطَرِّیْنَ اِلَیْکَ ،اَلْمُشْفِقِیْنَ مِنْ عَذَابِکَ، اَلْخَائِفِیْنَ مِنْ عُقُوْبَتِکَ، اَنْ تَسْتَقْبِلَنِیْ الْیَوْمَ بِعَفْوِکَ، وَتَحْفَظَنِیْ بِرَحْمَتِکَ، وَتَتَجَاوَزْ عَنِّیْ بِمَغْفِرَتِکَ، وَتُعِیْنَنِیْ عَلَی اَدَاءِ فَرْضِکَ، اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِیْ اَبْوَابَ رَحْمَتِکَ، وَاَدْخِلْنِیْ فِیْهَا، وَاَعِذْنِیْ مِنَ الشَّیْطَانِ الرَّجِیْمِ. کله چې دمکې مکرمې بختور ښارته داخل شي نوتلبیه به زیاته وایې اوتکبرونه ،اوتهلیل، اودرود شریف به زیات وایې، البته په هره ژبه چې یې ښه حضور اوذوق برابریږي په هغی ژبی به دعاګانې کوي، البته په عربې ژبه دعاګانې ښې قبلیږي اوددعاګانو ایجابت ځایونه به هم په نظرکې لري،اوپه ډیر شوق اوذوق سره دي طواف کولو ته ځان راورسوي، کچیرته ملګري او سامان ورسره وي اودسامان دحفاظت انتظام ئې نه وي کړی، نوبیادي ځینې ملګري دسامان دساتلو لپاره مقررکړي، اوځینې دي دطواف لپاره ځانونه فارغ کړي، اوکه داهم نه شي کولی بیادي دعذرپه وجه لومړی دسامان دحفاظت انتظام وکړي، بیادي په

فارغ زړه دطواف لپاره دباب السلام پردروازې راشي، اوښی ښپه به دمخه کړي، اوالله اکبربه درې ځلې ووایې، اوبیابه دغه دعا ووایي:

أعوذُ باللهِ العَظِيْمِ وَبِوَجْهِهِ الْكَرِيْمِ وَسُلْطَانِهِ الْقَدِيْمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ، وَالْحَمْدُ لله، وَالصَّلَوةُ والسَّلَامُ عَلَى رَسُوْلِ اللهِ، اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا، وَعَلَى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِيْنَ، اَللّٰهُمَ اغفِرلِیْ ذُنُوْبِی، وَافْتَحْ لِیْ اَبْوَابَ رَحْمَتِکَ، وَادْخِلْنِی فِیهَا، وَسَهِّلْ لَنَا اَبْوَابَ رِزْقِکَ ،اللّٰهُمَ اِنَّ هٰذَا حَرَمُکَ وَمَوْضِعُ اَمْنِکَ، فَحَرِّمْ لَحْمِی وَبُشْرِی وَدَمِّیْ وَمُخِّیْ وَعِظَامِیْ عَلَی النَّارِ، یَااَللهُ اَللّٰهُمَ اَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْکَ السَّلَامُ وَاِلَیْکَ یَرْجِعُ السَّلَامُ فَحَیِّنَا رَبَّنَا بِالسَّلَامِ ،وَاَدْخِلْنَا دَارَ السَّلَامِ بِرَحْمَتِکَ یَاذُالْجَلَالِوَالْاِکْرَامِ.

اوهرکله چې یې په بیت الله شریفی باندي سترګي برابرې شي نوکومه دعا چې یې خوښه شوه هغه دي وکړي اوبیابه دغه دعا هم ووایې: اَللّٰهُمَّ زِدْ هٰذَا الْبَیْتَ تَشْرِیْفًا وَتَعْظِیْمًا وَتَکْرِیْمًا وَمَهَابَةً وَبِرًّا وَّاِیْمَانًا، وَّزِدْ مَنْ عَظَّمَهُ وَشَرَّفَهُ وَکَرَّمَهُ مِمَّنْ حَجَّهُ اَوِعْتَمَرَهُ تَشْرِیْفًا وَّتَعْظِیْمًا وَتَکْرِیْمًا وَّبِرًّا وَّاِیْمَانًا، اللّٰهُمَ صَلِّ عَلَی مُحَمَّدٍ وَّعَلَی اٰلِ مُحَمَّدٍ عَبْدِکَ وَرَسُوْلِکَ النَّبِیُّ الْاُمِیُّ، وَعَلَی اٰلِهِ وَاَصْحَابِهِ وَتَابِعِیْهِ وَاَحْزَابِهِ وَسَلِّمْ تَسْلِیْمًا کَثِیْرًا، اَللّٰهُمَ اِنِّیْ اَسْئَلُکَ اَنْ تَغْفِرلِیْ وَتَرْحَمْنِیْ وَتَقَبَّلْ عَثْرَتِیْ وَتَضَعُ وِزْرِیْ بِرَحْمَتِکَ یَااَرْحَمَ الرَّاحِمِیْنَ ،اللّٰهُمَ اِنِّیْ عَبْدُکَ وَزَائِرُکَ وَعَلَی کُلِ مَزُوْرٍ حَقٌ وَاَنْتَ خَیْرُ مَزُوّرٍ، فَاَسْئَلُکَ اَنْ تَرْحَمْنِیْ وَتَفُکُّ رَقَبَتِیْ مِنَ النَّارِ. (۱)

---

(۱) ملخص الفتاویٰ التاتارخانیه ص ۴۴۵ ج ۲

ب:- دعا دقبلیدو ځایونه

محترمو! په مکه مکرمه کې ددعاګانوداجابت ځایونه دادي :

(١) - مطاف شریف: یعنې چې حجاج کرام دبیت الله شریف څخه ګیرچاپیره طواف کوي هغه ټول ځای ددعادقبلیدو ده.

(٢) - ملتزم شریف: چې دحجراسود اوددروازې ترمینځ واقع ځای دی .

(٣) - مستجار: چې درکن یماني اوتړلې دروازې ترمینځ ځای دی، اوځینې سلف یې ملتزم بولي .

(٤) - دمیزاب رحمت څخه لاندې ځای کی.

(٥) - دزمزم اوبوځای سره دکوهي (څاه) ماحول .

(٦) - مقام ابراهیم علیه السلام.

(٧) - دصفا په غونډۍ .

(٨) - دمروا په غونډۍ .

(٩) - دسعی په وخت کې .

(١٠) -دصفااومرواپه مابین ځای کې یعنې په تللو راتللو کې دعاقبلیږي .

(١١) - دشنومیلینوترمینځ په منډه وهلو کې .

(١٢) - دعرفات په میدان دعرفې په ورځ .

(١٣) - مزدلفه شریفه خصوصًا دجبل قزح مقام کی.

(١٤) - منٰی شریفه.

(١٥) - الجمرات: یعنی څلوته نیږدي ساحه کی.

(١٦) - دبیت الحرام دلیدلوپه وخت چې دهرځای څخه یې ویني،

وهروخت چې يې ويني، نوهغه وخت داجابت دعا دى .

(١٧) - حطيم شريف .

(١٨) - حجراسود شريف .

(١٩) - ركن يماني.

(٢٠) - دحجراسود شريف اوركن يماني د مابين ځاى، دغه مذكورمواضع په مخصوصو اوقاتو اواحوالوكې ددعا دقبليدو ځايونه دي، البته دااحتمال هم لري چې مطلقًا دوى يعنې په هروخت كې عرفات اوداسې نورځايونه دقبليدو ددعا ځايونه وي (١)

﴿ج:- دحرم شريف حدود﴾

محترمو! دحرم شريف حدود دمدينې منورې له طرفه دمكې معظمې څخه په درې ميله فاصلې باندې دتنعيم مقام څخه شروع دى، ځينې علماءكراموددا فاصله څلور ميله ښودلې ده؛ او دحرم شريف حدود ديمن دلارې څخه دمقام اضاة دكنارې پورې په شپږ ميله فاصلې باندې دى،ابن ابى زيد صاحب اوه ميله فاصله ښودلې ده؛ اودحرم شريف حدود دطائف شريف دعرفې دلارې څخه بطن نمره نه په يوولس ميله فاصلې باندې دى،اوابن ابى زيدصاحب نهه ميله ښودلې ده؛اودحرم شريف حدوددعراق دلارې نه چې مقطع غرباندې واقع ده په اوه ميله فاصله دى. او دحرم شريف حدود دجعرانه دلارې څخه دآل عبدالله بن خالد ابن سعيد څخه په نهه ميله فاصلې باندې دى؛اودحرم شريف حدوددجده په لاره داعشاش انتهاء پورې دلس

(١) ارشادالسارى ص ٣٧٣ فصل فى اماكن الاجابة

ميله په فاصلې باندې دى، اوعلامه ازرقي اوه ميله ليكلي دى اودجده په لاره دحديبيه انتهاء پورې لس ميله په فاصلې باندې دى .

حضرت امام مالک رحمه الله تعالى خپل كتاب ((العتبية)) كې ليكلي چې حديبية حرم شريف كې داخله ده، داحنافوعلماءكرام فرمايې چې ځيني حدود دحديبية دحرم شريف څخه خارج دي.دعلامه زهرى رحمه الله تعالى نه روايت دى: چې دټولونه لومړى حضرت ابراهيم عليه السلام په حدودحرم باندې نشانه نصب كړي دى، چې دغه مواضع ورته حضرت جبريل عليه السلام ښودلي ؤو، بيادقصي صاحب ترزماني پورې پكې كومه تبديلي نه دي راغلې، خوقصي صاحب پكې نوې ځلي ولږول، بيادآنحضرت صلى الله عليه وسلم ترزماني پورې پخپل دستورباندې قائم ؤو، نوده مبارک صلى الله عليه وسلم د فتح مكه په كال تميم بن اسيد خزاعي رضى الله عنه واستولودغه نشانونه يې نوى نصب كړل، بيادحضرت عمرفاروق رضى الله تعالى عنه ترزماني پورې دغه نشاني وي، بياعمرفاروق رضى الله تعالى عنه دقريشوڅلورسړي يومحزمه بن نوفل بل سعيدبن يربوع بل حويطب بن عبدالعزى اوبل زهربن عبدمناف واستول چې هغه نشانې تجديد كړي، بيا حضرت معاويه رضى الله تعالى عنه هغه نشاني تجديدكړي، بياعبدالمالک بن مروان نوي نشانې نصب كړې.(١)

اوحضرت سيدالعلوى مالكى رحمه الله تعالى په قرآن كريم كې پنځلس داسې مقامات بيان كړي دي چې په هغه كې دمسجدحرام ذكردى چې

(١) اخبارمكه ج٢ص ١٢٩

تفصیل یې ذیل ([1]) نمبرحاشیه کې لیدلی شي نوله دینه معلومه شوه چې دېرلو معانی همدا اسم مذکورته شامله دی. ځکه چې قرآن پاک په دې باندې دلالت کوي، البته عرب چې کله ووایې ((اعتکفنا فی المسجدالحرم ودخلنا المسجد الحرام وصلینافی المسجدالحرام)) نوبیا له دینه معلوم معروف مسجد مراد دی چې له دینه مسجدکیدل ثابت دي چې حائضې اونفاسې داخلیدل ورته ممنوع دي،اودعلامه ارزقي رحمه الله تعالی دوضاحت مطابق اودمؤرخینو داتفاق مطابق لس وارې دخانه کعبې تعمیرشویدی .

(۱) - تعمیردملائکه علیهم السلام .

(۲) - تعمیردآدم علیه السلام .

(۳) - تعمیردشیث علیه السلام.

(۴) - تعمیردابراهیم علیه السلام.

(۵) - تعمیردعمالقه .

(٦) - تعمیر دجرهم قبیلې.

(۷) - تعمیردمضر .

(۸) - تعمیردقریش .

(۹) - تعمیرداېن زبیر رضی الله تعالی عنه.

(۱۰) - تعمیرحجاج بن یوسف ثقفی، اوبیاپه سنه ۱۰۳۹هـ کې دآل عثمان په سلاطینوکې سلطان مرادخان بن سلطان احمدخان تعمیرکړه.([2])

---

[1]) سورة بقرة ایت،۱۹۱، ۱۹٦، ۲۱۷، ۱۵۱، ۱۴۹، ۱۴۴،سورة مائدة ایت ۲، ۸ –سورة انفال ایت ۳۴ –سورة توبة ایت ۷، ۱۸، ۲۸ –سورة بنی اسرائیل ایت ۱ ،سورة حج ایت ۲۵ ،سورة فتح ۲۵، ۲۷

[2]) تاریخ حرمین شریفین ص ۱۱۴

فائده:محترموايوحديث شريف کی راغلی دی چې دکعبه شريفه ليدل عبادت ده،

اوحضرت عبدالله ابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روايت ده چې دکعبې شريفې زيارت دخالص ايمان نشانې دی، اودمجاهد رحمه الله تعالی نه روايت دی چې دکعبې شريفې زيارت عبادت دی، اودسعيدبن مسيب رحمه الله تعالی نه روايت دی چې له ايمان اوتصديق سره دکعبې شريفې زيارت داسې گناهونه معاف کيږي لکه څرنگه چې بچی(ماشوم)دمورڅخه نوي وشي، اود عطاء رحمه الله تعالی نه روايت دی چې دبيت الله شريف زيارت ديوکال قيام،رکوع،اوسجود دعبادت سره برابردی .([1])

﴿د:– دحرم شريف دوه مبارک ځايونه﴾

(۱) – حجراسود:

محترمو! حجراسوددجنت څخه راغلی دحضرت عبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنهماڅخه مروي دی چې آنحضرت صلی الله عليه وسلم فرمايلي: چې حجراسوددجنت څخه راغلی اودی دشيدو(پی)څخه زيات سپين ؤ، بياروسته دخلقودگناهونوپه وجه سياه (تور) شويدی، پس داحديث شريف په ظاهرباندي محمول دی، اوپه ده کې تحذيردی دگناهونو څخه، اوپه دي کې داحکمت ده چې دجنت شکلاپته پاتې شي،اوايمان ددوي په غيبه باندي باقی پاتی شی، البته سپين پاتی نه شوپه طاعاتو داهل التوحيد سره لأن النتيجة تابعة للاخس والارزل، يوبل حديث مبارک دترمذي شريف کې

[1]) اخبارمکه ج۲ ص ۳۶

راغلی دی چې حجراسود اومقام ابراهیم یاقوتان دي دیاقوت دجنت څخه،اوعلامه عیني رحمه الله تعالی ذابن عباس رضی الله تعالی عنهماڅخه نقل کړیدی چې حجراسود دالله تعالی ښی لاس دی چې له خپلو بندګانو سره مصافحه پرې کوي، اوپه یوبل روایت کې راغلی دي چې چا بیعت درسول الله صلی الله علیه وسلم ونه موندلو،بیایې حجراسود استلام وکړونو هغه دالله تعالی اودده رسول صلی الله علیه وسلم سره بیعت وکړو.[۱]

فائده: محترمو! دمصافحې مطلب داچې حج اوعمره کوونکي دالله تعالی سره عهد کوي لکه یوبادشاه مصافحه کولوسره عهد کوي، اوله حجراسود څخه دطواف شروع کې دیته هم اشاره ده چې دین اسلام دپوره نظم وضبط واله دین دی، اوپه یوروایت کې دحضرت عمرفاروق رضی الله تعالی عنه څخه مروي دی چې کله به یې حجراسودښکلولوویل به یې چې، انی اعلم انک حجر لاتنفع ولاتضر لولا انی رأیت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقبلک ماقبلتک – یعنې ماته معلومه ده چې ته یوکاڼی یې، اوته دکوم نفع اونقصان اختیارنه لري، که ماآنحضرت صلی الله علیه وسلم نه وی لیدلی چې ته یې ښکلولې نومابه هیڅکله نه وې ښکل کړی،[۲] ددی مطلب دادی چې دنفع اوضررڅخه نفع اوضررعلی وجه المباشرتً مراد دی البته ښکلول یې ثواب لری یعنې سبب دثواب دی، اوتوهین یې سبب دعقاب دی، اودقول دفاروق اعظم رضی الله تعالی عنه ځکه وویل چې ویره وه چې

---

(۱) منهاج السنن شرح الترمذی ج ۴ ص ۱۳۱

(۲) اخبارمکه ص ۲۳۰ ج ۱

جاهلان به داګمان وکړي چې دحجر اسود ښکلول د احجاراود بوتانو دتعظیم یومثال دی، اودحضرت علی کرم الله وجهه ارشاد دی: چې حجراسودنفع ورکوي نوهغه دشهادت اوګواهی نفع ده په عدالت کې، دچاګواهي ورکول دهغه لپاره نافع (نفع ورکوونکی)خوډېره زیاته ده، مګرپه دې سره هغه قابل دعبادت کیدلو نه لازمیږي، اوپه دې کې هم یوې لويې قاعدې ته اشاره ده چې اتباع نبي صلی الله تعالی علیه وسلم لازمي دی چې هغه عمل به کوي اګرکه حکمت یې معلوم نه وي، اودشونډو ایښودوته ښکلول وایې بغیردآوازه نه .

(۲) مقام ابراهیم علیه السلام:

محترمو! مقام ابراهیم علیه السلام یوعظیم اسلامي نشان دی، چې دحضرت ابراهیم علی نبینا وعلیه الصلاة والسلام له زمانې ترنن ورځ پورې یې دحجر اسود پشان حفاظت شویدی، اوالله تعالی دامت مسلمه لپاره دغه نشانې خاص کړې لکه حجراسود دطواف دپیل او پای لپاره مقررشوي، اومقام ابراهیم یې دلمانځه ځای مقررکړي، اوغیراسلامي امت لپاره داسې علائم نشته چې دومره قدیمي زمانی څخه محفوظ وي، چې ددغه دواړوعظیم الشان نشاناتونظیرپیش کړي، اودغه دواړه به قیامت پورې مسجدحرام کې محفوظ وي، اوپه قران کریم کې دمقام ابراهیم ذکرراغلی (وَاتَّخِذُوا مِن مَّقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى)اوعلامه بیضاوی رحمه الله تعالی په وَاتَّخِذُوا تفسیرکې لیکلي: چې داخطاب امت محمدیه (صلی الله علیه وسلم) لپاره بطوراستحباب دی، پس مقام ابراهیم علیه السلام هغه کاڼی (تیږه)دی چې په هغه باندې

ابراهيم عليه السلام دقدمونومباركو نشان دى چې دبيت الله شريفى په جوړولوكې به ابراهيم عليه السلام ورباندى اودريدو، دديوال په پورته كيدو سره به دا كاڼى هم دالله تعالى په اذن سره پورته كيدو. اودعبدالله بن سلام رضى الله تعالى عنه نه روايت دى چې كله ابراهيم عليه السلام ته امروشوچې خلقوته دحج دعوت وركړه، نوابراهيم خليل الله على نبيناوعليه الصلوة والسلام په دى مقام ودريدو اودامقام دومره اوچت شو لكه دايو وړدغره پشان چې ټول شيان ترې لاندې وي، نو ويفرمائيل: ياايهاالناس اجيبوربكم اوځينې رواياتوكې راځي چې داسماعيل عليه السلام بي بې مباركې، دابراهيم عليه السلام مباركې پښې ورباندې وينځلي دي.

فائده : محترمو! مقام ابراهيم عليه السلام باندې دمقصوره جوړولوكې غالبًا درې فوائددي يودضائع كيدلونه محفوظ كيدل، دوهم دغلونه محفوظ كيدل، دريم دبدعتي خلقوڅخه محفوظ كيدل، چې خلق به يې مسحه كوي يابه يې ښكلوي چې دغه كاردصحابه تابعين اوصالح علماؤڅخه نه دي ثابت بلكه دلته دعاكول ثابت دي، البته دحجراسوداوركن يماني مسح كول ثابت اوسنت دي.

﴿هـــ:- ددريم بحث متعلقه مسائل﴾

(۱) مسئله :كه يومحرم دميقات نه احرام ونه تړي اومخكې مكې مكرمې طرفته بل ميقات هم وي نوكه ددوهم ميقات نه احرام وتړي هم صحيح دى؛ كه دميقات نه پسې بل ميقات نه وي، اودى احرام دميقات دتيردلو نه

وروسته ونړي، نودی به دطواف شروع کولونه مخکې یولوي میقات ته واپس کیږي، او که واپس نه شونودم ورباندې واجب دی. (۱)

فائده : کوم موټروان (ډرائیور) یاملازم چې خارج دمیقات نه حرم شریف ته یامکې معظمې ته ډیرواري ځي اوراځي نوده باندې هرواري عمره کول ضروري دي، اوچې څومره واري بې له احرام تېرلوزمین حرم یامکې معظمې ته داخل شو، نودومره مقدار ورباندې عمرې اودومره دمونه لازم شول،اوچې دکوم شخص اراده دحج یادعمرې نه وي نوهغه زمین حرم اومکې معظمې ته بې داحرام کولورفت وآمد کولی شي، لیکن محققینو احنافوددوی مخالفت کړیدی .(۲)

(۲) مسئله :بیت الله شریف کې فرض لمونځ اونفل دواړه صحیح اودُرُست دي، دغه رنګ لمونځ دبیت الله شریف دچت دپاسه هم جائزدي اګرکه مخکې سُتره ونه دره وي، یعنې سترې ته حاجت نشته مګردبیت الله د بام (چت) دپاسه لمونځ مکروه دی دبې آدبې په وجه، که په کعبه شریفه کې دلمانځه حالت کې دمقتدې شا دامام مخ طرفته وي یعنې امام دمقتدي نه روستووي نودمقتدي لمونځ نه صحیح کیږي،اوکه امام کعبه کې دننه وي او قوم اقتداء دبهرطرف نه ورپسې وکړې اودروازه دبیت الله خلاصه وي نودا اقتداء صحیح ده، مګرکوم مقتدي چې دامام په جانب کی وي اوکعبې ته د امام څخه قریب(نیږدي)وي نودهغه اقتداءدامام پسې نه صحیح کیږي .(۳)

(۱) شرح لباب وغیره
(۲) شرح لباب وغیره فتاوی حقانیه ج۴ ص ۲۳۰
(۳) نورالایضاح ص ۹۸وهدایه

(٣) مسئله :حطیم هغه اندازه ځای دی چې دحلالي نفقي دکموالي په وجه دبیت الله شریف څخه ایستلی شوي دی، په دیکې مختلف روایات دي چې په مسلم شریف وغیره کې مذکوردي، خوخلاصه یې داده چې دشپږ ګزه ځای دی له بیت الله شریف نه حسابیږي، اوپه زیاته اندازه کې یې اختلاف دی، پس احتیاط په طواف کې دادی چې دحطیم څخه خارج و ګرځي، اواحتیاط په لمونځ کې دادی چې مقداراتفاقي ته ادریږي هو!که یواځې حطیم طرفته مخ کړي نه بیت الله شریف ته نولمونځ یې نه صحیح کیږي، ځکه چې بیت الله شریف ته یې استقبال نه دی کړی کوم چې متفق علیه ده اودبیت الله دمقدار حطیم شریف مظنون دی چې ثابت دی په اخبارآحادو سره، اولمونځ کول په داخل دحطیم شریف کې مستحب ده لکه لمونځ په داخل دبیت الله شریف کې.(١)

(۴) مسئله : دحجراسودپه استلام کې نوروطواف کوونکوته تکلیف ورکول حرام اولویه ګناه ده،دګڼې په وجه که حجراسودنه شي ښکلولی نودواړه لاسونه دي پرې ولګوي اوهغه دي ښکل کړي،که داهم ممکنه نه وي نوامسا یابل شئ دي ورسره ولګوي اوهغه دي ښکل کړي،اوکه داسې هم نه شوکیدای نودواړه لاسونه دي ترغوږونوپورې په دې شان پورته کړي چې ورغوي یې حجراسوداوشاګانې یې خپل مخ ته اولي،اوبیادي خپل ورغوي ښکل کړي.(٢)

... المناسک کمافی الفتح ومنهاج السنن ج۴ ص ١٣٠

فائده:عوام حجراسودباندې خوشبویي شیندي،نودمحرم لپاره احتیاط دادی چې حجراسود دي داحرام په حالت کی نه ښکلوي چې دمورباندي لازم نه شي.(۱)

(۵)مسئله:له هرفرض یانفل طواف نه پس دوه رکعته لمونځ کول واجب دي ،چې دمقام ابراهیم شاته یې ادا کول ډیرغوره دي، البته مسجد حرام اویا په بل ځای کې یې اداکول هم جائزدي،که دالمونځ په مسجدحرام یامکه مکرمه کې ادانکړي نودا دوه رکعته لمونځ دده په ذمه پاتې دي چې په هر ځای (خپل وطن یاپه بل وطن کې) او په هروخت غیرمکروهه کې دا دوه رکعته لمونځ اداکولی شي،البته بغیردعذرڅخه یې تاخیرکول مکروه دي.(۲)

(۶)مسئله:مکې معظمې ته دورځې داخلیدل، اودخانه کعبې شریفې دلیدلوپه وخت تکبیرویل،اوپه لیدلودکعبې شریفې دعاکول بې دلاسونوپورته کولوڅخه ،اوهمدارنګه دمکې معظمې دښارداخلیدلوته غسل کول،اګرکه حائضه او نفاسه او ماشوم وي،اوپه باب سلام حرم شریف ته داخلیدل دغه ټول مستحبات دي.(۳)

څلورم بحث:- د طواف بیان

الف:- دطواف طریقه

محترمو!کله چې مسجدشریف دبیت الحرام ته په باب السلام لوڅي پښې ور داخل شي په حالت دتواضع اوخشوع اوعاجزی کې،اومسلسل تلبیه وایه،

(۱) قواعد فقه

(۲) فتاوی تاتارخانیه ج ۲ ص ۴۴۸

(۳) ردالمحتارص ۱۷۹ج ۲

ورته اوجلالت اوعظمت اولویه مرتبه دحرم شریف اوبیت الله شریف په خپل زړه کې ساته، الله اکبر لااله الاالله، اودرودشریف په محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم وایه، اودخلکو دګڼې ګوڼې په وخت چاته تکلیف مه رسوه نرمي کوه، او څه وخت چې ستانظرپه بیت الله شریف ولګیږي نوهره دعااوسوال چې ستا خوښ وي هغه وکړه، ځکه چې دعا مستجابه اوقبوله دي په وخت دملاقات اولیدلودبیت الله شریف کې،اوبل هیڅ کاربه نه کوي،حتی چې تحیة المسجد لمونځ به هم نه کوي، البته فرضي اودجنازې لمونځ ترې مستثنٰی دی، یعنی دهرڅه دمخه به دطواف لپاره حجراسودمبارک ته ځان ورسوه، بیابه دحجراسود ترمحاذات درکن یماني لورې ته تیر شي، ترهغه ورروسته به حجراسودمبارک ته مخامخ نیږدي شي، بیابه ووایې چې لَاإِلَٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَحْدَه وَصَدَقَ عَبْدَهُ وَنَصرَ عَبْدَه وَهَزَمَ الاَحْزَابَ وَحْدَه لاَاِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَحْدَهُ لاَشَرِیْکَ لَهُ لَهُ الْمُلْکُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَی کُلِّ شَيءٍ قَدِیْر. اودواړه لاسونه دلمانځه په شکل پورته کړه، یعنې نارینه ترغوږونوپورې، اوزنانه تراوږو پورې، خودابه یوادې لومړی ځل کې وي، نوروچکروکې به استلام کوي ، اولومړی اوآخرځل استلام کول سنت مؤکده دي،اومینځنوچکرو کی مختلف فیه ده،العرض چې لومړی ځل دي لاسونه پورته کړل نوپه حجر اسودباندې یې کیږده ، اوحجراسودبه ښکل کړي بغیردآواز څخه، که ګنوالي (رَشْ)په رجه نشې کولی نو امساوغیره دي ورباندې کیږدي هغه به ښکل کړي، که داطاقت یې هم نه وي نودلرې به حجراسودته اشاره وکړي، اوالله اکبرلااله الاالله والله اکبرولله الحمد، به ووایې، اودرودشریف به ووایې،بیابه خپل ښی

طرف ته دبيت الله شريف نه طواف شروع کړي، خونيت به ده مخکې نه کړی وي په زړه سره، كه په ژبه هم ووايې نوښه ده. اَللّٰهُمَّ اِنِّي اُرِيْدُ طَوَافَ بَيْتِکَ الْحَرَامِ فَيَسِّرْهُ لِي وَتَقَبَّلْهُ مِنِّي.

نودطواف په حالت کې به اضطباع کوي يعنې ښي اوګه به ښکاره کړي، او چپه اوګه به پټه کړي،نوڅادربه په چپه اوګه واچوي،بيابه دوهم طرف دڅادر دښي ترخ لاندې راولی، اوپه کينه اوګه باندې يې واچوه، دغه اول طواف دمفردحاجي لپاره چې طواف قدوم ورته وايي سنت دی ، البته د متمتع او قارن او عمرې واله لپاره داول طواف فرض دی ، په دې طواف کې نيت کول شرط دصحت ياشرط دوقوع ندي، بلکه په هر نيت چې يې دغه طواف وکړو نو دغه طواف يې خپلی مرجع ته منسوب کيږي ،نو چې د حجر اسود څخه راتير شي په رمل (پهلواني) سره به طواف شروع کړي، اود ملتزم شريف په برابرى به دادعا وکړي. اَللّٰهُمَّ اِيْمَاناً بِکَ وَتَصْدِيْقًا بِكِتَابِکَ وَوَفَاءً بِعَهْدِکَ وَاِتِّبَاعًا لِسُنَّةِ نَبِيِّکَ مُحَمَّدٍ صلى الله عليه وسلم ،

اوکله چې مقام ابراهيم عليه السلام ته راورسيږي نودادعابه وکړي:

اَللّٰهُمَّ اِنَّ هٰذَا الْبَيْتَ بَيْتُکَ وَالْحَرَمُ حَرَمُکَ وَالْاَمْنُ اَمْنُکَ وَهٰذَا مَقَامُ الْعَائِذِ بِکَ مِنَ النَّارِ فَاَجِرْنِيْ مِنَ النَّارِ،اوکله چې رکن شامي ته راورسيږي بيابه دادعاوکړي:اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُ بِکَ مِنَ الشَّکِّ وَالشِّرْکِ وَالشِّقَاقِ وَالنِّفَاقِ وَسُوْءِ الْاَخْلَاقِ وَسُوْءِ الْمُنْقَلَبِ فِي الْاَهْلِ وَالْمَالِ وَالْوَلَدِ،اوکله چې ميزاب رحمت ته راشي نوبيابه دادعاوکړي:اَللّٰهُمَّ اَظِلَّنِيْ تَحْتَ ظِلِّ عَرْشِکَ يَوْمَ لَاظِلَّ اِلَّا ظِلُّ عَرْشِکَ وَلَابَاقِيَ اِلَّا وَجْهُکَ وَاسْقِنِيْ مِنْ حَوْضِ نَبِيِّکَ مُحَمَّدٍ

صلی الله عليه وسلم شَرْبَةً هَنِيئَةً لَاظْمَأْ بَعْدَهُ اَبَدًا،اوکله چې دركن يماني اوركن عراقي ترمينځ مستجار ته راشي دادعا به وکړي:

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ حَجًّا مَبْرُوْرًا وَسَعْيًا مَشْكُوْرًا وَذَنْبًا مَغْفُوْرًا وَتِجَارَةً لَّنْ تَبُوْرًا يَاعَالِمَ مَافِي الصُّدُوْرِ نَجِّنَا مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّوْرِ،

اوکله چې تر رکن يماني راتيرشي بيابه دادعا وکړي:

رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ وَعَذَابَ الْقَبْرِ وَضِيْقِ الصَّدْرِ وَاَهْوَالَ يَوْمِ الْقِيمَةِ ، اوکله چې حجر اسود ته راشي بيابه يې ښکل کړي ،يا به يې مسح کړي،يا به دواړه لاسونه ورته پورته کړي،اوتکبير اوتهليل اوتسبيح به ورته ووايې،اوپه دريو(چکرو)کې به رمل يعني پهلواني وکوي اوباقي شوطونه به په عادي تګ اوتر تيب سره سرته رسوي [1]

البته په طواف کې منصوصې دعاګانې ندي منقول،دا مذکوره دعاګانې د سلف صالحينو څخه نقل شوي دي ، اوحضرت سيد نا ادم عليه السّلام نه راځي دغه يوه دعا به يې کوله په تمامو چکرو د طواف کې ، چه هغه هم تسبيح اوتهليل دي (سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُلِلهِ وَلَا اِلهَ اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكْبَرُ) لهذا هره يوه دعا په هره ژبه چې دحاجې صاحب دحضور اوخشوع په زيادت کې ډيرتاً ثيرکوي هغه دعا لوستل پکاردی اوبهتره ده،پس کله چې له طواف نه فارغ شو دملتزم شريف سره به ودريږي او دا دعا به وکړي: اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذَا الْبَيْتِ الْعَتِيْقِ اَعْتِقْ رِقَابَنَا مِنَ النَّارِ وَاَعِذْنَا مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ وَاَكْفِنَا كُلَّ سُوْءٍ وَقَنِّعْنَا بِمَا رَزَقْتَنَا وَبَارِکْ لَنَا فِيْمَا اَعْطَيْتَنَا، اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنَا مِنْ اَكْرَمِ وَفْدِکَ

(۱) ملخص تاتار خانيه ج ۲ ص ۴۴۶ الى ۴۴۸ فصل ثالث

عَلَیکَ،اَللّٰهُمَّ لَکَ الْحَمْدُ عَلٰى نِعمَائِکَ وَاَفضَل صَلَوَاتِکَ عَلٰى سَیِّدِ الأَنبیائِکَ وَجَمِیعِ رُسُلِکَ وَاَصفِیَائِکَ وَعَلٰى آلِهِ وَصَحْبِهِ وَاَولِیَائِکَ،اویاهغه دعاګانې چې زړه یې وغواړي اوبه یې کړي،بیابه دوه رکعته واجب لمونځ دطواف په وخت مستحبه کې دمقام ابراهیم علیه السلام شاته،یاکوم ځای چې فارغ ؤوهلته به یې په پټه اوګه اداکړي، همدارنګه دمسجدحرم شریف څخه علاوه بل ځای کې هم دطواف لمونځ ادا کیږي، اوبیابه په اخلاص سره خپلې دعاګانې وکړي اودادعابه هم وکړي:

اَللّٰهُمَّ هٰذَا بَلَدُکَ الْحَرَامُ وَمَسْجِدُکَ الْحَرَامُ وَبَیْتُکَ الْحَرَامُ وَاَنَا عَبْدُکَ وَابْنُ عَبْدِکَ وَابْنُ اَمَتِکَ اَتَیْتُکَ بِذُنُوبٍ کَثِیْرَةٍ وَخَطَایَا جُمَّةٍ وَاَعْمَالٍ سَیِّئَةٍ وَهٰذَا مُقَامُ الْعَائِذِ بِکَ مِنَ النَّارِ ، اَللّٰهُمَّ عَافِنَا وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا أَنْتَ الْغَفُوْرُ الرَّحِیْمُ. اَللّٰهُمَّ إِنَّکَ دَعَوْتَ عِبَادَکَ إِلَى الْبَیْتِ الْحَرَمِ وَجِئْتُکَ طَالِبًا لِمَرْضَاتِکَ وَأَنْتَ مُنْظُرْ عَلَیَّ فَاغْفِرْ لِیْ وَارْحَمْنِیْ وَعَافِنِیْ وَاعْفُ عَنِّیْ إِنَّکَ عَلٰى کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ. اَللّٰهُمَّ یَسِّرْ لِیْ الآخِرَةَ وَالأُوْلٰى وَاعْصِمْنِیْ بِالْطَافِکَ وَاجْعَلْنِیْ مِمَّنْ یُحِبُّ وَیُحِبُّ رَسُوْلَکَوَ مَلٰئِکَتَکَ وَیُحِبُّ عِبَادَکَ الصَّالِحِیْنَ وَ اَوْلِیَائِکَ الْمُتَّقِیْنَ. اَللّٰهُمَّ کَمَا هَدَیْتَنِی لِلْاِسْلَامِ ثَبِّتْنِیْ عَلَیْهِ وَاسْتَعْمِلْنِیْ فِیْ طَاعَتِکَ وَطَاعَةِ رَسُوْلِکَ وَاَجِرْنِیْ مِنْ مُضِلَّاتِ الْفِتَنِ. اَللّٰهُمَّ أَنْتَ تَعْلَمُ سِرِّیْ وَعَلَانِیَتِیْ فَاقْبَلْنِیْ مَعْذِرَتِیْ وَتَعْلَمُ حَاجَتِیْ فَاعْطِنِیْ سُؤَالِیْ وَتَعْلَمُ مَا فِیْ نَفْسِیْ فَاغْفِرْلِیْ ذُنُوبِیْ ،اَللّٰهُمَّ إِنِّیْ اَسْئَلُکَ اِیمَانًا یُبَاشِرُ قَلْبِیْ وَیَقِیْنًا صَادِقًا حَتّٰى اَعْلَمَ اَنَّنِی لَایُصِیْبُنِیْ إِلاَّ مَاکَتَبْتَ عَلَیَّ وَرَضِّنِیْ بِمَا قَسَمْتَ لِیْ یَاذَ الْجَلَالِ وَالاِکْرَامِ. اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى حَبِیْبِکَ مُحَمَّدٍ وَعَلٰى خَلِیْلِکَ اِبْرَاهِیْمَ وَعَلٰى اِسْمَاعِیْلَ وَمُوْسٰى وَعِیْسٰى وَعَلٰى جَمِیْعِ

الانبیاءِ وَالمُرسَلِینَ وَآلِ کُلٍّ وَاَصحَابِهٖ وَمَن اتَّبِعَهُم بِاِحسَانٍ یَااَرحَمَ الرَّاحِمِینَ، بیابه زمزم مبارکواوبو ته راشي په مړه خیټه (ګیلاس) به یې دخپلو ادابوسره وڅښي، اوبه کوم نیت باندې چې زمزم وڅښي دهغه لپاره دواء علاج دی اوورو سته به دادعا وکړي: اَللّٰهُمَّ اَسئَلُکَ رِزقًا وَاسِعًا وَعِلمًا نَافِعًا وَعَمَلاً مُتَقَبَّلاً وَشِفَاءً مِن کُلِّ دَاءٍ،بیابه دحجر اسودمبارک ترڅنګلولویا استلام نه بعد دخپل ارمان دعاوي وکړي،بیابه صفاغونډي ته دسعی لپاره ورشي.

﴿ب:- دطواف ارکان﴾

محترمو!دطواف ارکان درې دي:-اول داچې: دطواف اکثر چکرونه پوره کول. دوهم:طواف دبیت الله شریف نه خارج اومسجد حرم کی دننه کول.دریم:پخپله طواف کول اګر چې په بل شئ سپورهم وي مګر بې هوشې لدینه مستثنی ده .

﴿ج:- دطواف شرائط﴾

محترمو! دطواف شپږ - ٦ - شرائط دي : - چې دري شرطونه یواځې دحج دطوافونولپاره دي،:- اول داچې: په خاص وخت کې طواف کول. دوهم: د طواف څخه مخکې احرام تړل . دریم : دحج دطوافونو لپاره وقوف عرفه ، او دري نور شرطونه دټولو طوافونولپاره شرط دی اول: اسلام ، دوهم: نیت ،او دریم: دمسجد دننه طواف کول.

﴿د:- دطواف واجبات﴾

محترمو! دطواف واجبات اته (٨) دي : اول داچې: له وړې او غټې بې اودسی نه پاک کیدل . دوهم : دعورت پټول . دریم: کوم شخص چې په

پياده تللو باندې قادر وي پياده طواف کول . ځلورم: دښي طرف نه يعني دحجر اسود نه دروازې وطرفته طواف شروع کول . پنځم: دحطيم نه بهر طواف کول . شپږم: دحجر اسود څخه دطواف شروع کول،البته پدي کې اختلا ف دی دعامو مشائخوپه نيزدسنت دی اوظاهر روايت هم دادی . اوم: مکمل طواف کول يعنې اکثر دطواف شوطونه کول رکن دی اولدينه زيات واجب دي . اتم: دطواف څخه وروسته دوه رکعته لمونځ کول، څنې علماء دغه واجب شميرلی دي، پس دواجبو حکم دادی چې ددی طواف اعاده وربانديې واجب دی،که اعاده يې ونکړه نو جزاء ورباندې لا زم دی.

﴿هـ:- دطواف سنن﴾

محترمو! دطواف سنتونه دادي:- اول داچې: دحجر اسوداستلا م کول، دوهم: اضطباع کول ، دريم: اول دري چکرو کې رمل (پهلواني) کول ، ځلورم: باقې شوطونوکې رمل نه کول بلکه په اطمنان سره تلل،پنځم: دسعی اوطواف په مينځ کې استلا م کول، دادهغه چالپاره چې دطواف څخه وروسته سعی کوي،شپږم: حجراسود ته مخامخ ادريدلوپه حالت دواړه لا سونه دتکبير تحريمه په شان پورته کول،اوم:دحجراسودڅخه دطواف شروع کول داکثروعلماء په نيزدسنت دی،او بعضی علماء يې واجب ګڼي ، اتم: طواف په حجراسودباندې ختمول،نهم: ټول چکر پيوسته (متصل) کول ، لسم: بدن اوجامې دنجاست حقيقي څخه پاکول.

﴿و:- دطواف مستحبات﴾

محترمو! دطواف مستحبات دادي:- اول داچې دحجراسودڅخه طواف پدې طريقه شروع کول چې دطواف کونکې مکمل بدن دحجر اسودسره

برابرمخامخ دطواف په کولو حالت کې راشي، دوهم: حجراسود درې ځله مخ کول، درېيم: دطواف کولو په وخت کې ماثوره دعاګانې ویل ، څلورم: دناربنه ولپاره بیت الله شریف ته نږدی طواف کول، پدې شرط چې هجوم اوخلقو ته تکلیف نه وي، پنځم: ښځو لپاره دشپې طواف کول، شپږم: طواف په مینځ کې پرېښودل، یامکروه طریقه باندې دطواف کولوپه صورت کې طواف یا دسرځخه شروع کول،اوم:مباح خبرې اتری پرېښودل، اتم: هغه شئ چې خشوع کې خلل غورځوي دهغې پرېښودل، نهم: دعا اواذکاردطواف په حالت کې په قلاره قلاره لوستل، لسم:رکن یمیني مغربي جنوبي طرف ته استلام کول یعني مسحه کول،البته دلاسونوپورته کول ورته مشروع ندي، یوولسم: کوم شی چې زړه مشغوله وي دهغه ځخه خپل نظرلیرې ساتل .

﴿ز:— د طواف مباحات﴾

محترمو! په طواف کې دغه شیان مباح اوجائزدي:— دسلام آچول،پرنجی راتللو باندې الحمدلله ویل،اومسائل شرعیه ښودل،یامسائل شرعیه پوښتنه تپوس کول،او چاسره ضروري خبرې کول،اوڅه څکل،اودعاګانو پرېښودل، اودښه شعرویل ،او دکوم عذرپه وجه په سوارلی باندې طواف کول، او په قلاره قلاره دقرآن کریم لوستل.

﴿ح:— دطواف محرمات﴾

محترمو!داشیان په طواف کې حرام دي:—دحیض اونفاس په حالت کې طواف کول، اوبغیردعذر ځخه په سوارلی باندې طواف کول، اوبې اودسه طواف کول،اودطواف کوم چکر،یاله دینه کم پرېښودل،اودحجراسودځخه علاوه

بل ځاى څخه طواف شروع كول، اوپه طواف كې واجبات پرېښودل، او طواف دخپل ترتيب نه برعكس كول .

﴿ط:- دطواف مكروهات﴾

محترمو! دا شيان طواف كې مكروه ګڼل كيږي:- فضول اوبې فائدې خبرې كول، اوكوم شئ خرڅول اواخيستل ،اويادډې بيعى ګفتګوكول، او هغه اشعارويل چې دحمدداوثناڅخه خالي وي،اوځينې علماؤخومطلقًا اشعار ويل مكروه بللي،اودعاګاني يادقرآن كريم تلاوت په اوچت آوازباندې كول ،چې هغه طواف كوونكويالمونځ كوونكوته دتشويش باعث وي،اوپه مردارو كالو(جامو) كې طواف كول، اورمل اواضطباع بلاعذره پرېښودل، يعنې په كوم طواف كې چې رمل اواضطباع مسنون وي،اودحجراسوداستلام پرېښودل، اودطواف په چكروكې زياته فاصله كول يعنې متصل نه كول، اودواړه لاسونه دطواف په نيت كې بلا تكبيره پورته كول، اودخطبې اويادفرض لمانځه دجماعت اودريدلوپه وخت كې طواف كول، اودطواف په وخت كې خوراك واله شيان خوړل، اوځينې علماؤخودڅكلوواله شيان هم مكروه ګڼلي دي، اودتقاضا(متيازو) دتنګيدلواوضرورت په وخت كې طواف كول، اوهمدارنګه دلوږې اوغصې په حالت كې طواف كول، اودطواف په وخت كې دلمانځه په شان لاسونه بندول، ياخلاصول، اوياغاړه باندې لاسونه كيښودل. [1] والله تعالى اعلم بالصواب.

---

(١) كلهامن الاركان الى المكروهات بحوالة درالمختار ج٢ ص ١٨٠ الى ١٨٥ ١٣٠

﴿پنځم بحث:- دطواف اوو(۷) قسمونوبیان﴾

﴿الف:- دطواف قدوم احکام﴾

محترمو! دي طواف قدوم ته طواف اللقاء،اوطواف الوُردهم وايي، داطواف قدوم هغه آفاقي شخص لپاره سنت ده چې دحج افراد (یوازې حج) يا دحج قران احرام يې تړلی وي؛اودحاجي متمتع اوعمره کوونکې لپاره سنت نه دی،اګرچې آفاقي وي؛اوهمدارازدمکې مکرمې اوسیدونکو لپاره هم طواف قدوم نشته،البته که دمکې مکرمې څخه بهرولاړشي اودمیقات څخه دحج افراد یادحج قران احرام وتړي، نوبیادهغه لپاره طواف قدوم مسنون دي، پس داحرام څخه وروسته چې په مکه مکرمه کې داخل شي نوطواف قدوم به کوي، اودا طواف قدوم آخروخت دعرفات وقوف نه وړاندې وړاندې دي،اولومړی وخت يې مکې مکرمې ته دداخلیدلوسره شروع کیږي.(۱)

(۱) دطواف قدوم فرائض

محترمو! دطواف قدوم فرائض دري (۳) دي: اول دا چې: دطواف نيت کول.دوهم: دبیت الله شریف نه طواف کول،او نه پربل ځای باندي . دریم: په مسجدحرم شریف کې دننه طواف کول .(۲)

(۲) دطواف قدوم واجبات:-

محترمو! دطواف قدوم واجبات دري(۳) دي: اول دا چې: پوره اوه شوطونه (ګردشونه)کول.اودویم:په طواف کې حطیم شریف داخلول یعنې شاوخواترینه

---

(۱) معلم الحجاج ص ۱۳۲

(۲) ردالمحتارج ۲ ص ۱۸۰الی ۱۸۳فصل احرام

طواف کول.اودریم:دطواف څخه وروسته دوه رکعته واجب لمونځ کول.(۱)

(۳) دطواف قدوم سنن

محترمو! دطواف قدوم سنت نه (۹) دي: اول داچې: په اولودریوچکرونو کې رمل کول، یعنی داګوخورول، واړه واړه قدمونه اخستل. دوهم: په ټولوشوطونو دطواف کې موالات (اتصال) کول.اودریم: دریوشوطونو درمل څخه وروسته نوروشوطونوکې په عادي توګه سره تلل یعني رمل نه کول. اوڅلورم: په هرشوط کې چې حجراسودته رسیږي دهغې استلام کول، او درکن یماني په دواړه لاسونویاپه ښی لاس باندې مسحه کول بغیر دښکلولو څخه، اوکه دګڼې زحمي په وجه چې دمسحه کولوڅخه عاجزشي بیاذې نه مسحه کوي، اواشاره به ورته هم نه کوي لکه بعضې جهّال داکارکوي. اوشپږم: په مابین دطواف اوسعی کې دحجراسوداستلام کول. اواوم: په حجراسوددطواف ختمول. اواتم: دطواف څخه وروسته متصل دوه رکعته واجب لمونځ کول په غیرمکروه وخت کې. اونهم: په ټول طواف کې اضطباع کول یعني ښی اوګه لوڅول.(۲)

(۴) دطواف قدوم مستحبات

محترمو! دطواف قدوم مستحبات یوولسم (۱۱) دي:اول داچې:دحجراسود نه درکن یماني لورته چې ټول حجراسودیې ښی طرف ته راشي دطواف کوونکې اودریدل، اوهمدلته دطواف نیت کول. اودوهم: دحجراسودسره

---

(۱) ردالمحتار۱۸۲ الی ۱۸۴ ج ۲

(۲) ملخص ردالمحتارص ۱۸۰ج ۲الی ۱۸۵

مخامخ کیدوپه وخت په دواړولاسونو باندې استلام کول. اودریم: دلاسونو پورته کول ترغوږوپورې، اوتکبیر اوتهلیل ویل،البته لاسونه پورته کول بغیر داستقبال څخه مکروه دي.اوڅلورم: دطواف دچکرواوشوطونوپه مینځ کې پای ترپای اتصال اوموالات کول.اوپنځم:دمقام ابراهیم علیه السلام شاته دطواف لمونځ اداکول خوپدې شرط چه طواف کونکوته ضررنوي.اوشپږم:پس له طوافه په ملتزم شریف پورې ځان مبنل اومتصل کیدل.اواوم:پس ترمتصل کیدل دملتزم شریف نه دطواف لمونځ اداکول.اواتم:پس دلمانځه دطواف څخه دآب زمزم دمبارکواوبوڅکل.اونهم: پس دڅکلوداب زمزم مبارک څخه دسعی کولولپاره دحجراسودمبارک استلام کول،اولسم:دحجراسودداستلام په وخت تکبیراوتهلیل ویل. اویوولسم: دسعی لپاره په باب صفاباندې صفاته ورتلل. ([1])

﴿ب:- دطواف زیارت احکام﴾

محترمو!دي طواف ته طواف رکن او طواف فرضي هم وایي،اودادحج رکن دی چې له دینه بغیرحج نه پوره کیږي، اوددې وخت دذی الحجې دلسمې نیټې دصبح صادق راختلوڅخه شروع کیږي،اوتردولسمې نیټې دذی الحجې ماښام پورې،کچیرته یې ددې ورځوڅخه ورروسته کړونوبیادم پرې واجبیږي.([2])

﴿ج: - د طواف صدر احکام﴾

محترمو! دي طواف ته طواف وداع هم وایي ، اودا طواف صرف په آفاقي باندې واجب دی،اوپه مکې شخص یاپه هغوخلقوچې مکې مکرمې کې میشته

---

[1]) ملخص ردالمحتارج۲ص ۱۸۰- ۱۸۵

([2]) فتح القدیر ج۳ ص ۳۸۹ فی الفروع .

وي واجب ندی،اودا دري مذكوره طوافونه حج سره مخصوص دي. (۱)

﴿د:- طواف نذري احكام﴾

محترمو! داطواف نذري په هغه چا واجب دی چې ددې نذربې کړي وي، يعنې اداكول يې فرض دي، اوداعتقادپه لحاظ سره واجب دي، اونذري طواف چې مطلقايي نذركړی وي نوهغه ټاکلی وخت نلري،بلكه په هر وخت كې يې اداكولی شي، كه په هغه نذركوونكې باندې بل فرضي طواف دزيارت يادعمرې يادنذرمعين هم په ذمه باندې لا زم ؤو،نوددغه نذري غير معين طواف دآدا كولو وخت ترهغه نوروطوافونونه وروسته دی، اوهمدراز دانذرمعين طواف ترنذرغيرمعين طواف قوي دی، له دې وجې نه به غير معين طواف په وخت دمعين طواف كې نه اداكوي (۲)

﴿هـ:- د طواف عمرې احكام﴾

محترمو!داطواف په عمره كې ركن اوفرض دی،چې دي كې به رمل اواضطباع كوي، او طواف نه وروسته به سعی هم كوي، اواول وخت دطواف عمرې تراحرام تړلووروسته دی، اوآخروخت نه لري، لهذا فوت كيدل هم نه لري، نوچې هروخت يې وغواړی نوكولی يې شي(۳)

﴿و:- د طواف تحيه احكام﴾

محترمو! داطواف په مسجدحرم شريف كې داخليدونكې لپاره مستحب دی، لكه څنگه چې په نورومساجدوكې دداخليدونكې لپاره تحية المسجد

---

(۱) ارشادالساری ص ۱٦۸

(۲) ارشادالساری ص ۹۷

(۳) ارشادالساری ص ۹۷

لمونځ کول سنت دی، البته په مسجدحرم شريف کې په داخليدوچې کوم طواف کولی شي هغه به ددې قائم مقام کيږي لکه طواف قدوم، ياعمرې، يانذری مطلق، يامعين، ياطواف زيارت، اوياطواف صدرشول، که يوسړی حرم شريف ته داخل شو دځه مانع يامشکل په خاطرېې طواف تحيه نشو کولی، بيادي دوه رکعته نفل دتحية طواف په ځای وکړي.(۱)

﴿ز:- د نفلي طواف احکام﴾

محترمو! نفلي طواف هرڅوک هرکله کولی شي، چې مناسب يې وګڼي که څه هم دلمانځه مکروه اوقات وي، خودفرضي ياواجبي طواف وختوکې يادفرض لمونځ په وخت کې يانورشرعي مصروفياتوپه وخت کې به يې نه کوي،اونفلي طواف مسلمان دجنابت څخه پاک اودبې اودسۍ څخه پاک، اوپوهيدونکی شخص کولی شي، اونفلي طواف په نيت اوشروع کولوسره لازميږي، کچيرته نفلي طواف يې بې اودسه وکړ نودصدقة الفطرپه اندازه صدقه پرې لازميږي . همدارنګه که طواف قدوم، اوتحيه طواف، اونفلي طواف،اودوداع طواف يې په بې اودسۍ سره وکړوصدقه ورباندې لازميږي ،ارکه نفلي طواف يې په نجاست يعنې پليتۍ يامرداربدن، اويامردارې جامې سره،اوياپه حالت دکشف عورت کې وکړونوصدقه وربندې لازميږي.(۲)

﴿دپنځم بحث متعلقه مسائل﴾

(۱)مسئله:دطواف نيت کولوڅخه وروسته به حجراسودته روان شي دلاس دواړه ورغوي (تلي) اوخوله به حجراسودباندې کيږدي،اودرې ځلې به يې

---

(۱) ارشادالساری ص ۹۷

(۲)هدايه ج۱ ص ۲۷۲ الی ۲۷۳

ښکل کړي، البته دڅپ چپ اوازبه نه کوي؛ اوکه ښکلول مشکل ؤونو دواړه تلي يايوه تله به ورباندې کيږدي، اوتلي به ښکل کړي يعني مراد دتلي ځخه دلاس ورغوي دي؛اوکه داهم مشکل ؤونوامساءوغيره به حجراسود ته ورسوي اوښکل به يې کړي؛اوکه داهم مشکل ؤونومخامخ به حجراسود ته ودريږي اګرکه ډيرلري وي،او لاسونه به اوچت کړي اوحجراسودطرف ته به داسې اشاره وکړي،لکه چې لاسونه يې پرې ايښي وي،اوبسم الله والله اکبربه ووايي،اولاسونه به ښکل کړي،اوچپه((ګس))اوګه به بيت الله شريف طرفته تاوه کړي، اودښى طرف نه به طواف شروع کړي، اودحطيم نه بهربه تيريږي، اوچې رکن يماني ته ورسيږي نودواړه لاسونه ياصرف ښى لاس به ورباندې کيږدي، البته نه به رکن يماني ښکلوي، اونه به ورباندې ټنډه (تندی) کيږدي، لکن دامام محمدرحمة الله تعالى عليه په نيزدرکن يماني ښکلول سنت دي، اوکه چيرته دلاس کيښودل مشکل وي، نوبيا به رکن يماني ته اشاره نه کوي، يعنې بغيرداشارې ځخه به تيريږي، اوهرځلي چې جحراسودبرابرې ته ورسيږي نوحجراسودبه ښکل کړي،اوبسم الله والله اکبربه ووايي، اوابن همام رحمة الله عليه فرمايي چې لاسونه به صرف دطواف شروع کولووخت کې اوچتوي بيانوروچکروکې به يې نه اوچتوي.(۱)

(۲) مسئله : عمره کوونکی اومتمتِع حاجي چې دعمرې په طواف باندي شروع کوي، نوپه وخت داول استلام کې به تلبيه بنده کړي.(۲)

---

(۱) ملخص شرح تنوير وردالمختارص ۱۶۶ ج ۲

(۲ شرح الباب بحواله مسائل حج ص ۱۴

اوهمدراز که حاجي مُفرَدوي که حاجي متمتع وي اوکه حاجي قارن وي
نودري به په وخت دشروع دويشتلو دجمرة العقبې کی تلبيه بنده کړي.

(۳) مسئله : دحجراسودپه استلام کې نوروطواف کوونکوته ديکې (ټيلې) اوتکليف ورکول حرام اولويه ګناه ده، دګڼوالي (رش) په وجه که حجراسود نشي ښکلولی نودواړه لاسونه یاامساءوغیره سره به استلام وکړي اويادي دواړه لاسونه دلرې ځای څخه ترغوږونوپورې په دي شان پورته کړي چې ورغوې يې حجراسوداوشاګاني يې خپل مخ ته راولي، اويادي خپل ورغوې ښکل کړي، نودحجراسود اودخانه کعبې ددروازې دچوکاټ نه علاوه دکعبې شريفې بل کوم ګوټ یاکومه برخه ښکلول ممنوع دي، البته رکن يماني په لاس مسحه کول سنت دي، خوښکلول يې دجمهوروعلماء په نزد روا ندي .(۱)

(۴) مسئله: دطواف لپاره نيت شرط دی که يو سړي بغيردنيت څخه طواف وکړي نوطواف يې معتبرندی،اومعذوريامريض که چاپه شااوياچاپه اوګوپورته کړ نودا صورت هم جائزدی، نوکه معذوريامريض په هوش کې وي نوپخپله دي دطواف نيت وکړي، اوکه داحرام څخه وروسته بې هوشه شوی وي نودهغه چانيت هم ورلره کافي دی چې چاپورته کړی وي، همدرازپه دې صورت کې دمعذوراودپورته کونکي ددواړوطواف وشو، خوکله چې يې دځان لپاره هم دطواف نيت کړی وي لهذا دغه پورته کونکی به بيا دوباره دځان لپاره طواف نه کوي، اوکه چاديوناپوهه کوچني

(۱) معلم الحجاج ص ۱۳۲

له اړخه احرام تړلی وي، نوهغه کوچني دي په غيږه کی واخلي اودخپل طواف اودهغه کوچني دطواف نيت دي وکړي، نوددواړوطواف به وشي؛ دغسې که دصفا مرواسعی هم وکړي نوددواړوله طرفه به ادا شي.(۱)

(۵)مسئله: کوم طواف څخه وروسته چې سعی کول وي په هغه کې اضطباع کول مسنون دي،اوپه دي مسئله کې دحج اوعمرې دواړويوحکم دی، او اضطباع معنی داچې څادردښی اوګي لاندې تيرکړي،اوپه چپه اوګه به يې واچوي ،نوښی اوګه يې لوڅه پاتي شي، دااضطباع به په ټولو اوو(۷) چکروکې وي، کله چې دطواف لمونځ کوي نوښی اوګه به پټه کړي، ځکه چې په لوڅه اوګه لمونځ کول مکروه دي، اوځيني ناپوهه خلک دسعی په حالت کې هم اضطباع کوي اوهم په اضطباع سره په بازارونوکې ګرځي داښه نه کوي، ځکه چې اضطباع په هغوطوافونوکې مسنون ده چې دهغې څخه وروسته سعی کول وي، اونورپه هيڅ يوطواف وغيره کې اضطباع مسنونه ندي.(۲)

(٦) مسئله:هغه طواف چې ورپسې سعی وي دهغه په اولو دريو چکرو کې دنارينه ولپاره رمل کول سنت دی، يعنې ګړندی به شي اولنډ لنډ قدمونه به اخلي،اواوګي به خوځوي،البته داسی به نه کوي چې منډه وهي،اوياټوپونه وهي، بلکه صرف شجاعت به ښکاره کوي، که دګڼوالي له وجې نه رمل (پهلوالي) نه شي کيدی نوطواف به وروسته وکړي اوکه دګڼوالي دختميدلو

---

(۱) معلم الحجاج ص ۱۳٦ بزيادة

(۲) ردالمحتارج۲ ص ۱۷۱

امید نوي نوبیا به طواف شروع کړي،اوداول دريوچکروپه دوران کې که مرقعه پیداکړي نورمل به وکړي، اورمل سنت مؤکده ده پرېښودل يې ګناه دی، ليکن که چارمل پرېښودونو قرباني ياصدقه ورباندي نه لازمېږي .[۱]

(۷) مسئله:دکمزوري يابوډاوالي په وجه سره که يو سړي رمل پرېږدي نو هيڅ بديت يې نشته، اوکه رمل کول يې هېرشي اوبياديو اويادوه چکروڅخه وروسته ور په يادشي نوپه دي صورت کی به بياپه پاتي چکرونوکې رمل وکړي،اوکه دشروع ددرې چکرونوڅخه وروسته ورپه يادشي ، نواوس دي رمل نه کوي، ځکه چې آخرڅلوروچکروکې رمل کول سنت ندي، اوکه په ناپوهی سره يو سړي اوو(۷) چکرونوکې رمل وکړونوداسی کول مکروه دی، لکن کومه جزاء ورباندې نه لازمېږي.[۲]

(۸) مسئله: خانه کعبې شريفی ته ليدل (کتل)عبادت دي، البته دطواف په حالت کې به خانه کعبې شريفی ته نه ګوري. [۳] اودمسجدحرام شريف په چت باندي طواف کول جائزدي. [۴] اوکه طواف کوونکی دلمونځ کوونکي مخکې تيرېږي نودا په مطاف جائزدي .[۵]

(۹) مسئله: که چاټول طواف قدوم ياااکثرطواف قدوم، ياطواف صدر، اويا نفلي طواف په جنابت حالت کې وکړو،نوپه ده باندې دم(هديه)واجب ده،

---

(۱)ردالمحتار ج۲ ص ۱۸۳

(۲) معلم الحجاج ص ۱۳۴

(۳) ماخوذازغنيةايضاح نووی

(۴) شرح لباب

اوکه بې اودسۍ حالت کې یې وکړو،نودهرچکرلپاره وربانديې په مقدار دسرسایه صدقه ورکول واجب دي، اوکه داطوافونه یې بیا دوباره په حالت دپاکۍ کی وکړل،نودا لازم شوي هدیه اویاصدقه ترینه ساقطه شوه،اوکه چا طواف په پلیتواحراماواوجاموکې وکړنومکروه دی،لکن نه په ده باندې دم واجب دي اونه وربانديې صدقه واجب دي،برابره خبره ده که داطواف فرض وي،که نفل وي،که واجب وي اوکه سنت وي،اوهمدارازکه لږځای داحراماواوجامو(کالو)یې پلیت وي،اوکه ټولې جامې اواحرامونه یې پلیتې وي.[۵]

(۱۰) مسئله:هرکله چې طواف ختم کړي نوآخرکې به حجراسودښکل اویا به یې استلام وکړي، نوبیا افضل دادی چې دطواف دوه رکعته واجب لمونځ دمقام ابراهیم علیه السلام شاته، اویادمیزاب الرحمة لاندې وکړي، پهدی شرط چې چاته تکلیف اوضرر نوي، البته که مشکل وي بیا چې هرځای کې ورته موقعه پیداشي نوهلته دي وکړي، که هغه حرم شریف وي که حل وي، اوکه یو سړي ډیرطوافونه په یوځل وکړل اوآخرکې یې بیا دهرطواف لپاره دوه دوه رکعته لمونځ وکړ، نوذمه خو یې فارغه شوه البته داسی کول مکروه دی، اوچې کوماوقاتوکې نفل کول مکروه وي ، نودي اوقاتوکې دا طواف لمونځ هم مکروه دي، البته دامام طحاوی رحمه الله تعالی په نیزد دمازدیگر ترلمانځه وروسته به ترلمر زیړي پورې، او وروسته دختلودصباځخه ترلمرختوپورې دا طواف لمونځ جائزدي،اومکروه هم ندي، که څوک طواف ددمازدیگر لمونځ څخه وروسته وکړي، نوبهتره

---

(۵) شرح لباب بحواله مسائل حج ص ۱۵

...وادی چې دا طواف لمونځ دمابنام دفرضوڅخه وروسته، اودسنتوڅخه وروسته...

...کې وکړي، اوکه په عین طلوع الشمس، زوال،اوغروب کې یې دطواف

...لمونځ شروع کړ،دهغه طواف لمونځه هیڅ اعتبارنشته یعني بیاآداءکول

...ورباندې واجب دي،ځکه چې دغه اوقاتو کی لمونځ کول جائزندي، که په

...دوهم طواف کې یې شروع وکړه، بیا دطواف لمونځ ورته په یادشو،نو په

...دې صورت کی به طواف پریږدي اودطواف لمونځ به وکړي، اوکچیرته

...ئې ځکرپوره کولوڅخه وروسته ورته په یادشو، نوبیادي طواف پوره کړي،او

...وروسته دواړو طوافونو لپاره دوه دوه رکعته لمونځ وکړي. [1]

...په ترغیب کې دابن عمررضی الله تعالی عنهماڅخه یوحدیث شریف مروي

...دی چې دطواف څخه وروسته ددوه رکعتولمونځ ثواب داسې ده لکه

...دعربي غلام یې چې آزادکړي وي.

(۱۱)مسئله:دطواف لمونځ څخه وروسته به زمزم مبارکواوبوته راشي اوځان

...به پري موړ کړي،اودتعظیم په نظربه ورته وګوري،اوتبرکًااودس اوغسل

...هم ورباندې کولی شي،البته آب زمزم باندې استنجاء کول،اوبې اودسی لری

...کولو لپاره اودس پرې کول،اودجنابت نه غسل پرې کول، اویا پلیتې پرې

...پرینځل مکروه دي،چونکه مسجدکې اودس اوغسل کول مکروه دي نوپه

آب زمزم به دمسجدشریف څخه خارج په پاک ځای کی به اودس اوغسل

تبرکًاکولی شي،دآب زمزم په ولاړه څکل بلاکراهت جائزدي،البته داسې نه

...دی چې په ولاړه څکل یې مستحب دي،وروسته دڅکلودآب زمزم څخه به

(۱) شامی ومعلم الحجاج ص ۳۱۳

ملتزم شریف ته راشي،چې دادخانه کعبې شریفي هغه حصه ده چې حجراسود
څخه بیاتردروازې پورې دي،اوکه څوک دطواف څخه وروسته ملتزم ته
راشي،اوبیادطواف لمونځ وکړي اوبیازمزم ته ورشي نودصورت به آسانه وي.(۱)

﴿طواف کې دځینوحجاجوکراموخطاګاني﴾

محترمو! په طواف کې ځیني حجاج کرام خطاګاني کوي چې ددي اصلاح
ضروري دي نو ځنې خطاوی یې په لاندې ډول دي:-

(۱)-غیردباب السلام څخه حرم شریف ته داخلیدل،اویاله دي دروازې نه
داخلیدل لازم بلل.

(۲) - دطواف په لمانځه کې اوګي نه پټول، اواضطباع په دوام سره
کول،اوحال دادی چې اضطباع به یوازې توګه دطواف په مهال کې کولی
شي بیا وروسته له طواف نه جائز ندي.

(۳) - دحجراسود دچپي خواته دطواف شروع کولو په محال نه ادریدل،
ځکه چې دحجر اسود ښی طرف ته ددریدلو په صورت کې دیوه روایت
مطابق دطواف شروع نه صحیح کیږي، بلکه طواف یې غیرصحیح دي.

(۴) - دحجراسودڅخه دطواف نه شروع کول:

(۵) - په حجراسوداورکن یماني باندي آله ګوله جوړول اوتمبه ټیل کول
اوزرونه کول دښکلول یامسحه کول لپاره چې داصورتونه ممنوع دي.

(۶)-داعقیده لرل چې دحجراسودښکلول دصحت طواف لپاره شرط دي.

(۷) - درکن یماني اوباقي ارکان ښکلول بلګه دقدرت په صورت کې به

---

(۱) شرح لباب وشامی بحواله مسائل حج ص ۱۰۶الی ص ۱۷

یا رکن یماني مسحه کوي .

(۸) - اوپه حجراسودباندې خوشبوی لګول چې دغه وخت کې یې استلام
هم پکارنه دی؛ ځکه چې دخوشبوی استعمالول محرم لپاره ممنوع دي
بلکه اشاره به ورته کوي .

(۹) - په کوم طواف کې چې رمل وي درمل(پهلواني) پریښودل، اویاپه
ټولوچکروکې رمل کول .

(۱۰)- دطواف په وخت ښځوسره دبدن له لګیدو ځخه ځان نه ساتل،
ځکه چې دښځو سره بدن مسحه کول مکروه تحریمي دي .

(۱۱) - دطواف په وخت کې بیت الله ته مخامخ کیدل،البته استلام کې به
حجراسودته مخامخ کیږي تردې پورې چه دخپونوکان به یې هم ورته
مخامخ وي،خوپښې به یې پخپل ځای وي حتی کی چه یوقدم دطواف یې
هم کم نه شي.

(۱۲)-دطواف لمونځه دنفلوپه نیت کول بلکه دواجب لمونځ نیت به ورته کوي.

(۱۳)-دخلقودطواف په ځای کې دطواف لمونځ کول،اویاداګومان کول
چې دطواف لمونځ به هرومروپه مقام ابراهیم علیه السلام کې کولی شي
اګرچې طواف کوونکي ته زیات تکلیف رسیږي، اوکله دلته داسې موقعه
هم پیښه شي چې دګڼوالي په وجه یې دطواف لمونځ ګډوډ اوفاسدشي،
اوبعضی کسان ترخپو لاندی مړه شي.

(۱۴)-دطواف دوه رکعته لمونځ اودنورو ګټونو،دایوخوادنورو خلقودلمونځ
کولو مانع ګرځي،چې له دوی ځخه هغه په دغه مقام کی دطواف دلمونځ

کولوزيات مستحق دی،اوبله خواداکارخلاف سنت دی ځکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به دغه دوه رکعته لمونځ مختصرکولو.والله تعالی اعلم بالصواب

﴿شپيږم بحث: - دسعی بيان﴾

﴿الف :- دسعی کولو طريقه﴾

محترمو! دصفااومروا ترمينځ اوه واره (ځله) تللو راتللو ته سعی وائي، چې په حج اوعمره دواړوکې واجب ده، داپه حج کې دطواف قدوم اويادطواف زيارت څخه وروسته کيدی شي، يوحديث شريف دی چې دصفااومروا ترمينځه دسعی ثواب داويا(۷۰) غلامانودآزادولوبرابردی.[(۱)] پس دسعی طريقه دادی: چې کله دطواف لمونځ،اوزمزم،اوملتزم څخه فارغ شي،نوحجراسود ته به ورشي دهغه استلام به وکړي،اويابه ورته اشاره وکړي،بيابه صفا طرفته روان شي اوصفاته درسيدلوڅخه مخکې به داکلمات ووايې: اَبْدَءُ بِمَا بَدَءَ اللهُ بِهِ إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِن شَعَآئِرِ اللّهِ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْهِ أَن يَطَّوَّفَ بِهِمَا وَمَن تَطَوَّعَ خَيْرًا فَإِنَّ اللّهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ.اوچې صفاغونډۍ ته ورسيږي نوبيت الله شريف ته به مخ کړي داسې چې کعبه شريفه ورته ښکاريږي،اونيت دسعی به وکړي چې ياالله تعالی زه ستا درضا اوخوشحالی لپاره دصفا مرواغونډيوترمينځه دسعی داوو (۷)گردشونواراده لرم،ته يې ما لپاره آسان اومانه يې قبول کړي،اودزړه نيت هم کافي دی،اوداسې به لاسونه پورته کړي څنگه چې دعا لپاره لاسونه پورته کوي، اولاسونه به دلمانځه په شان هرگزنه اوچتوي، داده جاهلانوکاردی، بيابه حمد اوثنا

---

(۱) کمافی الترغيب عن ابن عمررضی الله تعالی عنهما

اوتكبير درې درې ځله ووايي، لَاإِلَهَ إِلاَّ اللهُ، اودرودشريف به ووايي اودعاوي به وكړي.(١)

اودادعابه هم وكړي: أللهُ أكبَرُ اللهُ أكبَرُ لَاإِلَهَ إِلاَّ اللهُ واللهُ أكبَرُ وَلِلّهِ الْحَمْدُ اَلْحَمْدُ لِلّهِ عَلَى مَاهَدَانَا اَلْحَمْدُ لِلّهِ عَلَى مَا اَوْلَنَا لَاإِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لَاشَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِي وَيُمِيتُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَئٍ قَدِيرٌ لَاإِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ وَصَدَقَ وَعْدَهُ وَنَصَرَ عَبْدَهُ وَهَزَمَ الاَحْزَابَ وَحْدَهُ لَاإِلَهَ إِلاَّ اللهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ، فَسُبْحَانَ اللهِ حِينَ تُمْسُونَ وَحِينَ تُصْبِحُونَ وَلَهُ الْحَمْدُ فِي السَّمٰوَاتِ وَالاَرْضِ وَعَشِيًّا وَحِينَ تُظْهِرُونَ يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَيُحْيِ الاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَكَذَالِكَ تُخْرَجُونَ، اَللَّهُمَّ إِنَّكَ قُلْتَ وَقَوْلُكَ الْحَقُّ اُدْعُونِي اَسْتَجِبْ لَكُمْ وَإِنَّكَ لَاتُخْلِفُ الْمِيعَادَ وإِنِّي اَسْئَلُكَ كَمَا هَدَيْتَنِي لِلْاِسْلَامِ اَنْ لَاتَنْزِعَهُ مِنِّي وَاَنْ تَتَوَفَّانِي مُسْلِمًا وَقَدْرَضِيَهُ عَنِّي، اَللَّهُمَّ لَاتُقَدِّمْنِي لِعَذَابٍ وَلَا تُؤَخِّرْنِي لِسَيِّئِ الْفِتَنِ، اَللَّهُمَّ اَحْيِنِي عَلَى سُنَّةِ نَبِيِّكَ مُحَمَّدٍ صلي الله عليه وسلم وَتَوَفَّنِي عَلَى مِلَّتِهِ وَاَعِذْنِي مِنْ مُضِلَّاتِ الْفِتَنِ، اَللَّهُمَّ اَعْصِمْنَا بِدِينِكَ وَطَوْعَتِكَ وَطَاعَةِ رَسُولِكَ صلى الله عليه وسلم (١)

اوداسې نورې دعاګانې دخيرددنيااواخرت چې زړه يې غواړي هغه به وكړي.(٢)

اودسورت بقرة دپنځه شپته(٦٥)آياتونو په مقداربه دعاګانې وكړي، بيابه سعی شروع كړي اودشنو راډونوترمينځ دنارينه لپاره سنت دی چې بنه

ګرځندى شي، لكن دجاهلانو په شان منډې به نه وهي، نوپه عين حال كې به دادعا كوي: رَبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ وَتَجَاوَزْ عَمَّا تَعْلَمُ إِنَّكَ أَنْتَ الأَعَزُّ الأَكْرَمُ نَجِّنَا مِنَ النَّارِ سَالِمِيْنَ وَاَدْخِلْنَا الْجَنَّةَ آمِنِيْنَ، اوكله چې اخرې راډونو ته ورسيږي بيابه خپل عادي تګ شروع كړي، اوداتهليل به وايې: لاَإِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَشَرِيْكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِي وَيُمِيْتُ وَهُوَ حَيٌّ لاَيَمُوْتُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ،

دغه تهليل اوتقديس به ترهغه پورې وايې ترڅوچې ترمروا غونډۍ پورې ورسيږي، اوپه مرواغونډۍ به هم دصفاغونډۍ په شان بيت الله شريف ته مخ كړي اوحمد اوثنا اوتكبير اوتهليل اودرودشريف به ووايې، اودعاګانې به وكړي، نوكله چې دصفاڅخه مروا ته راشي دايوشوط شو، اوبيا كله چې صفاته راشي دابل شوط شو، يعنې دصفاغونډۍ څخه شروع اوپه مرواغونډۍ به ختم شي نو په دى طريقه به اوه شوطه پوره كړي ؛ پس كله چې دسعى څخه فارغ شي نومستحب ده چې مسجدشريف كې دوه ركعته نفل لمونځ دسعى وكړي، كچيري حاجي قارن ؤو هغه به بيابل طواف اوبله سعى هم وكړي، يعنې دغه يوطواف اوسعيه يې دعمرې وه، اوبل طواف اوسعيه به يې دحج شي؛ كچيري حاجي مفرد ؤو پس دغه به ترټولوافعالودحج پورې په احرام كې وي، يعنې حاجي مفرد اوحاجي قارن به ځان نه حلالوي، اونه به سر خريي اونه به كالي اغوندي، بلكه محرم به اوسيږي، البته نفلي طوافونه كولاي شي خوپه نفلي طوافونو كې يې اضطباع نشته، اودغه نفلي طوافو كى رمل هم نشته، البته دنفلي طوافونونه وروسته به دوه ركعته

واجب لمونځ اداکوي؛ او نفلي سعی به نه کوي ځکه نفلي سعی نشته، اوبل حاجي مفرد اوحاجي قارن له طواف قدوم اوعمرې وروسته تلبيه ويلی شي، لکن طواف کې به يې نه وايي، ځکه چې داوقارن تلبيه دجمرې عقبې ويشتلوپه وخت ختميږي، اونفلي طواف لپاره دنفلي لمونځ څخه افضل دی؛

حاجي متمتع ژونودی به دعمرې دآداء کولوڅخه وروسته خپل حلال کړي، نو سر به وخريي اوکالي به واغوندي، اودسرخريلوپه کې به دادعا کوي:اَللّٰهُمَّ اَثْبِتْ لِيْ بِكُلِّ شَعْرَةٍ حَسَنَةً وَامْحِ بِهَا سَيِّئَةً وَارْفَعْ لِيْ بِهَا عِنْدَكَ دَرَجَةً وَصَلَّى اللّٰهُ عَلَى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِهِ وَصَحْبِهِ وَسَلَّمْ تَسْلِيْمًا كَثِيْرًا،کله چې متمتع داحرام څخه خارج شي، نوبيادده خوښه ده که عمرې کوي اوکه نفلي طوافونه کوي، بيابه په اتمه ورځ دذی الحجې باندې په مکه مکرمه کې دحج احرام وتړي، بيابه دحج نورمناسک په شرعي طريقې سره اداء کړي. (۱)

﴿ب:- د سعی صحت شرائط﴾

محترمو! دسعی دصحت شرطونه اوه دي:-اول دا چې:دصفااومرواپه مابين کې تلل: لهذاکه سعی کوونکی په بله لاره صفااومروا ته ورځي نوسعی يې نه صحيح کيږي . دوهم: له طواف کولو وروسته سعی کول.دريم: ترسعی کولونه مخکې احرام تړل.څلورم:له صفا نه دسعی شروع کول اوپه مروا باندې يې ختمول،کچير ته دسعی شروع يې دمرواڅخه وکړه نواول شوط

(۱) شرح لباب وتاتارخانيه ج۲ ص ۴۵۰ فصل الثالث

یې معتبر ندی.پنځم: سعی تر داسې طواف څخه وروسته کول چې مله طواف یې په طهارت سره اداکړې وي. شپږم:سعی دحج په میاشتو کې کول ،که له دې زمانې څخه یې مخکې حج لپاره سعی وکړه نوداسعی نه معتبره ندي.اوم: دسعی زیاتره اواکثرشوطونه کول،که یې کم شوطونه وکړل نو سعیه یې صحیح نه دی،کچیرې یولدې مذکورو شرائطودصحت څخه پاتې شي نوبیا ور باندې اعاده دسعی لازمه دي.(۱)

﴿ج:- د سعی واجبات﴾

محترمو!دسعی واجبات څلوردي:- اول دا چې:اووه واړه شوطونه دسعی پوره کول.دوهم:په خپلوپښوسعی کول یعني غیرمعذورلره. دریم : دعمرې لپاره دسعی په حال کې احرام تړل واجب دي البته شرط نه دی.څلورم: دصفا اومروا غونډیوته ځان رسول . (۲)

﴿د:- دسعی سنن﴾

محترمو! دسعی سنن پنځه دي:-اول دا چې:دطواف اوسعی ترمینځ موالات (اتصال)کول . دوهم: دصفااومرواغونډیو ته ختل. دریم: دسعی دشوطونو مابین کې موالات(اتصال)کول.څلورم: ددواړوشنو راډوپه مابین کې منډې وهل یعني ګړندی تلل.پنځم:دسعی په وخت کې دعورت پټولولحاظ ساتل.(۳)

﴿هـ :- دسعی مستحبات﴾

محترمو! دسعی مستحبات پنځه دي:-اول داچې:دسعی مستقل نیت کول.

---

(۱) ارشادالساری ص ۱۱۷الی ۱۲۰

(۲) ارشادالساری ص ۱۲۰

(۳) ارشادالساری ص ۱۲۰ الی ۱۲۲

درهم: ذکراودعاګانې کول. دریم: ظاهرًا اوباطنًا خشوع اوعاجزي کول. څلورم: له هرقسم نجاست څخه دبدن اوکالو پاکول. پنځم: سعی وروسته دوه رکعته لمونځ په حرم شریف کې اداکول. (۱)

﴿و:- دسعی مباحات﴾

محترمو! دسعی مباحات دوه دي:- اول دا چي: جائز خبرې اترې کول خرچې دخشوع سره منافي نوي.

دوهم:داسې خوړل اوڅکل چې دسعی چکروکې موجب دجدایې اوفاصلې نوي.

﴿ز:- دسعی مکروهات﴾

محترمو! دسعی مکروهات نه دي: اول دا چي:دسعی مابین کی خرڅول او اخیستل.دوهم:داسې خبرې اترې کول چې توجه اړوي.دریم :ذکراودعا نه کول. څلورم: سعی کی موالات (پیوستوالی) نه کول. پنځم: صفااومروا غونډیو ته نه ورختل. شپیږم: سعی بلاعذره له طواف نه زیاته وروسته کول. اوم: دعورت پټولولحاظ نه ساتل. اتم: میلینوکې یعني ددواړوشنو راډوپه مابین ګړندی اوتیزنه تلل.نهم: چکروکې زیاته فاصله کول؛نوداټول شیان په سعی کی مکروه دي. (۲)

﴿ح:- دحج خطبې﴾

محترمو!حج کې حاجیانولارښودني دپاره درې ورځې خطبې ویل سنت دي ،اوله خطبه: په اوومه دذی الحجې په مکه مکرمه کې دماسپخین ترلمانځه

---

(۱) ارشادالساری ص ۱۲۱ الی ۱۲۲

(۲) معلم الحجاج ص ۱۴۹

وروسته. دوهم خطبه: په نهمه دذی الحجې په عرفات کی دمازدیګرترلمانځه دمخه. دریمه خطبه: په یوولسم دذی الحجې په منی کې چي په هره خطبه کې به دهغه وخت موافق مناسک ورته بیانوي.[۱]

﴿ط :- دشپیږم بحث متعلقه مسائل﴾

(۱)مسئله: که چادسعی جداجدا چکرونه وکړل چي یوه ورځ یوچکر،بله ورځ بې بل چکر، مثلاًپه دي ترتیب بې اووورځوکې دچکرونه پوره کړل نوسعیه بې وشوه ،لکن که چابلاعذره داسې وکړل نودوباره سعی کول ورته مستحب دی،اوهمدا رنګه که چابلاعذره پیاده سعی ونه کړه په سوارلی بې وکړه نودم وربانديې واجب دی، اوکه چا درې چکرونه پریښودل اوڅلوربې وکړل نوسعی بې وشوه، لکن دهرچکرپه بدله کې دغنمونیمه پیمانه یادسرسایې په مقدارقیمت وربانديې لازم دي.[۲]

(۲) مسئله : سعی کې د نجاست څخه پاکې جامې اوکالي اغوستل،اود بې اودسی یادجنابت څخه بدن پاک ساتل مستحب دي .[۳]

(۳)مسئله:مرواغونډې باندې نوافل کول مکروه دي،البته که دسعی په وخت کې دفرضي لمونځ جماعت قائم شو،اویادجنازې لمونځ قائم شو، نوپه دی صورت کی به سعیه پریږيدي په جماعت اوجنازې لمونځ کې به ورسره شامليږي اوکه بل څه عذرپیش شونوبیابه هم باقي چکرې وروسته پوره کړي.[۴]

---

(۱) ارشادالساری ص ۱۲۵

(۲) معلم الحجاج ص ۱۴۷

(۳) شرح لباب بحواله مسائل حج ص ۱۸

(۴) معلم الحجاج ص ۱۴۹

(۴) مسئله : عمره کونکي اوهغه حاجي متمتع چې هدیه یې ځان سره نوي راوستلي چې عمره پوره کړي، نوبیابه ټول سریاکم ازکم څلورمه حصه دسر ویښتان به په حلاق (نایي) یاپه محرم ملګري اویا به یي پخپله وخریي، یابه دیوبندګوتي په اندازه قصر(کټایي)دویښتانوو کړي؛[1] اوکچیري چادڅلورمي حصي څخه کم سروخریلو،اویایې څلورمي حصي څخه کم سرلنډکړو، نودی داحرام څخه ندي وتلی بلکه محرم دي،پس که ده ګنډل شوي کالي واغوستل، یایې خوشبوی استعمال کړه،نوقرباني یعنی پسه دجزاء اویاصدقه ورباندې لازم دي؛[2] او کچیري چاسرتازه خریلی وي نوده باندې واجب دي چې په سرباندي چاړه تیره کړي،البته که چاسرزخمي وي چې نه خریل کیږي اونه لنډیږي نودده څخه بیاخریل اولنډول ساقط دي؛[3] اوهمداراز عمره کونکي چې سعی وکړي نودسرخریلو یالنډولو څخه مخکې به بریتونو اوبغلونو ویښتان نه اخلي او نه به دلاسونوخپونوکونه پري کوي ، ځکه چې پدي صورت کی دبعضې فقهاء په نزد ورباندي هدیه یاصدقه لازمیږي.[4]

﴿سعی کې دځینوحاجیانوصاحبانو خطاګانې﴾

محترمو! په سعی کې ځیني حجاج کرام خطاګاني کوي چې ددي اصلاح ضروري دي نو ځنې خطاوی په لاندې ډول دي:—

(۱)—صفا غونډۍ باندي دواړولاسونه داسې پورته کول لکه په لمانځه کی

---

(۱) شامي وغیره

(۲) محیط

(۳)شرح لباب

(۴) کلها بحواله مسائل حج ص ۱۹

دتکبیر تحریمه لپاره پورته کولي شي،اما ددعا لپاره لاسونه پورته کول شرعًا ثابت دي.

(۲) – دسعی لپاره نیت نه کول .

(۳) – دصفا اومروا ترمینځ په میلینواحضرینو(شنوراڼو) کې عادی تلل .

(۴) – ددواړوشنوراڼو ترمینځ ښځي چټک تګ کول ، بلکه ښځي به ددواړو شنو راڼو ترمینځ عادي تګ کوي .

(۵) – دصفا غونډۍ څخه ترمروا غونډۍ پورې ټوله سعیه په ګړندی تګ اوځغاست سره کول، چې یوخوا دادسنتوخلاف دي، اوبله خوا دا دعبادت څخه په بیزارتیا باندې دلالت کوي، اوداځکه لویه خطاده چې عبادت بایدپه ډیره خوشحالتیا پراخه سینه اوخشوع سره اداکړی شي .

(۶) – له داسې کتاب څخه دعاکول چې په معنی یې نه پوهیږي، بلکه هغه دعا کول پکارده چې مناجات اوحضوریې ورسره جوړوي .

(۷) – له مرواڅخه دسعی پیل یعني شروع کول .

(۸)–له صفاڅخه ترصفاپورې سعی یوچکرګڼل،اوپه حقیقت کې دادوه چکره دي.

(۹)–له نسک(عبادت)پرته سعی کول لکه چې ځینې خلق داعقیده لري چې سعی باید په دوو رکعتو نفلو کولوسره شروع شي، اوسعی هم دطواف په شان ده یعنی نفلی سعی کول ثواب لري چې داظن یې صحیح نه ده .

(۱۰)–له سعی وروسته دقصرپه نامه معمولي لږ ویښتان چې دګوتې دسربند څخه کم وي قطعه کول، یادځلورمي حصي څخه کم دسرویښتان خریل،او

ځينې جاهلان دمرواپه غونډۍ باندې ولاړوي،بیایې قینچې باندې لږلږویښتان راخلي له خلقوڅخه دخپلوروپیوداخستلوخاطر،لکه موږپخپله دالیدلي دي چې په دې سره سړی داحرام څخه نه اوزي.والله تعالى اعلم بالصواب.

﴿اوم بحث: د حج پنځو ورځو احکام﴾

﴿الف:- د حج اولي ورځ احکام﴾

محترموا کله چې دذی الحجې دمیاشتي اتمه نیټه شوه کچیرته حاجي متمتع زړ ،اوداتمې ورځې څخه دمخه یې عمره کړي وه،بیایې مکه مکرمه کې نیت داقامت کړی وي یانه،اویادمکې مکرمې اوسیدونکی وي، نودی به دفرضي یانفلي حج اویادحج بدل احرام وتړي،یعني دسنت مطابق دي غسل وکړي، اوداحرام څادرونه دي واغوندي، داحرام لپا ره دي دوه رکعته سنت لمونځ وکړي، دحج په نیت دي تلبیه ووایې، په دې سره به یې احرام شروع شي چې داحرام ټول احکام په ده لازم شول،لکه مخکې داحرام په بحث کې یې بیان تیرشویدي،اوافضل دادی چې داتمې ورځې دراتلوڅخه مخکې داحرام وتړي ، دحاجی متمتع لپاره په زمین حرم شریف کې احرام تړل جائزدی،(۱) لهذا مسجدحرام شريف یامکې معظمې پورې داحرام تړل خاص نه دي که حاجي صاحب قارن یامفرد وي نوتجدیدداحرام ته یې ضرورت نشته، نوداحاجی صاحب که متمتع وي اوکه مفرد اوکه قارن وي داتمې ورځې دذی الحجې تراحرام تړلواوترلمرختلووروسته به استحبابا دمکې مکرمې څخه دمنی په لورې روان شي که څه هم دجمعي ورځ وي، او که په اتمه

---

(۱) بحر الرئق

شپه يې حرکت وکړو،ياېې ترزوال وروسته حرکت وکړو نوډهم جوازلري
اوداتمې ورځې دماسپښين اومازديګراوماښام اوماسخوتن اودنهمې ورځې
دسهارلمونځونه په منى کې کول سنت دى،اوکه دغه شپه په مکه مکرمه يا
غزيزيه ياالمعابده کې تيره کړي،اوياکه اکثرشپه عرفات ته ورسوي نودا
خلاف سنت دى،کله چې دمکې مکرمې څخه منى ته ورسيږي په منى کې
به دادعا وکړي:اَللّٰهُمَّ هٰذِهِ مِنیً فَامْنُنْ عَلَیَّ بِمَا مَنَنْتَ بِهٖ عَلٰی اَوْلِيَائِکَ وَاَهْلِ
طَاعَتِکَ، سُبْحَانَ الَّذِیْ فِی السَّمَاءِ عَرْشُهُ، سُبْحَانَ الَّذِیْ فِی الْاَرْضِ سَطْوَتُهُ،
سُبْحَانَ الَّذِیْ فِی الْبَحْرِ سَبِيْلُهُ، سُبْحَانَ الَّذِیْ فِی النَّارِ سُلْطَانُهُ، سُبْحَانَ الَّذِیْ
فِی الْجَنَّةِ رَحْمَتُهُ، سُبْحَانَ الَّذِیْ رَفَعَ السَّمَآءَ وَوَضَعَ الْاَرْضِيْنَ بِقُدْرَتِهِ، سُبْحَانَ
الَّذِیْ لَامَنْجَأَ وَلَا مَلْجَأَ اِلَّا اِلَيْهِ،او په منى کې به داسى نوردعاګانې هم کوي
ترڅوچې سهارشي.

﴿ب:- د حج دوهمې ورځې احکام﴾

محترمو! ذى الحجې دمياشتې دنهمى اودحج دوهمى ورځې مناسک
اواحکام په لاندې ډول دي:-

۱- دوقوف عرفى طريقه:

محترمو!ذى الحجې مياشتې دنهمې نيټې مناسک دادي:چې حاجي صاحب
به دسهارلمونځ په مستحبه طريقه په ښه روښنايې کې اداکړي، بيابه متصل
دسهارلمونځ پسى تکبيرات تشريق ووايې، که څه هم دغه تکبيرات دتشريق
دمناسکوڅخه ندي بلکه په هرمکلف لمونځ کونکي باندې واجب دى، بيابه

(۱) فتاوى عالمګيرى ج ۱ ص ۲۲٦ الباب الخامس

تلبيه اوداسې نورمسنون اذکار ووايي، پس هرکله چې لمر په ثبیرغره باندې
راپورته شي، چې دجبل ضب په مقابل کې دی چې څوک عرفات ته ځي نو
په چپ لاس بې واقع دي، دترلمرختووروسته به په مسنونه طريقه اوپه زيات
وقاراوپه زياته ارامې اوسره دتلبيه ويلوبه دجبل ضب په لاره(چې په بنى
ارکې دتلوونکي دعرفات کی دي)استحباباًعرفات ته روان شي،البته کچيرته
اکثره حصه بې دشپې په منی کې تیره کړي بيا عرفات ته روان شي،ياله
اکثره حصې دشپې څخه مخکې، اويادلمرختوڅخه مخکې عرفات ته روان
شي هم جائزدي، البته ګناهګاردی ځکه چې خلاف سنت کاربې وکړو، او
دمنی څخه دوتلودعاګانې به وکړي. (۱) دمنی څخه عرفات ته دروانيدوپه
وخت کی دغه دعالوستل هم دځينوعلماء کراموڅخه منقول دي: اَللّٰهُمَّ
إِلَيْكَ تَوَجَّهْتُ ،وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ، وَوَجْهَكَ الْكَرِيْمَ اَرَدْتُ ،فَاجْعَلْ ذَنْبِي
مَغْفُوْرًا، وَحَجِّيْ مَبْرُوْرًا، وَارْحَمْنِيْ وَلَاتُخَيِّبْنِيْ، وَبَارِكْ فِيْ سَفَرِيْ ،وَاقْضِ
بِعَرَفَاتٍ حَاجَتِيْ إِنَّكَ عَلَي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٍ، اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا اَقْرَبَ غَدْوَةٍ غَدَوْتُهَا
مِنْ رِضْوَانِكَ وَابْعَدَ هَا مِنْ سَخَطِكَ اَللّٰهُمَّ إِلَيْكَ غَدَوْتُ، وَعَلَيْكَ اعْتَمَدْتُ،
وَوَجْهَكَ اَرَدْتُ فَاجْعَلْنِي مِمَّنْ تُبَاهِيْ بِهِ الْيَوْمَ مَنْ هُوَ خَيْرٌ مِنِّيْ وَاَفْضَلُ اَللّٰهُمَّ
اَسْئَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ وَالْمُعَافَاتَ الدَّائِمَةَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ،وَصَلَّي اللّٰهُ عَلَى
خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّ آلِهِ وَصَحْبِهِ اَجْمَعِيْنَ، پس هرکله چې عرفات ته راشي
په زيات ذکراوتسبيح اوتهليل اوتلبيه برسيره به دامبارک کلمات پرله پسې
وائي: لَاإِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَحْدَهُ لَاشَرِيْكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِي وَيُمِيْتُ

(۱) ارشادالساری ص ۱۲۷

وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ، اوپه داخل دحدودودعرفات کې به خپل ځان
دمشاغلوڅخه فارغ کړي،لکه خپل کيمپ پيداکول اوداسي نورضروري کارونه
، که موقعه مساعده وي چې کله زوال شي دوقوف عرفات سنت غسل به
وکړي ، که موقعه مساعده نشوه بيابه په اودس باندې اکتفاوکړي،اوافضل
دادی چې په عرفات کې دجبل الرحمة ترڅنګ ځای ونيسي، نوهرکله چې
عرفات ته ورداخل شي اوجبل الرحمة ووينې، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ اَسْتَغْفِرُاللّٰهَ، لَااِلٰهَ
إِلَّا اللّٰهُ به ووايي، اوپه خطرناکو اومخصوصوځايوکې، ياپه لاروسرکوکې به
نه کيني چې په هغې کې مسلمانانوته په تلوراتلوکې تکليف رسيږي،اوپا
داسي ځايونوکی چې ياغرورپکې راځي،ياخوف دغلووي اويانورداسی شيان
چې توجه پرې خرابيږي،يعني په دغه مذکورو ځايونوکی به نه کيني. (۱)
که شرعي مانع نه ؤو دماسپښين اومازديګرلمونځونه به دعرفات دامام سره
په مسجدنمره کې دماسپښين په وخت کې يوځايي اداکړي،اوکه عذر
موجودؤلکه دسعودي حکومت داوقافوموظف امام دقصرنسکی يادقصرسفر
لوجې دلمونځونودقصرکوي، اوحال داچې امام يې دمکې مکرمې مقيم وي
ترعرفات پورې ځان مسافربولي،په حقيقت کې داحنافوپه نيزدامسافه دسفر
نه دی،اوداحنافوپه نيزدقصرنسکی هم نشته،نوپه دې دواړوصورتوکې
دحنفي مذهبواقتداءورپسې صحيح ندي.(۲) امام ابوحنيفه رحمة الله عليه فرمايي
:چې کوم محرم ځان ته لمونځ کوي ياجماعت سره لمونځ کوي، لکن امام
يې دبادشاه اودنائب دبادشاه څخه علاوه بل شخص وي،نودامحرم به هرلمونځ

---

۱ ملخص التارتارخانيه ج۲ص ۴۵۲

(۲) ارشادالساری مناسک علی ملاقاری ص ۱۳۱

په خپل وخت كې كوي،يعني جمع دتقديم به نه كوي،اود اقول اكثرو فقهاؤ غوره كړيده،اوامام ابويوسف اوامام محمداوامام مالک اوامام شافعې او امام احمدرحمهم الله تعالى فرمايې:چې دوى جمع دتقديم كولى شي،اوصاحب دبرهان فرمايې چې داقول ډيرظاهردى يعنې په اعتباردليل سره كما في الشامية.

فائده:-موجوده زمانه كې دبادشاه له طرفه په خپلوخپلوخيموكې دلمونځ كولوحكم وركولى شي، نوپه دې بنا عام امامان په خيموكې امامت كوي نوهغه به نائبان دبادشاه شي.مفهوم من شرح اللباب.دكوم امام چې دانظريه وي چې عرفات كې دڅلوروركعاتوپه ځاى دوه ركعته لمونځ كول په افعال دحج كې داخل دي، نوكه حقيقتًا دا امام مسافرؤو اوبل شرعي مانع هم نه ؤو نودحنفي اقتداء وروسې صحيح ده، اوكه دا امام مسافرنه ؤو نودحنفي اقتداء وروسې صحيح ندي.[1]نوبيابه دماسپښين ترلمانځه وروسته ددعاگانو لپاره دجبل الرحمة ترڅنګ په مخ د قبله شريف ودريږي چې جبل الرحمة اكثره حصه يې دراسته(ښى)اوګې لوريې ته وي، اوداوګې لږحصه يې جبل الرحمة دشالورې ته واقع وي، اودعرفات نهم سرک (روډ) اوهم دوزارت عدليه تعميريې دچپې اوګې لورې ترشا واقع وي، دغه ځاى دزياتوعلماء كراموپه نظرموقف النبى صلى الله عليه وسلم دى، نو په دغه ځاى كى ياچې په هر ځاى دعرفات كې وي دعرفات دعاګاني به وكړې.

٢- دعرفات دعاګاني:-

محترمو! دترمذى شريف په حواله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

---

(١) منحة الخالق بحواله مسائل حج ص ٢٣الى ٢٤

چې دېولو دعاګانو څخه زياته غوره دعرفي ورځې دعا ده، اودېولونه زياته غوره دعاچه مااوزماڅخه وړاندې پيغمبرانو عليهم السلام تيرشويدي داسې دعاکړېدي: لَاإِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَحْدَهُ لَاشَرِيْکَ لَهُ لَهُ الْمُلْکُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ؛اودمناسک ملاعلی قارې په حواله دطبراني صاحب څخه نقل دی چې درسول الله صلی الله عليه وسلم دعرفات په دعاګانوکې دادعاهم شامله ده :اَللّٰهُمَّ اِنَّکَ تَرٰى مَکَانِيْ وَتَسْمَعُ کَلَامِيْ وَتَعْلَمُ سِرِّيْ وَعَلَانِيَتِيْ وَلَاتَخْفٰى عَلَيْکَ شَيْءٌ مِنْ اَمْرِيْ رحمه الله، اَنَا الْبَائِسُ الْفَقِيْرُ الْمُسْتَغِيْثُ الْمُسْتَجِيْرُ الْوَجِلُ الْمُشْفِقُ الْمُقِرُّ الْمُعْتَرِفُ بِذَنْبِيْ اَسْئَلُکَ مَسْئَلَةَ الْمِسْکِيْنِ وَاَبْتَهِلُ (زاري) اِلَيْکَ اِبْتِهَالَ الْمُذْنِبِ الذَّلِيْلِ، وَاَدْعُوْکَ دُعَاءَ الْخَائِفِ الضَّرِيْرِ، وَمَنْ خَضَعَتْ لَکَ رَقَبَتُهُ وَفَاضَتْ لَکَ عَيْنُهُ، وَنَحَلَ لَکَ جَسَدُهُ، وَرَغَمَ لَکَ اَنْفُهُ ،اَللّٰهُمَّ لَاتَجْعَلْنِيْ بِدُعَائِکَ رَبِّ شَقِيًّا، وَکُنْ بِيْ رَؤُوْفًا رَّحِيْمًا، يَاخَيْرَ الْمَسْئُوْلِيْنَ وَيَا خَيْرَ الْمُعْطِيْنَ؛ اودامام بيهقي صاحب دشعب الايمان په حواله دحضرت جابررضی الله تعالی عنه نه روايت نقل کړېدي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: چې کوم مسلمان دعرفي په ورځ دلمرله زوال څخه وروسته مخ په قبله سل ځله لَاإِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَحْدَهُ لَاشَرِيْکَ لَهُ لَهُ الْمُلْکُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ، بياسل ځله سورة الاخلاص، بياسل ځله درودشريف ،اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ کَمَاصَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّکَ حَمِيْدٌمَّجِيْدٌ وَعَلَيْنَامَعَهُمْ، اولولي نوالله تعالی فرمايي: چې ای زما ملائکوزما ددې بنده څه جزاء ده؟ دغه بنده زماتهليل اوتسبيح وکړو،زما لويې اوعظمت يې بيان کړو،زمامعرفت يې حاصل کړو،زماشان

مې بیان کړو،اوزماپه نبي باندې يې درودوليګلو،اى زماملائكوتاسوګواه اوسی مادی اوبښلو،اودده دځان په باره کې مې دده سفارش قبول کړو، او که زمابنده له ماڅخه دټولوعرفات والولپاره سفارش وکړي نودده سفارش به ددرې ټولوپه حق کې قبول کړم؛ لهذا دغه مذکوره وظيفه په عرفات کی درنه پاتې نشي، اودحضرت علي کرم الله وجهه نه روايت دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: چې عرفات کې زما اوداولوالعزمو انبياؤعليهم السلام اکثره دعا داوه چې: لَاالٰهَ إلاَّ اللّٰهُ وَحْدَهُ لَاشَرِيْکَ لَهُ لَهُ الْمُلْکُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى کُلِّ شَيءٍ قَدِيْر، اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ فِيْ قَلْبِيْ نُوْراً وَفِيْ سَمْعِيْ نُوْرًا وَفِيْ بَصَرِيْ نُوْرًا، اَللّٰهُمَّ اشْرَحْ لِيْ صَدْرِيْ وَيَسِّرْلِيْ اَمْرِيْ، وَاَعُوْذُ بِکَ مِنْ وَسَاوِسِ الصَّدْرِ وَشَتَاتِ الْاَمْرِ وَفِتْنَةِ الْقَبْرِ، اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُ بِکَ مِنْ شَرِّ مَايَلِجُ فِي اللَّيْلِ وَشَرِّ مَايَلِجُ فِي النَّهَارِ وَشَرِّ مَاتَهَمْتُ بِهِ الرِّيْحُ وَشَرِّ بَوَائِقِ الدَّهْرِ.(۱)

اودحضرت عبدالله بن عمررضی الله تعالی عنهماڅخه منقول دی چې عرفات کې دمازديګرلمانځه څخه دفارغيدونه وروسته به يې لاسونه پورته کړل په وقوف کې به مشغول شو،اواَللّٰهُ اَکْبَرْ وَلِلّٰه الْحَمْدُ لَاشَرِيْکَ لَهُ لَهُ الْمُلْکُ وَلَهُ الْحَمْدُ به يې ولوستل اودادعابه يې کوله:اَللّٰهُمَّ اهْدِنِيْ بِالْهُدَی وَنَقِّنِيْ بِالتَّقْوی وَاغْفِرْ لِيْ فِيْ الْآخِرَةِ وَالْاُوْلَی،دي څخه وروسته به يې لاسونه کښته کړل اودومره وخت به چپ پاتې شو چې سورة الفاتحة پکې لوستلی شوه،بيابه يې لاسونه پورته کړل او هغه شان دعابه يې کوله څنګه چې بيان شوه.(۲)

---

(۱)غنية الناسک عن ابن ابی شيبة

(۲) حصن حصين

اودحضرت علي کرم الله وجهه په روایت چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به دعرفې په بیګایي ددعازیاته فرمایله: اللَّهُمَّ لَکَ الْحَمْدُ کَالَّذِي نَقُولُ وَخَيْرًا مِمَّا نَقُولُ اللَّهُمَّ لَکَ صَلَاتِي وَنُسُکِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي وَإِلَيْکَ مَآبِي وَلَکَ رَبِّ تُرَاثِي اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِکَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَوَسْوَسَةِ الصَّدْرِ وَشَتَاتِ الْأَمْرِ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِکَ مِنْ شَرِّ مَا تَجِيءُ بِهِ الرِّيحُ" (رواه الترمذي). پس ددې بیان شوودعاګانوڅخه علاوه کومې دعاوې چې یې زړه غواړې اوپه کومه ژبه کې یې چې کوې هغه دې وکړې ، خوزړه به یې بنه متوجه وي،اوپه عاجزی اوزاری سره به دعاوې کوي ځکه چې په حقیقي معنی کې دعاهم هغه ده چې له زړه رووزي، اودلته چې کومې دعاګانې داحادیثوڅخه ثابتې دي دهغه خاص اهتمام اوخیال ساتل پکاردي، ددعاګانوترمینځ دې بیابیاتلبیه هم مکرره وایې اودرسول الله صلی الله علیه وسلم څخه بې شمیره جامع دعاګانې منقول دي چې څه وخت یامقام پورې خاص نه دي،هروخت یئ کولای شي لکن که دعرفات په زرینه موقعه یئ وکړې دقبلیدو زیات امید دي اوځینې یې دا دي: دحضرت عائشه رضی الله تعالی عنها نه مروي دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به ددعا فرمایله: اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِکَ مِنَ الْکَسَلِ وَالْهَرَمِ وَالْمَأْثَمِ وَالْمَغْرَمِ وَمِنْ فِتْنَةِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ وَمِنْ فِتْنَةِ النَّارِ وَعَذَابِ النَّارِ وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْغِنَى وَأَعُوذُ بِکَ مِنْ فِتْنَةِ الْفَقْرِ وَأَعُوذُ بِکَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ اللَّهُمَّ اغْسِلْ عَنِّي خَطَايَايَ بِمَاءِ الثَّلْجِ وَالْبَرَدِ وَنَقِّ قَلْبِي مِنَ الْخَطَايَا کَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الْأَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ وَبَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ کَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ (رواه البخاري).

اوحضرت ابي هريره رضى الله تعالى عنه نه مروي دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به كله دعاكوله نودادعابه يې فرمايله: " اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَمِنْ عَذَابِ النَّارِ وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ "(متفق عليه).

اوحضرت انس بن مالک رضى الله تعالى عنه نه مروي دى چې مادرسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به زياته ددعا فرمايله: "اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحَزَنِ وَالْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَالْبُخْلِ وَالْجُبْنِ وَضَلَعِ الدَّيْنِ وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ" (رواه البخاري).

اوحضرت شداد بن اوس رضى الله تعالى عنه نه مروي دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلى دي: چې داستغفاراتوسردار دادي چې ووايئ" اللّٰهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ وَأَبُوءُ لَكَ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ قَالَ وَمَنْ قَالَهَا مِنَ النَّهَارِ مُوقِنًا بِهَا فَمَاتَ مِنْ يَوْمِهِ قَبْلَ أَنْ يُمْسِيَ فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَمَنْ قَالَهَا مِنَ اللَّيْلِ وَهُوَ مُوقِنٌ بِهَا فَمَاتَ قَبْلَ أَنْ يُصْبِحَ فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ" (رواه البخاري).

اوحضرت ابي هريره رضى الله تعالى عنه فرمايي چې حضرت عائشه رضى الله تعالى عنها فرمايلي چې يوه شپه ما رسول الله صلى الله عليه وسلم په فراش پيدا نکړو نوماغوشتو چې زما لاس دهغه په قدمونوباندي واقع شو چې هغه ولاړوو اودسجدي په حالت کی وو اودغه دعايئ فرمايله:"اللّٰهُمَّ أَعُوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوبَتِكَ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْكَ لَا أُحْصِي

ثَنَاءً عَلَيْکَ أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِکَ" (رواه مسلم).

اودحضرت عائشه رضى الله تعالى عنهانه پوښتنه وشوه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به كومه دعاكوله ؟دى رضى الله تعالى عنهاوفرمائل چې دادعابه یې فرمايله: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِکَ مِنْ شَرِّ مَا عَمِلْتُ وَمِنْ شَرِّ مَا لَمْ أَعْمَلْ" (رواه مسلم).

اودحضرت ابن عباس رضى الله تعالى عنهما نه مروي دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به ددعا فرمايله:" اللَّهُمَّ لَکَ أَسْلَمْتُ وَبِکَ آمَنْتُ وَعَلَيْکَ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْکَ أَنَبْتُ وَبِکَ خَاصَمْتُ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِعِزَّتِکَ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَنْ تُضِلَّنِي أَنْتَ الْحَيُّ الَّذِي لَا يَمُوتُ وَالْجِنُّ وَالْإِنْسُ يَمُوتُونَ" (رواه مسلم).

اودحضرت زيد بن ارقم رضى الله تعالى عنهما نه مروي دى چې زه نه وايم لكن هغه وايئ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به فرمايل نوهغه صلى الله عليه وسلم به فرمايل: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِکَ مِنَ الْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَالْجُبْنِ وَالْبُخْلِ وَالْهَرَمِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ اللَّهُمَّ آتِ نَفْسِي تَقْوَاهَا وَزَكِّهَا أَنْتَ خَيْرُ مَنْ زَكَّاهَا أَنْتَ وَلِيُّهَا وَمَوْلَاهَا اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِکَ مِنْ عِلْمٍ لَا يَنْفَعُ وَمِنْ قَلْبٍ لَا يَخْشَعُ وَمِنْ نَفْسٍ لَا تَشْبَعُ وَمِنْ دَعْوَةٍ لَا يُسْتَجَابُ لَهَا" (رواه مسلم).

اودحضرت عبدالله بن عمررضى الله تعالى عنهماڅخه مروي دى چې بعضې ددعاګانو درسول الله صلى الله عليه وسلم نه داهم دى:" اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِکَ مِنْ زَوَالِ نِعْمَتِکَ وَتَحَوُّلِ عَافِيَتِکَ وَفُجَاءَةِ نِقْمَتِکَ وَجَمِيعِ سَخَطِکَ"(رواه مسلم).

اودحضرت ابي هريره رضى الله تعالى عنه نه مروي دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به دادعا فرمايله: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِکَ مِنَ الْفَقْرِ وَأَعُوذُ بِکَ مِنَ الْقِلَّةِ وَالذِّلَّةِ وَأَعُوذُ بِکَ أَنْ أَظْلِمَ أَوْ أُظْلَمَ" . (رواه النسائي).

اود حضرت ابي هريره رضى الله تعالى عنه نه مروي دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به دادعا فرمايله: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْجُوعِ فَإِنَّهُ بِئْسَ الضَّجِيعُ وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْخِيَانَةِ فَإِنَّهَا بِئْسَتِ الْبِطَانَةُ" (رواه النسائي).

اود حضرت ابي هريره رضى الله تعالى عنه نه مروي دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به دادعا فرمايله: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الشِّقَاقِ وَالنِّفَاقِ وَسُوءِ الْأَخْلَاقِ" (رواه النسائي).

اودحضرت ابي سعيد رضى الله تعالى عنه فرمايي چې ما درسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به دادعا فرمايله: " أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الْكُفْرِ وَالدَّيْنِ" قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَتَعْدِلُ الدَّيْنَ بِالْكُفْرِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: "نَعَمْ" (رواه النسائي).

اودحضرت عبد الله بن عمروبن العاص رضى الله تعالى عنه نه مروي دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به په دغه كلماتو دا دعا فرمايله" اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ غَلَبَةِ الدَّيْنِ وَغَلَبَةِ الْعَدُوِّ وَشَمَاتَةِ الْأَعْدَاءِ "(رواه النسائي)

اودحضرت قتادة رحمه الله تعالى فرمايي چې حضرت انس رضى الله تعالى عنها نه مروي دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به دادعا فرمايله: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْجُنُونِ وَالْجُذَامِ وَالْبَرَصِ وَسَيِّئِ الْأَسْقَامِ" (رواه النسائي).

اوحضرت عبدالله بن عمررضى الله تعالى عنهما فرمايي چې ما درسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به دادعا فرمايله: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِعَظَمَتِكَ أَنْ أُغْتَالَ مِنْ تَحْتِي" قَالَ جُبَيْرٌ وَهُوَ الْخَسْفُ (رواه النسائي). اودحضرت ابي اليسررضى الله تعالى عنها

مروي دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به دادعا فرمايله: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ التَّرَدِّي وَالْهَدْمِ وَالْغَرَقِ وَالْحَرِيقِ وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ يَتَخَبَّطَنِي الشَّيْطَانُ عِنْدَ الْمَوْتِ وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ أَمُوتَ فِي سَبِيلِكَ مُدْبِرًا وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ أَمُوتَ لَدِيغًا " (رواه النسائي).

اودحضرت عائشه رضی الله تعالی عنها فرمايلي: چې ما ته دغه دعا رسول الله صلی الله عليه وسلم ښودلي وه "اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنَ الْخَيْرِ كُلِّهِ عَاجِلِهِ وَآجِلِهِ مَا عَلِمْتُ مِنْهُ وَمَا لَمْ أَعْلَمْ وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الشَّرِّ كُلِّهِ عَاجِلِهِ وَآجِلِهِ مَا عَلِمْتُ مِنْهُ وَمَا لَمْ أَعْلَمْ اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ مَا سَأَلَكَ عَبْدُكَ وَنَبِيُّكَ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا عَاذَ بِهِ عَبْدُكَ وَنَبِيُّكَ اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْجَنَّةَ وَمَا قَرَّبَ إِلَيْهَا مِنْ قَوْلٍ أَوْ عَمَلٍ وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ النَّارِ وَمَا قَرَّبَ إِلَيْهَا مِنْ قَوْلٍ أَوْ عَمَلٍ وَأَسْأَلُكَ أَنْ تَجْعَلَ كُلَّ قَضَاءٍ قَضَيْتَهُ لِي خَيْرًا" (رواه ابن ماجه).

اودحضرت عبد الله رضی الله تعالی عنها نه مروي دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به دادعا فرمايله: اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الشَّيْطَانِ مِنْ هَمْزِهِ وَنَفْثِهِ وَنَفْخِهِ فَهَمْزُهُ الْمُوتَةُ وَنَفْثُهُ الشِّعْرُ وَنَفْخُهُ الْكِبْرُ" (رواه أحمد).

اودحضرت انس رضی الله تعالی عنها مروي دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به دادعا فرمايله: " اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ قَوْلٍ لَا يُسْمَعُ وَعَمَلٍ لَا يُرْفَعُ وَقَلْبٍ لَا يَخْشَعُ وَعِلْمٍ لَا يَنْفَعُ " (رواه أحمد).

اودغسی نوري دعاګاني چې په حزب الاعظم اوپه مناجات مقبول وغيرهما كتابونوكي راجمع كړی شويدي، نوپه عرفات کې ددغې کتابونوڅخه چې څومره دعاګاني لوستلی شي ښه موقعه دي،اوکه وخت ډيروي نوځينې نورو

حضراتو هم دعاګاني ليکلي دي هغه هم لوستلی شي،کله چې دمازديګر وخت داخل شو خپل لمونځ به وکړي، که امام مقتدي پيداکولی شونوپه جماعت سره به لمونځ وکړي، بيابه دعاګانوته ادامه ورکړي ترڅو چې لمرلويږي، البته داحنافوپه نزد که دامام شرائط موجودۇ نودوقوف عرفې لرسنت غسل څخه وروسته به مسجدابراهيم عليه السلام چې مسجد دنمرة هم بولي چې تقريبا شپيته ميتره دمحراب لورې دقبلي خواته دعرفات دحدودوڅخه خارج (وتلي) ده، اونوره حصه يې په عرفات کې داخله ده، هغه مسجدشريف ته به ورشي، اودامام خطبې ته به منتظرشي اوله خطبې وروسته به په امام پسې جمع دماسپښين اومازديګرلمونځونو وکړي،اوترامام وروسته به په امام پسې عرفات ته روان شي، اودامام په څنګ کې به دجبل الرحمة په تقريب فرضي وقوف دعرفات سرته ورسوي.

۳- دجمع تقديم شرطونه:-

محترموا!په عرفات کې دماسپښين اومازديګردلمونځوديوځای کولوشرائط دادي: اول:-له جمع تقديم مخکې به يې دحج احرام تړلی وي نوکه صرف په عمره يې احرام تړلی ؤوجمع تقديم يې نه صحيح کيږي.دوهم:- که چا داحرام تړلوڅخه مخکې دماسپښين لمونځ په امام پسې وکړو،بيايې احرام په حج وتړلو،اودمازديګر لمونځ يې په ماسپښين وخت کې وکړو،داجمع تقديم يې صحيح نه دی په نزددامام ابي حنيفة رحمة الله عليه باندي،اوپه مذهب دياراونورحمهماالله صحيح کيږي. دريم:-دماسپښين لمونځ په مازديګرباندې مخکې کول،اوکه بالعکس يې وکړونو جمع تقديم يې نه صحيح کيږي.

څلورم:—زمانه به یې دعرفات ورځ نهم دذی الحجې وي، اوهم به دماسپښین وخت وي ،لهذا بل وخت نه صحیح کیږي. پنځم :— مکان به یې دنبي کریم صلی الله علیه وسلم دلمانځه ځای وي،اویابل ځای چې حدودودعرفات څخه وي.

شپږم:— دواړه لمونځونه به په جماعت سره ادا کوي.اوم:— دجماعت امام به امیرالمؤمنین وي،اویایې نایب اویاددوی په امربل څوک وي .([1])

﴿ج:— دوقوف عرفې صحت شرطونه﴾

محترمو! دپنځه شرائط دومره ضروري دي چې که یوله دې شرطونه څخه موجود نوي، نوبیا یې وقوف عرفه نه صحیح کیږي: اول:— مسلمان به وي نودکافروقوف عرفه غیرمعتبردی . دوهم:— دحج احرام به یې تړلی وي نودبې احرامه نفر وقوف عرفه معتبرنه دی.دریم:—نهم دذی الحجې ترزوال وروسته بیا دذی الحجې دلسم ترصبح صادق پورې یې وخت دی، نوددې مَعین وخت نه وروسته یاددې وخت نه ترمخه وقوف عرفه معتبرنه دی.

څلورم :— دعرفات په حدودو کې اودریدل دي،نوکه دعرفات له حدودوڅخه علاوه په خطاسره بل ځای یاپه څنګ دحدودوکی اودریدوچې ګمان دعرفات یې پرې وکړو،نوداوقوف عرفه یې معتبرنه دی،لکه نن صبابې خبره خلق داسې کوي.

پنځم :— په خپل مذکوروخت اوپه خپلو خاصو حدودو کې دعرفات اودریدل که څه هم یوساعت وي،یعنی دزوال نه بیا ترصبح صادق پورې مکمل وخت وقوف عرفه کی اودریدل شرط ندي . ([2])

([1]) ارشادالساری ص ۱۳۲الی ۱۳۴.

۲ ارشاد الساری ص ۱۳۷ردالمختار ص ۱۹۰ج ۲

﴿ د:- دوقوف عرفی واجبات ﴾

محترمو! دوقوف عرفه واجبات دادي: اول داچې: - دزوال څخه بیاتر ماښام پورې اودرېدل .دوهم: - په وقوف دعرفات کې لږه څه حصه دشپې داخلول . دریم: - متابعت دامام په کښېنته کیدلو دعرفات کې، البته که امام دمخه ترغروب کښېنته کیدلوبیایې متابعت نه دی پکاربلکه موجب دنقصان دی . څلورم :- دماښام لمونځ دماسخوتن په وخت کې په مزدلفه شریفه کې کول، (١)که یوچا دماښام لمونځ په عرفات یا دمزدلفه په لاره کې کړی وي نوپه مزدلفه کې یې بیا دوباره کول واجب دي. (١)

﴿ هـ:- دوقوف عرفی سنن ﴾

محترمو! دوقوف عرفه سنتونه دادي:- اول:- دوقوف عرفی لپاره غسل کول. دوهم:- جمع دتقدیم سره دخپلوشرائطواداکول. دریم: - دلمانځه وروسته وقوف عرفی ته متوجه کیدل بغیردڅه تأخیرنه . څلورم :- دعرفات څخه دامام سره یوځای واپس کیدل. (٢)

﴿ و:- دوقوف عرفې مستحبات ﴾

محترمو! دوقوف عرفه مستحبات شپږویشت -٢٦- دي:-

اول داچې:-ډیره تلبیه ویل.دوهم:-ډیرې دعاګانې کول.دریم:-دالله تعالی ډیرذکرکول . څلورم :- توبه استغفارډیرویل .پنځم :-تضرع،خشوع اوډیر مناجات کول . شپږم :-که چیرته امام نیږدې ؤو نودامام شاته یابنی خواته

---

(١) ارشاد الساری ص ١٣٨ وص ٤٧

(١) ردالمختار ص ١٨٨ الی ١٨٩

(٢) معلم الحجاج ص ١٦١

اودریدل .اوم: - دخلکوسره یوځای راکښته کیدل .اتم: - دزوال څخه مخکې دوقوف لپاره ځان فارغ کول .نهم: - دوقوف نیت په اطمنان سره کول.لسم:-ددعاپه وخت کې مخ په قبله اودریدل.یوولسم:- ددعا لپاره لاسونه اسمان خواته پورته کول .دوولسم:- درې درې ځله ددعا تکرار کول.دیارلسم:-ددعا شروع اوختم په حمداوصلوة سره کول.څوارلسم:- دځان اواحرامو صفایې کول .پنځلسم: - دنفلي روژې نیول. شپاړسم: - که ضعیف ؤو هغه لره دروژې خوړل. اوه لسم:- که طاقت یې ؤوبغیر له مشقته ددعالپاره لمرته اودریدل. اتلسم :- له ملګرووغیره ؤوسره دښمني اوحسد پریښودل . نولسم :- ډیردخیراعمال اوافعال کول لکه داوبورر کول اودفقیرانووغیره ؤوسره تعاون کول.شلم-: ترحم په مساکینوفقراؤاو ملګروباندي کول .یووشتم: - له عرفاته مزدلفي ته دمازمین په لارې تلل . دوویشتم: - دمزدلفي په لاره زیاته تلبیه ویل . درویشتم:- د عرفات کښته کیدلوپه وخت له تلبیې څخه زیات تسبیح وتکبیروتهلیل اودرودشریف ویل .څلورویشتم:- په ژړا اوافسوس مناجات ویل اوپه حسرت اوغم سره د عرفات نه کښته کیدل .پنځویشتم:-په پښو((پیاده)کښته کیدل . شپږویشتم : - دصحراتو (غتوډبرو) سره نیږدي دجبل الرحمة ترڅنګ اودریدل[1]

﴿ ز:- دوقوف عرفې مکروهات﴾

محترمو!دوقوف عرفه مکروهات دادي:-اول داچې:-دماسپښین له لمانځه وروسته موقف ته په ورتللو کې تاخیرکول.دوهم:-په لارو کې اړول چې

(۱) ردالمحتار ص ۱۸۹ج ۲ وارشاد الساری ص ۱۳۸ الی ۱۳۹

ځلورم:—په خلقوته تکلیف وي.دریم:—دزوال ځخه مخکې دخطبی ویل.

وقوف عرفه کې غفلت کول دتوجه الی الله ځخه.پنځم:— دومره په تیزی سره تلل چې حاجیانوته ضرراو تکلیف رسیږي.شپږم :— په وقوف عرفات کې غفلت کول.اووم:— ماښام یاماسخوتن لمونځونه په عرفات یاپه لاره کې کول، البته په مزدلفه کې یې بیا دوباره کول لازمي دي. اوداسې نور[1]

﴿ ح:— وقوف عرفه کې دځینې حاجیانوخطاوې﴾

محترمو! په وقوف عرفه کې ځیني حجاج کرام خطاګاني کوي چې ددي اصلاح ضروري دي نو ځنې خطاوی په لاندې ډول دي:—

(١) — له منی ځخه عرفات ته دوتلوپه مهال کې په جهرسره تلبیه نه ویل.

(٢) — دعرفات له سیمي بهروقوف کول اوودریدل، خصوصاً دمسجد نمره (مسجدعرفات)غرب لورته دوقوف عرفات په نیت دریدل، ځکه چې داموقف دعرفات نه دی،لهذا که حدودو دعرفات ته داخل نشونوحج بې فاسدشو،اویا دنوي میدان دعرفات شرقي یاجنوبي یاشمالي لورته چې له عرفات دحدود نه وتلی دي هلته اودریدل، ، اویا دموټرو له اډې سره وقوف کول نو پدي سره یې حج فاسد شو، ځکه چې په داخل دعرفات کې وقوف شرط دی،ځکه چې دا دعرفات له حدودو نه وتلي دي، اوځیني جاهلان داکارکوي نوددې شرط دنه مراعات په صورت کې یې حج فوت شولهذا بل کال به بیا داحج راګرځوي .

(٣) — دقبلې شریفي په ځای جبل الرحمة ته مخ کول .

(٤) — داګمان کول چې دغرپه شاکې اودریدل واجب دي .

(١) معلم الحجاج ص ١٦٢

(۵) – داګمان لرل چې دعرفات وني هم په حرمت کې دحرم دونو په څیردي پریکول اوغوڅول یې روانه دي .

(٦)–دجبل الرحمة په سربانده دوقوف لپاره ختلولوکی حاجیانوته ضرراو تکلیف رسول،اوځانونه دهغه په ونوپورې ځوړندول چې داکارخلاف سنت دی

(۷)–عرفات نه دلمرلویدوڅخه دمخه وتل، چې پدي سره دم لازمیږي ځکه چې یوڅه حصه دشپې په وقوف عرفه کې داخلول واجب دی، اوهمدارنګه په دې قیمتي وخت کې دحراموچارو ارتکاب کې وخت ضایع کول لکه دعکسونواخستل ، دسازاوسروداوریدل، فضول عبث خبرې کول، اوخلقو ته تکلیف رسول وغیره. والله تعالی اعلم بالصواب.

﴿اتم بحث :– عرفا ت نه مزدلفي ته درروانیدلو مناسک﴾

﴿الف: – دعرفات نه مزدلفي ته درستنیدلو ترتیب﴾

محترمو! مزدلفه شریفه دعرفات لویدیزاړخ ته ددرې میلو په فاصله باندې واقع دی، کله چې دلسمې شپې دماښام وخت داخل شي اوځوستورې هم معلوم شي، نوبیابه دمزدلفې په طرف راروان شي اودعرفات له حدودوبه راتیرشي،په لاره کي به دالله تعالی په ذکراوتلبیه باندي مشغول وي،او دماښام لمونځ اداکول په عرفات یاپه لاره دمزدلفي شریفي کی جوازنلري، بلکه واجب دي چې دماښام لمونځ دخپل وخت نه ورروسته کړي، لهذا دماښام لمونځ که چا په عرفات یاپه لاره دمزدلفي شریفي کې اداکړی وي نو په مزدلفي شریفي کی یې دوباره کول وربباندي واجب دي،کله چې مزدلفي شریفي ته راشي نودادعابهووایي : اَللّٰهُمَّ هٰذَا جَمْعٌ اَسْئَلُکَ اَنْ

تورزلئي جَوَامِعَ الْخَيْرِ كُلِّه، اَللّٰهُمَّ رَبَّ الْمَشْعَرِالْحَرَامِ وَرَبَّ الرُّكْنِ وَالْمَقَامِ وَرَبَّ الْبَلَدِ الْحَرَامِ وَرَبَّ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ، اَسْئَلُکَ بِنُوْرِ وَجْهِکَ الْكَرِيْمِ اَنْ تَغْفِرَلِيْ ذُنُوْبِيْ وَتَرْحَمَنِيْ وَتَجْمَعَ عَلَى الْهُدَى اَمْرِيْ وَتَجْعَلَ التَّقْوٰى زَادِيْ وَذُخْرِيْ وَالْآخِرَةِ مَابِيْ وَهَبْ لِيْ رِضَاکَ عَنِّيْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، يَا مَنْ بِيَدِهِ الْخَيْرُ كُلُّه اَعْطِنِيْ الْخَيْرَ كُلَّه وَاصْرِفْ عَنِّيْ الشَّرَّ كُلَّه، اَللّٰهُمَّ حَرِّمْ لَحْمِيْ وَعَظْمِيْ وَشَحْمِيْ وَشَعْرِيْ وَسَائِرَ جَرَارِتِيْ عَلَى النَّارِ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ،

اومزدلفي شريفي په هرځای کې چې موقعه ورته پيدا شي نوهلته به ترهرڅه دمخه دلمانځه انتظام وکړي، که امکان يې درلود دمزدلفې لپاره به احتراماً غسل وکړي ځکه چې دغه دحرم شريف حدود دي، اوبيابه ترهرکاردمخه دماښام اوماسختن دلمانځه لپاره يواذان وکړي، اواول به دماښام لمونځ وکړي که په جماعت سره وي نواقامت به هم ورته وکړي،اوبيابه دماسختن فرضي لمونځ وکړي ،اودماښام سنت به دماسختن فرضي لمانځه نه وروسته اداکړي،بيابه دماسختن سنت وکړي اوبيابه وترواجب اداکړي، اوشپه به په دعااوعبادت اوالاستغفارات المفقذة من النارکی تيره کړي. (۱)

﴿ب:- دجمعی تاخير شرائط﴾

محترمو! دجمعی تاخير شرطونه دادي:- اول داچې: - دحج احرام به يې تړلي وي،کچيري احرام د عمرې يې تړلی ؤ،اوياپې احرام بيخی نوي تړلی ،نو بيا دماښام اوماسختن لمونځونه په يوځای کول صحيح ندي.دويم: - دعرفات فرضي وقوف به يې ترمخه کړی وي، لهذا کچيري يې دعرفات

(۱) مبسوط ج ۲ ص ٦٦ ومجامع المناسک ص ١٦٨

فرضي وقوف نه ؤوکړی، اودماښام اوماسختن لمونځونه يې يوځای په مزدلفه کې وکړل، بياوروسته يې دعرفات وقوف وکړو نودغه لمونځونه به بيا راګرځوي. دريم: – زمانه به يې لسم دذوالحجي شپه وي . څلورم: - مکان به يې مزدلفه شريفه وي . پنځم :– وخت به يې ماسختن وي که يې په لاره کې دماښام لمونځ په خپل وقت وکړو، اوبياماسختن مزدلفې شريفې ته راغلونودماښام لمونځ اعاده ورباندې لازمه ده،لهذاحاجي صاحب به حتی الوسع دماښام اوماسختن لمونځونه بل چيرته نه کوي بلکه مزدلفه شريفې ته به يې رارسوي البته دی جمعې تاخيرته امام دحج شرط ندی بلکه انفرادي هم جمعه دتأخير کولی شي، اوکچيري يوڅوک دعرفات په لاره کې بندشو،اويامو ټرومنی يامکې مکرمې ته يوړواوهلته بندشو، اودماسختن لمانځه دقضاکيدو ويره وه، نوبيادماښام اوماسختن لمونځونه دعذرپه وجه چې په هرځای کې وي هلته دي ادا کړي، اوکه يوسړي سره خطره وه چې که دماسختن لمونځ اداکوم نوعرفات ته نه شم رسيدلی اوصبح صادق راباندې داخليږي، نوځينې علماءکرام فرمايي چې عرفات ته دې ولاړشي اودماسختن دلمانځه دي بيا قضاء راوړي، ځکه چې ممکن اينده کال بيادحج قدرت پيدانه کړي؛ اوځينې علماءکرام فرمايي چې عرفات ته دي نه ځي لمونځ دي وکړي ځکه چې يوفرض دبل فرض لپاره نه شي پريښودلی؛ اوځينې علماء کرام فرمايي چې عرفات ته دي ولاړشي اوپه تلوتلوکې دې لمونځ په اشاره وکړي بيادي قضاء راوړي، اودغه قول ښه اوغوره دي، اوکه يوحاجي دغه لسمه شپه په عرفات يامنی اويابل ځای کې

لېروله هغه به دمابنام اوماسخوتن لمونځونه په خپلواوقاتوکې کوي، ځکه چې تاخیردجمعي خپلوشرطونه لري لکه مکان[1] وغیره. پس مزدلفې شریفې کې داسې ذکرکول پکاردي چې غیرالله یې دزړه څخه ووځي او الله فرمایي: فاذکرالله عندمشعرالحرام .سورة بقرة .

﴿ج: – وقوف مزدلفې صحت شرطونه﴾

محترموامزدلفې شریفې دوقوف صحت شرطونه دادي:–اول:– تروقوف دمخه داحرام تړل.دویم:–وقوف دعرفه مخکې کول.دریم – دمزدلفې په حدودوکې اودریدل [۲].څلورم:– په لسم دذی لحجې دسهاردصبح صادق څخه بیاترلمرختلولږدمخه وقوف دمزدلفې کول.پنځم:–په دې مذکورتاریخ په دې خاص مکان دمزدلفې کې اودریدل،که څه هم اوده یابې هوشه یابې خبره یانشه یالیونی یاپه بل څه کیفیت باندي وي،اوکه څه هم یوساعت وي.۳([1])

﴿د:– دوقوف مزدلفې سنن﴾

محترمو! دمزدلفې شریفې دوقوف سنتونه دادي: اول:–دصبح صادق څخه بیا ترلمر ختلو لږدمخه وخت پورې وقوف کول . دوهم:–په مزدلفه شریفه کې شپه تیرول.دریم:–په تیاره کې دسهارلمونځ کول.[۴] څلورم:ترلمرخاته لږدمخه منی شریفې ته روانیدل .[۵]

(۱) ارشاد الساری الی مناسک ملاعلی قاری ص ۱۴۵ الی ۱۴۶

(۲) ارشاد الساری ص ۱۴۷

(۱) ۳ردالمحتار ج۲ ص ۱۹۳

(۴) ردالمحتار ج۲ ص ۱۹۳

(۵) ارشاد الساری ص ۱۴۸

﴿هــ :- دوقوف مزدلفې مستحبات﴾

محترمو! دمزدلفې شریفی دوقوف مستحبات دادي: اول:-دصبح صادق له ختلوسره متصل لمونځ په جماعت سره کول.دوهم:- په جبل قزح یاددې غر په قرب کی وقوف کول.دریم:- په دې ځای باندې تهلیل دعاګانې اوذکرکول . څلورم:-ددعالپاره لاسونه زیات پورته کول . پنځم :- قبلې ته مخامخ اودریدل . شپږم: - ټوله شپه مزدلفه کې په تلبیه ذکرتلاوت اودعاسره تیرول . اوم: - دمزدلفې ځخه دجمرو دویشتو لپاره شګې راوړل . اتم: - منی ته تللوکې دمحسرپه کنده کې چې اصحاب فیل په کې هلاک شوي تیزتګ کول، چې دغه محسر نه دمنی حدود دي اونه دمزدلفې بلکه ددوی په مابین کې فاصله ده . نهم: - بغیردمسجد اودځلو دځای ځخه دشګواخستل دجمرو دویشتو لپاره خصوصًادلارې ځخه یې اخستل افضل اوبهتردي (۱)

﴿و:- دوقوف مزدلفې لازم دم جنایات﴾

محترمو! دمزدلفې شریفی دوقوف لازم الدم جنایات دادي: اول: - وقوف دمزدلفې شریفی پریښودل. دویم:-دمحسرپه کنده کی وقوف کولوباندي کفایت اواختصارکول . دریم: - مخکې ترصبح صادق وقوف دمزدلفې شریفی کول . څلورم: - وقوف دمزدلفې شریفی وروسته ترلمرخاته ځخه کول یعنې په دې صورتونوکې قرباني لازمیږي (۲)

البته که دعذرپه وجه وقوف ونه کړي مثلامریض وي یاکمزورې وي، نوبیا

---

(۱) ارشاد السارى ص ۱۴۸ الى ۱۴۹

(۲) ردالمحتار ج ۲ ص ۲۸۴ وعینی کنزص ۲۱۸

قرباني ورباندي نه لازمیږي، اوکه ښځه درش په وجه د دمزدلفې شریفی وقوف ونه کړي نوبیاهم دم نه پرې واجب کیږي،لکن که نارینه دهجوم په وجه وقوف دمزدلفې شریفی ونه کړي نودم پرې واجب کیږي، اوکه یو سړی صبح صادق څخه وروسته په تیاره کې له دمزدلفې شریفی څخه لاړو نودم نه پرې واجب کیږي،ځکه چې مقدارواجب وقوف یې کړی دي،اوکه څوک بالکل صبح صادق ته نیزدي عرفات ته ورسیدو،اودصبح صادق څخه لمرراختلوپوري مزدلفې ته رانغلو،نوپه ده باندې هم دم نه دی واجب.

(۱) که یوسړی دزنانه یادبیماریادکمزوري دامدادپه خاطروقوف دمزدلفې شریفی پریږدي، نوده باندې دم لازم ده اوفقهاؤددې استثناء نه ده کړې.

﴿ ز:- مزدلفې ته په راستنیدوکې دځینې حاجیانوخطاوې﴾

محترمو! مزدلفې شریفی ته په راستنیدوکې کې ځینې حجاج کرام خطاګانې کوي چې ددې اصلاح ضروري دي نوځنې خطاوی یې په لاندې ډول دي:-

(۱)-دعرفات څخه دځینې حاجیان نیغ په نیغه منی ته راتلل،اویاځینې حاجیان ساعت دوه ساعته په مزدلفه شریفه کې دشپې پاتې کیدل، اوبیا شپه په شپه منی ته ځانونه رسول، اوحال داچې مزدلفه شریفه کې دصبح صادق څخه وروسته پاتې کیدل واجب دي چې ددې په پاتې کیدوسره دم پرې واجبیږي.

(۲)په مزدلفه شریفه کې دصبح صادق دمخه وقوف اودسهارلمونځ کول،چې په دی صورت کی دوقوف مزدلفه اعاده کول لازم اودلمانځه اعاده ورباندې فرض دی.اودوقوف مزدلفه په ترک سره جزاء ددم هم ورباندي لازمیږي.

(۱) معلم الحجاج ص ۱٦۷

(۳) – مزدلفې ته رسیدوڅخه دمخه پړاو اچول .

(۴) – په ډیره بیړه اوچټکتیا سره مزدلفې راتلل .

(۵) – دماښام لمونځ په لاره کې کول .

(۶) – مزدلفې ته درسیدوڅخه دمخه په لاره کې دماښام اوماسختن لمونځونه کول .

(۷) – دماښام اوماسختن لمونځونه په دغه دلیل قضاء کول چې مزدلفې شریفې ته ندی رسیدلی، لکه ځینې حاجیان په موټرکی وي یوفرضي حج اداکړي،خوبل فرضي لمونځ پریږدي نوپه دي سره ګنهګارشواوڅه ګټه یې ونه کړه،ځینې خلق په نفلي حج کې هم داحرکتونه کوي، نودداسې نفلي حج څه ضرورت دی چې فرضی لمونځ قصداًپریږدي.والله تعالی اعلم بالصواب.

﴿نهم بحث: دحج دریمی ورځي احکام﴾

محترمو! دذی الحجې دلسمی اودحج دریمی ورځي له مزدلفې څخه منی ته دروانیدلو مناسک اواحکام په لاندې ډول دي:

﴿ الف:- د مزدلفې څخه منی ته دروانیدلو طریقه ﴾

محترمو! کله چې لمرختوته ددؤو رکعتو لمونځ کولوپه اندازه وخت پاتې شي نومزدلفې څخه به منی ته روان شي، اودلمرختوڅخه وروسته روانیدل خلاف سنت ده، البته دم اوصدقه وربانديي نه لازمیږي. (۱) پس منی ته به په زیات وقاراوآرام سره روان شي، اوپه لارکی به په جهرسره تلبیه وایې، که ممکنه وه نوښه داده چې امام دعرفات د راکښته کیدوڅخه وروسته

---

(۱) شرح لباب

دجبل قزح يادمزدلفې موقف څخه راکښته شي، اوبهتردادی چې دنن رمی لپاره اوه ګيټي (شګی) دمزدلفې نه ځان سره رواخلي ، چې دکجوري دهډوکي هومره وي، اوکه دغه ګيټی دبل ځای څخه رواخلي نوهم جائزدی، کچيري په خپلو پښو تللواوياي موټرپه خپل اختيارکې ؤ،نودمحسرکندي په نس کې به په عجله (تيزی) سره تيريږي، چې په دې مقام کې په اصحاب فيل باندې عذاب راغلی ؤ، اودادعابه ووايي : اَللّٰهُمَّ لاَ تَقْتُلْنَا بِغَضَبِکَ وَلاَ تُهْلِکْنَابِعَذَابِکَ وَعَافِنَا قَبْلَ ذٰلِکَ، اَعُوْذُ بِاللهِ السَّمِيْعِ الْعَلِيْمِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، اَللّٰهُمَّ اِنِّي اَعُوْذُ بِکَ مِنَ الشَّيْطَانِ وَعَمَلِه وَمِنْ حِزْبِه، اَللّٰهُمَّ اِنِّي اَعُوْذُ بِکَ مِنْ سَيِّئَاتِ الْاَعْمَالِ عَافِنِي وَاعْفُ عَنِّيْ وَلَاتُؤَاخِذْنِي بِمَا اَسْلَفْتُ مِنَ الذُّنُوْبِ وَقَدَّمْتُ مِنَ الْخَطَاءِوَالْحُوْبِ وَتُبْ عَلَيَّ اَنَّکَ اَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ، اَللّٰهُمَّ يَاعَلِيْمُ يَا عَظِيْمُ اغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَاِنْ عَظُمَتْ فَاِنَّهُ لَايَغْفِرُ الذَّنْبَ الْعَظِيْمَ اِلاَّ الْمَلِکُ الْعَظِيْمُ الرَّحِيْمُ الْکَرِيْمُ. کله چې منی راشي نو دادعا به ووايي : اَللّٰهُمَّ اِنَّ هٰذِه مِنًى وَقَدْ اَتَيْتُکَ وَاَنَا عَبْدُکَ وَابْنُ عَبْدِکَ اَسْئَلُکَ اَنْ تَمُنَّ عَلَيَّ بِمَا مَنَنْتَ بِه عَلٰی اَوْلِيَائِکَ وَاَهْلِ طَاعَتِکَ وَاَنْ تَجْعَلَنِي مِنْ عِبَادِکَ الصَّالِحِيْنَ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ، اَللّٰهُمَّ اِنِّي اَعُوْذُ بِکَ مِنَ الْمَغْرَمِ وَالْمَاْثَمِ وَمِنَ الْمُصِيْبَةِ فِي الْعَقْلِ وَالدِّيْنِ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي بَلَّغَنِي سَالِمًا غَانِمًا مُعَافِيًا سَوِيًّا اِلٰی هٰذَا الْمَکَانِ وَشَرَّفَنِي بِالْاِسْلَامِ وَالْاِيْمَانِ وَجَعَلَنِي مِنْ اُمَّةِ مُحَمَّدٍ صلی الله عليه وسلم.(۱)

فائده : ديوحديث شريف مضمون دی چې دجمرو په شکو (ګټکو) ويشتلو ثواب دادی چې دهرې ګيټکې په بدله کې الله تعالی ورته يوه لويه هلاکوونکي ګناه معاف کوي، کما في الترغيب.

(۱) التاتارخانيه ج ۲ ص ۴۵۹ فصل ۳ فی تعليم افعال الحج.

ب:– دجمرې عقبې ويشتلو طريقه

محترمو! منى ته په رسيدوسره دټولونه اول كارصرف دجمرې عقبې ويشتل دي،اودغه جمره دنوروجمراتوڅخه مكې مكرمې ته زياته نيږدې دى،اوجمره عقبه دمنى حدودوڅخه خارج دى.اودجمرې عقبې دويشتلووخت داخترد اولې ورځې دصباصادق دراختلوڅخه،بياددوهمې ورځې ترصباصادق پورې دى،لكن ددې جمرې ويشتل دلمرختلوڅخه دمخه مكروه دي،اودلمرختلو څخه وروسته ترزوال پورې مسنون دي ،اوپس دزوال څخه ترغروب دلمر پورې مباح دي، او بيادغروب څخه وروسته ترختلو دصبح صادق پورې مكروه دي، البته دضعفاء او زنانه (ښځو) لپاره مكروه ندي. (١)

پس دجمرې عقبې دويشتلوطريقه دادى: چې جمرې عقبې ته به مخامخ له اودريږي بلكه داسې به اودريږي چې منى اوګې يې مسجد خيف لورې ته وي، اوچپه اوګه يې مكې مكرمې لورې ته وي، په دې حال كې به دادعا وكړي :اَللّٰهُمَّ تَصْدِيْقًا بِكَ وَاتِّبَاعًا لِسُنَّةِ نَبِيِّكَ مُحَمَّدٍ صلى الله عليه وسلم بِعَدَدِ آلائِكَ اَللّٰهُ اَكْبَرُ كَبِيْرًا وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيْرًا وَسُبْحَانَ اللّٰهِ بُكْرَةً وَّاَصِيْلاً، لَااِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ وَحْدَهُ لَاشَرِيْكَ لَهُ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُوْنَ، لَااِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ وَحْدَهُ وَصَدَقَ وَعْدَهُ وَنَصَرَ عَبْدَهُ وَاَعَزَّ جُنْدَهُ ،لَااِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ، اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ حَجًّا مَبْرُوْرًا وَسَعْيًا مَشْكُوْرًا وَذَنْبًا مَغْفُوْرًا، اَللّٰهُمَّ اهْدِنِيْ بِالْهُدٰى وَقَوِّنِيْ بِالتَّقْوٰى وَاجْعَلِ الْآخِرَةَ خَيْرًا لِّيْ مِنَ الْأُوْلٰى ، بياكه زيات رش اوزحمه نوې نو شګى(كانى)دې دغتې ګوتې په نوک باندې كيږدې، اودمسواک دګوتې

(١) شرح لباب

دمينځ په ملګرتيادې په ښه احتياط سره ځلی وولی ، اودويشتلو په وخت کی به داسې وايې رَغْمًا للشَّيْطٰنِ وَرِضًا للرَّحْمٰنِ بِسْمِ اللهِ اَللهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ حَجِّيْ مَبْرُوْرًا وَسَعْيِى مَشْكُوْرًا وَذَنْبًا مَغْفُوْرًا، نودهرې شګې ويشتلو سره به دامذکوره الفاظ وايي، اودغه جمره به په پرله پسې توګه په اوؤ شګو وولي، اوداولي شګې دويشتلو په شروع سره تلبيه سرته ورسېده يعنې تلبيه ويل به بند اوختم کړي، البته نوراذکاراواحزاب ويلی شي، او کومه شګه چې دجمرې دراګرځېدلي ددېوال (لکه داخور په شان دی) ځخه درې ګزه شرعي اويونيم ګزعرفي دځلی ليری ولويده اوخطاشوه نوعِوض به يې په بله شګه باندې راګرځوي، کچېرې ددوهم منزل دپول لخوا يې ويشتلي اوشګه يې دآخور اودځلی دماحول راګرځېدلي دېوال ځخه خطاشي چې ديونيم ګزپه مسافې دځلی ليري ولويږي، نوبيا به يې هم عوض به په بله شګې سره راګرځوي، لهذادويشتلوځايې دغه لوړځلی نه دي بلکه هغه راچاپيره شوي دېوال ماحول ده ، حتی که دا ځلی نوی اورمی د ځلو لاندي زمکه باندې شوی وی نود به هم کافي وی.[١]

دجمرو ويشتلو لپاره په زمکه اودرېدل دچا مذهب ندي، نو که ځوک ناست وي، يا په سوارلی سپورروي، اوّيا په چت باندې وي نو دجمرو ويشتلو ورته جائز دي، البته که شګه(تيګه) دځلی دپاسه يادچت په آخور کې بنده شوه اوزمکې ته ونه رسېده نوبياورسره واجب نه ادا کيږي[٢]

(١) مجا مع المنا سک للمهاجر المکی ، ص ١٧٦ الی ١٧٨ وشرح الباب

(٢) شرح الباب

فائده : عوام جمرو ويشتلو ته دشيطانانو ويشتل وايي لکن دا تعبير غلط ده، شيطان حضرت ابراهيم عليه السلام ويشتلی وو،مونږ په امر دشارع سره سنت دپيغمبر صلی الله عليه وسلم ادا کوؤ، اودحضرت ابراهيم عليه السلام ددې کارنامي ياد تازه کوؤ، اواراده دشيطان ويشتلو کوؤ. (١)

﴿ ج:- دجمروويشتلو صحت شرطونه ﴾

محترمو! دجمروويشتلو دصحت شرطونه دادي: اول:- جمرو ويشتلو کی دشګو اتصال. دوهم: -ددرو ګزو څخه نږدي جمرو ته دشګو غورځېدل. دريم:-دځلې په سر باندې شګې نه بنديدل کچېرې بنده شوه نو ويشتل يې نه صحيح کيږي.څلورم:-شګوباندي دځلوويشتل يعني نه ورباندې ايښودل . پنځم:-لويدل دشګې په ځلو باندې حقيقتًاياورته نږدې غورځېدل،کچېرې پريوه سړې ياپر بل شئ باندې شګه ولويده،بيا هغه بل سړې ورو‌غورځوله نودا ويشتل يې نه صحيح کيږي بلکه اعاده به يې کوي، البته که شګه پريوه سړې يا پر بل شئ باندې وغورځېده بيا دهغه څخه په جمرې ولويده دا ويشتل يې صحيح دی، کچېرې سړې پوهه نشوچې شګه څه شوه نوبيا يې هم اعاده ضرورې دی . شپږم: - تفريق دشګو دی، کچېرې يې دوي يا ډېري شګې په يو وار وروغورځولې نودګرده په يوه شګه حسابيږي . اوم: - ځلو په خپله ويشتل بدون دوکالت (نيابت) څخه غير معذور لره، البته عوام چې دضعفاء اودزنانه لپاره جمرې اولي اګرچې دوی يې دشپې ويشتلی شي دا بې باکې ده، ددوي په ذمه دا واجب پاتې دی، البته که

---

(١) بحواله مسا ئل حج ، ص ٢٧

دديار لسمې ورځې نه وروسته يې يو ګله ذبح کړي،نو دا يو ګله دځلورو
راډورورځو دڅلو ويشتلو دپرېښولو جبيره کيږي. (۱) لکن نيابت په ويشتل
دجمروکې دمريض ، مجنون ، اوصبي ، لپاره جا ئزده. اتم: — دڅلو
ريشتل په هغه شي سره چې دجنس دزمکې څخه وي، لکه ډبره ، لوټه ،
خښته ، ګچ، دغره مالګه ، زبرجد ، اوعقيق وغيره. نهم:— خپل مقرره
رخت کې دڅلو ويشتل. لسم: — دڅلو ويشتلو په مابين کې دتر تيب لحاظ
کول، البته اکثر علماء يې سنت بولي. يوولسم: — دقضاء شويو دڅلو
ريشتل په خپل وخت او په خپل ورځو کې اعاده کول. (۲)

﴿ د:— دجمرو ويشتلو مکروهات ﴾

محترمو! دجمرو ويشتلو مکروهات دادي: اول:— ترخپل عدده زيات
دځلو ويشتل .

دوهم:— شګې پرڅلو باندې غورځول اوپه مسنونه طريقه نه ويشتل.دريم:—
دجمرودويشتلو په شګو کې عدم موالات اوعبث وخت ضائع کول.څلورم:—
په ويشتلو شويوشګو دوهم وار بيا دجمرو ويشتل.پنځم:—په نجسو(پليتو)
شيانوسر ه دجمرو ويشتل.شپږم:— دمسجد شريف په شګو دجمروويشتل
.اوم: — داختر په ورځ پس له غروبه دجمرو ويشتل .اتم: — قبل الزاوال
ديولسم اوباقې ورځو دجمرو ويشتل بلکه اصح قول دادی چې ديوولسم
اوباقې ورځوکی مخکې تر زواله دڅلو ويشتل نه صحيح کيږي اعاده يې

---

(۱) شا مى
(۲) ارشاد السارى ص ، ۱۶۴ الى ۱۶۷

بعد زوال واجب دی.نهم:- دذی الحجی دیارلسمی ورځی مخکې تر زواله دجمرودوویشتل اوځنې علماء کرام فرما يې چې مخکې ترزواله نه صحیح کیږي. لسم: - په ډېرو لویو اوغټو تیګوباندي دجمرو ویشتل .یوولسم:- دجمرو ویشتلو په وخت کې خلاف سنت اودرېدل .دولسم:- دجمرو ویشتلو په وخت کې دمسنو نې اندازي څخه زيات نږدي ځلو ته اودرېدل . دیارلسم:- په لسم تاریخ جمره عقبه څخه سوا دجمراولی اووسطی ویشتل [۱]

﴿هـ:- دجمرو ویشتلو لازم دم جنایات﴾

محترمو!دجمروویشتلومتعلق هغه جنایات چې دم لازمه وي دادي:اول:- د ټولوځلوویشتل پرېښودل.دوهم:-دځلودویشتلومعلومووروځونه دیوي ورځې ویشتل پرېښودل.دریم:-دځلو ویشتلومقرره وخت نه تاخیرکول.څلورم:- دجمره عقبه ویشتل داختوررځې څخه وروسته کول.پنځم:-جمره عقبه پر اکثرو شګوباندي نه ویشتل.شپږم:- منٰی څخه دځلورمې ورځې دلمرختو څخه ورسته مکې مکرمې ته فرار(تیښته)کول اودځلوویشتل پرېښودل.[۱]

﴿و:- دجمرو په ویشتلو کې دځينې حاجیانوخطاوې﴾

محترمو! حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم دجمروویشتلوحکمت داسي بيان کړی اوفرمائلي يې دي " إنما جعل الطواف بالبيت والسّعی بين الصَّفا والمروة ورمی الجمار لاقامة ذكر الله لا لغيره" [۲]

ژباړه:- په تحقيق سره الله تعالى دبيت الله طواف، دصفا مروه ترمينځ سعی،

---

(۱) ارشاد الساری ص ۱۶۷ مع الزیادة

(۱) عینی کنزص ۲۷۵ وفتح القدیر ج ۲ ص ۵۳۷

(۳) اخرجه احمد، ص ۱۳۹ عن عا ئیشة رض)والخطیب فی التا ریخ بغداد ج ۱۱ ص ۳۱۱

اودجمروويشتل صرف دالله تعالی ذکر دقائم ساتلو لپاره لا زم ګرځولی دی نه دبل مقصود لپاره. نودجمرو په ويشتلو کې ځيني حجاج کرام خطاګاني کړي چې ددي اصلاح ضروري دي نو ځنې خطاوی په لاندې ډول دي .

١- دا ګمان چې دغه جمرې شيطانان دي ځکه چې شيطان خوابراهيم عليه السلام ويشتلي وؤ اومونږ جمرې دالله دذکر داقامت اود الله تعالى دعبادت دتحقق لپاره ولو، اوبل له دې ګمان څخه انسان سخت په غصه اوغضب کيږي اوجذبات يې څرګندشي نو زور کوي چې له دې امله خلقوته تکليف رسوي، اوکله خوځنې جهال غټې غټې ډبرې اوغونډاري په لاس کې واخلي، يا لرګی ، يا څپلې ،واخلي اوجمري پرې ولي، بلکه کله يې دليرې نه هم ولي چې حجاج کرام هم پرې زخمي کړي .

٢ - دجمرو دويشتلو شګې (تيګې) خوشبويه کول اويا په غټو غټو ډبرو اوغونډارو باندي ويشتل.

٣ - دا ګمان کول چې دجمرو لپار ه دمزدلفې څخه علا وه دبل ځای شګې او ګټې اخستل نه صحيح کيږي، بلکه که دهر ځای څخه شګې ، تيګې ، واخستلی شي اوجمرې پرې وويشتل شي رواکيږي، البته صرف څلو نه نږ دي ګيتې اخستل مکروه دي، ځکه چې تفاولاً داد دهغه چادي چې حج يې قبول نوي .

٤ - له خپل مشروع وخت څخه مخکې دجمرو ويشتل .

٥ - داووتيګو(شګو)څخه په کمودجمرې ويشتل،چې دشګوکمبودپه صورت کی په هری شګې جزاء لازم ده،ياله ټاکلې شمير څخه زياتوشګو باندې دجمرې ويشتل.

۶ - بغیردعذرشرعي څخه دجمرو ویشتلو لپاره له خپل طرفه بل څوک وکیل نیول،چي دقضاء نه روړل په صورت کی وربالدي دم د جزاء لازمیږي.

۷ - بې ترتیبه جمروته اودرېدل یعنې پکارخو داده چي راسته(ښي)اوږه بې مسجدخیف لورته وي،اوچپه اوږه يې دمکې مکرمې لورته وي،اوحال داچې ځني ناپوهه کسان يې دهغه بل اړخ اوځنګ څخه يې ولي،چې راسته اوږه یې مکې مکرمې ته وي اوچپه اوږه یې دمنٰی مسجد خیف لورته وي،اوبل دا چې دغه جمره عقبه په څلی باندي داخور په شکل کوچنی دېوال راچاپیره شوی، او کله دیته شګې نه ولیږي، نو پدي آخري صورت کی يې داویشتل معتبرر ندي،نویابه يې اعاده کوي،اويا به پسه دجزاء وربانديې واجب وي.

۸ - ځینې حجاج کرام دا ګومان کوي چې دراګرځېدلي دېوال په مینځ کې چې کوم څلی (پایه) ولاړه ده دغه جمره ده اوهمدغه ولي، دغه لویه خطايي ده ځکه چي حقیقتًا دکوچنې راګرځېدلی دېوال مینځ کی جمره ده، لهذا کچېرې يې هغه څلي وویشت اوشګه - تیګه - داخور څخه لیرې وغورځېده، نو هغه ویشتل شوي شګه اوتیګه یي اعتبار نه لري دهغی په عوض به يې په بله شګه او تیګه باندې ولي .

۹-دلومړی اودوهمې جمرې له ویشتلوڅخه وروسته ددعالپاره نه ادریدل.

۱۰-دجمرې ویشتلوپه وخت کې خلقوته تکلیف رسول،اوزورکول اوټیلې تمبي کول حتی چې کله خلقوته دمرګ خطره جوړه شي.والله تعالی اعلم بالصواب.

لسم بحث :- د قربانی احکام

محترمو!کله چې دجمری عقبی دویشتلوڅخه فارغ شي،بیاکه حاجی صاحب

متمتع یا قارن وي وجوبًا به قربانی وکړي، اوکه حاجی مفرد وي نو استحبابًا به قربانی وکړي، پدي شرط چې دصحت قربانی شرائط یې هم په نظرکې نیولي وي لکه مخکې یې بیان تېر شو، څوک چې په ذبحه کولو پوهیږي هغه ته په خپله ذبحه کول بهتر دی، ورنه بیا دذبحی په وخت کې د خپلې قربانی سره نږدي اودریدل ورته مستحب دي، اوکه دذبح په وخت کې حاضر نه وي اووکیل یې ذبحه وکړي چې وخت یې ورسره معلوم کړي نوداهم جائزده، پس د دقربانی احکام په لاندې ډول دي:

﴿ الف:- دقربانی طریقه ﴾

محترمو! دقربانی طریقه دادی: چې د قبله په مخ به څاروی څملوي (پرې باسي) اودادعا به ووایي .

اَللّٰهُمَّ إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ حَنِيفًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلّٰه رَبِّ الْعَالَمِينَ لَاشَرِيکَ لَهُ وَبِذٰلِکَ أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ، اَللّٰهُمَّ مِنکَ وَلَکَ بِسْمِ اللهِ وَاللهُ اَکْبَرْ.(۱)

نږدې وروسته به تېره چاړه دپسه وغیره په غاړه راکش کړي، تر حلالېدو وروسته به یې پر خپل حال پرېږدي چې روح یې وخیږي، دساه وتلو نه مخکې به یې مغزی نه ماتوي، یو حدیث شریف ده چې دقربانی بدله دالله تعالی په نزدتاسولپاره ذخیره ده. (۲)

﴿ ب:- دقربانی صحت شرطونه ﴾

محترمو! ددې شرائطوڅه بحث مخکې هم په جنایت کې تېرشویدي،چې په

---

(۱) التاتارخانیه ، ج ۲ ص ۴۶۴ بزیادة
(۲) کما فی ترغیب عن ابن عمر رض)ملخص فتاوی هندیه ،ج،۵،ص ۳۰۴

ټولواعضاؤبه سالم وي يعني غوږونه،سترګې،پښې،غاښونه،لکی،وغيره به ټې سالم وي، لکه څنګه چې داختر دقرباني لپاره کوم شرائط ضروري دي نود حج قرباني لپاره هم هغه شرائط لا زم دي،پس داُوزې عُمريعني چيلی عمر به يوکال پوره وي اودو هم کال کې به داخله وي،البته ګډاوپسه که دومره څورب وي چې اته ياشپږمياشتنی ديوکال والاسره برابروي،نوقرباني وربانديږ صحيح کيږي؛ اودغوااوميښنی عمربه پوره دوه کاله وي اوپه دريم کال کې به داخل وي؛ اوداوښ عمر به پنځه کاله پوره وي اوشپږم کال کې به داخل وي؛ اوکه چيرته اوه کسان په يوه اوښ يايوغوايي کې سره شريکان وي، چې دځينو دجزاء داحرام ، اود ځينو دترک دواجبو، اود ځينودجزاء دښکارجنايات وي،بيا يي هم شراکت صحت لري، اوکه دځينو قرباني دشکريه دتمتع يادقِران وي بيا يي هم شراکت صحت لري.[1]

اودحج افراد نفلي قرباني اودحج تمتع اوقران واجبې قرباني به ايام نحريعني داخترپه ورځ اوداختر دريمې ورځې پوري صحت لري، نوکه داخترورځې دمخه يي ذبح دتمتع ياقران وکړه نودا صحت نلري.[2]

اوشکريه پسه دحج تمتع يادقران يا ثوابي پسه دحج افراد لپاره هغه شرائط ضروري ندي کوم چې دجناياتو لپاره دي لکه فقراؤته تسليم کېدل وغيره، بلکه دشکريه قرباني صرف دوينو بهيدل دي البته کچيرته دشکريه دذبحې غوښې خرڅې کړي ياپې قصاب ته په مزدوری کې ورکړې نوبيا دهغوی

---

(۱) ملخص فتاوی هنديه ص ۳۰۴ ج ۵

(۲) مبسوط امام سرخسي ج ۲ ص ۱۲۶ باب النذر

روپيو ضامن دى چې بيرته به هغه دغوښې روپۍ مسكين ته وركوي [۳]
اوكچېرته يوقارن يامتمتع حاجي دقرباني كولوطاقت نلري، نوهغه به ددې په بدل كى لس ورځې روژې داسې ونيسي، چې درې ورځې روژې دلوى اخترڅخه وړاندې اودعمرې داحرام څخه ورروسته وي،يعني دحج په مياشتو شوال ،ذى القعده ،ذى الحجه كې به يې ونيسي، ، اواوه ورځې روژې به دايام تشريق دتېريدوڅخه وورسته ونيسي، كه په مكه مكرمه كې وي اوكه نوي، البته په خپل وطن كې يې نيول ډېرغوره دي؛ كچيرته قارن يامتمتع حاجي دذى الحجې دلسمې نيټې څخه وړاندې دغه درې روژې نيولې نوي ، نواوس به خامخا قرباني كوي اودروژې نيول يې صحيح ندي، كه سمدستي قرباني ته تيارنشو نودسرخريلويالنډولوڅخه وروسته چې څه رخت احرام څخه اووزي دوي قرباني به وكړي، چې يوه قرباني به دحج قران يا تمتع وي، بله به يې دجنايت وي چې دقرباني كولوڅخه يې مخكې ځان حلال كړو، اوكچيرته يې دايام نحرڅخه ذبحه دشكريه وروسته كړه نوبيا به دريمه قرباني ددې وروسته كېدو هم ورباندې لازمه وي. [۱]

﴿فائده نافعه﴾

محترمو! حنفي مذهبه حاجي صاحب ته جائزندي چې دذبح لپاره په بينګ كې قيمت داخل كړي، ځكه چې دې كې دذبح دمخكې كېدوخطره ده په رمى اوحلق باندې،اوترتيب په مابين داشياء مذكوره كې واجب دى،اودي ترتيب ته په "رن حط "حروفوسره اشاره شويده يعني "ر" رمى " ن " نحر"ح

(۳) ارشادالساري ص ۲٦۱ الى ۲٦۳
(۱) معلم الحجاج ص ۲۱۴ وغنية المناسك

" حلق " ط "طواف ته،نودبینګ دروپیودتسلیمولوپه صورت دترتیب مراعات
هیڅ ممکن نه دي کماهوظاهر، ځکه چې هغه بینګ واله په تدریجي توګه
ددی ذبحه کوي حتی چې ترپنځلسو ورځویامیاشتي پورې غالبًا دوام لري،
اوهغوي ترتیب په مینځ درمی اوذبح اوحلق کې افضل کارشماري، او
واجب يې نه بولي، اوداحنافوپه نزد ترتیب واجب دی چې په ترک دواجبو
سره دم لازمیږي، اوپه حدیث شریف کې دتقدیم اوتاخیرمتعلق لَاحَرَجَ
فرمایلې شوی دی اودلَاحَرَجَ دوه معني دي اول معنی داچې جزاء په کې
نشته، دوهمه معنی داچې ګناه په کې نشته دی، اوراجحه دوهمه معنی دي
ځکه چې یو راوي ددې حدیث شریف حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهما
دی اودمبارک له دي حدیث مبارک څخه دوهمه معنی اخیستي دي؛او
همچنان دابوداؤ دشریف په یوروایت کې داالفاظ مروي دي لَاحَرَجَ اِلا عَلٰی
رَجُلِ اِفتَرَضَ عَرضُ مُسلِم وَهُوَ ظَالِمُ فَذاکَ الذی حَرَجَ وَهَلَکَ. نودارو ایت
ددې دوهمې معنی تائید کوي، اوهمدارنګه چې دکوم مقصد لپاره په بانګ
کې رقم داخلولی شي نوهغه په دې صورت کې هم حاصلیږي چې دحکومت
له خوادحجاج کرمو د ذبائحو دراجمع کولولپاره زیات مزدوران ونیولی
شي، کچیرته حکومت ته داتړون خلاف ښکاري نوعجیبه خبره ده چې
حکومت خلاف مروت کارته نه تیاریږي، اوحاجیان خلاف واجب اوخلاف
سنت کارته تیاردي،لهذاحجاج کرام به بانګ ته دتمتع اوقران دشکریه پسه
روپی نه داخلوي، اوکه يې ورکړې وي کال یازیات عمروروسته ورته علم
حاصل شي، هغه به اوس یومعین شخص دوکیل په حیث پیداکړي، چې هغه

عمرې حج یاعمرې ته روان وي، چې دغه وکیل دخپل مؤکل له خوا دعدم ترتیب دجنایات په نامه چې دسرخریل دي مخکې تردي چې بانګ دده قرباني ذبح کړي وي، ددغه جنایات په باب به په حرم شریف حدودوکې چې منی هم پکې داخله ده، پسه (ګله)ورته ذبح کړي، نو په دی سره به یې مناسک دحج تکمیل شي. والله تعالی اعلم بالصواب.

﴿یولسم بحث:- دسرخریلواوکمولواحکام﴾

محترمو! کله چې حاجی صاحب متمتع یا قارن د وجوبي قرباني، اوحاجی مفرد دنفلي قرباني څخه فارغ شي، نوبیاد احرام نه دوتلولپاره دحرم شریف په حدودوکې به سروخریي اویا به یې لنډ کړي، پس دحلق اوقصراحکام په لاندې ډول دي:

﴿ الف:- دسرخریلواوکمولوطریقه ﴾

محترمو! دعمرې اودحج افراد،اوتمتع اوقران داحرام نه وتلو لپاره حلق او قصرضروري دي،یوحدیث شریف ده چې داحرام پرانستلوپه وخت سر خریلوکې دهرویـــښته په بدله کې یوه نیکي ده اویوه ګناه معاف کیږي (۱).

پس چې درمی اوذبح څخه فارغ شي نومخ په قبله شریفه به کیني، اوراسته طرف دسرڅخه به دخریلوشروع وکړي اودادعابه وکړي .

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيْمِ اَللهُ اَكْبَرُاَللهُ اَكْبَرُاَلْحَمْدُ للهِ عَلى مَااَنْعَمَ بِهِ عَلَيْنَا،اَللّٰهُمَّ هٰذِهٖ نَاصِيَتِيْ بِيَدِكَ وَتَوَيْتَ التَّحَلُّلَ فَتَقَبَّلْ مِنِّيْ وَاغْفِرْ لِيْ ذُنُوْبِيْ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْمُحَلِّقِيْنَ وَالْمُقَصِّرِيْنَ يَا وَاسِعَ الْمَغْفِرَةِ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ. اوورسته به دغه

(۱) کمافی الترغیب

دعا وکړي: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰى مَاهَدَانَا وَاَنْعَمَ عَلَيْنَا وَمَنْ قَضٰى عَنَّا نُسُكَنَا اَللّٰهُمَّ هٰذِهٖ نَاصِيَتِيْ بِيَدِكَ فَاجْعَلْ لِيْ بِكُلِّ شَعْرَةٍ نُوْرًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَامْحُ عَنِّيْ بِهَا سَيِّئَةً وَارْفَعْ بِهَا دَرَجَةً فِي الْجَنَّةِ الْعَالِيَةِ، اَللّٰهُمَّ بَارِكْ فِيْ نَفْسِيْ وَتَقَبَّلْ مِنِّيْ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ وَلِلْمُحَلِّقِيْنَ وَالْمُقَصِّرِيْنَ يَاوَاسِعَ الْمَغْفِرَةِ آمين. چې حلق اوقصروکړي نوهم دي وروسته تکبیرووایي اودغه دعا دولولي: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ قَضٰى عَنَّا مَنَاسِكَنَا اَللّٰهُمَّ زِدْنَا اِيْمَانًا وَيَقِيْنًا اوخپلو والدینواو ټولو مسلمانانواومؤلف او ناشر(اوکاتب)اواهل عیال ته دي هم دزړه اخلاص څخه دعاګاني وکړي.

﴿ب:- دسرخریلواوکمولولازم دم جنایات﴾

محترمو! دحرم شریف په حدودوکې دسرخریل اویالنډول واجب دي، که چادحرم شریف دحدودوڅخه بهرمثلاجده وغیره کې حلق یاقصروکړونودم وربانديې واجب کیږي ، اوهمدارنګه کچیرته ایام نحر څخه یې حلق یاقصر وروسته کړو نودم وربانديې لازمیږي، اوداحرام څخه دوتلولپاره غوره دادي چې دټول سرویښته وخریې یایې دګوتي دبندپه اندازه لنډکړي، البته داحرام څخه دخارج کېدلو لپاره ضروري دي چې کم ازکم دسرد څلورمې برخې ویښته وخریې، کچیرته دڅلورمې برخې څخه کم ویښتان پرېکړي نوداحرام څخه نه اوزي، حال داچې دسرپه څلورمې برخې باندې اکتفاء یعني بس والی مکروهه دی، نوکچیرته دنارینه ویښته دومره واړه وي چې دګوتي دبندپه اندازه نشي پرېکېدی نوبیا یې خریل ضروري دي؛

لکن ښځې لره سرخریل حرام دي، لهذاهغه دي دټول سرویښته دګوتي دیوبند په اندازه لنډکړي، خوچې دایقین یې وشي چې دټول سرلنډ او اوږده

ویښتان دیوې ګوټې دبندپه اندازه پرېکړی شول،دټول سرویښته پرېکول غوره دي، نواوس حلال شوی احرام به خلاص کړي، غسل به وکړي، او خپلې جامې به واغوندي،نودحلق اوقصرڅخه وروسته هرقسم حاجي صاحب ته دخپلې ښځې دخاص معاملې یعنې کوروالی پرته ورته هرڅه چې داحرام په وجه ممنوع ؤو، هغه ټول ورته حلال شول، بیابه دطواف زیارت په خاطرمکې معظمې په لورې روان شي، اوکله یې چې طواف زیارت وکړونوخپله ښځه هم ورته حلاله شوه. (۱)

﴿ ج:– دسرپه خریلواوکمولوکې دځینې حاجیانوخطاوې ﴾

محترمو! دسرپه خریلواوکمولو کې ځینې حجاج کرام خطاګانې کوي چې ددې اصلاح ضروري دي نو ځنې خطاوی په لاندې ډول دي:–

(۱) – دخپل سردویښتانونه لږغوندې ویښتان خریل اوکمول چې څلورمې برخې نه کم وي اوهغه هم دسرله یوه پلوڅخه، خصوصاً حجاجو به لیدلي وي چې مروا په غونډۍ باندې یوڅوکسان ولاړوي دعمرې واله دسرڅخه یوڅو په شمار ویښتان په قینچي باندې پرې کوي یا یې لنډ وي دادی امام شافعي رحمة الله تعالی علیه دمذهب مطابق جائز دي، خوبیادغه حنفي مذهب واله محرم پدې خطا وزې چې خپل ځان داحرام څخه خلاص بولي، حال دا چې په دې سره داحنافوپه نزد داحرام څخه نه خارجیږي بلکه دغه لازم دم جنایت دی،څکه چې داحنافوپه نزد دټول سر، یاڅلورمه برخه دسرخریل یا یې لنډول واجب دي، اوچې هغه لنډ شوي ویښتان یې هم

(۱) ملخص التاتارخانیه ص ۴۶۶ ج ۲ ومعلم الحجاج ص ۱۷۶

دګوتې دسر دیوه بند په اندا زه وي، کچېرې لدې څخه کم وي بیا اعتبار نه لري اود احرام څخه نه خلا صیږي.

(۲) –دځینې سرخریل اودځینې پرېښودل چې هغه بدرنګه اومُثله ښکاري.

(۳) –عام عادت دښځو حاجیانو دادی چې دټول سرویښتان راجمع کړي، اودټولو ویښتانوسرونه چې اوږده وي اوهغه لنډ کړي چې دټول سرویښتانو لسمه حصه هم غالبًا نه کیږي، ځکه چې دښځې په سر باندې تخمینًا درې څلور لکه ویښتانو شته، اومعمولاً دښځولنډ (واړه) ویښتان زیات وي اواوږده یې کم وي، نو په هغه صورت چې څلورمه حصه دټول سر ویښتان یې نوي لنډ کړي داحرام څخه نه خلاصیږي، اوداحرام په جنایت کې دم (پسه) هم پرې لازمیږي، اوپه خپل خاوند هم حرامه ده، لهذاښځه حاجي صاحبه باید احتیاط وکړي چې دسر هرطرف څخه دسرټول ویښتان بیل بیل (جداجدا) راجمعه کړي بیایې لنډ کړي .

(۴) – دحلق اوقصر څخه اولاً دنوکونو، اوبریتونو پرېکول، یا دتخرګ ویښته ویستل، یاله نامه لاندې ویښته خریل، اویا ګنډلي جامې اغوستل اویا دحلق اوقصر څخه اولاً دخوشبوي صابون یا شمبو باندي سر لندول دغه لویې خطا وي ده چې دم اوصدقه دجنایت مطابق ورباندې لازمیږي .

(۵)–درمی یا قربانی څخه مخکې حلق یاقصرکول ځکه ترتیب په مابین درمی ، قربانی اوحلق یا قصر کې زمونږ داحنافو په نیزدواجب دی، چې ددترتیب پرېښودلو سره پرې پسه ذبحه کول لازمیږي.والله تعالی اعلم بالصواب.

﴿دولسم بحث:– دطواف زیارت احکام﴾

محترمو! کله چې حاجی صاحب په منیٰ کې درمی ، ذبح ، اوحلق وقصر څخه فارغ شي، بیابه مکې مکرمی ته ولاړشي، اوطواف زیارت به وکړي، پس د طواف زیارت احکام په لاندې ډول دي:

﴿ الف:– دطواف زیارت طریقه ﴾

محترمو! منیٰ کې درمی،ذبح،اوحلق وقصرکولو نه پس به مکې مکرمی ته ولاړشي، اوطواف زیارت به وکړي، چې دیته طواف رکن او طواف افاضه هم وایي،اوکه یې مخکې سعی نه وي کړي نو سعی به هم وکړي،اوطواف زیارت په اولنیودریوګشتوکې به رمل(پهلواني)هم وکړي،اوچاچې مخکې رمل اوسعی کړي وي نوبیابه په طواف زیارت کې رمل اوسعی نه کوي،او چاچې طواف قدوم کې سعی کړې وي اورمل یې نوي کړی،نوطواف زیارت کې به رمل نه کوي، اوددې طواف زیارت وخت دذالحجی دلسمې نیټې د صباصادق په راختوسره شروع کیږي،اواخروخته یې ددیارلسمې ورځې تر غروب پوري دي،البته په لسمه نیټه باندي یې کول زیات غوره دي،اولدېنه وروسته د دیارلسمې ورځې تر غروب پورې جائزدي، لکن زیات تأخیر که دحیض یا نفاس دوجې څخه وي نو بیامکروه نه دي، اودم هم نه پري لا زمیږي،اوکه دغه تأخیربغیردعذره څخه وي نودم پري لازمیږي؛

کچیري دطواف زیارت په دوران کې په احراموکې وي،او ګنډلې جامی یې نوي اغوستې نواضطباع به کوي،اوکه ګنډلې جامې یې اغوستې وي،نوبیابه طواف زیارت بیغیراضطباع څخه کوي،دطواف ترتیب مخکې تېرشوي دی

فلانعيده لخوف التطويل.[۱] يوحديث شريف دى چې دمناسكونه ورروسته كله چې بنده طواف زيارت كوي، نو پداسې حال كې طواف كوي چې په هغه هيڅ گناه نوي، اويوه ملا ئكه يې داوږوترمينځه لاس كيږدي وائي چې آينده دسره عملونه كوه،ستا روستنې ټول گناهونه خومعاف شول.[۲]

﴿ ب:– دطواف زيارت صحت شرطونه ﴾

محترمو! طواف زيارت دصحت شرطونه دادي:– اول:– اسلا م دى، لهٰذا طواف زيارت دكفر په حالت كې صحت نه لري . دوهم:– عقل دى، لهٰذا دليوني طواف زيارت صحت نه لري . دريم:– تميز دى، لهٰذا دبې هوشه طواف زيارت صحت نه لري . څلورم:– دحج احرام تړل دي، لهٰذا كه په حج سره يې احرام نوي تړلى نوطواف زيارت يې صحت نه لري. پنځم:– وقوف عرفه ده،لهٰذا كه ترمخه يې دعرفات وقوف نوي كړى نو طواف زيار ت يې صحت نه لري . شپږم:– دطواف نيت دى، لهٰذا كه يونفر تري بې دركه شوي وي،اوهغه پسي چاپيره دكعبې شريفي څخه گرځي نوطواف زيا رت يې صحت نه لري؛ البته كچېري يوسړي دطواف نفلي، يا طواف قدوم ، يا طواف تحيه ،يا طواف نذر، يا طواف شكرانه ،يا طواف حاجت، اويا دبل طواف نيت كړي وو،نوددغه مذكوره طوافونه يې په طواف زيارت كې اودرېږي،يعني طواف زيارت يې صحت لري اگر چې په هرنيت باندي يې طواف كړي وي .

اوم:– طواف زيارت په خپل مقرروخت كې كول، يعني دلوي اختر دصبح

---

(۱) فتح القدير ج ۲ ص ۳۹ ، وشرح لباب

(۲) كما فى ترغيب عن ابن عمر رض)

صادق څخه پس ددیارلسمې ورځې تر غروب پورې، نو کچېرې دلوی اختر تر صبح صادق څخه مخکې طواف زیارت وکړي نوبیا صحت نه لري. اتم:- مکان دطواف زیارت بیت الله شریف دی، یعنې بیت الله شریف باندې به په مسجد حرم شریف کې دننه طواف زیارت کوي، نودمسجد حرم شریف څخه خارج طواف زیارت کول صحت نه لري.

نهم:- طواف زیارت په خپله کول دي، یعني حاجي صاحب به پخپله طواف کوي نو نیابت یې صحت نه لري؛ البته که دبل چا په شا باندې، یا په کجاوه اویا په ډولی کې طواف وکړي نو دمعذور لپاره بغیر دجزاء څخه صحت لري، اوغیرمعذور ته سره دجزاء نه صحت لري، کچېرې یو حاجي صاحب بې هوشه شي بل ملګری یې دده لخوا احرام وتړي، اودده پرځای طواف زیارت وکړي صحت لري .

لسم:- دطواف زیارت اکثر شوطونه اداکول، یعنې څلور شوطونه (ګشتونه) کول چې دغه څلور چکرونه یې فرض دي، اونوردري یې واجب دي. یوولسم:- طواف زیارت په هیڅ شی باندې نه فاسدیږي، البته که څوک العیاذ بالله تعالی مرتد شو دهغه طواف زیارت باطل شو . دوولسم:- طواف زیارت تر مرګ وخته پورې نه قضاء کیږي، که هرڅوکاله ژوندی وي چې کله هم یې طواف زیارت وکړو نو طواف زیارت یې صحت لري، اوخپله ښځه به ورته حلا له شي؛ البته دایام نحرنه دتاخیر په وجه به یوپسه دجزاء ذبح کړي . دیارلسم:- طواف زیارت هیڅ بدل (عوض) نه لري، مګرداچې که حاجي صاحب دعرفات تر درېدلو پس وفات شي، اووصیت

يې دحج دبشپړه کولو اواتمام کولوکړی وؤ، نووکیل به یې یو اوښ، یا غوئي ذبحه کړي نو حج يې کامل اوبشپړه شو. څوارلسم:- که یو محترم حاجي دعرفات تر ودریدلو پس وفات (مړ) شو، اودخپل حج دپوره کېدلو وصیت یې کړی وؤ، نو دباقي ټولو پاتې شوؤ منا سکو بدل (عوض) کې به یو بدنه (اوښ ، یا غوئي) ذبحه کړي نو حج یې صحیح اوتمام شو.[1]

﴿ ج :- دطواف زیارت واجبات﴾

محترمو! دطواف زیارت واجبات دادي:- اول:- طواف زیارت په خپلو پښوباندې کول، البته معذور يې په کجاوه وغیره باندې هم کولی شي. دوهم:-په ښی(راسته)طرف باندې طواف شروع کول.دریم:-دطواف زیارت اوه شوطونه ټول پوره کول:څلورم:-طواف زیارت په کامل طهارت (پاکوالي)سره کول.پنځم:-طواف زیارت دعورت پټوالی په حالت کی کول. شپږم:-طواف زیارت په ایام نحرکی کول یعني داخترپه دریو شپو کې.[1]

(مهمه فائده) دطواف اکثراحکام مخکې تېرشویدي البته دایوڅو ضروري مسائل دلته دیاد وړدي:-

(۱) مسئله: دطواف زیارت اودجمرې عقبې اوذبح اودحلق ترمینځ ترتیب سنت ده او واجب نه دی، البته کچیرته یوسړي دحلق اوقصرڅخه مخکې طواف زیارت وکړي، نوداحرام دممنوعاتوڅخه نه خلاصیږي، څکه چې حلال کېدل په حلق اوقصرسره کیږي نه په طواف زیارت سره .

---

(۱) ملخص فتح القد یر ج ۲ ص ۳۸۹ ، الی ص ۳۹۰ فروع تتعلق بالطواف وارشادالساری ص ۱۵۵ الی ص ۱۵۶

(۱) فتح القدیر ص ۳۹۰ ج ۲ وارشادالساری ص ۱۵۵

(۲) مسئله:- که چیرته ښځه پوهېدله چې اوس طواف زیارت کولی شم، اوباخلورشوطونه کولی شم، اوبیاسمدستي دحیض وخت رارسیږي لیکن طواف زیارت یې ونه کړو، اوحیض یې راغلو، بیادایام نحر څخه وروسته پاکه شوه نودم دتأخیروربالدې واجب دی، اوکچیرته څلورشوطونه نه شي کولی حیض ورباندې راتللو طواف زیارت یې ونه کړو دتأخیر ایام نحرپه وجه کوم څه شئ ورباندې نه واجب ندي.

(۳) مسئله:- دطواف زیارت کولوڅخه وروسته به منی ته واپس کیږي اوردماسپښین لمونځ په منی کې کول مسنون دي، اوبعضې علماء کرامو لیکلي چې مسجدحرم شریف کې یې اداکول مسنون دي،البته ملاعلي قاري رحمه الله تعالی په مسجدحرام شریف کې دماسپښین لمونځ کولو ته ترجیح ورکړې ده.

(۴) مسئله:- شپه په منی کې تېرول سنت دي،دمنی څخه علاوه بل هر ځای کې شپه کول مکروه دي، خواه مکه مکرمه کې وي اویاپه لاره کې وي، اوهمدارنګه دشپې اکثره حصه دمنی څخه غیربل ځای کې تېرول هم مکروه تنزیهی دي ، لیکن په دې سره (داحنافوپه نیزد) دم وغیره نه واجب کیږي، اوهمدارنګه ځیني خلک داګومان کوي چې دامنی دی حالانکه شپه دمنی دحدودوڅخه خارج (بهر)تېره وي په دې کې هم احتیاط اومعلومات ضروري دی چې دامنی دحدودو څخه خارج شپه تېره نه شي، لهذا په منی کې به شپه تېره وي، اوځیني خوپه منی کې داوسیدلو ځای پوره پلټنه اوتاکېد نه کولوپه وجه داعذرکوي،چې په منی کې دي هستوګنې ځای

نشته، نوپه مكه مكرمه كې اوياپه عزيزيه كې اوسيږي چې داخلاف سنت كاردى. ملخص من كتب الفقه حقاني عفي عنه.

﴿ديارلسم بحث:- د حج څلورمى ورځى احكام﴾

محترمو! دذى الحجې دمياشتي ديولسمى اودحج څلورمى ورځى مناسك اواحكام په لاندې ډول دي:-

﴿ الف:- ديوولسم تاريخ درمى طريقه﴾

محترموا!په يوولسم تاريخ به دومره انتظار وكړي ترڅوچې دماسپښنين وخت داخل شي، بيابه دمسجدخيف اومنى دلورې اولى جمرې ته راشي، اومخ په قبله به دپنځوګزوپه تقريب كې ورته اودريږي،رمى به شروع كړي دهركاڼي سره به داوايي : بِسْمِ اللهِ وَاللهُ اَكْبَرُ رَغْمًا لِلشَّيْطَانِ رِضًا لِلرَّحْمٰنِ، اودجمرې عقبې په شان به يې په اووكاڼو(شګو)باندي وولي،بيابه دخلقوڅخه يوخواته مخ په قبله دعاته ودريږي، چې څلى يې شاته وي ددعالپاره به لاسونه پورته كړي،اوكم ازكم به دومره وخت دعاته ولاړوي څومره وخت كې چې شل آياتونه لوستلى شي، دومره وقفه به په تكبير،تهليل،استغفار، اودرود شريف ويلوكې مشغول وي،خپل ځان اواقاربواومسلمانانولپاره به دعا وكړي ځكه چې دې مقام كې دعا قبليږي اودادعا دي هم ولولي :-

اَلْحَمْدُ للهِ حَمْداً كَثِيْرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيْهِ ،اَللّٰهُمَّ لَااُحْصِيْ ثَنَاءً عَلَيْكَ اَنْتَ كَمَا اَثْنَيْتَ عَلٰى نَفْسِكَ ،اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى نَبِيِّ الرَّحْمَةِ وَشَفِيْعِ الْاُمَّةِ وَكَاشِفِ الْغُمَّةِ سَيِّدِنَامُحَمَّدٍ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ اَلْاَبْطَحِيِّ الْعَرَبِيِّ الْمَكِّيِّ الْمَدَنِيِّ وَعَلٰى آلِهٖ هُدَاةِالْوَرٰى وَصَحْبِهٖ مَصَابِيْحِ الْهُدٰى كَمَاصَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى آلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ

حمید مجید عدد خلقک ورضاء نفسک وزنة عرشک ومداد کلماتک کلما ذکرک الذاکرون وغفل عن ذکرک الغافلون صلاة ترضیک وترضیه ویرضی بها عنا صلاة دائمة بدوامک باقیة ببقائک لاغایة لها ولاانتهاء ولا أمد لها ولا انقضاء صلاة تنجینا بها من عذاب النار وتدخلنا بها الجنة مع الخلفاء الابرار وترینا بها وجهک الکریم وتنفعنا بها یوم لاینفع مال ولا بنون إلا من اتی الله بقلب سلیم اللهم اجعله لنا حجا مبرورا وسعیا مشکورا وذنبا مغفورا وتجارة لن تبورا، اللهم إلیک افضت ومن عذابک اشفقت وإلیک رغبت ومنک رهبت فاقبل نسکي واعظم اجري وارحم تضرعي واقبل توبتي واقل عثرتي واستجب دعوتي واعطني سولي، اللهم إلیک وفد وفد قري فاجعل قرای منک رضاک عني یا ارحم الراحمین لاإله إلا الله والله اکبر عدد خلقه ورضاء نفسه لا إله إلا الله والله اکبر زنة عرشک مداد کلماتک والحمد لله کذلک وصلى الله على سیدنا ومحمد نبینا کذلک وعلى آله واصحابه کذلک الحمد لله الذي هدانا لهذا وما کنا لنهتدی لولا أن هدانا الله اللهم تقبل منا ولاتجعلنا من المحرومین وادخلنا في عبادک الصالحین یا ارحم الراحمین اللهم صل على سیدنا محمد وآله وصحبه وسلم تسلیما کثیرا. بیابه دوهم څلي ته راشي، اوهو بهو به په دغه طریقه دجمری وسطی رمی وکړي، اودعا به هم وکړي، بیابه دریم څلی ته یعنی جمرة العقبة ته راشي چې دلته به یي راسته اوړه منٰی ته اوچپه اوړه به یي مکی مکرمی ته کړي وي، اودهغه نورو جمروپه شان پنځه ګزه قریب په اوه ګټی (شګې) یې وولی، البته کچېري کاڼی (تیږه) خطا شوه، یا څلی

ورباندې ولګيد خو توپ بې کړ يعني داخل ددېوال کې ونه ولېدو، نودغه شکه بې اعتبار نه لري يعني جزاء ورباندې لا زمېږي،

اوهمچنان داول اودو هم څلی په شان دغه اخيري څلی نه ويشتل کيږي يعني هغه نور دوه څلی که چا دڅلورو خوا وو څخه وويشتل جواز لري، اودغه اخيري څلی ددغې يوې خوا نه ويشتل کيږي لکه چې اوس بې ترتيب ذکرشو، اوبل داچې ددې اخري څلی دويشتلو بعد به ددعا لپاره نه دريږي، ځکه چې دغه ثابته ندی، البته دهغه ځای نه بيرته راګرځېدو حالت کې به په تلو تلو کې دعا کوي، ديولسمې ورځې درمی نه پس به په منٰی کې اوسيږي، اود الله تعالی ذکر،اوتلاوت، اودعاګانې به کوي، اودعبثو کارونو او غفلتونوکې دې وخت نه ضائع کوي ځکه داډېر قيمتي وخت ده.(۱)

﴿ ب:- درمي ضروري احکام ﴾

محترمو! درمي مسائل مخکې دجمرى عقبه ويشتلو بحث کې تېر شوي دي بيا يې نه راګرځوو، البته دمياشتې په يولسمه اودولسمه ورځ درې واړه جمرې پس دزوال نه ويشتل کيږي، اودا ظاهرالرواية دی. نو کچېرې چا په دې ورځو کې مخکې دزوال نه رمی وکړه، اوبيا يې اعاده ونه کړه نو دم جزاء يعني قرباني پرې واجب شوه، او همدارنګه کمزورې نارينه اوعام زنا نه په راتلونکې شپې کې رمی دجمروکولی شي، نوبا لکل دې رمی نه پرېږدي،اونه دې څوک نائب نيسي ځکه چې دشپې ازدحام (ګنه ګوڼه) نوي، ورنه بيا به دم جزاء ور باندې لا زم شي.

---

(۱) ملخص جامع المنا سک ص ۱۸۶ وغيره

﴿څورلسم بحث:- د حج پنځمی ورځی احکام﴾

محترموا دذی الحجې دمیاشتې ددولسمی اودحج پنځمی ورځی مناسک اواحکام په لاندې ډول دي:

﴿ الف:- د حج پنځمی ورځی درمی ترتیب ﴾

محترموا په دولسم تاریخ دذی الحجې به ددرې واړوجمرو رمی دزوال څخه وروسته وکړي، لکه څنګه چې یې په یوولسم تاریخ دزوال څخه وروسته رمی کړي وه یعنې په عین هغه ترتیب باندې به یې وولي،اوددې وخت هم دزوال څخهترلمرډوبېدو پورې دی، اودلمرډوبېدوڅخه بیادصبح صادق دراختلو پورې یې مکروه وخت دی، خودکمزوروسړیو اوعاموښځو لپاره مکروه ندی، البته ددې ورځ درمی دزوال څخه وروسته که یې کوم ضرورت درلود نودلمردډوبېدوڅخه وړاندې وړاندې دمنی څخه اوځي، څکه بیا وروسته نه شي وتلی چې کله لمرډوب شي، اوښه خبره داده چې په خپله خوښه ددې ورځې رمی ته معطل او ایسارشي.[1]

﴿ ب:- دحج پنځمی ورځی ضروري احکام ﴾

محترموادذی الحجې په یوولسم اودولسم تاریخ باندې دجمرو ویشتل واجب دي، اوکوم شخص چې په دې دؤو ورځوکې رمی ونه کړي نوپه ده باندې دم واجب شو، چې دحرم شریف په حدود کې به یې په خپله یادوکیل په واسطې سره ذبحه کړي، اوکومه قرباني چې په حاجي صاحب باندې دجنایت په سبب لازمه شي دهغې غوښه به صرف فقراو ته ورکولی شي،

---

(۱) مجامع المناسک ص ۱۹۰ الی ۱۹۵فصل فی صفة رمی

اوصاحب دجنایت اواغنیاؤ ته یې خوړل حرام دي، البته داحنافوپه نزددم تمتع اودم قران دشکریه دم دی، نودم تمتع اوقران څخه یې په خپله خوړلی شي، اواغنیاؤ ته یې هم ورکولی شي. اوبل ددې ذبحه په حدودحرم شریف کی ضروري دی، کچیرته حدود دحرم شریف څخه یې خارج ذبحه وکړه دهغې اعاده ورباندې واجب دی، یعني دټولوذبحولپاره چې دنسکودحج اوعمری څخه وي نوذبحی یې په حدود دحرم شریف ضروري دي.اودم دجنایت لپاره متعین وخت اومقرره ورځ نشته بلکه جنایت کوونکی یې چې هروخت وغواړي ذبحه یې کولی شي.

﴿پنځلسم بحث:- دحج شپږمي ورځي احکام﴾

محترمو! دذی الحجې دمیاشتي ددیارلسمی اودحج شپږمی ورځی مناسک اواحکام په لاندې ډول دي.

﴿الف: - دذی الحجې دیارلسمی ورځی معطل کېدوحکمت﴾

محترمو! حاجي صاحب به په خپله خوښــــه په دیارلسم دذی الحجې باندې رمی لپاره منی کې پاتې شي، چې داډېره بهتره ده ځکه چې په دې ورځ هم ویشتل واجب کېږي، اودواجبو اداکول زیات ثواب لري، اوکه یو سړي دځه ضرورت په وجه په منی کی حصاراومعطل شواوصبح صادق ورباندې راوختو، نوبیادجمرو ویشتل ورباندې واجب شول، نووروسته دزوال څخه به درې واړه جمرې په مخکنې ذکرشوي ترتیب باندې وولي ؛ او مخکې دزوال څخه دجمرو ویشتل مکروه اوخلاف سنت کاردی، اوکه په دغه ورځ یې دجمرو ویشتل اونه کړل نودم جزاء ورباندې واجب دي.

﴿ب:- مکي معظمي ته دواپسي ترتیب﴾

محترموا کله چي دجمرو ویشتلوڅخه په دیارلسم تاریخ ذی الحجې فارغ شي، اودمکي مکرمي په لورې راروان شي نوداکلمات به ووایي:
اَلْحَمْدُ لله حَمْدًا کَثِیْرًا طَیِّبًا مُبَارَکًا فِیْهِ وَالشُّکْرُ لَه عَلَی آداءِ الْمَنَاسک وَالتَّوْفِیْق لِآداءِ الْحَجِّ اِلَی بَیْتِ اللهِ تَعَالَی وَیَسَّرَ ذلکَ بِمَنِّه وَکَرَمِه وَلُطْفِه ،اَللّٰهُمَّ فَتَقَبَّلْ مِنَّا الْحَجَّ وَاَثْبِتْنَا عَلَی الْحَجِّ وَاجْعَلْهُ لَنَا خَالِصًا لِوَجْهِ الْکَرِیْم وَانْفَعْنَا بِه یَوْمَ لاَیَنْفَعُ لاَمَالٌ وَلاَبَنُوْنَ اِلاَّ مَنْ اَتَی اللهَ بِقَلْبٍ سَلِیْم ،اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ صَاحِبَ الْمُقَامِ الْمَحْمُوْدِ وَالْحَوْضِ الْمَوْرُوْدِ وَالشَّافَعَةِ الْعُظْمَی یَوْمَ الْوُرُوْدِ وَعَلَی آلِه اَیمَةُ الدِّیْنِ وَعَلَی اَصْحَابِه هُدَاةِ الْمُسْلِمِیْنَ کَمَا صَلَّیْتَ عَلَی اِبْرَاهِیْمَ وَعَلَی آلِ اِبْرَاهِیْمَ اِنَّکَ حَمِیْدٌ مَجِیْدٌ عَدَدَ خَلْقِکَ وَرِضَا نَفْسِکَ وَزِنَةَ عَرْشِکَ وَمِدَادَ کَلِمَاتِکَ کُلَّمَا ذَکَرَکَ الذَّاکِرُوْنَ وَغَفَلَ عَنْ ذِکْرِکَ الْغَافِلُوْنَ. بیابه محصب مقام ته راشي نزول به وکړي چي داسنت مؤکده دی،چي پرېښودل يې ګناه ده،اودلته به دماسپښین مازدیګرماښام ماسختن لمونځونوکولوڅخه وروسته لږقدرخوب هم وکړي،بیابه دبیت الحرام په لورې روان شي. (۱)

﴿فائده نافعه﴾

محترموا!دمحصب ادرس یعني پته ومعلومات دادي چي دلته اوس په محصب کې یوښائسته وسیع مسجد دډؤوسرکونومینځ کې جوړشوی دی، چي هغه ځای ته اوس المعابده وایي، اوهغه نیږدي ماحول ته شارع الابطح وایي،

---

(۱) مجامع المناسک ص ۲۰۰ فصل فی النفرمن منې

اودمحصب ساحه ډېره وسیعه ده یعنې دحرم شریف څخه منی ته دمقبری منورې دجنت المعلات په لار روان شي نودالمعابده مقام ته به راورسیږي، چې دقدیمې تعمیردامارة المکه المکرمة حد ته رأورسیږي دلته چارسو (چهار راهي) اشارة ده، نوددغې اشارې چارسوڅخه شروع مخ په منی دراسته لاس دغره اوهم دچپه لاس غره، اودڅوغرومابین چې دوه لوی سرکونه چې زيات کورونه اوبازاردې،اوبلې خواته لري ترمیدان الخنساء اومیدان امارة المکة اوترموجوده نوي تعميراتو دامارة المکة المکرمة پورې، چې دولتي ولايت دمکې مکرمې دی تردغه حدپورې ټوله ساحه دمحصب ده، چې دغه ساحه اوعلاقه کې چې دموټرڅخه کوزشي، یاکه پیاده اوپښو راروان وي لږغوندې کينې، نوسنت يې پوره شو دترک سنت مؤکده څخه خلاص شو، زيات افسوس دی چې دغه سنت مؤکده اوسنی زمانه کې اکثرحاجيان صاحبان پرېږدي، بالکل دځای پوښتنه هم نه کوي، بلکه ورته يادهم نه وي، يقيناً مونږهم ډېرنااشناؤ وخو دپوښتنې سره موډېر زر پيداکړو؛ نودپښتوژبې متل دی چې کعبه په پوښتنه پيداکيږي، نوداهل علم وغیره ؤ لپاره پکارده چې داسنت ورڅخه پاتې نشي،اومونږخوپوره معلومات درته نويشته کړل انشاء الله تعالی اوس به يې په پيداکولوکې دومره تکلیف نوي، بيابه دمحصب نزول څخه وروسته بابرکته ښارمکې مکرمې ته تشريف راوړي، ماثوره اوخپلې خوښې دعاګاني به له ځان سره وايي، اوذکراودرود شريف ويلوسره به دابختورحاجي دي بختورښارته ننوځي، اوطواف وداع لپاره به تياري وکړي . والله اعلم بالصواب.

﴿ج:- درخصتی طواف احکام﴾

محترمو! مکه معظمه کې قیام یعني پاتې کېدل غنیمت اوسعادت دی، البته درخصتی وخت کی به یې دهجران اوښکي پر مخ رابهیږي اوطواف وداع به کوي نودطواف وداع مناسک اواحکام په لاندې ډول دي.

۱:- درخصتی طواف وجوب شرطونه

محترمو! درخصتی طواف دوجوب شرطونه دادي:-اول:-کوم حجاج کرام چې له میقات څخه بهراوسیږي په هغوي باندي طواف وداع واجب دي، لهذا دمکې معظمې حرم شریف، زمین حل، اومیقاتواوسېدونکوباندې درخصتی طواف نشته.

دوهم:- طواف وداع پــه حاجي صاحب باندې واجب دی، که هغه حاجي قارن، یا حاجي متمتع، اویاحاجي مفرد وي، لهذا یوازې په عمره کوونکي باندې درخصتی طواف نــشته.

دریم:- طواف وداع په عاقل باندې واجب دي چې صاحب دتمیزوي، لهذا په لیوني باندې درخصتی طواف نــشته.

څلورم:- طواف وداع په بالغ باندې واجب دي، لهذا په کوچني باندې درخصتی طواف نــشته .

پنځم:- طواف وداع په پاکه ښــځه باندې واجب دي، لهذا په حائضی اونفاسی ښــځی باندې درخصتی طواف نــشته اوهمدارنګه په فائت الحج، اومحصر باندې درخصتی طواف واجب ندی .[۱]

(۱) ارشادالساری ص ۱۶۸

۲:- درخصتي طواف صحت اداء شرطونه

محترمو!درخصتي طواف دصحت اداء شرطونه دادي:- اول:-دطواف نيت کول، اګرچې تعين دطواف وداع يې نوي کړى، لهذا نفلي طواف هم دطواف وداع په ځاى اودربدلى شي، البته بهتردادي چې طواف وداع په مستقل نيت سره ادا کړى شي .

دوهم:-طواف وداع په خپل وخت کي کول لهذادرخصتي طواف به دطواف زيارت څخه وروسته اداکيږي.دريم:-طواف وداع په خپل مکان کي کول يعني چاپيره دکعبه شريفه څخه طواف کول،چې دادمطلق طواف رکن دى.

څلورم:- اکثرچکرونه دطواف وداع کول، داهم دمطلق طواف رکن دى.

۳:- رخصتي طواف واجبات

محترمو! درخصتي طواف واجبات دادي:-اول:-که يو افاقي سړى دمکې مکرمې څخه خارج شواوطواف وداع يې ونه کړو، نودطواف وداع لپاره بيرته مکې مکرمې ته راګرځېدل ورباندې واجب دي.

دوهم:-په مذکوره صورت کې کچيرته دخپل ميقات څخه تېرشوى ؤ،نو دطواف وداع لپاره بيرته راګرځېدل ورباندې واجب دى،البته کچيرته دحج ياعمرې داحرام تړلوڅخه بغيرله ميقاته راګرځېدو،نودم دتجاوزدميقات ورباندې لازم شو يعني چې بغيرداحرامه څخه په ميقات باندې راتېرشويدي.

دريم:- که يوشخص دميقات څخه تېرشوي ؤ،اوواپس قصد دراګرځېدلويې نوو، بيابه يودم حرام شريف ته راوليږي دطواف وداع دجبران لپاره،

دلته به يې وکيل ترينه ذبحه کړي، لوذمه به يې فارغه شي.(١)

٤:- دطواف رخصتی طريقه

محترموا مستحب دادی چې دټولو کارونو څخه کله فارغ شي بيابه طواف وداع وکړي، دهغه څخه وروسته دی فورًا سفرشروع کړي، کچېري طواف وداع څخه وروسته څه موده معطل شو، بيا دوباره طواف وداع کول ورته مستحب دي، لهذا اولاً به دطواف وداع نيت وکړي چې نَوَيْتُ اَنْ اَطُوْفَ بِهٰذَا الْبَيْتِ اَسْبُوْعًا كَامِلاً طَوَافَ الصَّدْرِ لِلّٰهِ تَعَالَى اَللهُ اَكْبَرْ بيابه دنوروطوافونوپه شان اودهغوي په ترتيب باندي به دغه طوا ف وداع هم وکړي، دطواف وداع نه وروسته دوه رکعته لمونځ دطواف واجب دي، چې کله دطواف دوه رکعته لمونځ وکړي، بيابه آب زمزم مبارک ته راشي نو په درېو ساه و سره به خپل ځان ښه پرې سيراب اومور کړي، اوپه اخلاص سره به هر واری دعاګانې کوي د خيال (فکر) به کوي چې زه بيت الله شريف و ينم، اوکه بيت الله شريف يې لېدلی شوه نو بيا خوکوم اشکال نشته، يعني اول وار کې به وايي چې بِسْمِ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى رَسُوْلِ اللهِ، اوپه اخري وار کې به وايي چې اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُکَ رِزْقًا وَاسِعًا وَعِلْمًا نَافِعًا وَشِفَاءً مِنْ کُلِّ دَاءٍ.

اوهمچنان ټول وجودبه تبرکاً پرې لوند کړي، بيا چې کله دزمزم اوبو څخه راوختلو بيت الله شريف يې ولېده نو ماثوره اودخپلې خوښې دعاګانې به وکړي، اوبيابه ملتزم شريف ته راشي په خضوع اواخلاص سره به دعاګانې

---

(١) ارشاد الساری ص ١٦٩

وکړي، اولاسونه به پر عتبه(ددروازي چوکاټ)شريف پوري بند کړي،اود بيتې شريفې وصال به دالله تعالى دوصال ذريعه اووسيله بولې،اوخپل ټتر (سينه ځيګر) به په دېوال مبارک دبيتې شريفې ومبنې، اومخ اوغمبوری به ورباندې کيږدي،لکه څرنګه چې عاشق خپله معشوقه درخصتې په وخت د فراق وهجران،اوجدايې په وخت کې په غيږ ه کې ونسي،يعنې تکبير،تحميد ، تهليل ، تسبيح ، درودويونکي، اوژړا افسوس کونکي، اوارمان کونکي، اودفراق اوښکوبهيدونکې به وي، اوبيابه حجر اسود مبارک ته راشي، او تقبيل (ښکل ، مچ) به يې کړي، اوبيابه بيتې مبارکې ته ستر ګي ورپورته کړي پداسي حال کې چې دهجران اوښکي يې پر مخ رابهيږي، اوترشابه ځنې روان شي، دفراق په توګه به کعبې شريفې ته ګوري ترڅوچې دحرم شريف په دروازه باندې اودريږي، که باب الغزوة وي خوډيره ښه اويا بله دروازه وي، دلته به تسبيح ، تحميد ، تکبير ، تهليل ، اودرود شريف ووايې چې په ډېر تضرع(عاجزي)سره به دعاګانې وکړي اودا دعابه وکړي .

اَللّٰهُمَّ إِنَّ هٰذَا بَيْتُکَ الَّذِيْ جَعَلْتَهُ مُبَارَکًا وَهُدًى لِلْعَالَمِيْنَ اَللّٰهُمَّ کَمَا هَدَيْتَنِيْ لَهُ فَتَقَبَّلْ مِنِّيْ وَلَاتَجْعَلْ هٰذَا آخِرَ الْعَهْدِ مِنْ بَيْتِکَ وَارْزُقْنِيْ الْعَوْدَ إِلَيْهِ حَتّٰى تَرْضٰي عَنِّيْ بِرَحْمَتِکَ يَااَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْدًا کَثِيْرًا طَيِّبًا مُبَارَکًا فِيْهِ، اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنِيْ الْعَوْدَ بَعْدَ الْعَوْدِ الْمَرَّةَ بَعْدَ الْمَرَّةِ إِلٰى بَيْتِکَ الْحَرَامِ وَاجْعَلْنِيْ مِنَ الْمَقْبُوْلِيْنَ عِنْدَکَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِکْرَامِ، اَللّٰهُمَّ لَاتَجْعَلْهُ آخِرَ الْعَهْدِ مِنْ بَيْتِکَ الْحَرَامِ وَاِنْ جَعَلْتَهُ آخِرَ الْعَهْدِ فَعَوِّضْنِيْ عَنْهُ الْجَنَّةَ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ وَصَلَّى

الله علٰی خَیْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَصَحْبِهٖ اَجْمَعِیْن. (۱) بیابه خپل وطاق اوکوټی ته راشي، دمدینې منورې (علی صاحبها اَلْفَ، اَلْفَ، اَلْفَ صَلٰوة) دسفر لپاره به بندوبست وکړي، اوپروګرام به جوړکړي، دهلته چې که مخکې مدینې منورې ته تللی نوي، ددې تفصیل به انشاءالله تعالی راتلونکې اخري فصل کې راشي.

﴿ توصیه نافعه ﴾

محترم حاجی وروره! مکه معظمه کې قیام اوپاتې کېدل غنیمت اوسعادت شماره، اوپه حرم شریف کې لمونځونه اونفلي طوافونه دالله تعالی له طرفه انعام بوله، اوخپل موراوپلار اواقاربو لپاره دنفلي طوافونودایصال ثواب په نیت کوه، اولمونځونه روژې صدقې اواعمال حسنه په کثرت سره کوه، اوپه حرم شریف کې یووار قرآنکریم ختم کړه ځکه چې حرم شریف کې یو وار قرآنکریم ختم کول مستحب دي، اواهل مکه مکرمه ته په خراب نظرسره مه ګوره، اوددوي په حالاتو باندې بغیر دفائدې څخه نکته چیني مه کوه، اوددوی تعظیم اواکرام کوه، نوترڅوپورې چې هلته وې دهغوي سره حسن سلوک کوه، اودایام تشریق څخه وروسته عمري دخپل ځان لپاره اودوالدینو اواقاربواوخصوصًا درسول الله صلی الله علیه وسلم لپار ه کول پکار دي، او عمري خو ډېر زیات ثواب لري ان شاء الله تعالی دعمرې فصل کې به یې بیان راشي، او مکی مکرمی کی صلوة تسبیح هم وکړه چې ددې هم زیات فضائل اوثوابونه دي، لکه په ابوداودشریف کې دابن عباس رضی الله تعالی عنهماڅخه روایت دی: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم عباس بن عبدالمطلب

---

(۱) ارشاد الساری ص ۳۴ ومجا مع المنا سک ، ص ۲۰۳

رضى الله تعالى عنه ته وفرمائيل چې اى عباس (اى تره!) ايازه تاته خبر درنکړم، ايازه تاته خبردرنکړم،ايازه ونه ګرځوم تاته لس خويونه،چې ته کله داوکړې ستا اول اواخر ګنا هونه به معاف شي، اوهم قديم اونوي، خطاء اوقصداً، واړه اولوي، پټ اوڅرګند ګناهونه به دمعاف شي، لس خويونه دادي: چې ته به څلور رکعته مونځ وکړي په هر رکعت کې به سورة فاتحه (الحمدلله شريفه)اوورسره سورت ولولې کله چې اول رکعت کې دقرائت څخه فارغ شي اوته ولاړوي نو ته به سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ للهِ وَلَاإِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَاللهُ اَكْبَر پنځلس واره ووايي،اوکله چې رکوع وکړي اورکوع کې وي نوداکلمات به لس واره بيا ووايي، اوکله چې رکوع څخه سرراوچت کړي (قامه) کې به يې لس واره ووايي،اوچې سجدې ته ولاړشي بيابه يې لس واره ووايي،او کله چې سجدي څخه سرراوچت کړي(جلسه)کې به يې لس واره ووايي، بيا به سجده وکړي لس واره به يې په دوهمه سجده کې ووايي، اوبياچې سجدې څخه راپورته شې بيابه يې لس واره ووايي ، نودا(٧٥) پنځه اويا واري شول، نوهررکعت به پدې ترتيب باندې کوي ، که طاقت دې وي نو هره ورځ يې کوه، که دِ نه کړونو په هرې جمعې کې يې يو وار کوه، که ودِنه کړونو هره مياشت کې کوه، که ودِنه کړونو هرکال کې يې کوه، کچېري ودِنه کړونو په ټول عمر کې خويې يووار وکړه . (١)

---

١ قال الحافظ ابن حجر هذا حديث حسن وقد اساء ابن الجوزى بذكره اياه فى الموضوعات وقد نص جماعه من العلماء على استحباب الصلوه وقال السبكى صلوة التسبيح من مهمات المسائل وحديثهما اخرجه ابوداود والترمذى وابن ماجه والحاكم وصححه.

اوعبدالله بن مبارک به دقرائت څخه مخکي پنځلس واري اوبیادقرائت څخه وروسته لس واري کلمات مذکوره ښودل، اوباقي لکه څرنګه چي حدیث شریف کي دي، اودوارو سجدو څخه وروسته به یې هم نه ښودل، نولهذا دابن عباس رضی الله تعالی عنهما حدیث باندي کله عمل کول پکار دي، اوکله دعبدالله بن مبارک رحمه الله تعالی په قول باندي عمل کول پکار دي، اوکچیري دمذکورو کلماتوڅخه وروسته یې (لاحول ولاقوة الا بالله العلی العظیم) زیات کړل، نو ډیره ښه ده، فقدورد ذالک فی بعض الروایات؛ اوځني علماء داهم لیکلي: چي زوال وخت کي دجمعی په ورځي صلوة تسبیح مستحب دي، په اول رکعت کي به فاتحه څخه وروسته سورة التکاثر، اوپه دوهم رکعت کي به سورة العصر، اوپه دریم رکعت کي سورة الکافرون، اوپه څلورم رکعت کي سورة الا خلاص لو ستلی شي. کله چي (۳۰۰) دري سوه تسبیحات پوره کړي، اوتشهد څخه فارغ شي اودسلام ګرځولو څخه به مخکي دادعا وکړي.

اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ اَسْئَلُکَ تَوْفِيْقَ اَهْلِ الْهُدٰى وَاَعْمَالَ اَهْلِ الْيَقِيْنِ وَمُنَاصَحَةَ اَهْلِ التَّوْبَةِ وَعَزْمَ اَهْلِ الصَّبْرِ وَحَذَرَ اَهْلِ الْخَشْيَةِ وَطَلَبَ اَهْلِ الرَّغْبَةِ وَتَعَبُّدَ اَهْلِ الْوَرَعِ وَعِرْفَانَ اَهْلِ الْعِلْمِ حَتّٰى اَخَافُکَ ،اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ اَسْئَلُکَ مَخَافَةً تُحْجِزُنِيْ عَنْ مَعَاصِيْکَ حَتّٰى اَعْمَلَ بِطَاعَتِکَ عَمَلاً اَسْتَحِقُّ بِهِ رِضَاکَ وَحَتّٰى اُنَاصِحَکَ فِي التَّوْبَةِ حَقًّا فَاَمَنُکَ وَحَتّٰى اَخْلُصَ لَکَ النَّصِيْحَةَ حُبًّا لَکَ وَحَتّٰى اَتَوَکَّلَ عَلَيْکَ فِي الْاُمُوْرِ کُلِّهَا حَسَنُ الظَّنِّ بِکَ خَالِقَ النُّوْرِ رَبَّنَا اَتْمِمْ لَنَا نُوْرَنَا وَاغْفِرْ لَنَا إِنَّکَ عَلٰى کُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ بِرَحْمَتِکَ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَا؛اوداسي نوري دعاګاني

خصوصاً محترم وروره ماهم خپلو دعاګانو کې یاد کړه درځخه هیر لشم اوداعرض مي قبول کړه واجرک علی الله تعالی المهاجرمدني حقاني عفي عنه.

{ځلورم فصل: دعمرى فضائل اومسائل}

﴿لومړى بحث: دعمرى فضائل﴾

محترمو! دعمرى فضیلت په ارتباط زیات قرآني آیتونه اونبوي احادیث اودسلف صالحینو آثارراغلي البته مونږ به یې د ترغیب وتشویق لپاره په لنډه توګه توضیح کړو...

﴿الف :- قرآن کریم د یوآیت شریف توضیح﴾

محترمو!الله تعالی فرمایي:- وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ [1] ژباړه:- یعني پوره اداکړی حج اوعمره خاص الله تعالی لره .

توضیح:- محترمو! بعضی علماء کرام فرمایې چې عمره فرض عین ده، او ځني علماءکرام فرمایې چې عمره فرض کفایي ده،اوځني علماءکرام فرمایې چې عمره واجب ده، البته مختار قول دادی چې عمره سنت مؤکده ده.[2] اوعلامه شیخ عبدالرحمن الجزائرى رحمه الله تعالی لیکلي:المالکیةوالحنفیةقالوا العمرة سنةمؤکدة في العمر مرة لافرض لقوله صلی الله علیه وسلم الحج مکتوبة والعمرة تطوع [3] یعني مالکیانواواحنافو علماء کرامو فرمائلي دي: چې عمره سنت مؤکده ده، فرض نه ده، ځکه چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائلي:چې حج فرض دی اوعمره تطوع دی(وفی الهندیة،العمرة عندناسُنّة

---

(١) البقرة ایت نمبر ١٩٦ ،

(٢) کما فی کتاب الایضاح للا ما م نووی رح . ص ٣٧٩

(٣) الفتاوی الهندیه ج ٢ ص ، ١٣٧ الباب السا دس فی العمرة

لازم لصل:دعمرې فضائل اومسائل

وليست بواجبة ويجوزتكرارها فى السنة الواحدة.(۱) يعنې عمره زمونږ احنافو په نزد سنت ده واجب نه ده،اوپه يو كال كې ډېرې عمرې كول جائز دي .

﴿ب :- د دريومباركو احاديث توضيح﴾

۱:-(عن ابن مسعودرضى الله تعالى عنه قال رسول الله صلى الله عليه وسلم تَابِعُوا بَيْنَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ فَإِنَّهَا يَنْفِيَانِ الْفَقْرَ وَالذُّنُوبَ كَمَا يَنْفِي الْكِيرُ خَبَثَ الْحَدِيدِ وَالذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ) (۲)

ژباړه:- دابن مسعود رضى الله تعالى عنه څخه روايت دى: چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم ارشاد دى: چې متا بعت كوى په مينځ دحج اوعمرې كې چې دغه دواړه مفلسي اوګنا هونه داسې لرې كوي لكه څنګه چې داور بټۍ داوسپنې اوسروزرو اوسپينوزرو خيري لرې كوي.

توضيح:- محترمو! بعضوعلماؤ كرامو ليكلى دي: چې متابعت نه مراد حج قران دى، چې په دې كې دحج اوعمرې احرام په يوواراوديوځاي نه تړل كيږي لكه مخكې يې بيان تېر شويدى،اوپه ټولواقسامودحج كې افضل حج داحنافو په نزد حج قران دى،اومحققينو علماؤ كرامو فرمايئ چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم هم احرام دحج قران كړى وؤ،اوهمدرازدمتابعت دامطلب هم كېداى شي چې كچېري يې مخكې حج كړى وؤ نو ورپسې دې عمره وكړي،اوكه مخكې يې عمره كړې وه نووروپسي دى حج وكړي چې داهم متا بعت شو، يو حديث شريف كې راغلى دي چې په حج اوعمره كې متا

(۱) كتاب الفقه على مذا هب الار بعة ج ۱ ص ٦٨۴ مبحث العمرة

(۲) رواه الترمذ ى

بعت کول عُمرزیاته وي،او رُوزي هم زیاته وي.[۱]امام نووی رحمه الله تعالی دامام شافعي رحمه الله تعالی څخه نقل کړیدي چې هیڅ یوه میاشت داسې تیریدل پکارندي چې په هغې کې سره د استطاعته کم نه کم یوه عمره ونه کړي، اوکه دوی یا درې عمری یې وکړي نو ډېره بهتره دی.[۲]

۲:-(عن ابي هريرة رضى الله تعالى عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: اَلْعُمْرَةُ إِلَى الْعُمْرَةِ كَفَّارَةٌ لِمَا بَيْنَهُمَا)[۳]

ژباړه:- دابي هريره رضى الله تعالى عنه څخه روايت دی: چې دخوږنبي كريم صلى الله عليه وسلم ارشاددی: چې یوه عمره دبلې عمرې پورې دمینځنی حصې لپاره کفاره ده.متفق علیه.

توضیح:- محترمو! ددی حدیث شریف مفهموم دادي چې دیوې عمرې څخه وروسته بلې عمرې پورې مینځنی حصه کې چې څومره غلطي شوي وي هغه به معاف شي،لکه چې یو بل حدیث شریف مضمون دی چې یوه عمره بلې عمرې پورې کفاره ده ددې دواړوپه مینځ کې دګناهونو اوخطاګانو لپاره.[۴]

اویوبل حدیث شریف مضمون دی چې حج کوونکي اوعمره کوونکي دالله تعالی وفدونه ده، کچېري دوي دعا وغواړي نوالله تعالی ددوی دعا قبلوي،

---

(۱) کنز ،

(۲) شرح مناسک بحواله فضائل حج ص ۱٦۷

(۳) رواه البخاری ومسلم

(۴)صحیح البخاری/ج۱ص۳۵۱ .

اوکچیري دوی دګناهونو ښښنه وغواړي الله تعالی ورته ښښنه کوي. (۱) یعني لکه څنګه دنیاوي لحاظ سره دوفدونو عزت اواکرام کیږي نوهمدا رنګه حجاج اوعمره کوونکي دالله تعالی په دربار کې حاضریږي، ددې خلقوهم دالله تعالی په نزد اکرام کیږي.

۳:- (عن ابن عباس رضی الله تعالی عنهما قال جاءَتْ أُمّ سُلَيْم إِلَی رَسُوْلِ الله صلی الله عیه وسلم فَقَالَتْ حَجَّ أَبُوْ طَلْحَةَ وَابْنُهُ وَتَرَكَانِي فَقَالَ يَا أُمَّ سُلَيْم عُمْرَةٌ إِلَی عُمْرَةٍ فِي رَمَضَانَ تَعْدِلُ حَجَّةً مَعِيَ) (۲)

ژباړه:- دابن عباس رضی الله تعالی عنهما څخه روایت دی: چې حضرت ام سلیم رضی الله تعالی عنها دنبی کریم صلی الله عیه وسلم په خدمت کې حاضره شوه، او عرض یې اوکړو چې زما خاوند ابوطلحه رضی الله تعالی عنه اودهغه زوي حج ته ولاړل اوزه یې پرېښودم، نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمائل: چې په رمضان کې عمره کول ماسره دحج کولو برابر دی.

توضیح:-محترمو!ددی حدیث شریف دا مضمون چې عمره په رمضان کې کول دحج په شان فضیلت لري په مختلفو احادیثو کې راغلی دی، اوحافظ ابن حجر رحمة الله تعالی علیه په فتح الباري کې درې روایتونه ذکر کړي دي چې عمره دحج برابر کېدلو دامطلب ندي چې په دې عمره به فرض حج پوره شي، څکه چې دا اجماعی یعني دټولو علماؤو اتفاقی مسئله ده، اوپه دې کې دهیچا اختلا ف نشته چې فرضی حج په دې عمری سره نه ادا کیږي،بلکه مطلب یې دادی چې کله عمرې سره درمضان المبارک فضیلت

---

(۱) رواه ابن ما جه كذا فی المشكوة

(۲) رواه صحيح مسلم/ج۲ص۹۱۸ ورواه ابن حبان فی صحيحه كذا فی التر غيب

هم یو ځاي شي نودحج سره په ثواب کی برابریږي،ابن الجوزي رحمة الله تعالى عليه فرمايي چې ډېرواري دوخت فضیلت په وجه سره دعمل ثواب زیاتیږي، ځنګه چې دخلوص نیت اوداخلاص په وجه سره دعمل ثواب زیا تیږي.(۱)

اوخوږ نبی کریم صلی الله علیه وسلم دهجرت نه پس صرف یووار حج کړیدی، لکن عمرې یې څلور کړي دي، چې په هغې کې یوه عمرې پوره نه شوه،چې مشرکانو مکه مکرمه داخلېدلوته نه پرېښودو، اوپه دې باندې فیصله وشوه چې دا کال به عمره نه کوي، اوآینده کال به عمری ته راځي، اودرې نوري عمري یې پوره په پوره کړیدي.

فائده:—محترمو!څرنګه چې فرضی مونځونو لپاره مخصوص اوقات دي،اوپه دې اوقات کی نوافل هم اداکیدلای شي،پس کله چې جانثارمتقي کسان د هغوي ددربارحاضري ته زړه وشي،نودحاضری اجازت ورته ورکړ شویدي، همدارنګه دبیت الله شریف حج یوواری فرض شویدي کوم چې په مخصوص وخت کې ادا کیږي، اوبله خوا یي دعمری اجازت هم ورکړیدي چې په ټول کال کې ادا کیږي، سوا د هغوپنځو ورځوځخه یعني نهم دذالحجې څخه تردیارلسم دذالحجی پورې، چې په دې پنځو ورځو کی عمره کول مکروه دی ځکه چې دادحج کول مخصوص وخت دی، له دېنه علا وه چې په کومه ورځ اوځومره عمري یي چی زړه وغواړي کولي شي،داهم دالله تعالی لوي احسان دی چې دشوقمندو مسلمانانوعاشقانو خلقو لپاره یې هروخت دحاضری اجازت ورکړیدی.

---

(۱) فتح البا ری

﴿دوهم بحث:- دمکې معظمې تاريخي مقدس مشاهد اومساجد﴾

﴿الف:- مکې معظمې مقدس مشاهد﴾

۱- مکه معظمه:

محترمو! دڅرګند حقيقت دی چې مکه مکرمه ټوله دبرکت ځاي دی، دهغې هرځاي هريو داراودېوال هر کاڼی اوبوټی يې برکتي دي، ځکه چې هغې کی حضرت نبی کريم صلی الله عليه وسلم ګرځېدلی اوانبياء کرام عليهم السلام اوصحابه کرام واولياء کرام رضی الله تعالی عنهم اوسيدلی دي حتی چې رسول الله ρمکې مکرمی ته خطاب کړی اوداسې يې فرمائيلي دي: (ما اطيبک من بلدٍ واحبّک إلَيَّ ولولاأنَّ قوميْ اخرجوني منکِ ماسکنت غيرک([1]) وفي الأخرى والله إنک لخير ارض اللهِ واحبُّ ارض اللهِ إلى اللهْ الحديث.

ژباړه:- چې ته څومره بهتر ښاريې، اوماته دومره زيات خوښ يې، کچېرې زما قوم زه نوي استلی نو زه به له تا نه بغير بل ځاي کی نوی اوسيدلی، اوهمدا راز فرمايې چې په الله تعالی قسم چې دالله تعالی بهتره زمکه يې، او محبوب ترينه زمکه دالله تعالی يې الله تعالی وته.

توضيح:- محترمو! ددې حديث شريف اودنورو احاديثو لوجی چې په مکې مکرمی دهرې يوي نيکي ثواب يولاک راغلی دی، نوامام اعظم اوامام مالک رحمهما الله تعالی مکې مکرمی کی مستقل قيام ته مکروه ويلي دی، اوديوي لوي ډلی اومحتاطوعلماء هم دا مذهب دی، ځکه چې هلته سړی

---

[1] رواه الترمذی عن ابن عباس رضی الله تعالی عنهما وقال هذاحديث حسن غريب اسنادا وکذا في المشکوة

پاتې شي نوکیدي شي چې په طبیعت کی یې څه بوج اوخفګان پیداشي، اویادهغې په احترام وعزت کې څه فرق راشي، یعنې څه قسمه کمی لرینه وشي، اویاهلته پاتې شي دسرې څخه څه قسمه ګناه وشي، څنګه چې هلته دنیکوثواب ډیرزیات ده دغسې هلته دګناه کولووبال هم ډیرزیات اوسخت دی؛ اوملاعلی قاري رحمة الله تعالى علیه فرمایې: چې حضرت امام اعظم رحمة الله تعالى علیه په خپله زمانه کې دخلقودحالاتوپه اعتبارسره دکراهت اوناخوښی اظهارکړی ؤ، اوکچیرته هغوی داحالات لېدلی وی کوم چې مونږپه خپله زمانه کې وینو، نوهغوی به هلته داوسېدو دحرام والي فتوىٰ ورکړې وه، لکن دجمهوروعلماء کرامو مذهب دادی چې مکه مکرمه دټولو شهرونو نه بهتره دی، اوهلته قیام (پاتې کېدل) مستحب اوافضل دي، ملا علی قاری رحمة الله تعالى علیه لیکلی دي: چې دمکې مکرمی قیام دصاحبینو په نزد مستحب دی اوپه همدې فتوٰ ی هم دی، اوهم داد بعضی شوافعو رحمهم الله تعالى اودبعضی حنابلو رحمهم الله تعالى مختاراوغوره کړی شوی قول دی، بهرحال دمکې معظمې دیدن به زیات خوش نصیب سړی کوي، الله تعالى دي زمونږهرکال دمکې معظمې دیدن نصیب کړي ، آمین یارب العٰلمین بجاه سیدالمرسلین صلی الله تعالى علیه وسلم.

۲– کعبه شریفه

محترمو! دکعبې شریفې په ارتباط دابن عباس رضی الله تعالى عنهماڅخه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: إِنَّ اللهِ فِيْ كُلِّ يَوْمٍ

وَلَيْلَةٍ عِشْرِيْنَ وَمِائَةَ رَحْمَةٍ تَنْزِلُ عَلَى هٰذَا الْبَيْتِ سِتُّوْنَ لِلطَّائِفِيْنَ وَأَرْبَعُوْنَ لِلْمُصَلِّيْنَ وَعِشْرِيْنَ لِلنَّاظِرِيْنَ وعشرين للناظرين. (١)

ژباړه:- چې دالله تعالی شپږشله (١٢٠) رحمتونه روزانه په دې کور(بیت الله) باندې نازلیږي، چې په هغې کې شپیته (٦٠) طواف کوونکوباندې، او څلوېښت (۴٠) هلته لمونځ کوونکوباندې، اوشل (٢٠) بیت الله ته لیدونکو اوکتونکوباندې نازلیږي.

توضیح:- محترمو! بیت الله شریف ته صرف کتل هم عبادت دی، حضرت سعیدبن المسیب تابعي رحمه الله تعالی فرمایې: چې څوک په ایمان اوتصدیق سره کعبې شریفې ته ګوري هغه دګناهونوڅخه داسې پاک شي لکه چې نن پیداشوی وي،اوپه دې مذکورحدیث شریف کې طواف کوونکوباندې دزیاتو رحمتونو نازلېدل ښودل شوي دي، نوپه دې وجه علماء کرامولیکلي دي: چې مسجدحرم شریف ته ورتللوسره دتحیة المسجد مونځ څخه طواف کول افضل دی، کچیرته په څه وجې سره طواف نه شي کولی نوتحیة المسجد دي وکړي، البته کچیرته دلمونځ وخت نیږدې ؤو نوبیادي په دغه وخت کی طواف نه کوي، ملاعلی قاري رحمه الله تعالی لیکلی چې کعبې شریفې کتل یو ساعت دکال ترعبادت بهتردی اوکعبه شریفه دمځکې څخه تر عرشه پورې ده خاص دیولونه اوبام کعبه شریفه نه ده (١)

نوخوش قسمته دي هغه خلق چاته چې الله تعالی په خپل لطف اوکرم سره دزیات طواف کولو اودبیت الله شریفی لیدلوتوفیق ورکړي وي.

---

١ ملاعلی قاري ص ١٠٢– ٣٥٣

۳ - حجراسودمبارک

محترمو! دحضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهماڅخه دحجراسودمبارک په ارتباط روايت دی چې خوږنبي کريم صلی الله عليه وسلم په قسم سره ارشادفرمايلي: وَاللهِ لَيَبْعَثَنَّهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَهُ عَيْنَانِ يُبْصِرُ بِهِمَا وَلِسَانٌ يَنْطِقُ بِهِ يَشْهَدُ عَلَى مَنْ اسْتَلَمَهُ بِحَقٍّ.(۱)

ژباړه:- الله تعالی باندي قسم دی چې حجراسودبه الله جل جلاله دقيامت په ورځ په داسې حالت کې راپاڅوي،چې دهغې به دوه سترګي وي چې په هغې سره به هغه ګوري،اوژبه به يې وي چې په هغې سره به هغه خبري کوي،او ګواهي به ورکوي دهغې کس په حق کې چاچې داپه حق سره ښکل کړی وي.

توضيح:- محترمو!په حق سره دښکلولومطلب دادی چې په ايمان اوتصديق سره يې ښکل کړی وي، پس غالبًا لدی وجی دغه مقام کی چې کومه دعا مسنونه ده دهغې الفاظ دادي: اَللّٰهُمَّ اِيْمَانًا بِکَ وَتَصْدِيْقًا بِکِتَابِکَ وَوَفَاءً بِعَهْدِکَ.يعني ياالله تعالی زه حجراسود ښکلوم په تاباندې ايمان لرم، اوستاد کتاب تصديق کوم، اوستا سره دعهد اقرارپوره کوم، اوحضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه چې کله حجر اسودته راورسېدو، نوښکل يې کړو، اوويې فرمايل: چې زه پيژنم چې ته يوکاڼی يې نه څه نفع رسولی شي اونه نقصان رسولی شي، کچيرته مانبي کريم صلی الله عليه وسلم نه وی لېدلی چې ته يې ښکل کړي، نو هيڅ کله به ما نه وی ښکل کړی، نوده مبارک سره به دخلقو دعقيدو ډېر فکر اواهتمام ؤوچې هسې نه په عقيده کې څه

---

(۱) رواه الترمذی وابن ماجه والدارمی وکذافی المشکوة

نقصان راشي؛ اودحضرت علی کرم الله وجهه ارشاد دی: چې حجراسود نفع ورکوي نوهغه په عدالت کې دشهادت اوګواهی نفع ده ، ځکه چې ګواهي ورکول بشکل کوونکی لپاره ډېر زيات نافع (نفع ورکوونکی) دی، مګرپه دې سره هغه قابل دعبادت کیدلو ورنه ګرځيږي، لکه حدیث شریف راغلی دي چې دمؤذن دآذان آوازترکومې پورې رسيږي نوهريورطب اويابس، (لونداووچ) به دهغه لپاره په قيامت کې ګواهي ورکوي لکن په دې وجه سره هرلونداووچ قابل دعبادت کیدلو ورنه ګرځيږي.

۴- ملتزم شریف

محترمو! حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهما دنبي کريم صلی الله علیه وسلم څخه نقل کوي: يقول سمعتُ رسول اللهﷺ يَقُوْلُ اَلْمُلْتَزَمُ مَوْضِعٌ يُسْتَجَابُ فِيْهِ الدُّعَاءُ مَا دَعَا اللهُ فِيْهِ عَبْدٌ إلاَّ اسْتَجَابَهَا. (۱)

ژباړه:- چې ملتزم داسې ځای دی چې هلته دعاقبليږي کوم بنده هلته دعا نه ده کړي کومه چې قبوله شوي نوي.

توضيح:- محترمو! دحجراسودڅخه دکعبې شریفې دروازې پورې حصې ته ملتزم شريف وايي، نوغالبًا په دې وجه ددې نوم ملتزم دی چې ددې معنی دي دپيوست کېدلوځای ، په ابوداؤدشریف کې دحضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهماڅخه نقل کړی شويدی چې هغوی دلته ودرېدل خپله سينه اومخ يې دېوال پورې پيوست کړل، اودواړه لاسونه يې دېوال باندې خواره کړل،اودايې وفرمايل:چې مانبي کريم صلی الله علیه وسلم لره په دغسې کولو

(۱)كذافی المسلسلات للشاه ولی الله الدهلوی رحمة الله علیه وذكره الجزری في الحصن مجملا-

باندي لېدلى ؤو،اوهمدراز بعضې علماء کراموڅخه داهم نقل کړې شويدي چې ملتزم درکن يماني څخه دکعبي غربي دروازې پورې حصه ده کوم چې اوس بنده ده،اګرچې دادمشهورقول څخه خلاف ده لکن بياهم دبعضې اکابروقول خودى ځکه مي نقل کړو(١) لهذاپه دې ځاى کې په تجربې سره ثابته ده چې دعاقبليږي نودزړه له اخلاص څخه دعا کول پکاردي .

٥- رکن يماني شريف

محترمو! دحضرت ابوهريرة رضى الله تعالى عنه څخه روايت دى : أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عيه وسلم قَالَ وُكِلَ بِهِ سَبْعُوْنَ مَلَكًا يَعْنِيْ الرُّكْنَ الْيَمَانِيْ فَمَنْ قَالَ اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ اَسئَلُکَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ رَبَّنَا آتِنَا فِىْ الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِيْ الآخِرَةِ حَسَنَةً وَّ قِنَا عَذَابَ النَّار قَالُوْا آمِين (٢)

ژباړه:- چې دخوږنبي کريم صلى الله عليه وسلم ارشادمبارک دى چې په رکن يماني باندې اويااملائکې مقررې دي څوک چې هلته لاړشي دامذکوره دعا دي ووايي : نوهغه ملائکې دده په دعاباندې آمين وايي.

توضيح:- محترمو! ددعا مفهوم داده چې ياالله زه له تاڅخه دمعافى سوال کوم، اوپه دواړوجهانونوکې زه له تاڅخه عافيت غواړم، اى الله تعالى ته په دنياکې هم نيکي راکړي اوپه اخرت کې هم، اوددوزخ له عذاب څخه موحفاظت وکړي؛ پس درکن يماني استلام دادى چې طواف کولوکې په هغې لاس راکاږي البته چې چاته تکليف ونه رسيږي، ځکه چې دااستلام

---

(١) کمافى شرح لباب

(٢) رواه ابن ماجه کذافى المشکوة

اومستحب کاردی اومسلما نانو ته تکلیف رسول حرام دی یو حدیث

شریف کې دي چې دحجر اسود اودرکن یمانی مسحه کول ګناهونه

لرې کوي (کنز)، نودبیت الله شریف جنو بې طرفته رکن یمانی وایې، نو

ځینې باندې دطواف دچکر په وخت کې صرف راسته (ښی) لاس لګول

کافي دي، اود لیرې څخه ورته اشاره کول نشته.

۲- حطیم شریف

محترمو! حضرت عائیشة صدیقه رضی الله تعالی عنها فرمایې: چې زما زړه

غوښتل چې زه کعبی ته دننه لاړه شم اولمونځ پکې وکړم ،

"فَاَخَذَ بِيَدِيْ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله عیه وسلم فَاَدْخَلَنِيْ فِي الْحَجَرِ فَقَالَ صَلِّيْ فِي الْحَجَرِ إِذَا اَرَدْتِ دُخُوْلَ الْبَيْتِ إِنَّمَا هُوَ قِطْعَةٌ مِنَ الْبَيْتِ فَإِنَّ قَوْمَكَ اِقْتَصَرُوْا حِيْنَ بَنُوْا الْكَعْبَةَ فَاَخْرَجُوْهُ مِنَ الْبَيْتِ" (۱)

ژباړه:- چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم زما لاس ونیولو په حطیم کې داخله کړم ،اووی فرمایل چې کله ستا زړه په کعبه کې دا خلېدل وغواړي نو دلته راشه مونځ کوه، داهم دکعبی یوه ټکړه ده ستا قوم چې کله دکعبی تعمیر کولو نودا حصه یې د بودجې اوروپیو دکمې په وجه دکعبی څخه خارج (بهر) کړې وه.

توضیح:- محترمو! دصحیح روایاتو مطابق حضرت عبدالله بن زبیر رضی الله تعالی عنه پخپله زمانه کې دنبی کریم صلی الله علیه وسلم دخواهش مطابق کعبه شریفه جوړه کړه چې حطیم شریف یې پکې داخل کړی وو،

---

(۱) رواه ابوداود

چې یودروازه یې مشرق ته بله یې مغرب خواته پرېښودلي وه، اودروازې یې دزمکې سره یوځاي کړي وی، دهغې په تعمیر کې یې اصلاحات وکړل، لکن لد ینه پس دعبدالملک په زمانه کې حجاج بن یوسف بیا هم هغسې جوړه کړه څنګه چې دنبی کریم صلی الله علیه وسلم په زمانه کې وه، دهغه نیت خوچې هرڅه وه لکن داالله جل شانه انعام وشو چې داحصه دتعمیر څخه خارج شوه، چې ددې په وجه اوس دکعبې شریفې دننه داخلېدل دهرکس لپاره اسان شول، چې په دغې حصه باندې تعمیرنه شته، دچاچې کله زړه وغواړي هلته دي ورشي لمونځ دي وکړي، اودا ددعاقبلېدو ځای ده، نودعا دي وغواړي، چې داکعبې شریفې دننه حصې په حکم کې دی، هم په دې وجه خوړنبي کریم صلی الله علیه وسلم حضرت عائشة رضی الله تعالی عنها کله چې هغې کعبې ته دننه داخلېدوخواهش وکړو، نوورته یې وفرمایل: چې دلته (حطیم) کې اودرېږه لمونځ وکړه دزنانه ؤلپاره خصوصادننـــه تلوکې ډېرمشکلات دي دهغوی لپاره داحصه په خاص طـــورغنیمت اوداالله تعالی احسان دی.

۷- میزاب رحمت شریف

محترمو! په حطیم شریف کې میزاب دی یعنې بیت الله شریف دچت بام ناوه (تره) ده چې دلته هم دعاګاني قبلیږي .اوکعبې شریفې ته داخلېدل مستحب دي، لیکن دهغې اداب خو زیات دي څه علماء کراموداهم لیکلي دي: چې کچیرته څوک کعبې شریفې ته داخلیږي نوډېرپه وقاراوعظمت سره دي داخل شي، بهتره دادی چې دموزواوبوټو سره به نه داخلیږي

بلکه هغه دي وباسي، اودداخلېدوځخه دي مخکې غسل وکړي، اوډېرپه خشوع اوخضوع اوژړاسره دي درداخل شي، اوپه اخلاص دي ددنیاوي اواخروي نجات لپاره دعاګاني وکړي، اوټول عالم اسلام ته دی هم په اخلاص سره دعاګاني وکړي؛ باقي دمقام ابراهیم علیه السلام، اوماء زمزم، توضیح په مسائلودحج اواداء دنسکو کې تېرشوي دی فلانعیده لخوف التطویل. اللهم اغفرلمؤلفه ولکاتبه ولمن سعی فیه ولجمیع المؤمنین والمؤمنات والمسلمین والمسلمات یوم یقوم الحساب.

فائده:- مکه مکرمه ټوله دبرکت ځای ده، لکن ځونورمقامات هم زیات خصوصیت لري چې هغه دادي

۸ - مکان خدیجة الکبریٰ رضی الله تعالی عنها

محترمو! متبرکه او قابل زیارت مکاناتو کې دحضرت ام المؤمنین خدیجة الکبریٰ رضی الله تعالی عنهامکان هم دی کوم ځای کی چې حضرت سیدة نساء فاطمة الزهراء رضی الله تعالی عنهاپیداشوي وه،اودحضرت ابراهیم رضی الله تعالی عنه ځخه علاوه دخوږنبي کریم صلی الله علیه وسلم ټول اولادونه هم دلته پیدا شوي وو، اوترهجرت پورې دنبي کریم صلی الله علیه وسلم سکونت اواوسیدل هم په دغه مکان کې وو؛ لهذاعلماء کراموليکلي دي: چې دمسجدحرام شریف ځخه وروسته دمکې مکرمې په ټولو مکاناتو کې دامکان بهتردی، اوس دلته یومسجد دی چې دهغه نوم مسجد ابوبکر رضی الله تعالی عنه دی،اودمروه بنی طرف ته یواوچت ځای بالدې یوبازاردی، چې ددې بازارپه یوې کوڅې کې دصرافانودکانونه هم دي هلته دامقام مبارک واقع دی.

۹ – مولدنبي صلی الله علیه وسلم

محترمو! مولدنبي صلی الله علیه وسلم هغه ځای دي چې دخوږ نبي کریم صلی الله علیه وسلم پیدائشت په دې ځای کی شویدي، چې مولدنبي صلی الله علیه وسلم په نوم سره مشهوردی، چې شعب ابی طالب، محله قشاشیه، سوق اللیل،نومي کوڅي کې دی، چې په دې موجوده زمانی کې مکتبة الحرم (لایبربري)جو ړه ده، اوپه نوي توسیع کې دمکان دسرک (روډ)په غاړه ده، اوددې سرک نام شارع ملک سعود دی.

۱۰– مکان صدیق اکبر رضی الله تعالی عنه

محترمو! سیدناخلیفة الرسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت ابوبکرصدیق رضی الله تعالی عنه مکان هغه دی کوم چې رفاق صواغین دزرګرانو کوڅه کې واقع دی، هغې ته دارالهجرت هم وایي، ځکه چې دهجرت شروع هم ددغه مکان څخه شویدي، اودهجرت څخه اول به نبي کریم صلی الله علیه وسلم هلته تشریف وړلوهلته دوه کاڼي (دبري) دي دیونوم مُتَکَلِّم دی چې هغه خوږنبي کریم صلی الله علیه وسلم ته سلام کړی ؤو، دوهم مُتَّکَاچي هغه باندې به نبي کریم صلی الله علیه وسلم دناستی په وخت کی تکیه لګوله.

۱۱– مولدعلي کرم الله وجهه

محترمو!داامولدداامیرالمؤمنین حضرت علي کرم الله وجهه دپیداکېدوځای دی په شعب ابی طالب کې واقع دی،کوم چې مولدنبي کریم صلی الله علیه وسلم ته قریب دی.

۱۲ – دارالارقم

محترمو! دارالارقم چې په دارالخیزران سره مشهورده، دصفا غرته نیږدې

په دروازه کې واقع ده، اوداولې دروازې مخامخ دامقام دی، چې دغی دروازه محراب باندې دارالارقم لیکلي وه ، چې دغه مقام کې حضرت عمر رضی الله تعالی عنه اسلام راوړی ؤ،اودڅلويښتوکسانوشمیره ددوی په ایمان راوړلوسره پوره شوی وه، اود قرآن مجید دآیت شریف (يَآيُّهَا النَّبِيُّ حَسْبُکَ اللّٰهُ وَمَنِ اتَّبَعَکَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ)[1] په دې مقام نازل شوی ؤ،اونبي کریم صلی الله علیه وسلم به هم په ابتداء داسلام کې په دارالارقم کې اوسیدو، بعضې حضرات فرمايي چې داصل مکان اوس حرم شریف په توسیع کې ضم اوداخل شویدي.

۱۳- مولدحضرت سید الشهداء حضرت حمزه رضی الله تعالی عنه

محترمو! د سید الشهداء حضرت حمزه رضی الله تعالی عنه دپیدائش ځای ده چې محله مسفله کې دی ،اوس دلته یومسجد جوړ دی .

۱۴- جنة المعلی

محترمو! دمکې معظمې قبرستان جنة المعلی،دمدینې منورې قبرستان جنة البقیع نه وروسته ترټولوقبرستانوښخه افضل دی، اوددې زیارت هم مستحب دی، اوس دغه قبرستان دوه حصې دی هلته سرک تللی دی چې منی ته ځي نوراسته (ښی) لاس ته راځي، دطائف شریف دټکسیوموقف ته قریب دی، چې دمکې مکرمې طرف والاحصه لاندې ده، اودمنی طرف واله حصه اوچته ده، چې په دې منی طرف واله حصه کې دام المؤمنین حضرت خدیجة الکبری رضی الله تعالی عنها مزارمبارک دی، چې دنبي

---

(۱) سورة انفال اية نمبر۶۴

كريم صلى الله عليه وسلم اولنى كوروالا اوحضرت فاطمي رضى الله تعالى عنهامورره دام المؤمنين حضرت خديجة الكبرى رضى الله تعالى عنها ل هجرته دري كاله مخكي په مكه مكرمه كي وفات شوه اوترڅو چې داړوندي وه نبي كريم صلى الله عليه وسلم بله بي بي نه ده كړي اود اولنى بي بي ده چې دخداى جل جلاله دپيغمبر صلى الله عليه وسلم پررسالت باندي يي ايمان راوړ.

له دي ځخه علاوه ډېرصحابه تابعين اوصلحاء امت رضوان الله عليه اجمعين مزارات هم دلته شته، چې دې كې شيخ العرب والعجم حضرت حاجي امدادالله مهاجرمكي رحمة الله تعالى عليه مرقد مبارك هم دى،البته مزاراتو دزيارت په وخت كى به خلاف سنت طريقوڅخه ځان ساتي،پس دزيارت مسنونه طريقه دادى چې كله قبرستان ته دزيارت لپاره حاضرشي نومزاراومرقد ته به له پښوطرفه اودرېږى ، اومزاراومرقد ته به دسرله طرفه نه اودرېږى، اوسلام به په دې الفاظوسره ورته وايي : اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ دَارَ قَوْمٍ مُؤْمِنِيْنَ وَاِنَّا اِنْ شَاءَ اللهُ بِكُمْ لَاحِقُوْنَ وَنَسْئَلُ اللهَ لَنَا وَلَكُمُ الْعَافِيَه، لدې ځخه وروسته څه اندازه اودرېدل اوياكيناستل اودعاګاني كول بهتردي، اوصاحب مرقد سره په ولاړي اوناستي كې هغه معامله كول په كار دي كومه چې په زندګى كې ورسره كيږي، اوسورة فاتحة، سورة بقرة اول، آخر،سورة يس،سورة تكاثرلوستل،اوسورة اخلاص يوولس، يادياولس، يااوه، يادرې مرتبې لوستل، اوددې ثواب دې مباركو مزاراتو صاحبانوته وربښل دزيارت دادابو ځخه دي.

﴿د:- دمكى معظمى مبارک مساجد﴾

محترمو! دمسجدحرم شريف څخه علاوه مكه مكرمه کې نورهم ډېرداسې مساجدشته چې قابل زيارت دي،البته دفكراوخيال كول پكاردى چې فرضې لمونځ په مسجدحرم شريف کې ترينه نه فوت كيږي،اوبل چې پدې مساجدو کې دنوافلوكول وخت به وخت مكروه هم نوي،پس مشهورمساجدېې دادي

١- مسجدالرايه

محترمو! مكې مكرمې کې جنة المعلى طرفته دمسجد الرايه واقع دى، او نبي كريم صلى الله عليه وسلم دلته لمونځ كړيدى، اودمكې مكرمى فتح په ورځ نبي كريم صلى الله عليه وسلم خپله جنډا(بيراغ) په دې ځاى اودرولى ؤو.

٢- مسجدالجن

محترمو! مكه مكرمه کې مسجد جن هغه مسجد دي كوم ځاى چې دپيريانواجتماع شوې وه، اوقرآن شريف يې اوريدلى ؤو، اوايمان يې راوړى ؤو، چې ددې تذكيره (يادوري) دقرآن كريم په سورة الجن کې موجوده دي، اوحضرت عبدالله بن مسعود رضى الله تعالى عنه دنبي كريم صلى الله عليه وسلم سره هلته تشريف وړى ؤو،اوحضرت عبدالله بن مسعودرضى الله تعالى عنه يې يوځاى کې كينولو، پخپله يې مخكې تشريف يوړو،اوپيريانوته يې تعليم وركړو اوقران مجيد يې ورته واورولو.

٣- مسجدالشجرة

محترمو! مسجد شجرة هغه مسجد دي كوم چې دمسجد جن ته مخامخ دى،دلته يوه ونه (درخته) وه كوم چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم رابللى

وه، هغی زمکه څیرله اوراغله خدمت کې حاضره شوه، بیاورته نبي کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمایل چې بیرته لاړه شه هغه بیرته خپل ځای ته ولاړه.

۴- مسجدتنعیم

محترمو! مسجد تنعیم هغه مسجد دي کوم ته چې مسجدعائشه (رضی الله تعالی عنها) هم وایي، اوهم له دی ځای دعمرې لپاره احرام تړلی شي، چې مکې معظمې څخه شمال خواته په درې میله فاصله کې واقع دی . چنانچه رسول صلی الله علیه وسلم حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها ته دهغې ورورحضرت عبدالرحمن بن ابی بکررضی الله تعالی عنهماسره دعمرې احرام تړلولپاره تنعیم مقام ته لیږلي وه، اوس دلته دحضرت عائشې رضی الله تعالی عنها په نوم یومسجدهم جوړشوی دی.

۵- مسجدالغنم

محترمو! مسجدغنم هغه مسجد دي کوم ته چې مسجدالإجابة هم وایي، اونبي کریم صلی الله علیه وسلم په فتحه دمکی شریفی کې دلته دخلقونه بیعت اخستی ؤو،چې وادي محصب سره په معابده کې واقع دی .

٦- مسجدطوی

محترمو!مسجدطوی هغه مسجد دي کوم چې دتنعیم په لاره باندي دی،نبي کریم صلی الله علیه وسلم چې کله دعمرې یادحج لپاره تشریف راوړو نود لته یې قیام کړي وو.

۷- مسجدالجعرانه

محترمو! مسجدالجعرانه هغه مسجد دي کوم ځای چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم له فتح دمکې مکرمی وروسته له طائف شریف نه بیرته راتللووخت کی

دعمرې احرام تړلی ؤو، چې دادی طائف شریف په لارې دی، له دي مسجدالجعرانه څخه هم دعمرې احرام تړلی شي،البته دمسجد تنعيم څخه دعمرې لپاره احرام تړل افضل دي.

٨- مسجدابوقبيس

محترمو! مسجدابوقبيس هغه مسجددي کوم چې دحرم شريف څخه په نظر راځي، اوديته مسجدبلال هم وايي، مشهوره ده چې معجزه دشق القمرهم دلته ظاهره شوي وه، بعضې علماء کرامو ليکلي چې دامسجدبلال نه بلکه مسجدهلال دی چې له دي څخه يې مياشت لېدلي وه، ليکن دغه ځای کی چې دچيلی سرپښي خوړلومتعلق کوم روايت مشهوردی هغه غلط دی.

٩- مسجدالكبش

محترمو! مسجدكبش هغه مسجد دي کوم ته چې منحرابراهيم عليه السلام هم وايي،اودلته دابراهيم عليه السلام اواسماعيل عليه السلام دذبحه کولوواقعه شوي وه.

١٠- مسجدالعقبه

محترمو! مسجدعقبه منی ته هغه نيږدي ځای دی چې انصارودهجرت څخه مخکی دلته بيعت کړی ؤو،اودامسجد دمکې مکرمی څخه منی ته دتلوپه لاره کې په چپ (ګس) لورې دلارې نه بيل شويدی .

١١- مسجدالخيف

محترمو! مسجدالخيف منی کې لوی او مشهورمسجد دی، علماء کرام وايي چې دلته اويا (٧٠) انبياءعليهم السلام دفن دي، دې مسجدته نيږدې غارمرسلات هم دی چې هلته سورة والمرسلات نازل شوی دی.

١٢ - مسجدمشعرالحرام

محترمو! مسجدمشعرالحرام په مزدلفه شريفى كې دجبل قزح څنګ ته واقع دى.

١٣ - مسجدنمره

محترمو! مسجدنمره چې دعرفات كنارې باندې واقع دى،ديته مسجدابراهيم هم وايي ابراهيم العباسى رحمه الله تعالى دغه مسجد تأسيس كړي وه.

﴿هــ:- دمكې معظمې مقدس غرونه ﴾

١ - جبل ثور

محترمو! مكه مكرمه ټوله دبركت ځاي دى،اولدي څخه دمكې معظمې مقدسه غرونه هم دي، چې يولدي څخه جبل ثور دي، دغه غرثورله مكې مكرمې نه په درې ميله فاصله كې پروت دى، چې دهجرت په وخت كې حضرت محمد صلى الله عليه وسلم دخپل ملګري صديق اكبر رضى الله تعالى عنه سره ددې غرپه يوغاركې درې شپې پاتې شوى ؤو، په قران مجيدكې راغلې "ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ"(١) يعنې دوهم په دؤوكې كوم وخت چې هغه دواړه په غاركې ؤو، اوس وخت كى چړايې چې تقريبا ميل يايونيم ميل دى،او اَرَه كى يې هم ورته جوړدى، نوصحت مند اوباهمته دي ددې مبارك ځاى زيارت كولاشي. پاته دي نوي چې دجبل ثوراوداسى نور مقدس مقاماتو ته ورتلل دحج په مناسكو كي شامل ندي البته كه يوڅوك فارغ وخت ولري نودزيارت كولو لپاره دي ورشي.

---

(١) سورة توبة اية ٤٠

۱- جبل النور

محترمو! غارحراء چې مکې مکرمې نږدې پروت دی، چې دمکې مکرمې څخه منیٰ ته دتللوپه وخت کې چپ لاس ته راځي، په کوم کې چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم دنبوت څخه مخکې څو څو ورځوپورې دلته غارحراء کې په تفکراو دخدای پاک عبادت مشغول وو، او دلته يې يوازې والې اختیارولو، اوهم دلته اولنی درسالت وحې پرده مبارک صلی الله علیه وسلم باندې راغلی دې یعني دټولوڅخه اول دلته په نبي کریم صلی الله علیه وسلم باندې دسورة اقراء آیاتونه نازل شویدي.

۲- جبل ابوقبیس

محترمو! جبل ابوقبیس کوم چې بیت الله شریف ته مخامخ دصفاپه طرف باندې پروت دی، اوس دلته شهرآباددی، دجاهلیت په زمانه کې ددې غرنوم آمین ؤو، ځکه چې طوفان نوح په وخت کې حجراسودمبارک دلته محفوظ ؤو، یوسړي دابوقبیس په نامه دلته یومکان جوړکړي وو، نولدی وجې خلقوورته جبل ابوقبیس نوم ورکړو، بعضو مؤرخینو علماء کرامو لیکلي چې معجزه شق القمرپه دې غرباندې شویدی، مګردبخاري شریف له روایت څخه معلومیږي چې هغه منی کې شویدی، امام مجاهدرحمة الله علیه فرمایې چې الله تعالی دټولو غرونو څخه اول په زمکه دغه غرپیداکړیدی .

۳- مقام حدیبیه

محترمو!حدیبیه هغه مبارک مقام ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دصحابه کرامورضی الله تعالی علیهم اجمعین څخه بیعت اخستی وو، اودصلحه حدیبیه یو

مشهوره واقعه هم دلته واقع شوي وه، نن صبا زماني کي ورته شمسيه ويلی شي، اوحديبيه دمکې مکرمې څخه جدی ته دبحری په لاره راځي ،چې کوم نوی سرک جدی لپاره وتلی دی نوحديبيه په دغه سرک نه راځي؛ خلاصه داچې له دي څخه علاوه نورهم ډېرمتبرک ځايونه اومقامات شته، او په مکه مکرمه کې به کوم داسې ځای نوي چې هلته نبي کريم صلی الله عليه وسلم اوصحابه کرام رضی الله تعالی عنهم اجمعين قدمونه مبارک نه وي ايښي، خودغه مذکور ځايونه مشهور ؤو، اوامام بخاري رحمه الله تعالی په صحيح البخاري کی دعبد الله بن عمر رضی الله تعالی عنهماڅخه نقل کړيدی چې هغه به کله دمدينی منوری څخه مکی مکرمی تلو نودنبي کريم صلی الله عليه وسلم دناستی ولاړی او لمونځونو وغيره ځايونو ته به ورتللو چې هغه په کومو ځايونوکي نبي کريم صلی الله عليه وسلم ليدلي وو، الله تعالی مودي له دي تبرکاتو نه مالامال کړي آمين يارب العٰلمين بجاه سيدالمرسلين صلی الله عليه وسلم.

﴿دريم بحث: دعمرې مسائل﴾

(١) مسئله:—عمره په ټول عمرکې يووارسنت مؤکده دی په صاحب داستطاعت باندې،اودبعضې محققينوپه نزدباندې عمره واجبه ده.[١]

مسئله:— عمره هروخت جائزده البته دعرفې په ورځ، داخترپه ورځ اودتشريق په ورځو باندې مکروه تحريمي ده، اومراد دايام تشريق څخه يوولسمه دولسمه اوديارلسمه ورځي دذي الحجې دي.[٢]

---

(١) ردالمحتار ج ١ ص ١٥١ احکام العمرة

(٢) الفتاویٰ الهنديه ج ١ ص ٢٣٧ وبحر

(۲) مسئله :- دلته يوڅو صورتونه دى: اول صورت:که څوک احرام دعمرى په دې پنځوورځوکې وتړي اوافعال دعمرى هم په دې پنځو ورځوکې وکړي نودامکروه تحريمي دى، لکن دم وربانديې نه لازميږي. دوهم صورت: که څوک احرام دعمرى په دې پنځوورځوکې وتړي، او افعال دعمرې ورروسته ددې پنځوورځووکړي، نودامستحب دي،اودم هم وربانديې واجب ندى.دريم صورت:که څوک دعمرې احرام ددې پنځو ورځوڅخه مخکې وتړي ،اوافعال دعمرې په دي پنځو منعه کړي شوو ورځو کې وکړي نوعمره يې صحيح شوه، البته دامکروه تحريمي دى اودم پرې واجب ندى. څلورم صورت که څوک احرام دعمرې ددې پنځو ورځوڅخه مخکې وتړي، اوبياافعال ددې عمرى دپنځوورځوڅخه ورروسته وکړي نودامستحب دى، اودم هم وربانديې واجب ندى، (۱) .

(۳) مسئله:- رمضان مبارک کې عمره کول مستحبه اوافضله دي،ددې عمرې دحجة الوداع په شان ثواب دى.(۲)

(۴) مسئله :- تکراروانکاراوپرلپسې عمره کول مکروه ندى بلکه مستحب کاردى. (۳)

(۵) مسئله :- دعمرې ميقات:يعنې دعمرې داحرام تړلوځاى دهرچاليپاره زمين حل دى ، که هغه مکې وي که افاقي وي ،اوکه ميقاتي وي، لهذامکې

---

(۱) الفتاوى الهنديه ج ۱ ص ۲۳۷وشرح لباب

(۲) ارشادالسارى ص ۱۰۸ وابوداؤد

(۳) مستخلص ص ۴۳۵

مکرمې څخه به دعمرې اراده کوونکي بهرزمين حل ته اوځي، اودهغه ځای نه به احرام تړي، لکن تنعيم نه د احرام تړل افضل دی، ورنه بيا دجعرانه څخه احرام تړل بهتردي، چې د مکې مکرمې څخه دطائف شريف په طرف نهه ميله لرې پرته دی ، چنانچه رسول صلی الله عليه وسلم حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها دهغې وروحضرت عبدالرحمن بن ابی بکررضی الله تعالی عنهماسره دعمرې احرام تړلولپاره تنعيم مقام ته ليږلي ؤو، هغوی صلی الله عليه وسلم دحضرت عائشې رضی الله تعالی عنهادعمرې ختمولوپورې انتظار کړي وو، اودهغې څخه وروسته يې مدينې منورې ته سفرشروع کړو، اوداځای مکې مکرمې ته ډېرنيږدي دی، اوس دلته دحضرت عائشې رضی الله تعالی عنها په نوم يومسجدهم جوړشوی دی. (۱)

(۶) مسئله :- عمره سنت دی لکن ترشروع کولوڅخه وروسته يې دمناسکو ادا کول لازم دي. (۲)

(۷) مسئله :- که څوک دعمرې احرام وتړلي اومناسکو يي ادا نه کړی، نودم ورباندې واجب دی. (۳)

(۸) مسئله :- که يوسړي احرام دعمرې تړلی وو بيتي شريفې ته راغی، نو په هرنيت يې چې طواف وکړو هغه دعمرې طواف په ځای ادربږي. (۴)

(۹) مسئله :- په عمره کې طواف قدوم اوطواف وداع نشته. (۵)

(۱) ردالمحتارص ج۱ ص ۱۵۱ مطلب احکام العمره والحج

(۲) تفسيراحمدي ص۸۶ جز ۲ البقره

(۳) ردالمحتار ج ۱ ص ۱۵۲

(۴) ارشادالساری ص ۹۹

(۵) ردالمحتار ج۱ ص ۱۵۱مع الزيادة

(۱۰) مسئله :- دعمری مناسک: یودا چې: دخپل میقات څخه احرام تړل ...ې ، اودوهم: دعمرې په نیت طواف اوسعیه کول دي،اودریم:دسرخریل ...قصرکول دي،نوعمره له دي مذکورو مناسکو څخه عبارت دی وبس.[۱]

(۱۱) مسئله :- که یوکس احرام دعمرې وتړي، اوطواف اوسعیه یې ...کړه، البته سریې نه ؤوخریلی، چې ددوهمې عمرې احرام ورباندې وتړلو، ...دوهمه عمره ورباندې لازمه شوه،اولوجې دجمع کولو ددؤو احراموړ ...عمری نه یودم هم ورباندې لازم شوو، .[۲]

(۱۲)مسئله:-که یوه سړی احرام دعمرې وتړي، دطواف یو یادوه شوطه ...وکړي اوکه نوي کړي،نوپه هرصورت نوبیاپه دوهمه عمره باندی احرام ...تړي،نودوهمه عمره ورباندې لازمه شوه،البته دوهمه عمره به پرېږدي او ...وله عمره به تکمیل او پوره کړي بیابه ددوهمی عمری قضاء راوړي،اوهم ...دوهمې عمرې دپرېښودلولوجی ورباندې یوپسه(دم)لازم شو.[۳]

(۱۳) - مسئله :- که یو سړي احرام دعمرې وتړي ترطواف کولو دمخه عمره ...سده کړي ، مثلاً خپلی کورواله سره جماع وکړي، بیا دبلې عمرې احرام ...تړي، نودغه دوهمه عمره دي پرېږدي، اوهغه اوله عمره دي پوره کړي، ...دي ددوهمې عمرې قضاء راوړي، اویوپسه ددوهمې عمرې درفض ...کولو) ورباندې لازم شو،کچیرته ددوهمې عمرې په نیت یې طواف او ...سعی وکړل نوهغه مناسک یې اعتبارنلري، لکن بیابه داولی عمرې په نیت

---

(۱) فتح القدیرص ۴۲۲ج ۲ باب التمتع
(۲) ارشادالساری ص ۱۹۶
(۳) ارشادالساری ص ۱۹۶

طواف اوسعيه كوي، البته په دواړوصورتونوكې پسه درفض او پرېښودلو دعمرې درباندې لازم شو. [۱]

(۱۴) مسئله :- دعمرې شرطونه دحج شرطونو په شان دي، اوركن دعمرې طواف دى وبس،اوواجبات دعمرې دصفا اومروه په مينځ كې سعيه كول دي ، اوهم حلق ياقصركول دى، اودعمرې سنت اواداب په شان دي سنتو اوادابو دحج دي دسعى تراكمال پورې. [۲]

(۱۵) مسئله :- عمره په لسوشيانوكې دحج څخه فرق (توپير) لري چې هغه په دى لاندي ډول دي :

۱ - عمره كول فرض نه دى، اودحج كول فرض دى .

۲ - عمره خاص اومعين وخت نه لري، اوحج په اشهرالحج كې ادا كيږي .

۳ - عمره نه قضاء كيږي، اوحج فوت كيږي .

۴ - عمره كې وقوف بالعرفه اومزدلفه اورمى دجمارواوجمعه دتقديم اوتاخيردلمونځونواوخطبو ويل وغيره نشته، اوپه حج كې دمناسک شته .

۵ - عمره طواف قدوم نه لري اوحج يې لري .

۶ - عمره طواف صدرنه لري، اوحج يې لري .

۷ - كه عمره كوونكې دعمرې دطواف اكثرو شوطونو څخه وروسته جماع وكړه بُدنه (اوښ ياغوايي) درباندې نه لازميږي،بلكه دم درباندې لازميږي، البته عمرې يې فاسده ندي، اوكچيرته حاجي دوقوف عرفې څخه وروسته جماع وكړه نوبُدنه درباندې لازميږي البته حج يې فاسد ندي.

---

(۱) ارشادالسارى ص ۱۹۶

(۲) فتاوى هنديه ج ۲ ص ۲۳۷ باب ۶ فى العمره

۸ - عمره كوونكي كه طواف دعمرى په جنابت ياپه حالت دحيض يا نفاس كې وكړونو پسه ورباندې لازميږي،لكن بُدنه نه ورباندې لازميږي، كه حاجي صاحب طواف زيارت په جنابت حالت كې وكړو نوبُدنه ورباندې لازميږي .

(۹) - دعمرې ميقات داحرام تړلوځاى زمين حل دى، دهرچالپاره كه مكې وي كه افاقي وي اوكه ميقاتي وي اودحج لپاره دهرچاخپل خپل ميقاتونه دي.

(۱۰)عمرې كوونكي به تلبيه ويل دطواف دشروع نه وړاندې بنده وي،او حاجي صاحب به بې دجمرة العقبه ويشتلو نه وړاندې تلبيه ويل قطعه كوي، له دي مذكورو مناسكو څخه علاوه دعمرې ټول مناسک دحج په شان ادا كيږي، [۱]

(۱٦) مسئله:- كه يوحاجي دحلق (دسرخرييلو) څخه مخكې احرام دعمرې وتړي، نوپه ده باندې واجب ده چې داعمره پرېږدي، اوپه ده باندې بياقضاء دعمرې اويودم هم واجب دى، اوكه حاجي داعمره په دغه زمانه كې پوره كړه نوبيا هم ورباندې دم لازم دى. (هنديه) اوكه حاجي داعمره وروسته دايام تشريق نه پوره كړه نوبياپه ده باندې دم نه لازميږي، كه يوحاجي وروسته دحلق څخه احرام دعمرې وتړي، نوپه ده باندې واجب ده چې داعمره پرېږدي، اوبياپه ده باندې دم اوقضاء ددې عمرې واجبه دى، البته كه حاجي داعمره په دغوورځو كې پوره كړه، نوده باندې بيا دم نه لازميږي.(شرح لباب) كه يومتمتع عمره وكړي اوبيا مكه مكرمه

(۱) ردالمحتار ج ۲ ص ۱۵۱ مطلب احكام العمرة وفتح القدير ج ۲ ص ۴۲۳

(۲) هنديه

(۳) شرح لباب

کې پاتې وي، نودغه متمتع ددې عمرې اوحج په مابين کې نورې دېرې عمرې کولی شي، او په ده باندې دم هم نه لازمېږي. (۱)

(۱۷) مسئله :- که يو سړي دمکې مکرمې اوسېدونکی وي، يادميقاتو اودمکې مکرمې ترمينځ دزمين حل اوسېدونکی وي، دغوټولوته دحج تمتع اوقران اجازت نشته، بلکه دوي به صرف حج افراد کوي. (۲)

(۱۸) مسئـــله :- که يوافاقي کس دحج مياشتونه مخکی احرام په عمرې باندې وتړي، اوهغه عمره بيافاسده کړي،اوبياهغه په مکه مکرمه کې اوسيږي ترڅوچې دحج مياشتي داخلې شي، نوبيا بله عمره وکړي،اوبيا په دغه کال کې حج هم وکړي، نودغه کس متمتع نه شو، نوپسه دشکرېې وربالدې نه لازمېږي، ځکه چې اول سفريې په فاسدې عمرې باندی پای ته ورسېد، اوبيادده حکم دمکې مکرمې داوسېدونکي په شان شو،نومکې شخص لپاره حج تمتع نشته نودغه کس لپاره هم حج تمتع نشته (۳)

(۱۹) مسئله :- که يو سړی دحج دمياشتودمخه دعمرې احرام وتړي،اوتر څلورو شوطونولږشوطونه (چکرې) طواف لپاره وکړي، اوچې کله دحج مياشتي داخلې شي نودعمرې دطواف متباقي شوطونه يې دحج په مياشتوکی پوره کړل،اوبيا يې دعمرې دمناسکواتمام نه وروسته دحج احرام وتړلو، نودغه کس په دی صورت کی متمتع حاجي ګرځي. (۴) اوکه په دی صورت کې

---

۱)ارشادالساری ومنحة الخالق بحواله مسائل حج ص ٦

(۲) ارشادالساری ص ۱۸۲

(۳) هدايه ج ۱ ص ۲٦۵ باب المتمتع

(۴) هدايه ج ۱ ص ۲٦۳

چې احرام بې مخکې دمیاشتودحج څخه تړلی وي، اودعمرې طواف ټول کښتونه بې دحج ترمیاشتودمخه پوره کړی وي،اوبیا په دې کال کی حج وکړي، نودغه کس حاجي متمتع نه ګرځيږي .(۱)

(۲۰) مسئله:- که مثلًا یوکس دکوفې څخه دحج په میاشتوکې راغلواوعمره بې وکړه، بیابې په بصره یاپه مکه مکرمه کې استقامت اختیـــارکړو،او وطـــن بې ونګرځوه، اوبیابې پــه دغه کال حج وکړودغه کس متمتع ګرځيږي.(۲)

(۲۱) مسئله :-که یوافاقي سړي دجدی یادبستان ابن عامریادبل ځای څخه دزمین حل په نیت ترمیقات راتیرشي، اوحرم شریف ته دداخلیدلونیت بې نه لرلو،کله چې جدی ته یابستان بن عامریابل ځای ته دزمین حل ورسید،اوبیا قصداونیت دحرم شریف دورتلوورته پیداشو،نودغه کس پرته داحرام تړلو حرم شریف ته تللی شي، اوپسه دتجاوزدمیقات نه هم ورباندې نشته (۳).

(۲۲) مسئله :- دجدی اوسیدونکی سړي دضرورت درفع کولوپه خاطر بغیرداحرام څخه مکې مکرمې ته راتلای شي، اوکه دجدی خلق دعمرې یاد حج نیت لري نواحرام به له خپلو کوروڅخه تړي،اوکه دجدی اوسیدونکی سړی دعمرې یادحج په نیت حرم شریف ته راغلو،پس احرام بې په حرم شریف کې وتړلو،نویودم (پسه) ورباندې لازم شو، ځکه چې دغه سړی

---

(۱) هدایه ج ۱ص ۲٦۴

(۲) هدایه ج ۱ ص ۲٦۴ باب التمتع

(۳) مبسوط ج۴ ص ۱٦۸

دخپل ميقات څخه تجاوز کړيدی چې هغه ميقات ځای يې جده وه.[١]

(٢٣) مسئله :- دجدې اومکې مکرمې په خلقوبالدې طواف وداع (درخصتي طواف نشته.[٢]

(٢٤) مسئله :- که دجدې اوسېدونکی سړی احرام دحرم شريف څخه وتړي، يادحرم شريف خلق احرام دزمين حل څخه وتړي، ياافاقي خلق احرام دجدې يادزمين حل يادحرم شريف څخه وتړي، نودتجاوزدميقات په وجه وربانديې دم يعني پسه لازم دی، که په دې مذکورصورتو کې هريو سړي بيرته خپل ميقات ته دمخه ترطواف شروع کولو، يادمخه تروقوف دعرفات څخه راشي،اواحرام بيرته دخپل ميقات څخه وتړي،نوهغه لازم شوی دم يعني پسه ځينې ساقط شو.[٣]

(٢٥) مسئله :- که يو سړي هرڅومره عمرې کوي نوپه ده باندې داحرام څخه وتلولپاره دسرخريل لازم دي، اګرچې دخريلولپاره يې پرسرويښته هم نوي،نوبيا به صرف چاړه پرسر تيروي، اوکچيرته يوې عمرې کې سړي څلورمه حصه دسروخريې، نوپدې سره خوله احرام څخه اوزي البته داسې کول دکراهيت څخه خالي ندی.[٤]

(٢٦) مسئله :- په عمره کې حلق ياقصر کول واجب دی، لهذا ددې په پرېښودلو سره دم (پسه) وربانديې لازميږي، اوهمدرازحلق ياقصر کول دحرم شريف په حدودو کې واجب دی که دحرم شريف دحدودوڅخه خارج حلق

---

(١) ارشادالساری ص ٥٨ مبسوط ج۴ ص ١٦٨

(٢) ارشادالساری ص ۴٩

(٣) مبسوط ج۴ ص ١٦٨ باب المواقيت وارشادالساری ص ٥٩

(۴) فتاوی هنديه ج١ ص ٢٣٧

او لمر وکړی نو په دی صورت کی هم سرې باندي دم (پسه) لازمیږي. [۱]

(۲۷) مسئله :- که حاجي یاعمره کوونکي شخص چې دمدینې منورې نه دمکې مکرمې په لار مکې مکرمې ته روان وي، ا وده سعودي عربستان قانوني اجازت نامه یااقامه یې نلري چې مکې مکرمې ته لاړشي، اودجدی لپاره یې اجازه نامه درلوده، چې په نتیجه کې دجوازاتو(عسکرو) داحرام په لباس کې بندي کولو یایې راګرځولو، اوپه خپلوعادي جاموکې یې پرېښودلو، هغه دي بیاخپلوجاموکې ترجوازاتو (عسکرو) قطعه څخه تېرشي، بیادي دجحفه میقات څخه دمخه احرام وتړي. [۲]

(۲۸) مسئله :- دعمرې په ویزې سعودي عربستان ته تلل، دعمرې له ادا کولو څخه وروسته مزدوري کول، که څه هم قانوني جرم دی، البته اسلامي جرم نه دی، لهذادعمرې ادا کولو څخه وروسته مزدوري کول درُست اوصحیح ده. [۳]

(۲۹) مسئله :- جده چونکه دحرم شریف په حدودوکې داخله نه ده، لهذا دحرم شریف دحدودو څخه بهرتللو باندې عمره نه واجب کیږي، لهذا جدی ته په تللوباندې هم عمره نه واجب کیږي،لهذا دجدی خلق بغیر داحرامه مکی مکرمی ته راتللي شي [۴].

(۳۰) مسئله :- یوسړي په یوه ورځ کې زیاتي عمرې کولی شي،

---

(۱) الفتاوی الهندیه ص ۲۴۷ ج ۱

(۲) تحفة الحجاج ص ۲۳۲

(۳) فتاوی حقانیه ج ۴ ص ۲۷۹

(۴) الدرالمختار ج ۲ ص ۴۷۷

په دې کې کوم قسم ممانعت اوبنديزنشته.(۱)

(۳۱) مسئله :- نفلي عمرې اوطوافونه ژوندي سړي ته کول جائزدي که هغه صحت مندوي اوکه غيرصحت مندوي يعني هرچاته د نفلي عمرې اوطواف ثواب ببښل جائزدي اوهغه ته يي ثواب رسيږي، په دې کې دچااختلاف نشته.(۲)

(۳۲) مسئله :- دحج بدل ادا کول څخه وروسته په خپلومصارفوباندي عمره کول صحيح ده، ځکه چې په دې کې داميردحکم څخه خلاف ورزي نه لازميږي.(۳)

(۳۳) مسئله :- دحج ياعمرې داحرام تړلواونيت کولوڅخه وروسته يوواري تلبيه ويل شرط دي، اودرې واري تلبيه ويل مستحب دى.(۴)

(۳۴) مسئله :- څرنګه چې ارکان اوواجباتو دحج کې ترتيب کول ضروري دي، همدارنګه دعمرې په مناسکوکې هم دترتيب لحاظ کول ضروري دى،چې په تقديم اوتاخير سره يي دم لازميږي، اوهمدرنګه دحلق ياقصرڅخه مخکې دبغلونه يانامه لاندې ويښته وغيره خريلو باندي هم دم لازميږي.(۵)

مسئله:-لقطه يعني موندلی شوي شئ په حرم شريف کې راخستل حرام دي ، اوکه يې راواخستوترآخره پورې به يې تعريف يعني اعلان کوي .(۶)

---

(۱) التاتارخانيه ج ۲ ص ۵۲۵
(۲) البحرالرائق ج ۳ ص ۵۹
(۳) التاتارخانيه ج ۲ ص ۵۴۷
(۴) فتاوی هنديه ج ۱ ص ۲۲۱-۲۲۲
(۵) فتاوی حقانيه ج ۴ ص ۲۸۵
(٦) قرطبی ج ۲ ص ۸۱

البته احناف وايي چې حکم دلقطه دحل اوحرم برابر دى يعنى تريو کال پورى به يي اعلان کوي، ورنه که فقيروي خپله يي استعمالولي شي، اوکه غني وي نودخپلى ذمى دفراغت په نيت به يي فقراؤ ته ورکوي . ([1])

(۳۵) مسئله:- کچيرى عمره کونکى دصفااومروا دسعى دادا کولوڅخه مخکښې سروخرئي، نودم پرى لازميږى اوکه دحرم شريف حدودو څخه خارج يي سروخرئي نوبيا هم دم پرى لازميږى.([2]) البته سرخرئيل عام دى چې پخپله يي وخرئي اوکه بل څو ک يي ورباندي وخرئي، که ددى محرم په امر سره يي وخرئي اوکه بغيردامر څخه وخرئي ، که د محرم رضا وي اوکه په ده باندي اکراه وي، او که محرم پوهه وي او که جاهل وي، اوکه محرم يي قصدا وخرئي اوکه په هيره سره. کما في قواعد الفقهية.

(۳۶) مسئله:- که عمره کونکى يوځل دخپلى ښځى سره جماع(کوروالى) وکړى،او بيا دوهم ځل يي هم دخپلى ښځى بل مجلس کى کوروالى وکړو يعني په دومجلسونوکښې، نوپه ده باندى دهروار کوروالى لپاره يويوپوسه لازم دي يعنى دوه دم پرى لازميږى. اوهمدرنګه که سروخرئي اويايي لنډکړى، مخکښې له ادا دى مناسکو دعمرى څخه نو په دى صورت کى هم دم (پسه) پرى لازميږى. کذافى الايضاح.([3])

(۳۷) مسئله:- که يوچاداخترپه ورځ کى ياپه نورو ورځوداخترکى چى ايام تشريق ورته وائى دعمرى احرام وتړلونوعمره ورباندى لازمه ده، لکن لازمًا

---

۱ مختصرالقدورى ص ۱۲۷

۲ (التسهيل الضرورى،صـ ۱۷۸).

۳ (الفتاوى الهنديه ،ج۱صـ۲۴۵)

به داعمره ماتوى، چه كله ئى داعمره ماته كړه نودماتولوپه وجه به پوپسه ا پرى لازم دي، اودعمرى به بيا قضاء راوړى،اوكه چاعمره وكړه په دغه ورځو كښې نوجائز ده سره دكراهيت تحريمي، اوپه ده باندى دم دكفار لازم ندي، اوكچيرى دحج احرام څخه وتلولپاره ئي سروخرئيلو بيائي دعمرى لپاره احرام وتړلونو دغه عمره به نه ماتوى، كذاذكرفى الاصل.[1]

(۳۸) مسئله:- څوک چه عمرى څخه فارغ شواوسر يي نه وو خرئيلى نود بلى عمرى احرام ئي وتړلو، نواولي عمرى دسرنه خرئلو يانه لنډولولوجي په ده باندى دم دكفار لازم دي .[2]

(۳۹) مسئله:- كه يوافاقي اوخارجي سړى دحج احرام وتړي، بيادعمرى احرام هم وتړي، نودواړه درباندى لازم شول، لهذا په دى عمل سره حاجي قارن وگرځيدو،البته گنهگارده، پس كه عرفات ته لاړو وقوف دعرفه ئي وكړو،اوافعال دعمرى ئي پريښودل، نوعمره ئى ماته شوه، اوكه صرف عرفات ته لاړولكن وقوف دعرفه ئى ونكړو،نوعمره ئى نه ماتيږى،اوكچيرى يوسړى دحج لپاره طواف قدوم كړي وي بيائي عمره لپاره احرام وتړي، نودواړه درباندى لازم شول،او دواړه به اداكوى، خودم (پسه) درباندى لازم دى، ځكه چې حج اوعمره ئي سره جمع كړى، ځكه چې افعال دعمرئي په حج باندى بناء كړيدى، البته دغه پسه اودم دكفارى دى نه دنسک اوشكريه،لكن مستحب داده چې عمره ماته كړي.كذافى الكافى[3]

---

[1] (التاتارخانية، ج۵ص۵۴۲)

[2] التاتارخانية، ج۳ص۵۴۲)

[3] (الفتاوى الهندية، ج۱ص۲۵۴)

﴿څلورم بحث: دعمرې ادا کولوطريقه﴾

﴿الف:- دعمرې اداب﴾

محترمو! دعمرې ارادي څخه مخکې بائد سړي هرقسم حقونه اداکړي، دټولو ګناهونو څخه دي توبه وباسي، دخپلوانواودوستانوڅخه دي ښښنه رغواړي، دلمونځونوقضاء دي پوره کړي، په کورکې دضرورت مطابق دخوراک اوڅښاک وغيره شيان پرېږدي، خالص دعمرې نيت دي وکړي چې دالله تعالی رضاء اودرسول الله صلی الله عليه وسلم شفاعت مونصيب شي، دعمرې ټولومناسکوپوره پوره خيال دي ساتي، دخدای تعالی ذکردي په کثرت سره کوي، غصې څخه دي ځان ساتي، اوهيچا سره دي جنګ جنجال نه کوي، دکورڅخه وتلو په وخت کې دي دوه رکعته نفل لمونځ اداکړي، اودضرورت سپک سامان دي ځان سره واخلي، ځکه چې اوس الحمدلله هرځای کې هرشئ پيداکيږي، که طاقت يې وي نوڅه خيرات او صدقه دي وکړی، اوآية کرسي دي ووايي، چې کله دکورڅخه روانيږي که ممکنه وي اوکېدای شي نودمياشتي په اول پنجشنبه(زيارت)يادوشنبه(ګل) په ورځ دي سفرشروع کړي، اوپه لارې کې دي موقعه په موقعه دعاګاني کوي که ورته يادي وي،اوکه څه ورته يادنوي نوالله اکبر،الحمدلله اودرودشريف دي په کثرت سره وايي، نورآداب مودحج په ادابوکې ذکرکړيدي هغه ورته مطالعه کولاشي. المهاجرمدني عفي عنه.

﴿ ب :- دعمرې احرام طريقه ﴾

محترمو! کله چې سړي ميقات ته ورسيږي نوکه کېدای شي غسل دوکړي،

ورنه اودس دي وکړي،بيابه احرام وتړي،پس ديوڅادرڅخه دي لنګ ووهي ،اوبل څادردي دی پاسه واغوندې، سربه سرتور کړي، البته دڅادرې به ګنډلي شوي نوي،اوسنت طريقه داده چې دوه رکعته سنت احرام لمونځ دي وکړي خوکه مکروه وخت نه ؤو، په اول رکعت کې دسورة فاتحې څخه وروسته قل ياايها الکفرون اودوهم رکعت کې دي سورة الاخلاص ولولي،لکن دلمانځه په حالت: کې به يې سر پټ وي، بيابه دلمانځه فارغيدو څخه وروسته سر لوڅ کړي،پس دعمرې نيت به وکړي اوداالفاظ به ووايي : اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اُرِيْدُ الْعُمْرَةَ فَيَسِّرْهَا لِيْ وَتَقَبَّلْهَا مِنِّيْ اى الله تعالى دعمرې کولو اراده کوم، اوراته اسانه يې کړې، اورنه قبوله يې کړې،

اوکله چې سړي داحرام نيت وکړي نوبيابه نارينه په زوره دتلبيه کلمات درې وارې ووايي، اوښځه به يې په قراره آوازدتلبيه کلمات ولولي، اودتلبيه په الفاظوکې به کموالی نه کوي، داخبره يادلره چې احرام دتلبيه ويلوڅخه وروسته شروع کيږي نه داحرام دڅادرو تړلوسره، دتلبيه الفاظ دادی:لَبَّيْکَ اَللهُمَّ لَبَّيْکَ لَبَّيْکَ لاَ شَرِيْکَ لَکَ لَبَّيْکَ اِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَکَ وَالْمُلْکَ لاَشَرِيْکَ لَکَ.([1]) يعني زه حاضريم ياالله تعالى زه حاضريم، تاسره هيڅوک شريک نشته ،زه حاضريم، بيشکه ټول تعريف اونعمت هم تالره دي، اوټول جهان هم ستادی، ستا سره هيڅوک شريک نشته، دغه الفاظ به نه کم کوي البته، که نورالفاظ ورزيات کړي ښه خبره دي لکه لَبَّيْکَ وَسَعْدَيْکَ وَالْخَيْرُ کُلُّهُ بِيَدَيْکَ لَبَّيْکَ وَالرُّغْبٰى اِلَيْکَ.اولدينه وروسته به دغه دعا ووايي:

---

[1] (رواه البخاري ۱۵۴۹، ومسلم۱۱۸۴.)

اَللّٰهم اِنّی اَسئَلُکَ رِضَاکَ وَالْجَنّةَ وَاَعُوْذُ بِرَحْمَتِکَ مِنَ النَّارِ،بیابه درودشریف وړوایي، اودخپلې خوښې دعا وي به وغواړي، پس دسفرپه دوران کې خصوصًا دحالتو بدلېدوپه وخت به ډېره ډېره تلبیه وایي، مثلادصبا،ماښام کېدوپه وخت، دکیناستو پاسیدوپه وخت،دفرض لمونځونوڅخه وروسته،اودرخصتیدو اود خلقوسره دملاقات په وخت،دبهرتلواودننه راتلوپه وخت،دسوریدواوراکوځېدو په وخت،اودخوب څخه درابیداریدو په وخت، نوپه دې حالاتو کې تلبیې وایستلو داستحباب زیات تاکېد راغلي دی.

اوکله چې سړي مکې مکرمې ته راداخل شي، نوپه رسېدو سره به سامان په یو محفوظ ځای کی کیږدي، اواودس به تازه کړي، ،اومسجدحرام شریف ته به روان شي،اومسجدحرام شریف ته دداخلېدوپه وخت دي درورودشریف ولولي، اوه مسجد ته دخلیدودعادي داسې ووایي : اَعُوْذُ بِاللّٰهِ الْعَظِیْمِ وَبِوَجْهِهِ الْکَرِیْمِ وَسُلْطَانِهِ الْقَدِیْمِ مِنَ الشَّیْطَانِ الرَّجِیْمِ،بِسْمِ اللّٰهِ،وَالْحَمْدُ لله،وَالصَّلٰوةُ والسَّلَامُ عَلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ،اَلسَّلَامُ عَلَیْنَا،وَعَلٰی عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِیْنَ،اَللّٰهُمَ اغْفِرْلِیْ ذُنُوْبِیْ، وَافْتَحْ لِیْ اَبْوَابَ رَحْمَتِکَ ، چې کله یې په کعبه شریفه باندي نظرولګیږي نودرې واره دي(اَللّٰهُ اَکْبَرْ لَاَاِلَهَ اِلاَّ اللّٰهُ)اودرودشریف ووایي،اودخپلې خوښې دعادي دی وغواړي ځکه چې په دغه وخت کې دعا قبلیږي.اوباقي داحرام مسائل اواداب مخکې دحج په مسائلوکې تېرشوي دي فلانعیده.حقاني عفي عنه.

﴿ج :– دطواف ترتیب﴾

محترمو! کله چې مسجدحرام شریف ته داخل شي، نوبیادڅادرڅنډې دي ښی (راسته) دترخګ لاندې راوُباسي، اودواړه څنډې دي په چپه اوږه

واچوي، يعني چې ښى اوږه يې لوڅه پاتې شي، نوديته دفقهى په اصطلاح کې اضطباع وايي، چې دا اضطباع خاص نارينه لپاره دي، اوزنانه لپاره ندي اوزنانه به په خپلوجاموکې طواف کوي ځکه چې هغوي لپاره سترضروري دى، بيادي دطواف شروع کولولپاره حجراسودمبارک خواته رانيږدي شي، اوداسې به اودريږي چې ټول حجراسود يې ښى طرفته راشي،اودلته به عمره کوونکي دطواف نيت په ولاړه داسي وکړي: اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ اُرِيْدُ أَنْ اَطُوْفَ لِلْعُمْرَةِ طَوَافَ بَيْتِکَ الْحَرَامِ فَيَسِّرْهُ لِيْ وَتَقَبَّلْهُ مِنِّيْ،يعني اى الله تعالى زه دعمرې اداکولو لپاره دبيت الله شريف څخه دطواف کولواراده لرم، نوته يې راته اسانه کړي، اوله ماڅخه يې قبوله کړي، که په عربي ژبه کې دانيت نشي ويلي نوپخپله ژبه دي دغه نيت وتړي،که په ژبه يې څه الفاظ ونه ويل لکن په زړه کې يې صرف دطواف اراده وکړه نوداهم کافي دى ، وروسته به دحجراسود استلام لپاره ښى طرفته لږشان ورتېرشي چې حجراسودېې بيخي مخې ته راشي، حجراسودته مخامخ به اودريږي، اودواړه لاسونه به ترغوږونو پورته کړي لکه څنګه چې يې دلمونځ لپاره پورته کوي، اوزنانه به تراوږوپورې لاسونه پورته کړي،اودواړه ورغوي به حجراسودته مخامخ کړي داسې دعا به وکړي .

بِسمِ اللهِ اَللهُ اَکْبَرُ لَااِلٰهَ اِلاَّ اللهُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ وَالصَّلاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى رَسُوْلِ اللهِ، أَللّٰهُمَّ اِيْمَاناً بِکَ وَتَصْدِيْقًا بِکِتَابِکَ وَوَفَاءً بِعَهْدِکَ وَاِتِّبَاعًا لِسُنَّةِ نَبِيِّکَ مُحَمَّدٍ صلى الله عليه وسلم ؛اوبيابه لاسونه راښکته کړي حجراسودته به ورشي اودواړه لاسونه به په حجراسودباندې کيږدي، اوحجراسودبه ښکل کړي، که درش

(زياتو خلقو) لوجې څخه يې نه شي ښکلولی نودواړه لاسونه، اوياصرف
ښي لاس دي په حجر اسود بالدي کيږدي اوبيا به خپل لاسونه ښکل کړي،
که داهم نشي کېدی نوحجراسودته به دواړو ورغوواشاره وکړي اوبيادي
خپل ورغوې ښکل کړي، که په حجراسودخوشبويي لګيدلي وه نوبيا به يې
داحرام په حالت کې نه ښکلوي،اونه دي پرې لاسونه لګوي ،ځکه داحرام
په حالت کې عطرلګول منعه دي،بلکه په دغه درېمه اخري طريقه دي ورته
اشاره کوي، داستلام څخه اول به عمره کوونکی تلبيه ويل بندکړي؛ او
همداراز نارينه دي رمل يعنې اول درېوشوطونوکې دپهلواني په شان تلل
کوي، چې اوږي خوزوي اولنډ لنډ قدمونه اخلي، اوهم به داضطباع په
حالت کې طواف کوي،اوزنانه به بغيرله رمل اواضطباع څخه طواف کوي؛
پس طواف به داسې شروع کړي: چې دکعبې شريفې ددروازې طرفته به
راشي، اوکعبه شريفه به يې چپ طرفته وي، البته اضطباع به په ټول طواف
کې کوي، اورمل به صرف درېواولوشوطونوکې کوي، اوحطيم به هم په
طواف کې دننه راولي، اوچې کله رکن يماني ته راورسيږي نوپه هغې باندي
به دواړه لاسونه يايولاس ولګوي،البته نه به يې ښکلوي،کله چې حجراسود
ته راورسيږي نوداول په شان به دهغه استلام وکړي، نودايوچکرشو، دغه
شان به نورشپږچکرونه هم تکميل کړي،دهرواراستلام په موقعه به تکبير
اوتهليل يعنې الله اکبرلااله الاالله وايي دطواف په دوران کې به ذکراودعا
وي کوي، څنګه چې په دې دوران کې (سبحان الله والحمدلله ولااله الاالله
والله اکبر) لوستل فضيلت راغلی دي، اوهمداراز رکن يماني اوحجراسود

ترمنځه رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ دعا لوستل ثابت دي، طواف چې څومره کعبې شريفې ته نيږدې وي هومره زيات غوره دي.

﴿ د:- دطواف شوطونو منتخبې دعاګانې ﴾

محترمو! طواف کې دمخصوصو دعاګانولزوم نشته بلکه کومه دعايې چې خوښه وي هغه لوستلی شي، البته بعضې علماء کرامو چې دطواف په اووچکروکې کومې دعاګانې ښودلې دي هغونه ځينې دادي:داول چکردعا: سُبْحَانَ اللهِ وَلَاإِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَاللهُ اَكْبَرْ وَلاَ حَوْلَ وَلاَقُوَّةَ إِلاَّ بِاللهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْم، وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلاَمُ عَلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم،أَللّٰهُمَّ اِيْمَاناً بِکَ وَتَصْدِيْقاً بِکِتَابِکَ وَوَفَاءً بِعَهْدِکَ وَاتِّبَاعًا لِسُنَّةِ نَبِيِّکَ مُحَمَّدٍ صلى الله عليه وسلم ،اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ اَسْئَلُکَ الْعَفْوَوَالْعَافِيَةَوَالْمُعَافَاةَ الدَّائِمَةَ فِي الدُّنْيَاوَالآخِرَةِ وَالْفَوْزَ بِالْجَنَّةِ وَنَجَاةَ مِنَ النَّارِ،پس رکن يماني ته په رسېدوبه دادعا ختمه کړي،چې لږورانلدې ورتېرشي نودادعا به ووايي: رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ، وَاَدْخِلْنَا الْجَنَّةَ مَعَ الاَبْرَارِ يَا عَزِيْزُ يَاغَفَّارُ يَارَبَّ الْعَالَمِيْنَ،بيابه په ذکرشوې طريقې باندې دحجراسوداستلام وکړي يعنې ښکل به يې کړي، ورنه لاسونه به ورباندې کيږدي، ورنه دلرې څخه به ورته اشاره وکړي يعنې دتکبيرتحريمه په شان به لاسونه اوچت کړي بيا به يې ښکل کړي.

ددوهم چکردعا: اَللّٰهُمَّ إِنَّ هَذَا الْبَيْتُ بَيْتُکَ وَالْحَرَمُ حَرَمُکَ وَالاَمْنُ أَمْنُکَ وَالْعَبْدُ عَبْدُکَ وَاَنَا عَبْدُکَ وَابْنُ عَبْدِکَ وَهَذَا مَقَامُ الْعَائِذِ بِکَ مِنَ النَّارِ فَحَرِّمْ لُحُوْمَنَا وَبُشْرَتَنَا عَلَى النَّارِ، اَللّٰهُمَّ حَبِّبْ إِلَيْنَا الاِيْمَانَ وَزَيِّنْهُ فِيْ قُلُوْبِنَا وَکَرِّهْ

إِلَيْنَا الْكُفْرَ وَالْفُسُوقَ وَالْعِصْيَانَ وَاجْعَلْنَا مِنَ الرَّاشِدِيْنَ، اَللّٰهُمَّ قِنِيْ عَذَابَکَ يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَکَ اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنِيْ الْجَنَّةَ بِغَيْرِ حِسَابٍ، پس رکن يماني ته په رسېدو به دادعاختمه کړي،چې لږوړاندې ورتېرشي نودادعا به ووايي: رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ، وَادْخِلْنَا الْجَنَّةَ مَعَ الأَبْرَارِ يَا عَزِيْزُ يَا غَفَّارُ يَا رَبَّ الْعَالَمِيْنَ،بيابه په ذکرشوي طريقې باندې دحجراسود استلام وکړي اوداستلام په وخت کې به ووايي: بِسْمِ اللهِ اَللّٰهُ اَکْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ.

ددريم چکردعا: اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ اَعُوْذُ بِکَ مِنَ الشَّکِّ وَالشِّرْکِ وَالشِّقَاقِ وَالنِّفَاقِ وَسُوْءِ الاَخْلَاقِ وَسُوْءِ الْمَنْظَرِ وَالْمُنْقَلَبِ فِي الْمَالِ وَالأَهْلِ وَالْوَلَدِ، اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ اَسْئَلُکَ رِضَاکَ وَالْجَنَّةَ، وَاَعُوْذُ بِکَ مِنْ سَخَطِکَ وَالنَّارِ،اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ اَعُوْذُ بِکَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ، اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ اَعُوْذُ بِکَ مِنْ فِتْنَةِ الْقَبْرِ، پس دادعابه رکن يماني ته په رسېدوختمه کړي چې لږ وړاندې ورتېرشي نودادعا به ووايي: رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ، وَادْخِلْنَا الْجَنَّةَ مَعَ الأَبْرَارِ يَا عَزِيْزُ يَا غَفَّارُ يَا رَبَّ الْعَالَمِيْنَ، بيابه په ذکرشوي طريقې باندې دحجراسوداستلام وکړي اوداستلام په وخت کې به ووايي: بِسْمِ اللهِ اَللّٰهُ اَکْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ.

دځلورم چکردعا: اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا حَجًّا مَبْرُوْرًا وَسَعْيًا مَشْکُوْرًا وَذَنْبًا مَغْفُوْرًا وَتِجَارَةً لَنْ تَبُوْرًا،يَاعَالِمَ مَافِي الصُّدُوْرِ اَخْرِجْنِيْ يَا اَللهُ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّوْرِ، اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ اَسْئَلُکَ مُوْجِبَاتِ رَحْمَتِکَ وَعَزَائِمَ مَغْفِرَتِکَ وَالسَّلَامَةَ مِنْ کُلِّ اِثْمٍ وَالْغَنِيْمَةَ مِنْ کُلِّ بِرٍّ وَّالْفَوْزَبِالْجَنَّةِ وَالنَّجَاةَ مِنَ النَّارِ، رَبِّ قَنِّعْنِيْ بِمَا رَزَقْتَنِيْ وَبَارِکْ لِيْ فِيْمَا اَعْطَيْتَنِيْ وَاخْلُفْ عَلَى کُلِّ غَائِبَةٍ لِّيْ مِنْکَ بِخَيْرٍ ، پس

دادعابه درکن یماني ته په رسېدوختمه کړي، چې له وراندې ورتېرشي نودادعا به وايي :رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ، وَادْخِلْنَا الْجَنَّةَ مَعَ الأَبْرَارِ يَا عَزِيْزُ يَا غَفَّارُ يَا رَبَّ الْعَالَمِيْنَ، بيابه په ذکرشوي طريقې باندې دحجراسوداستلام وکړي اوداستلام په وخت کې به ووايي: بِسْمِ اللهِ اَللهُ اَكْبَرْ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ.

دپنځم چکردعا: اَللّٰهُمَّ اَظِلَّنِيْ تَحْتَ ظِلِّ عَرْشِكَ يَوْمَ لاَظِلَّ إِلاَّ ظِلُّ عَرْشِكَ وَلاَ بَاقِيَ إِلاَّ وَجْهُكَ، وَاسْقِنِيْ مِنْ حَوْضِ نَبِيِّكَ سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ صلى الله عليه وسلم شَرْبَةً هَنِيْئَةً مَرِيْئَةً لاَنَظْمَأُ بَعْدَهَا أَبَداً ،اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ اَسْئَلُكَ مِنْ خَيْرِ مَاسَئَلَكَ مِنْهُ نَبِيُّكَ سَيِّدُنَا مُحَمَّدٌ صلى الله عليه وسلم وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا اسْتَعَاذَ مِنْهُ نَبِيُّكَ سَيِّدُنَا مُحَمَّدٌ صلى الله عليه وسلم ،اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ اَسْئَلُكَ الْجَنَّةَ وَنَعِيْمَهَا وَمَا يُقَرِّبُنِيْ إِلَيْهَا مِنْ قَوْلٍ اَوْ فِعْلٍ اَوْ عَمَلٍ، وَاَعُوْذُ بِكَ مِنَ النَّارِ وَمَا يُقَرِّبُنِيْ إِلَيْهَا مِنْ قَوْلٍ اَوْ فِعْلٍ اَوْ عَمَلٍ، پس دادعابه درکن یماني ته په رسېدوختمه کړي، چې له وراندې ورتېرشي نودادعا به وايي:رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ، وَادْخِلْنَا الْجَنَّةَ مَعَ الأَبْرَارِ يَا عَزِيْزُ يَا غَفَّارُ يَا رَبَّ الْعَالَمِيْنَ، بيابه په ذکرشوي طريقې باندې دحجراسوداستلام وکړي اوداستلام په وخت کې به ووايي: بِسْمِ اللهِ اَللهُ اَكْبَرْ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ.

دشپږم چکردعا: اَللّٰهُمَّ إِنَّ لَكَ عَلَيَّ حُقُوْقًا كَثِيْرَةً فِيْمَا بَيْنِيْ وَبَيْنَكَ وَحُقُوْقًا كَثِيْرَةً فِيْمَا بَيْنِيْ وَبَيْنَ خَلْقِكَ، اَللّٰهُمَّ مَاكَانَ لَكَ مِنْهَا فَاغْفِرْهُ لِيْ وَمَاكَانَ لِخَلْقِكَ فَتَحَمَّلْهُ عَنِّيْ، وَاغْنِنِيْ بِحَلاَلِكَ عَنْ حَرَامِكَ وَبِطَاعَتِكَ عَنْ مَعْصِيَّتِكَ وَبِفَضْلِكَ عَمَّنْ سِوَاكَ يَاوَاسِعَ الْمَغْفِرَةِ، اَللّٰهُمَّ إِنَّ بَيْتَكَ عَظِيْمٌ وَوَجْهَكَ

كَرِيْمٌ وَاَنْتَ يَا اَللّٰهُ حَكِيْمٌ كَرِيْمٌ عَظِيْمٌ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّيْ، دادعابه

درکن یماني ته په رسېدوختمه کړي چې وړاندې ورتېرشي نودادعا به

وايي :رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ،

وَادْخِلْنَا الْجَنَّةَ مَعَ الاَبْرَارِ يَا عَزِيْزُ يَا غَفَّارُ يَا رَبَّ الْعَالَمِيْنَ،بيابه په ذکرشوي

طريقې باندې دحجراسوداستلام وکړي اوداستلام په وخت کې به وايي:

بِسْمِ اللهِ اَللّٰهُ اَكْبَرْ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ.

داووم چکردعا: اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ اَسْئَلُکَ إِيْمَانًا كَامِلاً وَيَقِيْنًا صَادِقًا وَرِزْقًا وَّاسِعًا وَّقَلْبًا خَاشِعًا وَّلِسَانًا ذَاكِرًا وَرِزْقًا حَلاَلاً طَيِّبًا وَتَوْبَةً نَصُوْحًا وَتَوْبَةً قَبْلَ الْمَوْتِ وَّرَاحَةً عِنْدَ الْمَوْتِ وَمَغْفِرَةً وَّرَحْمَةً بَعْدَ الْمَوْتِ وَالْعَفْوَ عِنْدَ الْحِسَابِ وَالْفَوْزَ بِالْجَنَّةِ وَالنَّجَاةَ مِنَ النَّارِ بِرَحْمَتِکَ يَاعَزِيْزُ يَا غَفَّارُ، رَبِّ زِدْنِيْ عِلْمًا، وَالْحِقْنِيْ بِالصَّالِحِيْنَ، دادعابه درکن یماني ته په رسېدوختمه کړي چې وړاندې ورتېرشي نودادعا دي وايي :رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ، وَادْخِلْنَا الْجَنَّةَ مَعَ الاَبْرَارِ يَا عَزِيْزُ يَا غَفَّارُ يَا رَبَّ الْعَالَمِيْنَ، بيابه په ذکرشوي طريقې باندې دحجراسوداستلام وکړي،اوداستلام په وخت کې به وايي: بِسْمِ اللهِ اَللّٰهُ اَكْبَرْ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ.

اوپه مقام ملتزم باندې به دغه دعا ولولي:اَللّٰهُمَّ يَارَبَّ الْبَيْتِ الْعَتِيْقِ اَعْتِقْ رِقَابَنَا وَرِقَابَ اَبَائِنَا وَاُمَّهَاتِنَا وَاِخْوَانِنَا وَاَوْلاَدِنَا مِنَ النَّارِ يَا ذَاالْجُوْدِ وَالْكَرَمِ وَالْفَضْلِ وَالْمَنِّ وَالْعَطَاءِ وَالاِحْسَانِ، اَللّٰهُمَّ اَحْسِنْ عَاقِبَتَنَا فِي الْاُمُوْرِ كُلِّهَا وَاَجِرْنَا مِنْ خِزْيِ الدُّنْيَا وَعَذَابِ الآخِرَةِ، اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ عَبْدُکَ وَابْنُ عَبْدِکَ وَاَقِفُ تَحْتَ بَابِکَ مُلْتَزِمٌ بِاَعْتَابِکَ مُتَذَلِّلٌ بَيْنَ يَدَيْکَ اَرْجُوْ رَحْمَتَکَ وَاَخْشَى

عَذَابِکَ مِنَ النَّارِ یَا قَدِیْمَ الاِحْسَانِ، اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ اَسْئَلُکَ اَنْ تَرْفَعَ ذِکْرِيْ وَتَضَعَ وِزْرِيْ وَتُصْلِحَ اَمْرِيْ وَتُطَهِّرَ قَلْبِيْ وَتُنَوِّرَ لِيْ فِيْ قَبْرِيْ وَتَغْفِرَ لِيْ ذَنْبِيْ وَاَسْئَلُکَ الدَّرَجَاتِ الْعُلٰى مِنَ الْجَنَّةِ آمِيْن،

ددې ذکرشوي دعاګانواودځپلې خوښې دعاګانودفراغت څخه وروسته به مقام ابراهیم (علیه السلام) ته راشي دوه رکعته دطواف واجب لمونځ به اداکړي، که دلته ازدحام (ګڼه ګوڼه) وي نوکوم ځای چې مسجدحرام شریف کې ورته موقعه پیداشي هلته به دوه رکعته لمونځ دطواف اداکړي، په ډېرتضرع اوعاجزی سره به دغه دعا ولولي: اَللّٰهُمَّ إِنَّکَ تَعْلَمُ سِرِّيْ وَعَلاَنِیَّتِيْ فَاقْبَلْ مَعْذِرَتِيْ، وَتَعْلَمُ حَاجَتِيْ فَاعْطِنِيْ سُؤْلِيْ وَتَعْلَمُ مَا فِيْ نَفْسِيْ فَاغْفِرلِيْ ذُنُوبِيْ، اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ اَسْئَلُکَ اِیْمَانًا تُبَاشِرُنِيْ قَلْبِيْ وَیَقِیْنًا صَادِقًا حَتَّى اَعْلَمَ أَنَّهُ لاَیُصِیْبُنِيْ إِلاَّ مَا کَتَبْتَ لِيْ وَرِضًا بِمَا قَسَمْتَ لِيْ أَنْتَ وَلِيْ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ تَوَفَّنِيْ مُسْلِمًا وَاَلْحِقْنِيْ بِالصَّالِحِیْنَ، اَللّٰهُمَّ لاَتَدَعْ لَنَا فِيْ مَقَامِنَا هٰذَا ذَنْبًا إِلاَّ غَفَرْتَهُ وَلاَهَمًّا إِلاَّ فَرَّجْتَهُ وَلاَحَاجَةً إِلاَّ قَضَیْتَهَا وَیَسَّرْتَهَا فَیَسِّرْ اُمُوْرَنَا وَاشْرَحْ صُدُوْرَنَا وَنَوِّرْ قُلُوْبَنَا وَاخْتِمْ بِالصَّالِحَاتِ اَعْمَالَنَا، اَللّٰهُمَّ تَوَفَّنَا مُسْلِمِیْنَ وَاَلْحِقْنَا بِالصَّالِحِیْنَ غَیْرَ خَزَایَا وَلاَ مَفْتُوْنِیْنَ آمِیْنَ یَا رَبَّ الْعَالَمِیْنَ بِجَاهِ سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ صلی الله تعالی علیه وسلم ، اوله دېنه وروسته به آب زمزم شریف ته راشي بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ به ووایي په درېو ساه باندې به آب زمزم ډېري وڅکي اَلْحَمْدُلله به ووایي اودا دعا به هم وکړي : اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُکَ رِزْقًا وَاسِعًا وَعِلْمًا نَافِعًا وَشِفَاءً مِنْ کُلِّ دَاءٍ،له دېنه ورو سته به دحجر اسود استلام وکړي د سعی لپاره به صفا مروه ته روان شي .

﴿هـــ :- دسعی طريقه﴾

محترمو! دصفا په دروازي به صفاغونډۍ ته وردا خل شي،نودعمري دسعي نيت به وکړي، اود قرآن کريم دا آيت شريف به ووايي: إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ يَطَّوَّفَ بِهِمَا وَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا فَإِنَّ اللَّهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ يعني بې شکه صفا اومروه دالله تعالى دنښنو نښانو څيني ده الخ، ورپسی به داسې ووايي اَبْدَأُ بِمَا بَدَأَ اللّٰهُ بِهِ. يعني زه دهغي نه شروع کوم دکوم صفا ذکر چې الله تعالى مخکې کړي دی، نوپه صفاغونډۍ دِی دومره اندا زه پورته وخيږي چې کعبه شريفه ورته ښکاره شي، نن صباچې لږ شان وروخيژي نو دمسجد حرام دڅينو دروازونه کعبه شريفه ښکاري، بيا به کعبی شريفي ته مخ کړي دالله تعالى لويې او تو حيد به بيان کړي، اودا سې به ووايي: لَاإِلَٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَحْدَهُ لَاشَرِيْکَ لَهُ لَهُ الْمُلْکُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيءٍ قَدِيْرٌ، لَاإِلَٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَحْدَهُ اَنجزَ وَعْدَهُ وَنَصرَ عَبْدَهُ وَهزمَ الاَحْزَابَ وَحْدَهُ أَللّٰهُ اَكْبَرْ اَللّٰهُ اَكْبَرْ وَلِلّٰه الْحَمْدُ، اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَلَى مَاهَدَانَا اَلْحَمْدُ لله عَلَى مَا اَوْلاَنَا اَلْحَمْدُ لله عَلَى مَا اَلْهمَنَا اَلْحَمْدُ لله الَّذِي هَدَانَا لِهٰذَا وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِیَ لَوْلاَ أَنْ هَدَانَا اللّٰهُ لَاإِلَٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَحْدَهُ لَاشَرِيْکَ لَهُ لَهُ الْمُلْکُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِي وَيُمِيتُ بِيَدِه الْخَيْرُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيءٍ قَدِيْرٌ، لَاإِلَٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَلَانَعْبُدُ إِلاَّ إِيَّاهُ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ وَلَوْ کَرِهَ الْكَافِرُوْنَ، اَللّٰهُمَّ إِنَّکَ قُلْتَ وَقَوْلُکَ الْحَقُّ اُدْعُوْنِي اَسْتَجِبْ لَكُمْ وَإِنَّکَ لَاتُخْلِفُ الْمِيْعَادَ، اَللّٰهُمَّ كَمَا هَدَيْتَنِي لِلاِسْلَامِ اَسْئَلُکَ أَنْ لَاتَنْزِعَهُ مِنِّيْ حَتَّى تَوَفَّانِيْ وَاَنَا مُسْلِمٌ، سُبْحَانَ اللّٰهِ الْعَظِيْمِ وَالْحَمْدُ للهِ وَ لَاإِلَٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرْ وَلَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ إِلاَّ بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ

الْعَظِيْم، اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍوَّعَلٰى آله وَاَصْحَابِه وَاَزْوَاجِه وَذُرِّيَّاتِه وَاَتْبَاعِه إِلٰى يَوْمِ الدِّيْن، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ وَلِوَالِدَىَّ وَلِجَمِيْعِ الْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَ سَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ، البته دطواف اوسعى لپاره دمخصوصو دعاګانولزوم نشته ، لهذاکومه دعا چې زياته خضوع اوخشوع سره وي که هغه په هره ژبه کې وي ښه قبليږي، لکن مونږ دغه مذکورې دعاګانې بطوررهنمايي ستاسې محترم حضور کې تقديم کړې، بيابه دصفاغونډۍ څخه راکوزشي اومرواغونډۍ ته به د الله تعالى ذکر کوونکى روان شي، تردې چې شين رنګې ستن (راډونو) ته نږدې شي، نونارينه لپاره سنت دى چې ښه ګړندى شي لکن دعوامو په شان به منډې نه وهي، دامقام هم دقبوليت ددعا دى، نودلته به دخپلې خوښې دعاګانې کوي اودادعا به هم ولولي : رَبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ وَتَجَاوَزْ عَمَّا تَعْلَمُ إِنَّکَ تَعْلَمُ مَالَانَعْلَمُ إِنَّکَ أَنْتَ الْاَعَزُّ الْاَکْرَمْ وَاهْدِنِيْ لِلَّتِيْ هِىَ اَقْوَمُ، اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ حَجًّا مَبْرُوْرًا وَّسَعْيًا مَشْكُوْرًا وَّذَنْبًا مَغْفُوْرًا، البته زمونږخوږ نبي کريم صلى الله عليه وسلم په دې موقعه دغه مختصره دعا مکرره لوستله، نوستاسې محترم هم دغه دعاپه کثرت سره لولى رَبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ أَنْتَ الْاَعَزُّ الْاَکْرَمْ، بلې ستنې (شين راډ) ته په رسېدوبه ګړندي تلل ختم کړي، اوپه خپل عادى رفتاربه ځي ،اودالله تعالى ذکربه کوي مرواغونډۍ ته په رسېدوبه کعبى شريفې ته مخ کړي دالله تعالى لوېې او تو حيد به بيان کړي، اوشلورمه کلمه به وايي، اوله دېنه روستوبه هغه دعاکوي کومه يې چې دصفا په غونډۍ کړې وه، درودشريف به هم ولولي ،لاسونه به پورته کړي

اودرې ځلې به دعا وکړي، نومرواغونډۍ ته په رسيدودغه يوچکرشو، اوبيا به صفاغونډۍ ته روان شي په ميلينو اخضرينو کې به ګړندی (تيز) شي، بيابه خپل عادي مزل شروع کړي کله چې صفاغونډۍ ته راشي، بيابه ذکراوتهليل اوتمجيداودعاګانې وکړي، دادوهم چکرشو،همدغه شان به اوه چکرونه پوره کړي، چې دصفاغونډۍ څخه شروع اوپه مرواغونډۍ به ختم شي؛ پس دسعی ختمولوورروسته به ټول سر وخرېي ، اويا دی ګوتي دبندپه اندازه دسرويښتان کم کړي، خو ښځې به صرف دټول سرويښته دګوتي بند په اندازه پرې کوي، البته داحرام څخه دوتلولپاره کم ازکم څلورمه برخه دسرويښته خريل يادګوتي دبندپه اندازه پريکول لازمي دي، لکن دټول سرخريل سنت دي. ځينې ناپوهه خلق صرف قينچې باندې يوڅه اندازه ويښته لنډ کړي چې په هغې سره داحرام څخه نه أوځي، ځينې کسان دمرواغونډۍپه سرولاړوي خلقوڅخه يوڅوويښته قينچې کړي دخپلوروپيوپه خاطر، اوحال داچې عمره کوونکی په دې سره داحرام څخه نه أوځي، نوخپله فکروکړه چې څومره خلق بې ګناهګارکړل، نو ای عمره کوونکيه ورورهٔ! خطا نشې بيداراوسه. مطلب داچې ددې سعی څخه وروسته دټول سر خريل ، يادګوتي دبندپه اندازه دسرويښته کمولو سره سرې احرام دعمرې څخه أووځي، ، اولدی ورسته ګنډلې جامې اغوستل ، خوشبوئې لګول، دخپلې ښځې سره جماع کول، اوهغه ټول کارونه ورته رواشول چې داحرام په وجه ورته ناروااشوي ؤو، نوالله تعالی دی زموږ

اوستاسي څخه عمره قبوله کړي اود عمرې مناسکو د صحيح ادا توفيق دې الله تعالى راته نصيب کړي.آمين يارب العالمين .

﴿جامعه فائده﴾

محترمو! هريوعمره کوونکي وررته دلته ديوڅوضروري معلوماتو يادسائل پکار دي چې ځنې يې په لاندې ډول دي:-

اول:عمره کوونکي باندې طواف قدوم اوطواف وداع نشته، اودعمرې په احرام کې اول هرطواف دعمرې طواف دی.

دوهم : که هرڅوځله عمره کوې نواحرام څخه دوتلولپاره به په سر باندې ضرور پاکې (چاړه) ګرځوي، اګرچې دخريلولپاره ويښته پرې نوي .

دريم : حرم شريف په حدودوکې دسرخريل يا کمول ضروري دي، ورنه دم ورباندې واجب ده، اوکه بيا واپس راشي اوپه حرم شريف حدودوکې سروخريې نواوس دم ورباندې نه واجب کيږي.

څلورم : په يوه عمره باندې د بلې عمرې احرام تړل شرعًاممنوع دي يعنې ځينې خلق دعمرې دطواف اوسعى کولوڅخه وروسته حلق ياقصرنه کوي، اودبلې عمرې احرام پرې تړي،اوپه داسې کولوباندې دم لازميږي،اودکومې عمرې احرام يې چې اولًا تړلې دی هغې اداکول ورباندي لازم دي.


پنځم : دنارينه اوښځو داحرام تړلوطريقه يوه ده ، البته په حيض يا نفاس کې به زنانه احرام تړي خومکې مکرمې ته په رسيدو که هم دحيض يانفاس په حالت کې وي نودپاکيدوانتظاربه کوي چې پاکه شي، نودپاکوال څخه وروسته به مسجدحرام شريف ته داخليږي،بيابه طواف اوسعى کوي البته

غسل به يې ترې وړاندې کړی وي، اوبل داچې ښځې به داحرام په حالت
کې خپلې دمعمول ګنډلې جامې اغوندي چې ټول اندامونه به يې پټ وي،
البته دمخ پټولولپاره به کپړه (جامه) پرمخ نه لګوي، لهذا ښځې ۀلپاره
داحرام په حالت کې هم دنامحرمو ښځو څخه ستر پرده کول لازم دي،
داخبره غلطه اوجاهلانه مشهوره شوي ده چې په احرام کې دښځې ۀستر
اوپرده نشته، دابيله خبره ده چې په مخ باندې به کپړه نه لګوي، دسترپردې
په غرض په حج کې داسې يوکيپ ښځولپاره اوس موندلی شي چې پرده په
زورنده وي خوپه مخ يې نه لګي ،اوبل داچې ښځولپاره په اوچت اوازويلو
تلبيه منع دی بلکه تلبيه به په قرار اواز سره وايې چې خپله يې اورې، اوبل
داچې ښځې به دسعی په وخت دهغودووشنوراڼوترمينځه دسړيوپه شان
ګړندی نه ځي، بلکه په خپل عادي حالت سره به مزل کوي، اوبل داچې
ښځې به دټولوويښتوڅخه دګوتې دبندپه اندازه ويښته پريکوي، اوبل داچې
بغيردمحرم څخه عمره نشي کولی، اوبل داچې بغيرله عذرڅخه په ګاډي
کې سعی کول جائزنه دي که چاداسې وکړل اودغه سعی يې پياده حالت
کې بياادانکړه نودم پرې واجب شو، اوبل دسعی څخه په فارغيدودمطاف
په غاړه دوه رکعته نفل کول مستحب دي، اوبل نفلي سعی جائزنه دی
ځکه چې منقوله نه ده، بلکه نفلي طوافونه دي کوي ځکه چې دډېرو
عمروڅخه نفلي طوافونه زيات ثواب لري . والله تعالى اعلم بالصواب.

{پنخم فصل: دديار حبيب صلی الله عليه وسلم سفراوزيارت}

{اول بحث: دمدينې منورې خواص اوفضائل}

محترمو! مدينې منورې ته الله تعالی بې انتهاء خصائص اوفضائل ورنصيب کړيدي، چې مدينه شريفه داسلام مرکز، دايمان کوز، دهجرت زمکه، دصحت مندي اوروحاني علاج مرجع، دحلالو اوحرامو دمعلوميدو بنياد، دخاصوفضيلتونومدخل، اودانواراواوفيضاتو دنزول منبع دي،البته بعضی خواص به يې ستاسې په خدمت کې مشت نمونه خر وار وړاندې کړو



{الف:- دمدينې منورې خواص}

(۱) - ټول اسلامي دولتونه دتورې په زور باندې فتحه شوي، لکن مدي... ځزيمه صرف دقرآن کريم دعوت په ذريعه فتحه شوی ده.

(۲)-تمام اسلامي ممالک حتی مکه مکرمه هم دمدينې منورې په ذريع... داسلام په رنګ رنګينه شوې دی نو الله تعالی مدينه منوره ددين اواسلا... مظهر جوړه کړې ده .

(۳)-الله تعالی دنبي کريم صلی الله عليه وسلم داعانت اوامدادلپاره دمدينې... کريمی اهل منتخب کړي دی،دمسلم شريف په روايت کې راغلی دي: ... څوک چې دمدينې منورې اوسيدونکوته دتاوان رسولو اراده و کړي نو الله... تعالی به يې داسې ويلې کړي لکه مالګه چې په ابو کې ويلې کيږي.

(۴) - الله تعالی دسیدالکونین صلی الله علیه وسلم لپاره دامقدس شهرقرار اوسکون اودارالهجرت جوړ کړې ده .

(۵)-الله تعالی دمدینې منورې سرزمین خپل ذات طرف ته منسوب کړې دی اوفرمایي:(اَلَمْ تَكُنْ اَرْضُ اللهِ وَاسِعَةً [1]) یعنې آیاداالله تعالی ځمکه فراخه نده؟.

(۶) الله تعالی په دې مبارک شهرباندې قسم کړیدی (لَا أُقْسِمُ بِهَذَا الْبَلَدِ + وَأَنْتَ حِلٌّ بِهَذَا الْبَلَدِ) یعنې قسم دی په دې شهر....امام قرطبي رحمه الله تعالی لیکلي چې هذالبلد څخه مرادمدینه شریفه ده، چې هغه یې ستا صلی الله تعالی علیه وسلم په اقامت باندې مشرف کړه ،چې په دې ذریعه یې په برکتونومالامال کړه .

(۷) - دمدینې منورې په سرزمین باندې یوداسې مقدس خطه موجوده ده، چې ددنیاټولوځایونوڅخه افضله اوبهتره کیدوباندې دعلماء امت اجماع ده یعنې مرقد اقدس سیدکائنات صلی الله تعالی علیه وسلم .

(۸) - ډیرجلیل القدرصحابه کرام رضی الله تعالی عنهم اجمعین دمدفن کیدلوشرافت مدینې طیبې ته حاصل دي.

(۹) - فخرکائنات صلی الله علیه وسلم دغه شهرمقدسه حرم ګرځولی ده لکه څنګه چې سیدنا ابراهیم علیه السلام مکه مکرمه حرم ګرځولی وو.

(۱۰) - امام الانبیاء صلی الله علیه وسلم په خپل لاس اطهرباندې په دې کې مسجد شریف تأسیس کړیدی، ددې سره سره مدینه کریمه ته داشرافت هم حاصل دی چې ددې په سرزمین دحجره نبوي صلی الله علیه وسلم اودمنبرنبوي

---

[1] سورة النساء اية ۹۷

صلی الله علیه وسلم په مابین کې ریاض الجنة (دجنت یوباغچه) هم پرته ده.

(۱۱) – دمدینې منورې په مسجدکې هغه ذی الشان منبرهم موجود دی، چې دهغه بنیاد جنت کې دی .

(۱۲) – مسجد نبوي صلی الله علیه وسلم کې دلمونځ ثواب دټولومساجدو څخه په پنځوس زره درجې زیات دی،البته صرف مسجد حرام شریف کې دلمونځ ثواب په یولاکه درجې باندې دی.

(۱۳) – د مسجد نبوي صلی الله علیه وسلم متعلق تاجدارمدینه صلی الله علیه وسلم فرمایلې چې کوم سړي دی مسجد کې څلویښت لمونځونه په داسې ډول وکړل چې هیڅ یوځینی قضاء نشو،نوهغه دجهنم اورنه خلاص اودنفاق څخه په امان دی.

(۱۴) – انبیاء کراموعلیهم السلام په تعمیرشویو مساجدوکې دټولوڅخه اخري دمسجد تعمیر مدینه کریمه کې شویدی، چې ددې دزیارت لپاره دسفراهتمام کولواجازت هم موجود دی .

(۱۵) – فخرکائنات رسول الله صلی الله علیه وسلم دارشادمطابق به دا شهر مقدس همیشه همیشه دارالسلام وي.

(۱۶)– ددنیادټولوممالکوڅخه داهغه شهرده چې دغه شهربه دقیامت په قریب کې ترټولوڅخه اخري ړنګیږي .

(۱۷) یوداسې وخت به هم راځي چې په دې مقدسه شهر مدینې منورې کې به زیات ددیني علوم ماهر پیداکیږي .

(۱۸) – مسجد نبوي صلی الله علیه وسلم کې زده کړه اوښوونه دومره ثواب لري لکه دالله تعالی په لار کې جهاد کول مسند احمد او ابن ماجه کې دابي هریره

رضی الله تعالی عنه نه روایت دی چې رسو الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې زما دي مسجد ته چې څوک په ښه نیت راشي چې یوشئ خپله زده کړي یا بې بل ته وروښيي نودی په مثال دهغه چا دی چې د الله تعالی په لارکي جهاد کوي، اوڅوک چې لدي څخه پرته په بل نیت راشي نو دده مثال دهغه سړي په شان دی چې دبل مال ته ګوري. یعني له دغه اجر څخه بې برخي شو.

(۱۹) دمدینې منورې په سرزمین باندې داُحُد هغه غر ده چې د رسو الله صلی الله علیه وسلم سره یې محبت کولو اودی داحد غره سره ، بخاري شریف کي دابي حمید رضی الله تعالی عنه نه په یوروایت کي راغلی دي: چې مونږد رسو الله صلی الله علیه وسلم سره دتبوک دغزا نه راغلوتردي چې مدینې منورې ته رانږدي شوونو نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دا پاکه زمکه ده اودا داُحُد غردی چې موږ سره مینه لري او موږ هم مینه ورسره لرو. مزید تشریح اوتوضیح لپاره وفاءالوفاء په نامه کتاب ج۱فصل ۷مطالعه کولیشئ .

﴿ب:- دمدینې منورې جعرافیایئ حالات﴾

محترمو! مدینه منوره زادهاالله تنویرًا محل وقوع دمکې معظمې څخه شمال طرفته (۴۵۵)څلورسوه پنځه پنځوس کیلومیترپه فاصله کې پروت دی، او په مغرب طرف کې یې(۱۳۱)یوسلویودیرش میله لري سمندراوددې علاقه بندرګاه ینبوع دی،اودشهرمبارک دمکې معظمې اودشام په وسط کې تقریبًا واقع دی.[1]اودمدینه کریمه سطحه سمندرڅخه (۶۱۹) میتره بلندی باندې اباده دی، اودحجاز صحت پروګرام مقام څخه معلومیږي چې ددې ګرمی

(۱) جزیرة العرب ندوی ص ۷۰

اويخنى موسم هم سخت وي، چې دګرمۍ موسم کې درجه حرارت عموما ۴۵سنټي ګريډوي.[(۱)] اود مديني منورې طول البلداودمکې مکرمې طول البلدکې تقريبايکسانيت دی ۱-۲،-۳۹ درجه مشرقي دی، البته دعرض البلد۲۴ درجه شمالي دی، لکه مکه مکرمه عرض البلد۲۱ درجې شمالي دی، اودامقدس شهرپه يوداسې ميدان کې آباد دی چې هغه شمال طرفته لوی لوی اوچت اوچت غرونه دي، اومشرقي اومغربي سمتونوته دوه حره (کاڼوواله ځمکه)، اوشمالي اوجنوبي اطرافونه يې دډؤوغرونوګيرا(چاپيره) دی، اومشرق کې حرة الواقراومغرب کې حرة الوبداه واقع دی.[(۲)] علامه همداني المتوفی سنه ۳۳۴هـ رحمه الله تعالی ليکلي: چې دمدينه منوره زمکه په قباء، فضاء،احد، عقيق، بطحان،سلع، حرة، لابتان، سبحه حريفه، اورحابه واجيه باندې مشتمله ده[(۳)] داسلام څخه مخکې په جزيرة العرب کې مدينه منوره دآب هواخرابی په لحاظ سره مشهوره وه، لکن خدای پاک د لړازمائش څخه بعد مدينه طيبه دخپل برکت څخه نهايت صحت بخش مقام وګرځوله، اوددې آب هوائې بيحده لطيف صحت افزواو خوشګواره جوړه کړه، لکه اُمُّ المؤمنين سيده عائشه رضی الله تعالی عنها بيان فرمايلی دی چې کله رحمت دوعالم صلی الله عليه وسلم مدينې منورې ته تشريف راوړو، نوسيدناصديق اکبررضی الله تعالی عنه اوحضرت سيدنا بلال رضی الله تعالی عنه بيمارشول بلکه اکثر صحابه کرام رضی الله تعالی

---

(۱) رحلة الحجازيه ص ۲۵۲

(۲) دائرالمعارف ج ۸ ص ۵۲۹

(۳)صفة جزيرة العرب ص ۱۲۴

عنهم مریضان شول زه دواړوبیمار پرسی لپاره حاضره شوم،زما والد گرامی باندې کله چې بخار راغلونودغه شعرېې لوستو.

كُلُّ امْرِئٍ مُصَبَّحٌ فِيْ اَهْلِهِ وَالْمَوْتُ اَدْنٰى مِنْ شِرَاکِ نَعْلِهِ

سیده عائشة رضی الله تعالی عنهافرمایې چې ماددواړوحالاتوڅخه رحمت کائنات صلی الله علیه وسلم لره خبرکړو،نوهغه صلی الله علیه وسلم دغه دعاوفرمایله ،یاالله تعالی دمکه مکرمه دمحبت څخه زیات محبت دمدینه اسکینه زمونږپه زړونوکې واچوه، اوددې آب هواصحت منده جوړه کړه، اوددې په مداوصاع کې مونږته برکت عطاوفرمایه، اوددې څخه بخارمنتقل کړه جحفه ته یې واستوه. (۱)

علامه محمدلبیب التنوي رحمه الله تعالی خپل تاثرات داسې بیانوي ،یقینا مدینه کریمه آب هوانهایت صحت بخش دی،اواهل مدینه و اخلاقو اوعاداتو کې نرموالی لطافت موجود دی،لهذٰا دا دآب هوا اثرلازمًا دی،اودمدینې منورې پاک آب نهایت شریف خوږه اوخوشگواردی، چې څومره څکې نو هضم کیږي، ښه یخ اومسکن دی، مدینه طیبه آب هوا معتدل اوغذایې روح دی، اودلته کوم قسم متعدي بیماري نشته، نه پیچس اواسهال مریضې شته، اونه طاعون او وباء شته، بلکه مکې مکرمې کې چې کوم خلق یالاره کې ورته پیچس اواسهال مرض پیداشي، نومدینې منورې ته په رسیدوهغه صحت یاب کیږي، صباح اوبیگاه سړه (یخ) هواپکې چلیږي،دمدینې منورې شپه په سړوالي کې مشهوره ده. (۲)

(۱) بخاری شریف ج ۱ص ۲۵۲
(۲) رحلة الحجازیه ص ۲۶۵

امام شهاب الدين احمدبن محمدالقسطلاني المتوفى سنه ۹۲۳هـ رحمه الله تعالی لیکلي: چې یثرب دالتثریب څخه دی چې دده معنی توبیخ اوملامت کول دي، یایثرب دالثرب څخه دی چې ددې معنی فساد دی، چونکه دواړه الفاظ خراب ؤو، چونکه درسول الله صلی الله علیه وسلم عادت مبارک داؤ چې خراب نوم به یې په ښه نوم سره بدلولو، له دې وجې څخه هغه صلی الله علیه وسلم دیثرب نوم په ځای طابه نوم باندې مسمٰی کړه [۲].

یوارشاد ګرامي دی چې کوم سړی مدینې منورې ته یثرب ووایې، نودهغه په اعمال نامه کې یوه ګناه ولیکل شي [۳].

یورروایت دی چې کوم سړي مدینې منورې ته یثرب وویل، نودهغه دغلطې کفاره داده چې هغه لس ځله مدینه ووایې [۴] لکه څرنګه مدینه منوره امراض باطنیه اودعشق مریضان لپاره په رسیدوسره شفایاب کیږي، همدارنګه مریضان دامراض ظاهري لپاره مدینه منوره مقدسه خاوره اکسیرجوړیږي، لکه سیده عائشه رضی الله تعالی عنهابیان دی چې کله به هم کوم سړی بیمارشو، یابه کوم څوک زخمي شو، نوررحمت کائنات صلی الله علیه وسلم خپله کلمې واله ګوته سبابه (انګشت شهادت) په ځمکه کیښودله دغه دعابه یې غوښته :- بِسْمِ اللهِ بِتُرْبَةِ اَرْضِنَا بِرِيْقِ بَعْضِنَا يُشْفٰى سَقِيْمُنَا [۵]

---

(۲) ارشادالساری ج ۲ ص ۲۳۷

(۳) بخاري شريف ج۱ ص ۲۵۲

(۴) کنزالعمال ج ۱۲ ص ۲۸۹

(۵) مسلم شريف ج ۲ ص ۲۲۳

امام النووي المتوفی سنه ۶۷۶هـ رحمه الله تعالی لیکلي: چې په دې حدیث شریف کې ارض څخه مدینه منوره مراد دی چې دمخصوص برکاتوحامل دی، رحمت کائنات صلی الله تعالی علیه وسلم خپله دشهادت ګوته مبارکه خپلې خولې مبارکې لعاب (لاړې) ولګولې، بیابه یې څمکه باندې کیښودله چې خاوره ورسره ونښلې، بیابه یې مذکوره دعاولوستله زخم والاځای یابیماربانډې به یې ولګوله، مریض به دالله تعالی په اذن سره شفایاب شو.(۱)

سیدنا سعد رضی الله تعالی عنه بیان فرمایې: چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلې: چې په هغه ذات دې زماقسم وي چې دهغه په قبضه قدرت کې زماروح دی، دمدینې منورې خاوره هرې بیماری لپاره شفا ده.(۲)

شیخ عبدالحق محدث دهلوي المتوفی سنه ۱۰۵۲هـ رحمه الله تعالی فرمایلې :چې داعلاج دتجربې اومشاهدې څخه هم ثابت دی چې کله زه مدینه منوره کې اوسیدلو باندې سرفراز شوم، زماپه خپوباندې یومهلک ورم مریضې راغله ، چې اطباء په اتفاق رایه سره دغه دهلاکت علامه وبښودله، مګرماپخپله دغه پاکې خاورې باندې علاج شروع کړو،په ډیروکموورځو کې په اسانی اوسهولت سره له دغه مرض څخه روغ اوجوړشوم. (۳)

دسیدنا ثابت بن قیس بن سماس رضی الله تعالی عنه روایت دی چې دمدینې منورې غبار(ګرد) مرض جذام لپاره شفادی. (۴)

---

(۱) شرح مسلم ج۲ ص ۲۲۳

(۲) جمع الفوائد ج ۱ ص ۲۰۱

(۳) جذب القلوب ص ۲۹

(۴) کنزالعمال ج۱۳ ص ۲۳۶

﴿ ج:– دمدینې منورې نباتات ﴾

محترمو! الله تعالی دمدینې منورې په میوه جاتوکې عجیب اوغریب خواص، فوائد اوبرکات اچولي دي،چې دادفخرکائنات صلی الله علیه وسلم ددعاکرشمه ده فرمایي:اَللّٰهُمَّ بَارِکْ لَنَا فِيْ اَثْمَارِنَا بالخصوص په کجوروزیاتوالي کې بې پناه اضافه والی دی،چې ددې بې شماره اقسام دي په تاریخ کبیرکې(۱۳۹) اقسام،اوپه خلاصة الوفا کې یې(۱۳۰)اقسام بیان کړیدي،لکه شیخ محمد صالح البلیهشي رحمه الله تعالی په موجوده دورکې دکجورو(۲۳) اقسام بیان کړیدي: لکه العجوة، العنبرة، السلبی،الصفاوی، الحلوة، البرني، البیض، الخثیمی ، الشفرة ،روثانة المدینة ،الربیعة السویداء،السکرنه،السبع ،القنبر، الطرجل، البرنجي، البطائية ،روثانة الشرق،ام الخشب،لونه،رباعي،المدینه، (۱)

مؤلف موصوف دالاندې باغونه هم ذکرکړیدي: قباء،قربان،عوالی، المطار، الخلیل،الزبیر،العیون،العنابس، حمرة ،الشرفیة،آبارعلي ، ابوبریقة ، سلطانه، البرکه، قریظه،اوالمبعوث،همدارنګه رحمت عالم صلی الله علیه وسلم ته دټولو څخه زیاته محبوبه اومرغوبه کجوره ،عجوه کجوره وه. علامه ابن حجر عسقلاني المتوفی سنه ۸۵۲هـ امام ابن کثیر رحمهما الله تعالی فرمایلي دي: چې عجوه دصیحاني څخه مقدارکې لویه ده، ددې درخته (ونه) په خپله فخرکائنات صلی الله علیه وسلم په خپل لاس مبارک باندې لګولي دی. (۲)

دسیدناابوهریرة رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم

---

(۱) الیوم ص۱۲۶

(۲) فتح الباری ج ۱۰ ص ۲۳۸

فرمایلي چې عجوه دجنت کجوروڅخه دی اوزهرولپاره تریاق دی.(۱)

دسیدناسعدابن ابی وقاص رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي چې کوم سړی صبایې په نهاره اوه دانې عجوه کجوري خوري په دې ټوله ورځ کې به په ده باندې زهراوجادو اثرنه کوي. (۲)

نودمدینې منورې عجوه کجوري انتهایې مفیدي لذیذي مقوي، اوپسندیده کجوره ده چې په خیټه کې دچینجي لپاره قاتله ده یعنې چینجي مړه کوي.(۳)

همدارنګه یوبل قسم دمدینې منورې کجوروڅخه صخره کجوره دی چې ددې متعلق نبي الرحمة الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: العجوة والصخرة من الجنة یعنې عجوه اوصخره دواړه دجنت دکجوروڅخه دي. (۴)

اوهمدارنګه یوبل قسم برني کجوره ده چې ډیرشهرت لري، چنانچه ابوسعید رضی الله تعالی عنه څخه مروي دی چې په کجوروکې بهترینه کجوره برني کجوره ده چې بیماري لري کوي، اوپه دې کې کوم مضراثرنشته. (۵)

اوهمدارنګه یوبل قسم صیحاني کجوره ده چې دمدینې منورې څخه سوابل شهرکې ددې پیداوارنشته. (۶) ، علامه سمهوري المتوفی سنه ۹۱۱هـ رحمه الله تعالی نقل کړیدی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یوځلې په

---

(۱) ترمذی شریف ج ۲ ص ۲۷ ابواب الطب وابن ماجه ص ۲۴۷

(۲) مسلم شریف ج ۲ ص ۱۸۱

(۳) فتح الباری ج ۱۰ ص ۲۴۰

(۴) ابن ماجه ص ۲۴۷

(۵) کنزالعمال ج ۱ ص ۲۶

(۶) اثارالبلادواخبارالعبادص ۱۰۷

کوم باغ باندې تیریدلودکجورې یوې ونې (درختی) دهغه صلی الله علیه وسلم دنبوت اورسالت ګواهي ورکړه دې ونې ته محلې صیحاني وئیله شوه، اوسُنحل، بیدانه، لبانه، دااقسام هم په کثرت او ارزان قیمت سره پیداکیږي، اوددوی پیداوار ډیرزیات دی چې دوچوالي څخه وروسته سخته اوتوره شي، چې کله اول قباء ته رسول الله صلی الله علیه وسلم تشریف راوړو ، نودده مبارک په خدمت کې کلثوم بن الهدم رضی الله تعالی عنه ددې یوه څانګه وړاندې کړه هلته تازه وه، نوده مبارک صلی الله علیه وسلم دې ته دعا وکړه [(۱)] لهذادمدینې منورې داعظیمه تحفه کجورې(خرما) خپل وطن ته تبرک لپاره راوړل پکاردي، لکه څرنګه چې دامخکې اواوس زمانو کې رواج دی. والله تعالی اعلم بالصواب.

﴿ دوهم بحث:- - دمسجدنبوي شریف بنیادي معلومات ﴾

﴿الف:- د مسجد نبوي صلی الله علیه وسلم مختصرتاریخ ﴾

(۱)- دمسجدنبوي شریف بنیادي تعمیر

محترمو! کله چې سرورکون مکان صلی الله علیه وسلم په سرزمین مدینه منوره باندې قدم مبارک کیښودو، نوسیدناابوایوب الانصاری رضی الله تعالی عنه مکان یې په خپل قیام باندې منورکړ،چې ددعوت اسلامي مصروفیت،دوفدونو لامتناهي سلسله سره دملاقات،اوجانثارمسلمانانود مسائلوحل باوجود دهغه صلی الله علیه وسلم دمسلمانانولپاره دیومضبوط مرکزاهمیت،اوضرورت په بناء دیومسجدتعمیرپروګرام سمداستي طورباندې جوړکړ، اګرچې کوم روایت

---

(۱) نقش حیات ج ۱ ص ٦٨

طورباندې دانه معلوميږي چې سنګ بنيادپه کومه ورځ اوپه کېښودل شويدی، البته دمختلفورواياتوديوځای کولوڅخه تاريخ بانديې کېښودل شويدی، البته دمختلفورواياتوديوځای کولوڅخه تاريخ اوورځ څه معلومات په لاس راځي، اوداخبره خوپوره ثبوت ته چې رسول کريم صلى الله عليه وسلم قباته ددوشنبې په ورځ په ۸ ربيع الاول ۱۳ نبوت بمطابق ستمبر۲۲م ءراغلی ده، اودصحيح البخاري شريف علاوه نوررواحاديثواوتواريخوکتابونوڅخه معلوميږي چې هغه مبارک صلى الله عليه وسلم ۱۳ ورځې قبا کې پاتې شو، بيادقباڅخه مدينې منورې ته جمعې په ورځ راروان شو.[1] په دې اعتبارسره يې مدينې منورې ته روانګي لاندې تاريخ باندې شويده، دجمعې مبارکه ورځ ۲۲ربيع الاول ۱۳نبوت مطابق ۴-اکتوبر، بيامدينې منورې ته رسيدلوڅخه وروسته يې څوورځې په مختلفو ځايونوکې يې لمونځ اداکړيدي، کله د اسعدبن زراره رضى الله تعالى عنه مسجدکې اوکله بل ځای کې، ترڅوچې دمسجدجوړولوپروګرام يې جوړکړ لکه علامه عمادالدين ابن کثيرالمتوفى سنه ۷۷۴هـ رحمه الله تعالى ليکلي: و ثبت رسول الله صلى الله عليه وسلم في العرش اثنتى عشرة ليلة حتى بنى المسجد.[2] په دې څخه معلوميږي چې مسجدنبوي شريف تعميردسه شنبې په ورځ-۴ ربيع الثاني ۱۳ نبوت بمطابق ۱۶ اکتوبرباندې شويدی، دسنګ بنيادظاهرې لحاظ سره اګرچې نقش نګارسره نه ؤو بلکه انتهايي ساده دکجوروچت الله مسجديې جوړ کړ، مګردمحبوب کائنات صلى الله عليه وسلم دسجدګاه شرف ورته حاصل شو، اودتبليغ اودتعلم مرکز، داسلام شان شوکت نښاني،

---

[1] البداية والنهاية ج ۳ ص ۱۹۸

[2] البداية والنهاية ج۳ ص ۲۰۲

داسلام دسربلندي اوسرفرازي سرچشمه، درضاء الهي مرکز، اودحبیب کبریاء صلی الله علیه وسلم دخوشنودي مظهر، واعزازورته حاصل ؤو،علامه مسلم رحمه الله تعالی یوروایت نقل کړیدی:چې کله خلقودرسول الله صلی الله علیه وسلم دمیزبانی متعلق جګړوجنګ شروع کړو،نوهغه مبارک صلی الله علیه وسلم وفرمایل:چې زه بني نجارته ورځم چې هغه دعبدالمطلب صاحب ماماګان ؤو.(۱)


اوام المؤمنین عائشه طاهره رضی الله تعالی عنهافرمایي: چې کله مبارک صلی الله علیه وسلم مدینه منوره (زادهاالله تنویرًا) ته راغلو، نودهغه صلی الله علیه وسلم اوښه مبارکه په مدینې منورې کې حالاً واقع مسجدنبوي شریف سره نیږدې چوشوه، نوپه دې باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل: هذا ان شاء الله المنزل، دلته مسلمانان لمونځ کوي، داقطعه ځمکه دسیدنااسعد بن زراره رضی الله تعالی عنه زیرکفالت ددؤو یتیمانو ماشومانو(سهل اوسهیل رضی الله تعالی عنهما) ملکیت ؤو، چې هغوی دلته کجورې وچې کولې، نوده مبارک صلی الله علیه وسلم هغه دواړه بچیان راوغوښتل اوپه دې ځای کې یې دمسجد جوړولو اوددې ځای دقیمت معلومولوپوښتنه یې ورځینې وکړه، هغه یتیمانو ددې قیمت اخستلوځخه انکاروکړودبلاعوضه هبه کولوپیش کش یې وکړو ، مګرمحسن انسانیت صلی الله علیه وسلم په ډیرښه طریقه داعرض مستردکړ، لکه دبخاري شریف حدیث ده ((فابی رسول الله صلی الله علیه وسلم ان تقبل منها هبة حتی تباعه منهمالم بناه مسجد(۲) یعنې هغه صلی الله علیه وسلم بلاقیمته

---


(۱) مسلم ص ۴۱۹ج ۲

(۲) بخاری ج ۱ ص ۵۵۵

لپلرلوڅخه انکاروکړو، بالاخرة یې په قیمت باندې خریدکړه،هلته یې مسجد شریف جوړکړ.علامه ابن سعدالمتوفی سنه ۲۳۰هـ رحمه الله تعالى اوعلامه کرنامي دامام زهري رحمهما الله تعالى څخه روایت نقل کړیدی: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم داقطعه ځمکه په لس دیناره واخستله، او ابوبکرصدیق رضی الله تعالی عنه ته یې حکم وکړچې دارقم اداکړي. (۱)



اولین نقشه



باران لښتئ

بیت ابوایوب انصاري رضي الله تعالي عنه

دایوداسې ځمکه وه چې دې کې قبرونه اودکجوروونې(درختې) وې، او ناهمواره وه،او دلته دباران یوناله (لختی) هم وه. (۲)

اوابن سعدصاحب په دې ضمن کې لیکلي: چې فخردوعالم صلى الله عليه وسلم دتشریف راوړلوڅخه مخکې په دې ځای کې سیدنااسعدابن زراره رضی الله تعالی عنه دیوې احاطه په شکل کې یومسجدجوړکړی ؤو، چې بغیردچت څخه ؤو،اوقبله یې بیت المقدس طرف ته وه، دلته به حضرت اسعدابن زراره رضی الله تعالی عنه پنځه لمونځونه اودجمعې لمونځ اداکولو. (۳)

---

(۱) طبقات ابن سعدعنوان تعمیرمسجدجلد ۲ ،ارشاد الساری ج۳ ص ۳۲۹

(۲) الوفاء ج ۱ ص ۲۳۳

(۳) طبقات ابن سعدعنوان تعمیرمسجدجلد۲، ومعلم دارالهجرت ص ۴۲

اوحافظ ابن حجرالمتوفى سنه ٨٥٢ هـ رحمه الله تعالی دارووایت هم نقل کړی دی اودايې هم لیکلي: چې په کوم ځای اوښه چو(ناسته)شویده په دې مقام باندې تعمیرمسجدڅخه وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم منبرنصب کړو.(١)

اوهمدارازصحابه کرام رضوان الله تعالی علیهم اجمعین په لوی وقار اوانهماک ولوله جذبه سره ایتي(خښتې)راوړلوکې مصروف ؤو، سلطان زمین اوزمان صلی الله علیه وسلم په دې کې شانه بشانه مصروف ؤو،اوکباروصحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم دځپل زړه جذباتواظهارپه مختلفواشعاروکې کولو،لکه سیدنا علی المرتضی رضی الله تعالی عنه دغه اشعارلوستلوکې مشغول ؤو: أَلَايَسْتَوِي مَنْ يَعْمُرُالْمَسَاجِدَ+يَدْأَبُ فِيْهَاقَائِمًاوَّقَاعِدًا+ وَمَنْ يَرَي عَنِ التُّرَابِ حَائِدًا. (٢) په یوموقعه باندې حضرت اسیدابن حضیر رضی الله تعالی عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وفرمایل: چې داشئ ماته راکړه هغه صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: اذهب غيرها فلست بافقرمنى الى الله. (٣) یعنې لاړشه بله راواخله دالله تعالی طرفته دنیکیانوحاصلولوپاره ته زماڅخه زیات محتاج نه یې ، امام ابن نجار المتوفى سنه ٦٤٣هـ رحمه الله تعالی لیکلي: چې دمسجدبنیادونه یې دتیګو (کاڼو)څخه اوچت کړل،اودیوالونه یې دکچه خښتوڅخه جوړکړل، اومسجد شریف درې دروازې لرلې یوجنوب طرف ته، اوبله مغرب طرف ته باب عاتکه چې ورته باب الرحمة هم وایې، اوبله مشرق طرف ته چې ورته باب عثمان وایې، چې له هغه طرفه به هغه مبارک صلی الله علیه وسلم


---

(١) فتح الباری ج ٧ ص ٢٤٦

(٢) صحیح البخاری ج ١ص ٥٦٠

(٣) جمع الفوائد ج١ص ٦٧

مسجدشريف ته تشريف فرماکيدلو، کله چې دبيت المقدس په ځاى کعبه شريفه قبله مقرره شوه، نوهغه مبارک صلى الله عليه وسلم جنوب طرف ته دروازه بنده کړه، دهغې برابرېي شمال طرف ته دروازه جوړه کړه، نورادوى دروازې يې په خپل ځاى پريښودي مسجدشريف مربع شکل باندې ؤو،چې طول اوعرض يې ٧٠=٧٠ ذرائع (ګزو) ؤو.[1] يعني مساحت يې ١٠٥٠مترمربع وو، نواول تعميروخت کې دديوالونوبلندي دانسان قَدْ څخه لږغوندې زياته وه، يعني مسجدنبوي شريف اول



تعميرحدود اربعه ١٠٥ مربع فټه ؤو، اود مسجدشريف درې دروازې وې، اوسقف (چت) يې نه ؤو، نوسيده عائشه طاهره رضى الله تعالى عنها دحجره

(١) اخبارمدينه ص ٦٩

تعمیرجنوب کی اومغرب کې یې سیده سوده رضی الله تعالی عنهاحجرې تعمیرؤو، دمسجدشریف شمال مشرقي کې جانب کې داصحاب صفه چوتره تعمیروو،اوله احادیثواوتاریخي واقعاتوڅخه معلومیږي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دمسجدشریف تعمیر دیوالونوبالدې مشتمل ؤو،خوچت یې نه ؤو، چې کله صحابه کرام رضوان الله تعالی علیهم اجمعین دګرمی دسختوالي څخه تنګ شول نوددې تکلیف اظهار یې وکړ، اورسول کریم صلی الله علیه وسلم څخه یې دچت جوړولواجازت طلب کړو، نوهغه صلی الله علیه وسلم دچت جوړولواجازت مرحمت ورته وکړ، چنانچه صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم کمې کمې فاصلې باندې کجورې ستنې اودرولې، په هغه باندې دکجورو پاڼې شاخونه اوواښه واچول. (۱)

له دې بیان څخه معلومیږي: چې دغه چت صرف دګرمی څخه دبچ کیدلو په خاطرجوړؤومګردباران اواوبوڅخه محفوظ نه ؤو، نوصحابه کرام رضی الله تعالی عنهم کله چې دباران دڅڅیدوڅخه په تکلیف شول نو بیایې محبوب انس والجن صلی الله علیه وسلم په خدمت کې عرض پیش کړو،چې یارسول الله صلی الله علیه وسلم که اجازت وي نوچت باندې به خاورې څکه واچؤوچې اوبه راڅاڅي چې (لمونځ ادا کولو وخت راځي) نوهغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې ماچهره دموسی علیه السلام په شان دی. (۲)

نوسیدنا موسی کلیم الله علیه السلام دچهرې نوعیت داؤو،چې کله به حضرت

(۱) معلم دارالهجرت ص ۴۴

(۲) صحیح البخاری ج ۱ص ۶۴

موسی علیه السلام اودریدلو نوسرمبارک به یې له چت سره لګیدلو.(۱)

خوبالاخره دحالاتواوضرورت په بنیاد رسول کریم صلی الله علیه وسلم اجازت ورکړو، چې کله باعث کوونکوخلقوپه چت خاورې اچولې نوډیربهترې جوړکړو، لکن دې سره به مسجدنبوي شریف معمولي ساده والي کې خپل مثال لرلو، دعریش موسوي علیه السلام څخه هم څه اندازه ساده ؤو، خود سردار کونین صلی الله علیه وسلم جبین نیازنهاده ؤو، دذکراوفکرخوندونه، دتسبیح اوتهلیل حلاوتونه، اوچهره محمود صلی الله علیه وسلم دکیف څخه ځلیدونکې ؤو، لهذا ددغې سادګۍ څخه کیف اوسرورحاصل کیدو، اوبل روایت کې دی چې دمسجد فرش خاکې (خاورې) به دباران په وجه دختو شکل اختیارکړو، یوځلې دشپې باران په وجه مسجدشریف کې صبايې لمونځ په ختوکې اداءشو، یوسړي به په خپله کپړه (جامه) کې شګې راخستلې په خپل ناستې ځای کې به یې اچولې، چې لمونځ څخه رسول الله صلی الله علیه وسلم فارغ شودشګې (واړه کاڼي) یې ولیدل نودایې خوښ شول.(۲) چنانچه له دې څخه وروسته دوړوشګواچول عام رواج شوچې ډیروخت پرې داترتیب جاري ؤو، چې بیاکله دمسجدشریف اندروني فرش پوخ جوړیدو نوصحن دمسجدکې شګې اچولی شوی (بالاخره ۱۴۰۰هـ ۱۹۸۰م ع کې شګې واړه کاڼي لرې شول، ټول فرش یې په سنګ مرمروباندې جوړکړو.

(۲) - دمسجدنبوي شریف اوله توسیع

محترمو! دفتح خیبرڅخه وروسته سنه ۷هـ کې رسول الله صلی الله علیه وسلم

---

(۱) وفاء الوفاء ج ۱ ص ۲۳۳

(۲) سنن ابوداؤد ص ۴۸ ج ۱

په مسجدشریف کې اضافه وکړه دجدید(نوي)اضافه څخه بعدطول اوعرض يې ۱۵۰ = ۱۵۰ فټه شو.(۱) یعني مساحت يې ۲۴۷۵مترمربع ده یعنې سرورکونین صلی الله علیه وسلم سنه ۷هـ کې چې دیهودیت بنیادو ویستلواو نیست نابودیې کړل، اوپه بې شماره غنائمواوفاتحانه شان سره دخیبرڅخه مدینې منورې ته واپس شو، نوهغه مبارک صلی الله علیه وسلم دمسجدشریف د تجدیداوتوسیع پروګرام جوړکړو،له دې څخه علاوه دکجوروستنې اوتیرونه اوشاخونه هم دزوړوالي په وجه دتجدیدباعث اوقابل ؤو، چنانچه محبوب کائنات صلی الله علیه وسلم دمسجد سره متصل دیوانصاري صحابي رضی الله تعالی عنه مکان ؤو،نودامکان په مسجدشریف کې دداخلولوپروګرام يې جوړکړو، نوده ته يې ترغیب اوتحریض ورکړو چې که ته چیرته مونږته دمسجدشریف دتوسیع لپاره خپل مکان راکړې نوپه دې عوض کې به الله تعالی تاته جنت کې محل درکړي، لکن هغه دخپلي ناداری اوغریبی له وجې داسې ونکړل، په دې باعث رسول الله صلی الله علیه وسلم اعلان وفرمایلو چې څوک دفلانې شخص ځای واخلي اومسجدلپاره يې نذرکړي الله تعالی به دهغه مغفرت وکړي، داآوازدسیدناعثمان ذی النورین رضی الله تعالی عنه غوږونو ته ورسیدو، نوده له هغه صحابي رضی الله تعالی عنه څخه په شل یاپنځه ویشت زره درهمه هغه مکان واخیست،بیادحضورانورصلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شو، محبوب کائنات صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چې عثمان رضی الله تعالی عنه داځای په مسجدکې شامل کړو ددې اجربه تاته الله کریم درکړي.(۲)

---

(۱) وفاء الوفا ص ۲۴۳ ج ۱

(۲) سنن نسائی باب مناقب عثمان ج ۱ ص ۵۳

لهذاسرداردوجهان صلی الله علیه وسلم دامستحسن اقدام دتعميرمسجدشريف لپاره په عدل اوانصاف مبني يوززين اصول جوړکړ،اوددې تصوربيخ کندائې بې هم وکړه چې مسجددتعميرپه خاطرده حقوق العباد پائيمال کيږي اوياپه کوم ځای دی غاصبانه قبضه کيږي،په دې غيرمتزلزل بنيادباندې خليفه ثاني اميرالمؤمنين حضرت فاروق اعظم رضی الله تعالی عنه دزمانې څخه ترنن پورې يوشل ځلې مسجدنبوي شريف دتعميراوتوسيع عظيم الشان کارشويده، مګر بلاعوضه اوپه جبراواکراه سره يوا ينچ ځمکه هم نه ده اخيستل شوي، اونه په معاوضه ورکولوکې تنګ نظري اودبخل کومه مظاهره شويده،نوکله چې دتعميردوهم ځلې کارشروع شونوله بنيادونوڅخه له پاسه درې ګزه دتيګو (کاڼو) ديوالونه جوړکړی شو،باقيه دکچه خښتوڅخه مکمل شو،نوپه تعمير جديدکې اضافي په وجه عرض طول يې ۱۰۰=۱۰۰ګزه شو يعنې ۱۵۰+۱۵۰فټ. [(۱)] يعني مساحت يې ۲۴۷۵مترمربع ده بيااول خليفه سيدناابوبکرصديق اکبر رضی الله تعالی عنه په دورکې مسجدنبوي شريف په خپل حال باندې پاتې شوصرف يوڅوستنې پکې بدلې شوی، لکه سيدنا عبدالله ابن عمررضی الله تعالی عنهما څخه روايت دی:چې دمحبوب کائنات صلی الله علیه وسلم په زمانه کې دمسجدستنې دکجوروتنې وې، اوچت (بام) يې دکجورو شاخونوڅخه جوړ شوی ؤو، سيدناصديق اکبر رضی الله تعالی عنه صرف په زړوستنو اوشاخونوپه تبديلی باندې اکتفاکړې وه. [(۲)]

---

(۱) وفاء الوفاء ج ۱ ص ۲۳۶ طبقات ابن سعد

(۲) ابوداؤ دکتاب الصلوة باب البناء المساجد ج ۱ ص ۴۷

۳- دمسجدنبوي شریف دوهمه توسیع

محترمو! څرنګه دخلافت صدیقي رضی الله تعالی عنه څخه وروسته چې کله سیدناعمرفاروق اعظم رضی الله تعالی عنه خلیفه شو، نودمسلمانانو ورځ په ورځ دکثرت په وجه دمسجدنبوي شریف دتوسیع ضرورت مخ ته راغلو، لکه سیدنانافع رضی الله تعالی عنه فرمایې: چې سیدنا فاروق اعظم رضی الله تعالی عنه فرمایې: چې که چیرته مادخپل اقاختم الرسل صلی الله علیه وسلم څخه داارشاد نوی اوریدلی چې مناسب ده چې مونږ مسجدڅه توسیع (فراخه) کړو، نومابه داضافه کولوجرائت نه وی کړی. (۱)

نوعلامه سمهودي رحمه الله تعالی لیکلي: چې مغرب طرف ته یې شل ذراع (ګزه) ، اوجنوب ته یې لس ګزه،اوشمال طرفته یې اوه ذراعه (ګزه) اضافه کړو. (۲) اوعلاوه له دي څخه هغه بام یې یوولس ذراعه(ګزه)اوچت کړو، اوبام بالدې یې درې ګزه بلندديوال جوړکړو، دسږي قدغوندې یې بنیادونه دکانوڅخه جوړکړو،اوشپږدروازې یې هم جوړې کړې،مشرق طرفته دباب عثمان څخه علاوه باب النساء، اومغرب کې باب عاتکه ته قریب باب السلام اضافه کړ،اودوی دروازې یې شمال طرفته جوړې کړې. (۳)

اوسیدنافاروق اعظم رضی الله تعالی عنه مسجدنبوي شریف تقدس اوعظمت دتحفظ په خاطریومقام چی صفه ته قریب مشرق کې یوچوتره هم جوړه کړه ، اواعلان یې وکړوچې څوک اشعارلولي، یادنیاوي ګفتګوکوي نومسجد

---

(۱) مسنداحمدبحواله حیات الصحابة

(۲) وفاء الوفاء ج ۱ص ۳۵۸

(۳) وفاء الوفاء ج ۱ ص ۳۴۹ وج ۱ ص ۳۹۵

ځنځه بهربه راوروځي، اودلته به راځي. همچنان جعفرطیار رضی الله تعالی عنه مکان دسیدناعباس رضی الله تعالی عنه مکان ته متصل ؤو، دهغه نیمه حصه يې په چې برلاکه درهمه واخسته دمسجدتوسیع یې پکې وکړه، اومسجدشریف کې یې داخله کړه، لکه بیانیمه باقیه حصه سیدناعثمان ذی النورین رضی الله تعالی عنه خپل عهدخلافت کې واخیسته دمسجدشریف توسیع یې ورسره وکړه. (١)

نودمسجدلامتناهي سلسله اغاز(شروع) دسیدنا وسیدعالم صلی الله علیه وسلم رکړه، اوځنګه چې سیدنافاروق رضی الله تعالی عنه په دورمبارک کې داحقیقت واضح شوچې مسجدنبوي شریف څومره توسیع (فراخ) کیږي اوڅومره حدودېي توسیع کیږي په دې ټول عمارت باندې دمسجدنبوي شریف اطلاق کیږي، نودرسول الله صلی الله علیه وسلم په لاس مبارک باندې تعمیرشده دمسجد حصه، اوله دې ځخه وروسته توسیع کرده دعمارت فضائل ،مناقب ،برکات، درجات اوداجراوثواب په اعتبارسره یوشان اومساوي دی، ځکه چې محبوب کائنات صلی الله علیه وسلم په مستقبل کې دتوسیع پیش ګویي کړیده: یعنې اجازت یې فرمایلی ده لکه دحضرت مسلم بن خباب رضی الله تعالی عنه ځخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یوځل په خپل جای نمازباندې تشریف فرماؤودقبلې طرفته یې اشاره کوله اوفرمایل یې: (لَوْزِدْنَا فِيْ مَسْجِدِنَا) یعنې که مونږ په مسجدشریف کې اضافه کړي وای څومره به ښه وه. (٢)


---

(١) اخبارمدینه ص ٩٦

(٢) اخبارمدینه ص ٩٣

اویوروایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:چې دغه زما مسجد دی په دې کې چې خومره اضافه کیږي هغه دده په حکم کې کیږي، اګر چې دصعنامقام پورې بې توسیع وشي بیاهم زمامسجددی.[۱]نوسیدکونین صلی الله علیه وسلم ددې اشاراتوپه روښنايي کې فرمایلي دي چې که چیرته مسجدنبوي شریف ذوالحلیفه ته هم توسیع (فراخه) شي بیاهم دیته مسجد نبوي شریف ویلی شي،دابه منقب اورفعت شان باندې برقراروي.[۲]

نودنبي کریم صلی الله علیه وسلم مسجدرقبه ۲۴۷۵،مربع میټروه،چې کله سیدنا فاروق اعظم رضی الله تعالی عنه ۱۱۰۰،مربع میټراضافه وکړه نوله دې څخه وروسته دمسجد مجموعه رقبه ۳۵۷۵-مربع میټرشوه،اومخکې بې دمسجد او چټوالی تقریبا۹ فټه ؤو، نوله دې څخه وروسته تقریبا۱-۲ ، ۱۵،فټه اوچت شو



تنبیه :- اوس عصرکې دنبي کریم صلی الله علیه وسلم توسیع ستنوباندې پاس چت طرفته شین لیک باندې لیکلي چې حَدّالمَسْجِدالنبوي.

---

(۱) وفاء الوفاء ج ۱ ص ۳۵۳

(۲) وفاء الوفاء ص ۳۵۲ ج ۱

(۴) - دمسجدنبوي شريف دريمه توسيع

محترمو! څرنګه چې اقليم شهادت واله تاجدار سيدناعثمان ذى النورين رضى الله تعالى عنه په دورکې دملکونو فتوحات نورهم زيات شول، اوخلقو دعشق نبوي صلى الله عليه وسلم په مقدسه مطهره حجره ديدارشوق زيات ؤو، درباررسالت ته حاضرکيدل اوبالخصوص جمعة المبارک کې به دمسلمانانو يوه عظيمه اجتماع جوړه شوه، لکن مسجدنبوي شريف سره دخپل وسعت باوجود خلق پکې نه ځاى کيدل، زائرين حجره مطهره داصرار اود حالاتو تقاضاوه چې مسجدنبوي شريف نورهم فراخه شي، نوخليفة المسلمين سيدناعثمان ذى النورين رضى الله تعالى عنه دغه مقدس اوعظيم المرتبة کار انجام کولولپاره اماده شو، نوده مبارک رضى الله تعالى عنه مسجد شريف تجديد تزئين اوتوسيع عظيم الشان کارابتداء ربيع الاول سنه ۲۹هـ څخه شروع کړو،اومحرم الحرم سنه ۳۰هـ پورې، اوابتداء کې لس مياشتې سره دجهد اومحنت شاقه تکميل کړو،دخليفه عادل امام المظلومين دخپل شهادت څخه مخکې پنځه کاله ديادګارى خدمت انجام کړو،اوپه سنه ۳۵هـ کې ده مبارک رضى الله تعالى عنه بيادشهادت جام نوش کړو.(۱)

نودمسجد شريف توسيع شمال جنوب اومغرب طرفته وشوه، مشرق طرفته حسب السابق ام المؤمنين عائشه صديقه رضى الله تعالى عنهاحجره مقدسه چې دخيرالانام صلى الله عليه وسلم ارامګاه په وجه يې توسيع نکړه، دمسجد شريف مغرب طرفته نيم باقي مکان دجعفرطيار رضى الله تعالى عنه خليفه

(۱) وفاء الوفاء ج ۱ ص ۳۵۶

ثالث سیدناعثمان ذی النورین رضی الله تعالی عنه په یولاکه درهم باندې واخستلوپه مسجدکې یې شامل کړو.(۱)

اوهمچنان سیدناعباس رضی الله تعالی عنه دمکان بقیه، حصه یې واخسته اومسجدکې یې شامله کړه. (۲) اوهمدارازسیدنافاروق اعظم رضی الله تعالی عنه دشهادت واقعې څخه وروسته سیدنا عثمان ذی النورین رضی الله تعالی عنه دامامت اوریدلولپاره دکچه خښتوڅخه یوه مقصوره جوړه کړه، په دې کې یې یوداسې دربچه پریښودله چې امام به مقتدیانوته ښکاره کیدلو،خلیفه موصوف هم په دې ځای کې اوریدلو فریضه امامت یې انجام کوله.(۳)

داضافه توسیع جدیدطول ۱۶۰ ازراع (ګزه) یعنې ۲۴۰ - فټ اوعرض ۱۵۰ اذراع(ګزه)یعنې ۲۲۵ فټ ؤو.(۴) اودمسجد شریف چت دکجورو شاخونوپه ځای یې عمده اومضبوط ساګوان لرګي (چې سرغوندې عمده لرګی ده) نه جوړکړو، اوحسب سابق یې شپږ دروازې پریښودلې، او مسجد شریف ته یې اول ځل چونه ورکړه.

(۵)- دمسجدنبوي شریف څلورمه توسیع

محترمو! څرنګه چې دحضرت عثمان ذی النورین رضی الله تعالی عنه دتعمیر اوتوسیع څخه وروسته خلیفه رابع سیدناعلی المرتضی رضی الله تعالی عنه له ده څخه وروسته سیدنامعاویه رضی الله تعالی عنه اویزیدابن معاویه اومروان ابن

---

(۱) وفاء الوفاء ج ۱ص ۳۶۰

(۲) اخبار مدینه ص ۹۸

(۳) معالم دارالهجرت ص ۴۸

(۴) اخبارمدینه ص ۹۸

عبدالحكم اوعبدالملک بن مروان په دوروئوکې يوهم دتعمير اوتجديد کار رنګړ، چې کله دوليد بن عبدالملک عهدخلافت شروع شو نوموصوف په ربيع الاول سنه ۸۷هـ کې هشام ابن اسماعيل محزومي دامارت مدينه څخه ګوښه (معزول) کړو،اوسيدناعمرابن عبدالعزيزرحمه الله تعالى ته يې عهدامارت وسپارلو،چې په د غه وخت کې دده عمر۲۵ کاله ؤو.(۱)

نوپه سنه ۸۸ هـ کې خليفه وليد بن عبدالملک اميرمدينه منوره سيدنا عمر ابن عبدالعزيز رحمه الله تعالى په نامه فرمان (حکم) صادرکړو: چې مسجدنبوي شريف جديد توسيع اوبنائسته کولوکارشروع کړه،اودمسجدشريف ملحقه مکانات واخلي، اومسجد شريف فراخه کړي که کوم شخص له دې څخه انکاروکړي نومعزيزابن شهرڅخه دي قيمت صحيح اندازې لګولوڅخه وروسته ورته نقدروپۍ ادا کړي، کوم سړی چې له معاوضې څخه هم انکارکوي نودده روپۍ دي په فقراؤ کې تقسيم کړي، اومکان دي جبرا ترينه واخلي اوپه دې معامله کې سيدنا فاروق اعظم اوعثمان ذی الشان رضی الله تعالى عنهما دعمل څخه يې استدلال کړی ؤو،علاوه له دې څخه ازواج مطهرات رضی الله تعالى عنهن حجرې يې هم رنګې کړې هغه ځای يې هم په مسجدکې شامل کړو.(۲)


نواکثروحضراتوخپل مکانات بلاجبراواکراه په مناسبه معاوضه وصول کولوسره سيدنا عمربن عبدالعزيزصاحب ته حواله کړل، البته سيدناعبدالله ابن عبدالله ابن عمررضی الله تعالى عنهم دام المؤمنين سيده حفصه رضی الله تعالى عنهادحجرې مقدسې له

(۱ تاريخ طبری اردو ج ۵ ص ۴۲۷

(۲) البداية والنهاية ص ۷۴ ج ۹

خرڅولوڅخه انکاروکړو،ځکه چې رحمة الدارین صلی الله علیه وسلم ډیرې مودې سکونت دررونق بخښي شویدی ، مګر عمر ابن عبدالعزیزصاحب حکم شاهي په بناء باندې نه پرېښودلو نوپه دې مفاهمت وشوچې مکان واله ځای باندې به دمسجد دروازه جوړه کړي چې په دې باندې دموصوف خاندان مسجدته درلت آمدسهولت میسر وي، اودمکان کومه حصه چې توسیع څخه اضافه شي هغه به ددوی په ملکیت کې وي، اودهغې متأثرحصې عوض به په دارالعتیق کې ورکوي.[1]
نودتعمیرولید صاحب خصوصیت داؤوچې دتعمیرتوسیع پیمائش اندازه تقریبا۲۰۰×۲۰۰،ذراع ته رسیدوچې مجموعې رقبه یې ۶۴۴۰مربع میترشوه، او ولیدابن عبدالملک اول شخص دی چې دمسجدشریف په خائسته کولو کی یې بیحده مبالغه وکړه، اودیوالونه اوچت یې جواهراتو اوزروپه آبومیناکارن باندې مرصغ کړل، اوپه مسجدشریف کې محراب اول ولیدابن عبدالملک صاحب جوړکړو،چې په مخکې مساجدوکې محراب نه ؤو،په دیوالونوباندې یې قرآني آیتونه ولیکل، اول ځل د مسجدنبوي شریف میناریې جوړ کړی.[2]
بیاخلیفه مهدي صاحب اوبیاخلافت عثمانیه دتعمیرانتهایې خدمات ترسره کړل، خصوصًا نني عصرکې آل سعود دومره دمسجدشریف تعمیراوتوسیع خدمات وکړل چې دهیردو ندي،

(۱) اخبارمدینه ص ۹۹
(۲) وفاء الوفاء ج ۱ ص ۳۷۳ واخبارمدینه ص ۱۰۲ وآینه حرم ص ۸۲



خصوصًا سنـــــــــــ۱۴۰۶ملک فهد بن عبد العزيز خادم الحرمين الشرفين لويه توسع وکړه يعني حالامساحت يې ۸۲۰۰۰ مترمربع ده الله تعالى دآينده کې هم نور مسلمانانو ته دمسجد نبوي شريف دصحيح خدمت کولوتوفيق ورکړي آمين يارب العالمين.

﴿ب: دمسجدنبوي شريف ملحقات﴾

(۱) – رياض الجنّة

محترمو! دمحبوب دوعالم صلى الله عليه وسلم دمسجدمقلس يوعظيم المرتبة حصه، اوعظمت شان ورفعت مقام کې دمنفرد حيثيت حامله برخه، چې هغې ته دترجمان وحي صلى الله عليه وسلم په زبان مبارک بالدې درياض الجنة نوم ورته نصيب شويدى، فرمايي: (مابين بيتى ومنبرى روضة من رياض الجنة ومنبرى على

حوضی (۱) یعني زمادکوراوزمادمنبرپه مابین کې یوباغ له باغونودجنت څخه دی، اوزما منبر زما په حوض باندې دی؛ دحدیث شریف په توضیح کې علماء کرامودرې اقوال ذکر کړیدي:

اول:په دې مقدسه خطه کې عبادت کول دجنت باغونودحصول ذریعه ده.

دوهم:- الله تعالی دخصوصي رحمتونودمورد کیدلوپه اعتبارسره داحصه داسې ده لکه څنګه چې جنت کې بې پناه رحمتونه هروخت نازل وي، په دې طریقه هروخت په دې حصې باندې هم درحمتونوباران سلسله جاري وي .

دریم:- داځای په حقیقت کې دجنت قطعه ده دنیاته منتقل شویده، اوپه قیامت کې به داحصه بیرته جنت ته ورمنتقل کیږي،

اکثروعلماء کراموپه نزد دغه دریم قول زیات صحیح دی. [۱]

اوعلامه قسطلاني المتوفی سنه ۹۲۳هـ رحمه الله تعالی لیکلي: چې په دې کې درې احتماله دي چې دې مقدسې حصې ته څنګه ریاض الجنة وایې؟ یودا چې داد حجراسود په شان دی. دوهم احتمال داچې دغه ځای جنت ته منتقل کیږي، لکه څرنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم اسطونه حنانه جنت ته دمنتقل کیدلوپیش ګوئې کړیده. دریم احتمال داچې پدې ځای کې عبادت اوبندګي دجنت موجب جوړیږي. [۲] پس درياض الجنة طول دوویشت (۲۲) میتره،اوعرض یې پنځه لس (۱۵) میتره دی.

---

(۱) بخاری ص ۱۵۹ ص ۱۵۳ ج ۲

(۱) شرح مسلم ص ۴۴۶ ج ۱

(۲) ارشاد الساری ج ۲ ص ۳۴۷

(۲) - منبرنبوي شریف

محترمو! دسرورکونین صلی الله علیه وسلم دمنبرجوړولوڅخه مخکې دموجوده محراب غربي جانب ته اودریدلو،اواصحابه کرام رضی الله تعالی عنهم ته به خطبه فرمائیله ،کله چې به دډیرقیام له وجې ورته تکلیف محسوس شو، نوبیابه یې نصب شده کجورې تنې ته استراحت حاصل کړو، لکن کله چې جسداطهردکبرسنې(ډیرعمر) له وجې ضعیف شو، نودمنبر جوړولوتجویز ورته پیش کړی شو، چونکه احادیثواوتواریخوکې په دې هکله مختلف روایات موجود دي، سیدناعبدالله بن عمررضي الله تعالی عنهما فرمایې: چې محبوب کائنات صلی الله علیه وسلم جسد اقدس کله چې کبرسني په وجه زیات کمزوری شو، نوحضرت تمیم دارې رضي الله تعالی عنه عرض وکړوچې یارسول الله صلی الله علیه وسلم! کچیرته اجازت وکړې چې ستا لپاره یوداسې منبرتیارکړم څنګه چې ماپه شام کې لیدلی ؤ، چې ته په هغه باندې په سکون اواطمنان سره تشریف فرماوې،نورسو ل الله صلی الله علیه وسلم دهغه رضي الله تعالی عنهما پیشنهاد خوښ کړو، اودمنبر جوړولو اجازت یې ورته وکړو، چنانچه هغه ته یې ددؤ زینومنبرتیار کړو.[1]

اومحدث کبیرعلامه خلیل احمدانبتوي صاحب لیکلي چې دابوداؤد شریف په روایت منبر دوی زینې (ړکې) ذکردي خوپه مسلم شریف کې ددریو زینو بیان دی، نو په ظاهر خوتضاد معلومیږي لکن درحقیقت چې کومو روایاتوکې ددؤ زینو بیان دی په هغه کې دناستې ځای ذکرنشته،

(۱) ابوداؤدص ۱۰۸ ج ۱

اوكله چې نشست ګاه وشمارلی شي نودرې درجې جوړيږي.[۱]

پس كله چې شفيع المذنبين صلى الله عليه وسلم ته منبرتيارشو، نوهغه صلى الله عليه وسلم حسب معمول جمعې ورځې دوچې كجورې تنې څخه تيرشوا اومنبرته وختلو، نوكله چې دا مقدس جسم له مسحې څخه پاتې شوه، نوورته زياته سخته تمامه شوه، نوپه داسې هيبتناک آوازيې شروع وكړه لكه اوښه دبچې ولادت په وخت كې آوازكوي، نودغه حيرت انګيز او مخيّرالعقول واقعې څخه ټولوحاضرينوباندې هم رقت طارى شو.[۲]

علامه ابن حجرعسقلاني المتوفى سنه ۸۵۲ هـ رحمه الله تعالى دسيدنا بريده رضي الله تعالى عنه روايت دسنن دارمى په حواله ليكلي: چې سرور كون مكان چې كله دمحبت په وجه ددې وچې ستې ژړا دچپ كولوډپاره راوړاندې شو، نودېته مخاطب شواوويې فرمايل: چې كچيرته ته غواړې چې په سابقه حالت باندې شې اوبياسرسبزاوميوې ډكه شې ستاخوښه،اوكه ستا خواهش وي چې جنت ته ولاړه شې اوجنت نهرونواوچينوڅخه سيراب شې ، اوابدي دجنت سيرابولوڅخه نقطه اندازشې، ستاميوه به جنت كې اولياء ، اتقيا، اصفيا اوازكياخوري، نوهغې ورته جواب وركړوچې يانبى الرحمة صلى الله عليه وسلم زه جنت غوره كوم، نوبيانبى كريم صلى الله عليه وسلم اصحابه كرامو ته مخاطب شواوويې فرمايل: چې دې هميشه جنت غوره كړو.[۳]

---

(۱) بذل المجهود ج ۲ ص ۷۸

(۲) سنن دارمى ج ۱ ص ۲۴ والوفاء ج ۱ ص ۲۵۶

(۳) سنن دارمى ج ۱ ص ۲۳ وفتح البارى ج ٦ ص ٦٠٣

حضرت خواجه حسن بصري رحمة الله تعالى عليه به چې کله داحديث شريف لوستلواوبيانولونوپه ده مبارک به ژړاطاري شوه،اوارشادبه يې فرمايلو:چې اې دالله تعالى بندګانو دغه څومره دعبرت مقام دی چې ديوې وچې تنې لرګې دمحبوب انس اوجن صلى الله عليه وسلم په فراق باندې څومره سخت ژاړي، اياتاسې ددې زيات مستحق نه ياست چې دحبيب ګردګارمدينې تاجدارصلى الله عليه وسلمدملاقات په خاطرهروخت فکرمنداوژړاکوونکي وی.[(۱)]

مولوی رومي رحمة الله عليه نصيحت فرمايې: اي غافلو خلقو! واورئ له دې وچې تنې څخه سبق زده کړئ چې انسان بايد دفاني دنياپه ځای اخرت مختاره کړي، لکه څنګه چې دغه وچ لرګي ابدي نعمت ته په فاني نعمت باندې ترجيح ورکړو.

الستون رادفن کردنددرزمين + تاچومردم حشرګردديوم دين

يعني بيااسطونه حنانه يې ځمکه کې دفن کړه چې په مثل دانسانانوبه يې په ورځ دجزاء کې حشروشي.[(۲)] چنانچه په همدغه ځای کې، اويادمنبر ترڅنګ يې ځمکه ژوره کړه اوبيا يې دلته دفن کړه ، چې دجنت په هميشه نعمتونو باندې مال ماله شي.[(۳)]

(۳) – محراب نبوي شريف

محترمو! دمسجد نبوي شريف دتعميرڅخه وروسته تر ډيرې زمانې پورې دمحراب علامات نه ؤ،اومساجدودمحراب ايجاد اميرالمؤمنين عمربن

---

(۱) الشفاء قاضی عیاض ج ۱ ص ۲۰۰

(۲) معارف مثنوی ص ۳۴۰ –۳۴۲

(۳) معالم دارالهجرات ص ٦١ وفاء الوفاءً ج ۱ ص ۲۷٦

عبدالعزیزرحمة الله تعالی علیه کړيدي، پخوا به چې کوم ځای کې امام لپاره جای نمازبرابرشونو امام به هغه ځای باندي اودريدو، امام سمهودي صاحب فرمايې چې امام الانبیاء صلی الله علیه وسلم په دريومتفرقوځايونوکې دلمونځ اداکولولپاره اودريدلی دی، دتحويل قبلې څخه مخکې به په هغه يوځای اودريدلواولمونځ به يې اداکولو، نودا ځای داسې معلوميږي چې اسطونه عائشه رضی الله تعالی عنهاته مخامخ شمال طرفته په دومره فاصله باندي دی چې باب جبريل ښی طرفته کنده برابر کړي، نودامصلی درسول الله صلی الله علیه وسلم وه؛ بياکله چې دتحويل قبلې حکم راغلو اوقبله بيت الله شريف مقرره شوه، نوبياهغه صلی الله علیه وسلم جنوب طرفته مخ کړوداسطونه عائشه رضی الله تعالی عنها ته برابرېې څوورځې لمونځ اداکړو؛ بيااورروسته اسطونه حنانه سره اودريدلواوامامت يې شروع کړو، البته دنبي کريم صلی الله علیه وسلم اودخلفاء راشدينوپه زمانه کې دمحراب علامات نه ؤ، بلکه خليفه وليد بن عبدالملک په زمانه کې سيدناعمربن عبدالعزيز صاحب سنه ۸۸ هـ کې په دې ځای باندي محراب جوړکړو.[۱] اوحبيب کبرياء صلی الله علیه وسلم په موجوده محراب واله ځای باندې ۱۵ - شعبان سنه ۲هـ کې اوله مرتبه لمونځ کړی ؤ،

اوپدې وخت کې محراب نبوي شريف بې حده خوبصورت اوديده زيب اوانتهايي دلکش په میناکاری باندې جوړ شويدی، اونقش نګار اودصنعت په اعتبارسره فقيدالمثال دی.[۲] دمحراب شريف په يوې دائرې باندې يې

(۱) وفاء الوفاء ج ۱ ص ۲۶۴

(۲) رحلة الحجازيه ص ۲۴۱

(هــدامــحراب رســـول الله صلی الله علیه وسلم) لیکلی دی،

اوپه دې موجودعصرکې مسجدنبوي شریف کې څلور خوشنما اودل کش محرابونه موجوددي . یومحراب نبوي . دوهم: محراب عثماني . دریم: محراب تهجد. څلورم محراب حنفي یامحراب سلیماني: نومحراب حنفي دمنبرنبوي شریف په مغرب کې واقع دی په سنه ۸۶۰ هــ کې الشیخ طوغان جوړکړ،اوعهدنبوي صلی الله علیه وسلم څخه دادستورجاري ؤوچې ایام حج څخه علاوه به امام محراب نبوي شریف کې امامت کولو،اوپه ایام حج کې دهجوم(ګڼې والي) په وجه به امام په محراب عثماني کې اودریدلو، لکن دشیخ طوغان خواهش ؤوچې حنفي مسلکو امام لپاره علحده یوجدیدمحراب برابرکړي چنانچه دولت مصریه په زمانه کې په دې کوشش کې کامیاب شو، نوشافعي مسلک امام به په محراب نبوي شریف کې جماعت لمونځ اداکولو، اوحنفي مسلک امام به په نوي محراب کې جماعت لمونځ اداکولو، حتی چې دتراویح لمونځ هم په یووخت کې په دواړومحرابوکې اداکیدلو، داسلسله سنه ۱۲۲۹ هــ دسلطان محمود دورپورې جاري وه، له دې څخه وروسته محمدعلي شاه چې کله زیارت مدینه منوره لپاره راغلو، نودده دمخلصانه کوششوباعث داشوچې په ځای ددؤومحرابوچې هریوکې علیحده علیحده دوه امامان لمونځ کوي، مناسبه ده چې دیوې ورځې اوشپې لمونځونه شافعي مسلک واله امام محراب نبوي شریف کې اداکړي، اوټول خلق په اتفاق سره دده شاته دجماعت لمونځ اداکړي. اوپه سنه ۹۳۸ هــ کې دغه محراب جدید تعمیرسلطان

سلیمان وکړو، نودتورو اوسپینوسنګ مرمرو دښه امتزاج په وجه یې یوښه خوبصورت او بینظیره محراب جوړکړو،چې له دې څخه وروسته په محراب سلیماني باندې مشهورشو.[1]

(۴) - صفه واصحاب صفه رضي الله تعالی عنهم

محترمو! دمسجدنبوي شریف دشمال مشرق طرفته دمساکینومهاجرینولپاره یوه سایه دارځای جوړکړي شوي وو،چې ورته صفه یعني دلان وایې،اوصفه الظلة هم ورته وایې.[2] اودلته داوسیدونکوغرباءُ لقب اصحاب صفه ؤ،په اوس وخت کې دچوترې په شکل باندې دی،چې له ځمکې څخه نیم میتر اوچته(جګه)،اودولس میتراوږده،اواته۸ میترپلنه ده،اوڅلورطرفته یې دزیږو جالی لګیدلي ده،اواصحاب صفه دتوحیدسرمستان، دابدي اوسرمدي کیف څخه سرشار،اوخپله زندګي اومتاع عزیزفدایان،داسلام دسربلندی اود رسول کریم صلی الله علیه وسلم دخوشنودي په خاطراوعلائق دنیاوي څخه کناره کشان،اودقدس اونفوس اوصاحب التقوی برګزیده انسانان،اومسجد نبوي شریف خادمان،اوزینت ګاران،اودفکراوذکرلذتونو،اودتسبیح اوتهلیل دحلاوتونو،اوجلوه محبوب صلی الله علیه وسلم دکیف څخه چمک ګاران ؤ، چې ټول عالم لپاره یې دتوکل،صبر،تبتل،تزکیه نفس،علم اوعرفان،اوداسلام سربلندي لپاره هرڅه وقف کول درس،اوداسې نورزرین درسونه یې ورکړیدی ، اوداصحاب صفه په تعدادکې کمی اوزیاتی راتلو، لهذاځینې روایاتوکې ۷۰ اویا، اوپه ځینې کې ۴۰۰ څلورسوه کسانو ته یې شمیررسیدلی دی،

---

(۱) رحلة الحجازیه ص ۴۶۹ - ۴۷۰

(۲) لسان العرب ج ۹ ص ۱۹۵

لکه عارف سهروردی رحمة الله علیه په کتاب عوارف کې ددوی تعداد ۴۰۰ لیکلی دی، اوابو عبدالرحمن سلمي ابن اعرابي اوامام حاکم رحمهما الله تعالی ددوی احوال اواسماء مفصل لیکلي دي، اوحافظ ابونعیم رحمه الله تعالی په حلیة الاولیاء کې دډېرلونومونه په تفصیل سره لیکلي (ان شئت فراجع الیها).

(۵) – درحمتونو او برکتونو ستنې

محترمو! په ریاض الجنة کې اته ستنې دي چې دمثالي اوتاریخي نوعیت حاملې دي چې دیته درحمت واله ستنې ویلې شي ، چې په دې کې هره یوه ستنه دنورمینار،اودفضیلت مرکز،اودسعادت مظهر، اود سرورکیف مصدر،اوددعا دقبولیت محل، اودنجات اومغفرت ائینه دارې دي، نودې ستنوسره نوافل اودعاکول مستحسن اومقدس عمل دی،په دې شرط چې سهولت سره یې کول ممکن وي اوچاته ضررنه رسیږي، دنفلی لمونځه لپاره که ریاض الجنة مخصوص شي زیاته ښه دي، اصحابه کرام رضی الله تعالی عنهم اجمعین به لدې ستنوسره نوافل په زیات اهتمام سره اداکول. کمافی الصحیح البخاری ص۷۲ ج ۱، البته فرض لمونځ لپاره دصف اول اهتمام کول ضروري دي.[(۱)]

۱- اسطوانة مخلقة:

محترمو!داځای دډېرلوخخه زیات متبرک دی دادحبیب کبریاء سرورکائنات شفیع الامة نبی الرحمة صلی الله علیه وسلم دلمونځ کولوځای دی، اومخلقه دخلوق څخه مشتقه ده چې دیومرکبې خوشبویې نوم ده، چې په هغې باندې

(۱) وفاء الوفاء ص ۲۶۳ ج ۱

په خاص طورمنبل کیدله ، په دې وجه به نوروبعضوستنوته هم مخلقه ویلی شوه،خواکثرخلق همدغې ستنې ته حنانه وايې چې ددې معنی دژړیدونکې اوښې ده، چې رحمت کائنات صلی الله علیه وسلم دمنبرشریف جوړیدوڅخه مخکې دکجورې په تنې باندې خطبه فرمایله، اودرسول اکرم صلی الله علیه وسلم دفراق له وجې يې غمګین اوازشروع کړولکه مخکې يې په منبرنبوي شریف بحث کې تفصیل تیرشو، داستن محراب نبوي شريف ته متصل دامام بنی طرفته واقع دی. (۱) حضرت امام مالک رحمة الله تعالی علیه فرمایل چې په مسجدنبوي کې دلمونځ لپاره دنوړلو څخه افضل ځای همدادی.

۲- اسطونة عائشه رضی الله تعالی عنها:

محترمو! اسطونة عائشه رضی الله تعالی عنها هغه ستن ده چې ورته اسطوانة القرعة، اواسطوانة المهاجرين هم وايې، امام ابن زباله رحمه الله تعالى فرمايلې: چې تحويل قبله څخه وروسته اودمحراب دمقررولوڅخه مخکې پنځلس ورځوپورې امام الانبياء صلى الله عليه وسلم دغه ځای مقررکړی ؤو، اود مهاجرینو اکثره ناسته به دلته کیدله، اودلته به په نوافلواوذکرباندې مصروف ؤو. (۲) يوځلې حضرت عائشه رضی الله تعالى عنهادرسول اکرم صلى الله عليه وسلم ارشادبيان کړو:چې مسجدنبوي شريف کې يوځای ډيرزيات بابرکته دی که خلقوته ددې خبري علم وی نو لوجې دازدحام (رش) څخه به په دې ځای باندې خلقو دلمونځ کولولپاره قرعه اندازې کوله ، نواصحابه کرامورضی الله تعالى عنهم ددې ځای دريافت وکړمګر

---

(۱) وفاء الوفاء ج ۱ص ۲۶۳

(۲) اخبارمدينه ص ۹۱

مخې هغه وخت دښودلوڅخه انکار وکړو، دغې څخه وروسته دحضرت عبدالله بن زبير رضی الله تعالى عنه دزیات اصرار لوجي حضرت عائشه صديقه رضی الله تعالى عنهاورته دغه ځای وښودلو، نوهغه موصوف فوراًپه هغه ځای کې په نوافلوباندې مشغول شو،نوپه دې وجه نوروصحابه کرام رضی الله تعالى عنهم ته هم ددې ځای علم حاصل شو،په دې وجه ورته اسطوانة عائشه وایې. (۱) حضرت ابوبکرصدیق رضی الله تعالى عنه اوحضرت عمرفاروق رضی الله تعالى عنه به اکثردغې ستنې ته نزدې لمونځونه کول، په برحدیث شریف کې راغلې چې په دغه ځای کې دعاقبلیږي.

۳- اسطوانة ابي لبابه رضی الله تعالى عنه:

محترمو!دې ستنې ته اسطوانة توبة هم وایې،اوحضرت ابولبابه رضی الله تعالى عنه مشهورصحابي دی دغزوه بني قريظه کې یوه خطا له ده څخه شوې وه، هغه داوه چې کوم وخت بني قريظه ومحاصره وشوه هغوی تنګ شول داسلحې غورځولواراده يې وکړه، چونکه دابولبابه رضی الله تعالى عنه سره يې دجاهلیت دزمانې څه تعلقات ؤوهغوی دمشورې لپاره دی راوغوښتلوچې دنبي صلى الله عليه وسلم تصمیم له ده څخه معلوم کړي، دی رضی الله تعالى عنه هلته ولاړوهغوی چې دی رضی الله تعالى عنه ولیده ډیره وارخطايې يې شروع کړه، دهغوی ژړاچې ده رضی الله تعالى عنه ولیده نو رحم یې پرې راغی، دهغوی په پوښتنه ده رضی الله تعالى عنه خپلې مرۍ طرفته اشاره وکړه چې ګویا دنبي صلى الله عليه وسلم تصمیم ستاسو دقتلولو ده،لکن له دې څخه وروسته سمدستي

(۱) فتح الباری ص ۵۵۷ ج ۱

ورته خبرتیا حاصل شوه چې له ماڅخه لویه غلطي وشوه، له هغه ځای
څخه چې واپس راغی لوخپل ځان یې دلته دکجورې یوي ستنې پورې
وتړلو،اودعزم یې وکړ چې ترڅوپورې زماتوبه قبوله نه شي ترهغه به خپل
ځان خلاص نکړم، او نبي اکرم صلی الله علیه وسلم به مې خلاصوي، لوبیابه
لدې ځای څخه آزادیږم، لونبي کریم صلی الله علیه وسلم چې هرکله ددېنه خبر
شو، نوویې فرمایل: کچیرته هغه ماته راغلی وی نومابه د الله تعالی څخه
دهغه لپاره بښنه غوښتې وه، لکن اوس هغه براه راست دخپلې توبې قبلیدو
باندې دارمدارایښی دی ، نوترڅوچې یې توبه قبوله نشي زه یې څنګه
خلاصولی شم ، څوورځې په دې حال تیرې شوی چې دلمونځ یابشري
ضرورت په وخت به یې بې بي یالورخلاصوو، اوفارغیدوڅخه وروسته به
بې بیاتړو، څوورځې په دې حالت کې تیرې شوې چې نه خوراک ؤونه
څښاک دلوګې له وجې یې دسترګومخ ته تیاره شوه، په غوږونوهم معذور
شوچې صرف اوچت اوازبه یې اوریدلو، څوورځوڅخه وروسته په یوه شپه
کې چې نبي اکرم صلی الله علیه وسلم دحضرت ام سلمی رضی الله تعالی عنهاپه کور
کې ؤودتهجد په وخت دحضرت ابولبابه رضی الله تعالی عنه توبه قبوله شوه،
نبي کریم صلی الله علیه وسلم ددې خبرورکړواصحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم
خلاصول وغوښتل اودتوبې قبلیدوزیری یې ورکړو،خوده مبارک وویل
چې ترڅوپورې نبي کریم صلی الله علیه وسلم مې په خپل لاس خلاص نکړي
نوماته خلاصول منظورندي، هرکله چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم دسهر
لمانځه ته بهر تشریف راوړونودی یې خلاص کړو.

ددې واقعې مزیدتفصیل تفسیر معارف القران ج ۴ ص ۲۱۵ کې وګوره بعضې علماء کراموویلې دي چې له غزوه تبوک څخه کوم حضرات پاتې شوي ؤوپه هغوی کې ابولبابه رضی الله تعالی عنه هم ؤو، په دغه غزاکې دنه شریکیدوپه وجه په غم اوخفګان کې ده خپل ځان دې ستنې پورې تړلی ؤو، په دې حال کې چې یوڅوورځې تیرې شوی نوآیة کریمه (وَاٰخَرُوْنَ اعْتَرَفُوْابِذُنُوْبِهِمْ) (توبة۱۳) نازل شونودی یې خلاص کړو.

سیدناعبدالله بن عمررضی الله تعالی عنهما بیان کوي چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم کله اعتکاف ته کیناستونودغه ستنې ته به یې خپله بستره یاکټ راوړو، اودغې ستنې ته به یې تکیه لګوله. [1] نوچې کله دجلیل القدرصحابي برائت دلته حاصل شو، نوداځای دحرمت اوفضیلت نشان جوړشو، نوددې نتیجه وه چې محبوب کائنات صلی الله علیه وسلم دخپل مجلس لپاره دغه ځای منتخب کړو، اوغرباء او مساکینو اصحابه کرامورضی الله تعالی عنهم به له دې ستنې څخه حلقه جوړه کړې وه اوناست به ؤو.

۴ - اسطوانة سریر

محترمو! اسطوانة سریر هغه ستن ده چې حجره مقدسه مطهره دجالی سره متصله لګیدلې دی، اوداسطوانه ابی لبابه څخه مشرق طرفته دی، دحضرت عائشه صدیقه رضی الله تعالی عنهادحجرې مقدسې سره دبالکل قریب کیدلو له وجې څخه به رسول کریم صلی الله علیه وسلم کټ اوپوزی دی ستنې سره متصل اچولو، نولدي وجې نه په اسطوانة سریرسره مسمی شوه،هغه کټ چې دکجوروپڼونو

(۱) السنن کبری ج ۵ ص ۲۴۷

څخه جوړشوی ؤو،اوهغه به محل اعتکاف ته یوړل شو.(۱)ام المؤمنین عائشه طاهره رضی الله تعالی عنهافرمايي:چې اعتکاف په دوران کې به رسول کريم صلی الله علیه وسلم ددروازې طرفه څخه سرمبارک راویستلو،اومابه هغه وينځلو. (۲) یعنې نبي کریم صلی الله علیه وسلم به داعتکاف په زمانه کې دلته دشپې ارام کولو.

۵ - اسطوانة الحرس

محترمو! اسطوانة الحرس چې اسطوانة علی کرم الله وجهه هم ورته وايي، دحرس معنی ده حفاظت،نو بعضې اصحابه رضی الله تعالی عنهم به ددرباني اوپهرې په طوردغه ځای کې کیناستل،اواکثربه حضرت علی کرم الله وجهه دلته تشریف فرماؤو، اواکثره اوقاتوکې به يې دلته نوافل هم کول ځکه دعلی کرم الله وجهه نام ته منسوبه شوه (۳)...

۶- اسطوانة الوفود

محترمو! اسطوانة الوفود د اسطوانة الحرس شمال طرفته اوله ستن ده، دنبي صلی الله علیه وسلم په خدمت کې به دنواحیواومختلفوممالکواوکوم دعربو وفدونه راتلل هغوی به اکثرداځای کې کینولی شول، اونبي اکرم صلی الله علیه وسلم به دې ځای ته تشریف راوړلو، اوخبرې اترې به يې ورسره کولې، اواحکامات به يې ورته ښودل په دې بناء سره داسطوانة الوفودپه نامه مشهوره شوه، اوهم جلیل القدره اصحابه کرام رضی الله تعالی عنهم ډلوبه هم په دې مقام باندې دخدمت لپاره حاضرې کوله. (۴)

---

(۱) وفاء الوفاء ج ۱ ص ۳۱۷
(۲) صحیح البخاری شریف ج ۱ ص ۲۷۱
(۳) معالم دارالهجرت ص ۶۰
(۴)(۲) وفاءالوفاء ج ۱ ص ۳۱۹

دعلماء کراموددې دوارو ستنویعنې پنځمه اوشپږمه په تعین کې اختلاف دی چې نزهة الناظرین وغیره کتابونو کې ذکرشویدي .

۷- اسطوانة تهجد

محترمو! کله چې به ټول خلق اکثردشپې تیریدوپه وخت کې لاړل، نودلته به نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته دتهجدلمونځ لپاره یوه بوری غوړولې شوه، اوهغوی صلی الله علیه وسلم به پرې دتهجدلمونځ کولو، اوداستنه دسیده فاطمة الزهراء رضی الله تعالی عنها دحجرې شمال طرف کې پرته ده، چې بالمقابل یې داصحاب صفه چوتره ده، اوداځای حالًامسجدنبوي شریف کې داخل ندي، اوپه دې مقام باندې به سیدالاولین والاخرین ختم الرسل صلی الله علیه وسلم دتهجدلمونځ اداکولو.(۱)

۸ - اسطوانة جبریل علیه السلام

محترمو! سیدناجبرئیل علیه السلام به دحضرت دحیة کلبی رضی الله تعالی عنه په شکل کې عموماپه دې ځای کې تشریف فرماؤ، لکن داستن داوخت دحجرې شریفې په ابادی کې داخل (دننه) راغلې ده، دبهرڅخه ددې زیارت نشي کیدی. (۲)

فائده نافعه:- محترمو! دااته (۸) ستنې علماء کراموخاص شمیرلې دي، لکن دابنکاره خبره ده چې دمسجدنبوي شریف به کومه حصه وي چې هلته دخوږ نبي اکرم صلی الله علیه وسلم قدومونه مبارک نه وي لګیدلي، اواصحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم لمونځونه نوي پکې کړي، اونه صرف مسجدنبوي شریف بلکه دمدینې منورې دټول ښاربه کومه حصه وي چې هلته ددې مبارکو

(۱) کمالی حدیث مسلم شریف ج ۱ ص ١٦٦

(۲) وفاء الوفاء ج۱ ص ۳۲

هستو قدمونه مبارک بیابیانه وي لګیدلي، په دې وجه دمدینې منورې هرځای دبرکت واله دی الله تعالی دې ددې دبرکت نه دنفع اخستلوتوفیق او حسن ادب راکړي امین.

(٦) - مکبره یامقصوره مبلغین

محترمو! علامه ابراهیم رفعت باشا رحمه الله تعالی لیکلي: چې په عهدنبوي صلی الله علیه وسلم اوعهدخلفاء راشدین کې مؤذن لپاره کوم یوځای متعین نه ؤو، دمسجدشریف په مغرب کې سیدناعبدالله بن عمررضی الله تعالی عنهما مکان وو چې هغه ته دارالعشرة ویلی شو، هلته واقع یوستنې باندې به حضرت بلال رضی الله تعالی عنه اذان کولو، دولیدبن عبدالملک صاحب په عهدکې حضرت عمربن عبدالعزیز صاحب دمسجدپه څلوروکونجونوکې مؤذنې یعنې داذان لپاره یې مینارې جوړې کړې، باب السلام ته نږدې واله مؤذنه څخه چې کله دارمردان بې پرده کیدلو نوسلیمان بن عبدالملک دغه مؤذنه ړنګه کړه ورروسته سنه ۷۰٦ هـ کې سلطان محمودبن قلادون صاحب دغه تعمیراوجوړه کړه. (۱)

نومعلومه شوه چې قرون اولی کې مسجدنبوي شریف تماموميناروباندې اذان کیدلوطریقه رائیجه وه،سعودي حکومت دوران کې په مدینه منوره کې دبرق نظام قائم شو،چې په دې وجه مسجدنبوي شریف کې یې لاؤډسپیکر هم نصب کړل،چې په دې باندې به اذان کیدلو، اول خوبه مکبره څخه مؤذن اذان شروع کړو، نوپه څلورو میناروکې هغه اوازراتاویدلو، په دې

(۱) مرأة الحرمین ص ٤٥

ترتيب باندې په پنځه ځايونوکې اذان كيدلو، البته دماشام اذان به په يووخت پنځوځايونوكې په يواوازسره كيدلو، بيا له دې څخه وروسته زمانه كې بعضو حضراتوپوره كوششوڅخه دمسجدانتظاميه داطريقه ختمه كړه، اوس عصر كې صرف مكبره څخه اذان كيږي محراب نبوي شريف ته مخامخ ۲،۵۰ سنتي ميټره اوچته يوه مقصوره جوړه دى، چې په اته ۸خوبصورته ستنوباندې قائمه دى، جنوب مغرب طرفته ختلو لپاره يوه زينه ده چې دروازه يې بنديږي، په دې باندې لاؤډسپيكر څخه علاوه براډكاسټ الات هم نصب دي، دمؤذن اومكبراذان او اقامت څخه علاوه چندمخصوص رفقاء(كسان) په چهت باندې لمونځ كوي، دبعضې احتياطي تدابيرپيش نظرپه وجه دڅو كالونوڅخه يوعسكرهم په نگرانى باندې دلته ماموروي، حقالي عفى عنه .

(۷) - مواجه مباركه شريفه

محترمو! څرنگه صحابه كرامورضى الله تعالى عنهم دجسد عنبرين صلى الله عليه وسلم دتدفين په مسئله كې مختلف نظرونه پيش كړل، چادا تجويز وړاندې كړو چې جنت البقيع كې دى تدفين وكړل شي، اوچاپه رياض الجنة كې دتدفين رايه پيش كړه، لكن رازداررفيق غارصديق اكبررضي الله تعالى عنه ددې عقده خلاصولو لپاره وفرمايل: چې دجيب لبيب صلى الله عليه وسلم هغه مخكې الفاظ اوس هم زماپه غوږوكې دي چې فرمايل يې ووچې الله تعالى دنبي روح كوم ځاى كې قبض كړي په هغه ځاى كې به دفن كيږي، نورسول الله صلى الله عليه وسلم دخپل كټ سره قبركې دفن كيږي.[۱]

(۱) طبقات ابن سعد ج ۲ص ۳۹۵

حضرت عكرمه بن ابوجهل رضي الله تعالى عنه څخه روايت دی چې (يدفن كل انسان في التربة التى خلق منها) يعني انسان په هغه خاوره كې دفن كيږي چې دكومې څخه پيداشوی وي. [(١)] اوپه دې كې هم درايواختلاف وو چې لحدورته وكندوياشق، نومهاجرينو به فرمايل: چې دمكې معظمې ددستور مطابق صندوقچې قبربه جوړكړو، اوانصارو فرمايل: چې دمدينې منورې دطريقې مطابق لحدقبربه وكندو، نوفيصله يې داوكړه چې دوه كسان سيدناابوعبيده ابن جراح رضي الله تعالى عنه او سيدنا ابوطلحة رضي الله تعالى عنه دقبرپه باستلوكې مهارت لري، چې ابوعبيده په بغلي قبر، او ابوطلحه په لحدي قبركې مهارت لري، نوچې كوم يو مخكې راغلونوهغه قبربه ورته برابركړو، نواتفاقًا سيدناابوعبيده رضي الله تعالى عنه په كوركې نه ؤو، نوسيدنا ابوطلحه رضي الله تعالى عنه تشريف راوړونودمدينې منورې درواج مطابق يې ورته دلحدواله قبرتياركړو. [(٢)]

سيدناسعيدبن مسيب رحمه الله تعالى بيان كوي چې ام المؤمنين سيده عائشه صديقه رضى الله تعالى عنها يوځلې خوب وليد چې خپل والد ګرامي ته يې بيان كړو، چې ما(٣)دري دانې قمر(مياشتې)وليدلى چې زماحجرې ته راغلې، نو سيدناصديق اكبررضي الله تعالى عنه ددې خوب تعبيروركړو، چې دَروي زمين درې مقدسې هستيانې به ستاحجرې كې دفن كيږي. چنانچه كله سرور كونين صلى الله عليه وسلم ته سائحه ارتحال راغله دهغه صلى الله عليه وسلم تدفين سيده عائشه طاهره رضى الله تعالى عنهاپه حجرې كې وشو، نوحضرت صديق اكبررضي الله تعالى عنه

---

(١) مصنف عبدالرازق ج ٣ ص ٥١٥

(٢) ابن ماجه ص ١١٧ كذافى البداية والنهاية ج ٥ ص ٢٦٨

وفرمایل (هَذَاخَيْرُاَقْمَارِکِ) يعني دغه په دريوکي لوی ترين قمردی. (۱)

دې حجرې مطهره کې واقع درې مزارات متعدد صورتونه علماء کرامو ليکلي امام ابن نجارالمتوفی سنه ۶۴۳ھ رحمه الله تعالی شپږ، اوعلامه سمهودي المتوفی ۹۱۱ ھ رحمه الله تعالی اته مختلف صورتونه ليکلي چې په دې کې حضرت مزاحم صاحب ته لاندې قول زيات صحيح معلوميږي، چې ده ته دحضرت عمربن عبدالعزيزصاحب په زمانه کې حجره منيفه کې داخليدلو سعادت نصيب ؤو، نوده داسې ترتيب بيان کړيدی: چې قبلې طرف ته اول قبرشريف درحمت کائنات صلی الله علیه وسلم دی چې دده سرمبارک مغرب طرفته، اوپښې مبارکې يې مشرق جانب ته دی، اوچهره انورې قبلې يعنې جنوب طرفته دی، اوسيدنا صديق اکبر رضي الله تعالی عنه سرمبارک دحضوراقدس صلی الله علیه وسلم سينې مبارکې سره برابردی، اودفاروق اعظم رضي الله تعالی عنه سرمبارک دحضرت صديق اکبررضي الله تعالی عنه سينې مبارکې سره برابردی. (۱)

په دغه لاندې ترتيب سره:

فخر موجودات ﷺ

صديق اکبر رضي الله عنه

فاروق اعظم رضي الله عنه

---

(۱) موطاءامام مالک باب اخبارالنبی صلی الله تعالی علیه وسلم ج ۲ ص ۵۳۳

۱ وفاء الوفاء ج ۲ ص ۳۸۷.

اوسیدناعبدالله بن عمررضی الله تعالی عنهماڅخه روایت دی چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي: چې قیامت ته قریب وخت کې به سیدناعیسٰی علیه السلام داسمان څخه راکوزیږي، او۴۵ کاله به ژوندی وي، دزوجه دنکاح څخه وروسته به یې اولادهم وي، اوکله چې فاني دنیاڅخه رحلت وکړي نوماسره به دفن کیږي، دقیامت په ورځ به زه اوعیسٰی "علیه السلام" اوابوبکر صدیق اوعمرفاروق "رضی الله تعالی عنهما" له دې ځای څخه اوچتیږو.[۱]

امام ابن نجارصاحب لیکلي:چې اهل سِرو بیان دی چې حجره مقدسه ددنه شرقي جانب ته دیوقبرځای خالي دی، اودسیدنا سعیدابن مسیب اودسیدنا عبدالله ابن سلام رضی الله تعالی عنهمادروایت مطابق به دلته حضرت عیسی علیه السلام دفن کیږي.[۲].اوسیدنافاروق اعظم رضي الله تعالی عنه دحجرې مقدسې خدمت وکړ،چونکه ددیوالونو بلندي ډیره کمه وه له دې وجې څخه سیدنا عبدالله بن زبیر رضي الله تعالی عنه نوې جوړه کړه، او دیوالونه یې همَ جګ کړل.[۳]

(۸) – ګنبده خضراء شریفه

محترمو! دګنبد خضراء شریف په ارتباط امام زین الدین مراغي المتوفی سنه ۸۱۶ هـ رحمه الله تعالی لیکلي: چې اولاًپه حجره انورباندې ګنبده نوه،اولاً داورلګیدلوسنه ۶۵۴ هـ دواقعې څخه څه وخت پورې تقریبا یومیټراوچت پوخته خښتودیوال جوړؤو،ددې لپاره چې دمسجدچت اودحجرې مقدسې چت کې امتیازراشي په سنه ۶۷۸ هـ کې ملک

(۱) مشکوة شریف ص ۴۸۰
(۲) اخبارمدینه ص ۱۳۵
(۳) طبقات ابن سعد ج ۲ ص ۳۹۶

المنصورقلادون الصالحي اول ځلي دګنبده تعمیروکړو، چې دلرګیو تختو څخه یې ګنبده په زیړرنګ سره جوړه کړه ، اوبیا په سنه ۸۸٦ هـ کې دارو لګیدلو په وجه ګنبده وسوزیدله، لدې وجې سنه ۸۸۸ هـ کې سلطان قائیتبایې دتیګو(کاڼو) څخه بیحده مضبوط ګنبده جوړه کړه، اودګنبده شریف (دقبة البیضاء)په نامه یادیده، اودریمه ګنبددنیلی رنګ په سنه ۸۹۲ هـ کې قاتباني جوړه کړه، اوپه سنه ۱۲۲۳ هـ کې ترکې سلطان دسرنوُپه ۱۲۵۵ هـ کې یې شین رنګ ورکړو، چې دغه ګنبد خضراء اوس هم موجوده ده. (۱)

اوپه موجوده زمانه کې دمواجه شریفه دجنوب طرفته اول سوراخ (سورى) څخه یوه خوشنماحلته چې قطریې تقریبا۹ اینچ دی نودمواجه شریفه چهره پرانوار صلی الله علیه وسلم وته نشان دهي ورکوي، اوددې برابر مشرق طرفته دوه نورسوري دي چې اول یې سیدناابوبکرصدیق رضي الله تعالی عنه اودوهم یې سیدنافاروق رضي الله تعالی عنه چهرو پرانواردودوي مبارکانو وته نشان دهي ورکوي.

(۹)- عجیبه واقعه

محترمو! اکثرو مفسرینو حضراتویوه عجیبه واقعه داهم لیکلي: چې سلطان نورالدین رحمة الله علیه یوعادل متقي بادشاه ؤ،اوصاحب اورادو اووظائفو ؤ،دشپې ډیره حصه به یې تهجداووظائفو کولو کې تیروله؛ په سنه ۵۵۷ هـ کې یوه شپه دتهجدوڅخه وروسته ویده شو،نونبي کریم صلی الله علیه وسلم

(۱) معالم دارالهجرت ص ۸۱

سره بې په خوب کې زيارت وشو،نبي اکرم صلی الله عليه وسلم ددؤوشنوسترګو
کسانوطرفته اشاره وکړه،اوسلطان ته يې ارشادوفرمايلو:چې ددې دواړو
څخه زما حفاظت وکړه، نوسلطان په خوف سره راويښ شوزرپاسيدواودس
يې وکړو نفلونه يې وکړل، بياسملاست سمدستي يې سترګې ورغلې اودغه
خوب يې دوباره وليد، بيا راويښ شواودس يې وکړونفلونه يې وکړل، بيا
سملاسته سمدستي يې سترګې ورغلې دريم ځل يې بيادغه خوب وليده
راپاسيدو ويې ويل چې اوس دخوب موقعه نه ده، فوراً يې دشپې خپل وزير
راوغوښتوچې هغه ډيرنيک اوصالح سړی ؤودجمال الدين نوم يې ښودلی
شي، البته په دې نوم کې اختلاف شته، دټوله قصه يې ورته واوروله، وزير
صاحب ووېل چې اوس دايساريدوګنجائش نشته فوراًمدينې منورې ته روان
شه، اوددې خوب بيان هيچاته مه کوه،بادشاه فورادشپې تياری وکړو، وزير
اونور شل مخصوص خادمان يې هم له ځان سره واخيستل،اوپه تيزتلونکو
اوښانو باندې ډيرڅه سامان اومال اواسباب يې هم بارکړل، نومدينې طيبې
ته راروان شوشپه اوورځ يې سفرکولو، په شپاړسمه ورځ له مصرڅخه
مدينې منورې ته راورسيدو،دمدينې طيبې څخه خارج يې غسل وکړو، اوډير
په آدب اواحترام سره مسجدنبوي شريف ته ورغی اوپه رياض الجنة کې يې
دوه رکعته نفل لمونځ وکړو، اوډيرفکرمندناست ؤوسوچ او فکريې کولو
چې څه وکړم؟ وزيرصاحب اعلان وکړوچې بادشاه دزيارت لپاره تشريف
فرمادی،اوپه اهل مدينه (دمدينې منورې اوسيدونکو) باندې به مالونه هم
تقسميږي، اوډيرلوی دعوت انتظام يې وکړوچې په هغې کې يې ټول اهل

مدینه راوغوښتل، اوبادشاه دتحفې ورکولوپه وخت کې ډیرپه ژورفکرسره خلقوته کتل، اوټول اهل مدینه یوپه بل پسې راتلل تحفې یې واخیستلې رلاړل، مګرهغه دوه کسان کوم چې یې په خوب کې لیدلي ؤوښکاره نه شول، نوبادشاه وویل که نورڅوک پاتې وي هغه هم راوغواړئ معلومه شوه چې نورهیڅوک نه دي پاتې شوې، اود باربار په ویناخلقو ورته وویل چې دوه متقیان پرهیزګاران اونیک مغربې سړي (دیورپ ملک) بزرګان دلته دي، هغوی له چاڅخه څه نه اخلي او هغوی خپله ډیرڅه خیرات اوصدقې په اهل مدینه باندې کوي، اودټولوخلقوڅخه ځانته اوسیږي یعني ګوشه نشین (کونج کې ناست) سړي دي، بادشاه هغوی راوغوښتل اوپه لیدلوسره یې وپیژندل چې داهغه دوه کسان دي کوم چې خوب کې ورته ښکاره کړل شوي ؤو، نوبادشاه له هغوی څخه پوښتنه وکړه تاسوڅوک یئ؟

هغوی وویل چې موږ دمغرب اوسیدونکي یودحج لپاره راغلي یوله حج څخه وروسته دنبي کریم صلی الله علیه وسلم زیارت ته حاضرشو،اودنبي کریم صلی الله علیه وسلم په ګاونډکې مودپاتې کیدلوارزو وشوه، نودلته موقیام اختیار کړو، نوبیابادشاه ورته وویل چې صحیح حال وښایئ؟هغوی چې اول ځل څه ویلي ؤوپه هغه یې دوباره اصراروکړویعنې (چې دمغرب اوسیدونکي یو دحج لپاره راغلي یوله حج څخه وروسته دنبي کریم صلی الله علیه وسلم زیارت له حاضرشو،اودنبي کریم صلی الله علیه وسلم په ګاونډکې مودپاتې کیدلو ارزو رشوه نودلته موقیام اختیاروکړو) بادشاه ورڅخه داسیدلودځای پوښتنه وکړه نومعلومه شوه چې دروضې مبارکې نژدې یورباط کې یې قیام دی،

پس بادشاه ددوی دلته دایسارولواوبندولوحکم وکړو،اوپه خپله ددوی قیام ګاه اوداوسیدلوځای ته ولاړو،نوپوره تالاشي یې وکړه هلته مال اواسباب خوډیرپیداشو،اوکتابونه هم پراته ؤولکن څه داسې شی پیدانه شوچې په هغې سره یې دخوب دمضمون تائید وشي، نوبادشاه ډیرپریشانه اوفکرمنلؤو ، او اهل مدینه ډیرپه کثرت سره دسفارش لپاره حاضریدل چې دانیکان بزرګان ټوله ورځ روژې نیسي ،هریولمونځ په روضه شریفه کې کوي،روزانه دبقیع زیارت کوي،دهرشنبه خالي په ورځ قباء ته ځي، څوک سوالګرتش لاس نه واپس کوي،اودقحط په کال یې اهل مدینې سره دوی ډیره همدردي اوغم رازې وکړه،بادشاه چې دحالات واوریده تعجب یې کولواویخوادیخوا فکرمند ګرځیدلو، ناڅپه یې خیال راغی چې ددوی جای نمازکوم چې په یوه بوری باندې خورؤوهغه یې جګ کړونودهغې لاندې یوه پلنه تیږه وه، چې هغه یې اوچته کړه نودهغې لاندې سور رنګ رابنکاره شو،چې ډیرژورکنده شوی ؤو،اوډیرلیرې پورې تللی ؤو،حتی چې دقبرشریف ته نژدې تللی ؤو، اوخلقوچې داولیده ټول حیران شول، اوبادشاه له غصې څخه په رپا شو دهغوی وهل یې شروع کړل، چې صحیح صحیح واقعه بیان کړئ !هغوی وویل چې مونږه دواړه عیسایان یو(یعنې مسلمانان نه یو) اودعیسایانوبادشاه مونږته ډیرمال راکړیده، اودنورډیرزیات مال وعده یې هم را سره کړیده، نومونږدحاجیانوشکل جوړکړوراغلي یوچې دنبي کریم صلى الله عليه وسلم وجود مبارک دقبرمبارک څخه یوسو، اومونږ دواړوبه دشپې دغه ځای کنستلواوکومه خاوره چې به راوتله هغه به مودځرمنې په دوه

ځمشکونوکې(چې دامشکونه دمغربي شکل ؤو)واچوله، اودشپې به موبقیع مقبري ته یوړه هلته به موږغورځوله، بادشاه په دې خبره چې الله تعالی اودهغه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ددې خدمت لپاره دی خوښ کړي، نوډیرېې وژړل بیایې دغه دواړه نفر قتل کړل، اودحجرې شریفې ګیرچاپیره یې دومره ژوره کنده وباسله چې اوبوته ورسیدله، اوپه هغې کې یې قلعې یاسیکه وئیلی کړه اوهغه یې ډکه کړه چې وجودمبارک ته دچارسیدل نشي کیدی. والله تعالی اعلم بالصواب. المهاجرمدني عفي عنه.

﴿دریم بحث: دروضي مطهري متعلقه ضروري مسائل﴾

(١) مسئله : که یوچا فرضي حج نوې کړی نوده لپاره بهتره دادی چې لومړی حج وکړي، اودحج څخه وروسته بیا روضي مطهري زیارت ته ورشي، اوکه یوچا نفلي حج وي نوبیادده اختیاردی چې کوم یومخکې کوي، البته دکوم حاجي لاره چې په مدینه منوره باندې وي نودابه بیالومړی دروضي مطهري زیارت کوي .[١]

(٢)مسئله:دنبي کریم صلی الله علیه وسلم زیارت په اجماع دعلماءکراموسره اعظم دقرباتو اوافضل دطاعاتوڅخه دی،اورفعی ددرجاتو لپاره تر ټولووسائلو څخه لویه وسیله دی،ځیني علماءکرامو په اهل وسعت اوطاقت والوباندې واجبوته قریب لیکلې دي،اودنبي کریم صلی الله علیه وسلم زیارت پرېښودل غفلت عظیمه،اوجفاکبیره دی،لقوله علیه الصلاة والسلام:من حج ولم یزرني فقدجفاني[٢]

---

(١) هدایة المالک الي المذهب الاربعة في المناسک ج٣ ص ١٣٧٣ وشرح لباب

١)٢) رواه ابن عدی بسندحسن وارشادالسادی ص٣٣٤

(۳) مسئله: شیخ ابن تیمیه صاحب امام جوینی صاحب اوامام الحرمین صاحب وایي چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم دروضې زیارت ته سفرکول منعه دی، ددی حدیث شریف لوجی نه: "عن أبي هريرة رضي الله عنه، أن النبي صلی الله علیه وسلم قال: "لا تشد الرحال إلا إلى ثلاثة مساجد: المسجد الحرام، ومسجدي هذا، والمسجد الأقصى" یعني دپیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمان دی چې یواځې مسجدحرام ،مسجدنبوي، اومسجد اقصی ته به سفرکولی شي؛ لیکن ددوی مدعی په دغه دلیل سره نه ثابتیږي،ځکه چې که دحدیث شریف (شد الرحال)دامعنی وي نوبیا خوبه دپیغمبر صلی الله علیه وسلم دژوندون په وخت کې دخبرو اوزیارت لپاره سفرکول هم جائزنوي، اوحال داچې دپیغمبر صلی الله علیه وسلم حیات کی دده مبارک صلی الله علیه وسلم ملاقات لپاره سفرکولو په جوازکی دچا اختلاف نشته، لهذا ددې حدیث شریف صحیح معنی دمسندامام احمدبن حنبل رحمه الله روایت نه معلومه ده یعنی پرته ددې درې مساجدوڅخه نورو مساجدوته دلمانځه لپاره سفرکول مناسب اوافضل کارندی، دزیارت القبور وغیره متعلق داحدیث شریف ساکت دي.(۱) اوپخپله رسالت مآب فخرعالم صلی الله علیه وسلم هم زیارت کولو ته ترغیب ورکړی،اوباوجوددقدرت زیارت نه کولوواله ته یې بې مروتی اوظلم ویلی دی ،فرمایې چې من زارقبري وجبت له شفاعتي (۲). یعني څوک چه

---

۱ شامي وغیره بحواله مسائـــل حج المفتي محمدفرید رحمه الله تعالی ص ۳۱

(۲) جامع الصغیر ج۱ ص ۱۷۱ شفاء قاضي عیاض ج۲ ص ۷۴ و فی اسناده موسی بن هلال العبدي وسكت الدارقطني ولم يضعّفه قال ابن عدي ارجو انه لابأس به وقال الذهبي في الميزان هو صالح روى عنه احمد والفضل بن سهل الأعرج وابو امية الطرسوسي وآخرون وقال ابو حاتم مجهول وقال العُقيلى لايتابع على حديثه.

مالبرزيارت وکړی هغه لپاره زما شفاعت واجب شو، يورروايت دی چه من زارني بعدوفاتي فكانما زارني في حياتي (۱). من حج فزارقبري بعدوفاتي كمن زارني في حياتي [۲]. يعنې چاچې حج وکړبیایې ماقبرزیارت وکړزماوفات څخه وروسته،لوګویا ده زماپه زندګی کې زمازيارت وکړ، قال النبي صلى الله عليه وسلم من زارني متعمدًا كان في جواري يوم القيامة، ومن مات في أحد الحرمين بعثه الله يوم القيامة من الآمنين رواه شعبة عن سواد عن هارون رحمهم الله تعالى. [۳] يعنې نبي كريم صلی الله علیه وسلم فرمان دی چې کوم شخص زمازيارت وکړي قيامت په ورځ به ماسره ګاونډتوب کې وي، اوعلامه ابن حجرعسقلا ني المتوفي سـ۸۵۲ھليكلي:انهامن افضل الاعمال واجل القربات الموصلة الي ذي الجلال وان مشروعيتهامحل اجماع بلانزاع والله الهادي الي الصواب [۴] فالراجح ان زيارة قبرالنبي صلى الله عليه وسلم مشروعة ومستحبة استحبابًامؤكدًا[۵] وقال النووي رحمه الله تعالى اعلم! ان زيارة قبر رسول الله صلى الله عليه وسلم من أهم القربات، وأنجح

---

(۱) كنزالعمال ج ۵ ص ۱۳۵ شفاءقاضي عياض ج۲ ص ۶۸

(۲) سنن الدار قطني ج۲ ص ۲۷۸ وفي اسناده حفص بن سليمان صاحب القراةقال الذهبي في الميزان لايتقن الحديث،ويتقن القرآن ويجوّده،والا في نفسه صادق واحمد بن حنبل مابه بأس صالح وقال وكيع كان ثقةً وقال ابن معين ليس بثقة ليس بشئ وقال الدار قطني صاحب السنة وقال عبدالوارث كان من أوعية العلم.

(۳) ميزان الاعتدال ج۴ ص ۲۸۵،ورواه البهقي في شعب الايمان مشكوة بحواله معلم الحجاج ص۳۱۲

(۴) فتح الباري ج۳ ص ۶۶

(۵) الدين الخالص وارشادالناسک الي اعمال المناسک ج۹ ص۳۱۸

المساعي، فإذا انصرف الحجاج، والمعتمرين من مكة، استحب لهم استحباباً متأكداً أن يتوجهوا الى المدينة لزيارته صلى الله عليه وسلم، وينوي الزائر مع الزيارة التقرب، وشدّ الرحل الى مسجده، والصلاة فيه... (۱)

(۴) مسئله: محدث جليل علامه علي بن سطان محمدالقاري المتوفي ۱۰۱۴هـ رحمه الله تعالى دطويل بحث څخه وروسته ليكلي: چې پدې باندې داصحابه كرامو رضي الله تعالى عنهم اجماع ثابته ده چې مكه مكرمه دمدينه منورى څخه افضل دى، اورسول الله صلى الله عليه وسلم ددې خبرې اقرارهم داصحابه كرامو رضي الله تعالى عنهم څخه اخيستى دى، البته رسول الله صلى الله عليه وسلم قبراطهر درسول الله صلى الله عليه وسلم دمكى معظمى، كعبى شريفى بلكې دعرش عظيم نه هم افضل دى. (۲)

(۵) مسئله: كله چې دمدينې منورې سفرشروع كړې نودزيارت نيت سره به د مسجدنبوي شريف دزيارت نيت هم وكړې، مګرشيخ ابن همام رحمة الله عليه فرمايلي دى چې زماپه نزدصرف دزيارت روضه اقدس صلى الله عليه وسلم نيت كول اولى دى اودمسجدنبوي شريف زيارت هم په دې ذيل (ضمن) كې حاصليږي، اوكچيرې حق تعالى دوباره ددې توفيق دركړى نو بيا ددواړو نيت سره سفر وكړى. (۳)

(۶) مسئله: دتمامو اهل سنت والجماعت دعقيده ده چې رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم اونورټول پيغمبران عليهم السلام دوفات څخه وروسته

---

(۱) المجموع ج۸ ص ۲۷۲

(۲) مرقات المصابيح ج۲ ص ۱۹۰الي ۱۳۰

(۳) معلم الحجاج ص ۳۱۴

ژوندي دي، اوپه عبادت کي مشغول دی، ددوی ژندګي د شهداء دژندګې نه هم اعلی اوارفع دی.[1]

(۷) مسئله: څوک چې دلرې څخه درودشريف وايې نوالله تعالی ملائيکې مقررې کړيدي چې هغه سلام رسول الله صلی الله عليه وسلم ته رارسوي، اوڅوک چې قبرمبارک صلی الله عليه وسلم ته نږدی اودريږي نو پخپله يې سردارعالم صلی الله عليه وسلم په نفس نفيس سره اوري، نوڅومره خوش قسمته هغه سړی دی چې پخپله هلته حاضرشي بغيردواسطې نه درودشريف نبی کريم صلی الله عليه وسلم ته اوروي اوهغه يې دسلام ځواب ورکوي.[2]

(۸) مسئله: دعاګانو کې په حضراتو انبياءعليهم السلام خصوصًا په فخر کائنات صلی الله عليه وسلم اوصالحينوباندې توسل ددوی په ژندګې کی او ددوی وفات نه وروسته روايةً اودرايةً ثابت اومستحسن دی.[3] دتوسل معنی داچې ياالله په برکت دخپلو صالحو بندګانو زماحاجت پوره کړی .

---

(۱) فتح الباري ج۷ ص ۲۲ مصر،وزرقاني شرح مواهب ج۵ ص ۳۳۲ وفاء الوفاء ج۲ص۴۰۵ و نيل الاوطارص ج۳ ص۲۶۴ وفتح الملهم ص۴۱۹ وعمدة العاري ج۷ص ۶۰۰ طبع مصربحواله تسكين الصدور

(۲)نسائي ج۱ص ۱۴۳ ومسنداحمد ج۱ص۴۴۱ وابن شيبه ج۲ ص۵۱۷ طبع مجلس علمي ودارمي ص۳۷۲ ومشکوة ص۱۸۶ ولجامع الصغير ج۱ص ۹۳ وخصايص الکبري ج۱ص ۲۸۰ ومرقات ج۲ص ۱۰ وابن ماجه ۱۱۹ وامام غيرمقلد قاضي شوکاني في نيل الاوطار ج۲ ص۲۶۲.

(۳) نشرالطب ص ۲۵۳لعلامه تهانوی، وبريقة محمودية ج۱ص۲۷۰، ونقش حيات ج۱ ص ۱۰۴ وفيض الباري ج۴ ص۶۸ ، وفتح الباري ج۳ ص ۱۵۱، وطبقات السبکي ج۲ص۶۹ طبع مصر، وروح المعاني ج ۶ص۱۲۷، وصحيح البخاري ج۱ص۱۳۷،و شرح فقه اکبرص۱۶۰، وفتاوي دارالعلوم ديوبند ۵ج ص۴۳۱ بحواله تسکين الصدورطبع ديوبند

(۹) مسئله: دمدینې منورې په لاره ډیردرودشریف لوستل بلکې فرائضو اوضرورریاتوڅخه پرته ټول وخت بایددرودشریف کې مصرف کړی شي، او بایدښه شوق اوذوق پیداکړی چې په اظهارمحبت کې کوم کمی پرې نږدي ،اوکه دصورت پیداشي خوډیرښه دی ورنه په تکلیف سره دی داحالت پیدا کړی اودعاشقانوصورت به جوړکړی (من تشبه بقوم فهومنهم).یعني کوم شخص چې کوم قوم سره مشابهت پیداکړي هغه په هغه قوم کې حسابیږي[۱] باقې ددی مسئله توضیح انشاء الله تعالی په ادابوکې راځي .

(۱۰)مسئله:مسجدنبوي شریف ته په باب السلام یاپه باب جبرئیل داخلیدل مستحب دي،لیکن کچیرې ازدحام دوجې نه بل ته دتکلیف رسولویاپه خپله په تکلیف کې دغورځیدوخطره وي، نوبیا پدې دروازې داخلیدل منعه دي بلکه په نورودروازوباندې به داخلیږي.[۲] چې کله مسجدشریف ته داخل شي نولومړی به باقاعده تحیة المسجدوکړي، اوبیابه موجه شریفې ته ورشي اوصلوة اوسلام به ووایې په پیغمبر صلی الله علیه وسلم باندې، بیابه یوشرعې ګز ښه (راسته) طرفته شي اوپه حضرت ابوبکر صدیق رضي الله تعالی عنه به سلام ووایې، بیابه یوشرعې ګز ښه (راسته) طرفته شي اوپه حضرت عمرفاروق رضي الله تعالی عنه به سلام ووایې،البته ورته سجده کول، دزمکه ښکلول او بې ادبي کول ناجائزدي.[۳]

(۱۱) مسئله: په مسجدنبوي شریف کې څلوېښت پرله پسې مونځونه کول

---

(۱) معلم الحجاج ص ۳۱۴

(۲) قواعد شرعیه

(۳) شرح لباب ص۲۲بحواله مسائل حج

مستحب دي، كمارواه احمد فى مسنده والطبرا ني فى الاوسط عن انس رضي الله تعالى عنه مرفوعًا " مَنْ صَلّى فِي مَسْجِدِي هذا اَرْبَعِيْنَ صَلَاةً لَايَفُوتُهُ صَلَاةٌ كُتِبَتْ لَهُ بَرَاءَ ةٌ مَن النّار وَنَجَاةٌ مِن الْعَذَابِ وَبَرِئَ مِن النِّفَاقِ" يعني حضرت انس رضي الله تعالى عنه يو روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمائيل: چاچې زماپه جومات کې څلويښت لمونځونه وکړل اويوهم ترينه پاتې نشو، نودهغه لپاره به داليکلى شي چې دې ددوزخ څخه خلاص دى، همدارنګه دنفاق اوعذاب نه هم خلاص دى. (١) البته هغه حديث شريف چاچې امام سره څلويښت لمونځونه تکبير اولى سره وکړل هغه ته خلاصى دعذاب اونفاق نه ليکلي شي هغه عام دي چې په هريومسجد کې وي، اما دغه مذکور حديث شريف مسجد النبوي شريف پوري خاص دى نو په دى کې تحريض (تيزول) دي په څلويښت لمونځونو مسجد نبوي شريف کې چې اتو(٨) ورځوکې تکميل اوپوره کيږي، اوتربيت د تعلق جوړول دي په آينده زمانه کې دمساجدوسره، البته دڅلويښت لمونځونه مطلق ذکردي لهذا فرض واجبات اوسنن مؤکده او قضائي ټول پکې حساب دي ليکن چه په ننه مسجد کې وي، او په جماعت سره ادا کول يي هم شرط ندي بلکه په جماعت سره ادا کول يي دفضائلو څخه دي، اوهمدرازکه دڅلويښت لمونځونه که پخواني مسجد کې ادا کړ ي اوکه دغه نوي مسجد کې يې ادا کړ ي حکم اوفضيلت يي يو دي.

(١) مسند الإمام احمد– مسند أنس بن مالک رضی الله تعالى عنه الجزاء٢٥ص ١٦٩– ترغيب وترهيب منذري ج٢ ص ٢١٥ وقال النذري رواته رواة الصحيح وفي مجمع الزوائد رجاله ثقات

(١٢) مسئله: دزيارت په وخت کې دلمانځه په شان دلاسونوبندولوکې دعلماء کراموا ختلاف دی علامه عبدالحی لکهنوی رحمة الله تعالى عليه په سعايه صـــ ١٦٠ ج٢ کې ددې مسئلې جوازته ترجيح ورکړيدي، ليکن مفتي سعيد احمدصاحب مؤلف معلم الحجاج داليکلي چې اګرکه دځینومشائخو دقول مطابق زيارت نبوي صلى الله عليه وسلم په وخت کې دلاسونوبندول جائزدي، ليکن بهتره دادی چې لاسونه نه بندوي څومره قدرې خشوع وخضوع او اداب چې ممکن وي ضروربه يې کوي،په لاسونوبندولوکې خواول دعلماء ؤ اختلاف دی، اودوهم دعواموعقيدې فاسدکيدلوا نديشنه دي،او بل هغه مؤظفين کسان يي هم لاسونوبندولوته نه پريږدي اوحضوررخرابه وي.

(١٣) مسئله: چاچې روضه اقدس صلى الله عليه وسلم دزيارت طاقت وقدرت وي نوپه هغه باندې زيارت دروضه اقدس صلى الله عليه وسلم ته تلل قريب الى الوجوب دی يعنې حکماًواجب دی، البته کچيرې دکوم قانوني اوشرعي عذرله وجې څخه روضه اقدس صلى الله عليه وسلم زيارت ته نه لاړو نوحج يې کامل اوصحيح دی. (١) والله تعالى اعلم بالصواب.

﴿شلورم بحث: دزيارت اداب اوطريقه﴾

﴿الف:- دزيارت اقدس صلى الله عليه وسلم اداب﴾

(١)- صحيح نيت : محترمو! کله چې دزيارت اراده وکړي نودروضې مبارکې زيارت سره سره دی دمسجدنبوي شريف دزيارت نيت هم وکړي چې پکې څه اشکال واعتراض پاتې نشي، ليکن قطب عالم حضرت

(١) فتاوی حقاليه ج۴ ص٢٨٩

ځکه چي نورالله مرقده په زبدة المناسک کې لیکلي دي چې هرکله يې قصددمدینې منورې وي نو بهتره داده چې نیت ددزیارت دقبرشریف غرض اوددې لپاره دلاړشي چې مصداق ددې حدیث شریف جوړشي، وکړي، یعنې چې په دې حدیث شریف باندي عمل وکړي شي، چې څوک یواځې زمازیارت ته راشي دهغه شفاعت په مابانديې لازم شو.

(۲) - خپل نیت به دالله تعالی درضالپاره خاص کوي دریاء تفاخر،شهرت، وسیروسیاحت، یابل څه دنیاوې غرض څخه به خپل زړه خالي کړي، ورنه نیکې برباده ګناه لازمه مصداق به شي.

(۳) - ملاعلي قاري رحمة الله علیه شرح لباب کې لیکلي دي چې دنیت خالص کولونښه داده چې فرائض اوسنت ترېنه پاتې نشي، ورنه په زیارت کولوسره مشقت اومالي نقصان څخه پرته بل هیڅ هم حاصل نشو، بلکې توبه اوکفاره يې په ذمه شوه، دبنده عاجزمهاجرمدني عفي عنه په نظرسره دسنتو اهتمام هروخت پکاردي خصوصًاپدې سفرکې خوبيې خاص اهتمام اوخیال ساتل ضروري دي اګرچې دسفرپه وجه سره په ځني سنتوکې رعایت راځي، بل دنبي کریم صلی الله علیه وسلم دمعمولاتواودعاداتوتحقیق وکړی، اودهغي داتباع کوشش دی وکړی ځکه چي ددې مبارک سفردشان سره دا زیاته مناسبه دی.

(۴) - پدې سفرکې به درودشریف ډیرپه توجه سره وایې ،اودا درودشریف ډیرویئلو خاص اهتمام به هم کوي، علامه ابن حجررحمة الله علیه شرح مناسک نووې کې لیکلي: چې پدې لاره کې د درودشریف په کثرت سره

ويل افضل دی، نوايا دتلاوت نه به هم افضل وي ياتلاوت به لدينه افضل وي ؟ يابه دواړه برابروي ؟ نودرې صورتونه شول، اودغه شان هرهغه ځای کې چیرته چې ددرودشريف کثرت پکاردی لکه دجمعې شپې وغيره، نوښکاره خبره ده چې دلته ددرودشريف کثرت دتلاوت دکثرت نه افضل دی، ځکه چې داددې وخت وقتې وظيفه ده،اوعلماء کرامو ددې وضاحت کړيدی چې تلاوت مطلقًاافضل دی ليکن چې دکومو خصوصې مواقعولپاره چې کوم خاص اذکارراغلی دی نوبيا هلته دهغو اذکارکول افضل دی.

(۵) – ذوق اوشوق دپيداکولوکوشش دوکړی که هغه په نعتيه اشعاروسره وي،اويادنبي کريم صلى الله عليه وسلم دحالاتوپه تذکيره سره وي،اوچې څومره نږدې کيږي په شوق اومحبت کې دې زياتوالي پيدا کړي،لکه يوسالک فرمايې.

وعده وصل چون شودنزديک

اتش شو ق تيز تر گر د د

يعنې چې کله خبراوعده رانږدې کيږي نودشوق أورنورهم تيزيږي،نودغه حالت عاشقانوته ورمعلوميږي.

(٦) – په لاره کې چې کوم مساجد اوياهغه ځايونه راشي چې هلته نبي کريم صلى الله عليه وسلم يادصحابه کرامورضي الله تعالى عنهم قيام اوياموڼځ کول ثابت اومعلوم وي،نودهغې زيارت دې هم وکړی، لکه بخاري شريف کې دابن عمر رضي الله تعالى عنهم نه د معمول روايت شويدی،نوهلته دی نوافل ذکراوتلاوت وکړی ، همچنان چې کوم کوهيان په لاره کې راشي دهغې اوبه دا دبرکت حاصلولوپه نيت سره وڅکې، انشاء الله قريب به يې

بيان راشي خصوصًاپه دې مواضعوکې مُعَرَّسَ کوم چې ذوالخليفة ته نږدې دې هلته لمونځ کول زيات مناسب دى، چې شوافع دغه لمونځ ته سنت مؤکده وايې، اودځينې علماء کراموڅخه ددغې واجب کيدل نقل کړى شويدى، کمافى شرح مناسک نووي رحمه الله تعالى.

(۷) - کله چې مدينې طيبې ته رانږدې شى نوډيرزيات ذوق شوق کې دې مشغول شي، اودرود شريف دزيات وايې، دسوارلى تيزولوکوشش دې هم وکړي، ځکه چې نبى کريم صلى الله عليه وسلم به کله دسفرنه واپس شواو مدينه منوره ته به رانږدې شونوخپله سوارلى به يې تيزه کړه.

(۸)کله چې دمدينې طيبې ديوالونه ښکاره شي اودهغې معطرخوشبوداره باغونه په نظرراشي ،کوم چې غالبًا دبيرعلى نه وروسته په نظرراځي، نوبهتره داده چې دسوارلى څخه راکوزشي اوپه ژړا اوپښې ابله روان شي لکه يوسالک وايې:

لَوْ جِئْتُكُمْ قَاصِدًا اَسْعَى عَلَى بَصَرِي+ لَمْ اَقْضِ حَقًّا وَاَىُّ الْحَقِّ اَدَيْتُ

يعنې کچيرې زه ستاسوپه خدمت کې دپښوپه ځاى په سترګوسره راغلى وى، بياهم ماحق اداکولى نشو، اوماخواقاستابل کوم حق ادا کړيدى چې مې داادا کړو . نودرودشريف څخه

(۹) - کله چې مدينې پاکې فصيل چارديوارى راشي، نودرودشريف څخه وروسته به ووايې اَللّٰهُمَّ هٰذَا حَرَمُ نَبِيِّکَ فَاجْعَلْهُ لِيْ وِقَايَةً مِّنَ النَّارِ وَاَمَانًا مِّنَ الْعَذَابِ وَسُوْءِ الْحِسَابِ، يعنې اى الله تعالى داستادنبي حرم دى،ماليپاره يې د اورنه دبچ کيدوذريعه جوړکړى،اودعذاب نه دبچ کيدووسيله يې جوړکړي

،اودبدحساب نه دبچ کیدوسبب یي جوړکړی،ددې څخه وروسته به دشهر پاک نه دخیروبرکت حاصلولو دعا وکړي، اودهغې اداب په ځای راوړلو دتوفیق دعا به هم وکړي، اوڅه نامناسب حرکت کې دواقع کیدو دامتحان نه دبچ کیدودعا به وکړي، اوداسي نوري دعاګاني به هم وکړي.

(۱۰) - بهتره داده چې دی مبارک شهرکې داخلیدونه لومړی دغسل وکړي، اوکه لومړی یې ونه کړو نومدینه طیبه کې دداخلیدونه وروسته دمسجد نبوي شریف دداخلیدونه وړاندې دغسل وکړي، اوکه غسل یي ونکړو نواودس خودکم نه کم ضروري وکړي، لیکن غسل کول اولی دې ځکه چې څومره صفا یې اوپاکې زیاته وي هغومره بهتره ده، لدینه وروسته دبهترینې جامې اوکالی واغوندې، اوخوشبوي دولګوي، لکه څنګه چې ددواړواخترونواودجمعې لپاره تیاري کوي، مګردتواضع اوعاجزۍ لحاظ دساتې،اوفخربه هیچیرې نه کوي.

(۱۱) - ځینې علماء کراموددغه وخت کې څه صدقه اوخیرات ورکول غوره ګڼلي دي، لکه ابن حجررحمة الله علیه لیکلي: چې صدقه اهل مدینه ته ورکول سنت ده، البته کچیرې غیرداهل مدینې څخه زیات محتاج وو نو بیاهغوی مقدم دي.

(۱۲) - کله چې په دی مبارک شهرکې داخلیږي نودغه وخت به خصوصې دعاګاني وایې، ډیرپه خشوع اوخضوع سره به داخل شي، تراوسه پورې دنه حاضریدلو بې قرارۍ دی مستحضره کړي، ،اودنیاکې دزیارت نصیب کیدلوآرزواوتمنا دپوره کیدواحساس دی وکړي، څنګه چې

دچا لوی نه لوی دربارکې دحاضرې په وخت کې درُعب اودجلال لوئي الروي، نو هغه څخه زيات مَنْظَرْ دی دلته هم په نظر ولري، دخوږنبي کريم صلی الله تعالی عليه وسلم عظمت اوقدرمنزلت لحاظ دی ساتې، درودشريف دی پرله پسې په ژبه باندې جارې وي.

(١٣) - کله چې په قبه حضراء دنبي کريم صلی الله عليه وسلم دروضې مبارک باندې نظرولګي نودنبي کريم صلی الله عليه وسلم عظمت اوهيبت اولوی شان استحضار دی ځانته وکړي، اوداتصورفکربه کوي چې په دې مبارک موقيت کې هغه پاک شخصيت موجود دی چې دټولومخلوقاتوحتی دعرش کرسي اوکعبې وغيره څخه هم بهتر دی .

(١٤)-پدې مقدس شهرکې داخليدونه وروسته به دټولونه لومړی مسجد نبوي شريف ته ورشي ،کچيرې دزنانه يادسامان سمبالولو وغيره مجبورې نوي، ځکه چې تماموعلماء کراموليکلې: چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم معمول هم په ا حاديثوکې د شانته راغلي دي، چې کله به يې دسفرنه تشريف راوړو نولومړی به مسجد شريف ته ولاړو.

(١٥) - دزنانه ؤلپاره مناسبه داده کچيرې پدی مبارک شهرکې دورځې دداخليدو نوبت راشي نودشپې پورې دې انتظاروکړي، اودشپې په وخت دې جومات شريف ته ورشي، ځکه چې دوی لپاره هرهغه شی مقدم دی کوم چې په پرده کې مددګاروي.

(١٦) - په جومات کې دداخليدوپه وخت دې دهغه ځای دآدابوخيال وساتي لکه چې راسته (ښی) پښه لومړی جمات ته وردننه کول، او جومات

ته دداخلیدلودعا ویل، اوداعتکاف نیت کول، کچیرې په هرجومات کې دداخلیدوپه وخت همیشه داعتکاف نیت کوي نودامفت ثواب دی،نود مناسبه ده چې په هرجومات کې دا خلیږی نوداعتکاف نیت دی کوي .

(۱۷) – بهتره داه چې په مسجدنبوي شریف کې دباب جبرائیل علیه السلام له طرفه داخل شي، ځکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم معمول لدې دروازې څخه دداخلیدوؤ، چې ددې غالبًا وجه داده چې دخپلوبیبیانو کورونه یې دې طرفته زیات وؤ، لیکن ددغې دروازې څخه داخلیدل ضروري ندې بلکه دکومې دروازې څخه چې وغواړی داخل کیدی شي،البته اوس زمانه کې معمول دباب السلام څخه داخلیدل دي.

(۱۸– جومات ته دداخلیدوڅخه وروسته دخشوع خضوع ،اوعاجزې انکساري اوځان ډیرعاجز ګنلواهتمام به کوي، دهغه خوشنما اوزیبا مسجدطرفته به توجه اوسیل نه کوي، بلکې په ډیرآدب اووقارسره به بنکته ګوري، یعني په ډیرادب اواحترم سره به ځي دبې ادبۍ اوکم عقلتوب څه حرکت به نه کوي،ځکه چې دی ډیرلوی دربارته رسیدلی دی هسې نه چې دبې ادبۍ څه حرکت کول دمحروم کیدو،اودنقصان سبب جوړشي.

(۱۹) – جومات کې دداخلیدوڅخه وروسته به دټولونه لومړی ریاض الجنة (چې منبرشریف اوحجري شریفي مینځ کې واقع دی)ورشي،کچیرې دباب بقیع نه په جومات کې دداخلیدونوبت زرراځي نوبیابهتره داده چې حجرې شریفې دزیارت کولونه روستودریاض الجنةته ورشي،ددې لپاره چې دحجري شریفې دمخامخ تیریدوپه صورت کې پرته له سلام کولوڅخه مخکې تیریدل ونه شي.

(۲۰) - روضی مقدسی ته رسیدوسره دې لومړی تحیة المسجدوکړي،په شرح مناسک نووي کې لیکلې: چې حضرت جابررضي الله تعالی عنه فرمایلي دي چې زه دسفرڅخه راغلم دنبي کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شوم، نبي کریم صلی الله علیه وسلم دغه وخت په جومات کې وو، ماڅخه یې پوښتنه وکړه چې تحیة المسجد دې وکړل؟ عرض مې وکړوچې نه، بیایې راته وویل: چې ولاړشه لومړی تحیة المسجدوکړه بیاماته راشی .

(۲۱) - دتحیة المسجد په اول رکعت کې قل یایهاالکفرون سورت اودویم رکعت کې قل هوالله احد سورت لوستل بهتردي، ځکه چې په اولني سورة کې د شرک څخه نفي اوانکاردی، اوپه دوهم رکعت کې دالله تعالی دوحدانیت اوذات اوصفاتو اقراردی .

(۲۲)-علماءکراموليکلي دي چې په روضه شریفه کې دخوړنبي کریم صلی الله علیه وسلم داودریدلوپه ځای دبرکت په نیت سره اودریدل بهتردي، ابن حجررحمة الله علیه په شرح مناسک کې لیکلې دي چې اوس هلته صندوق نشته هغه سوزیدلې دي،اوس دهغې په ځای یومحراب جوړکړی شویدی، داهغه ځای دی کوم ته چې محراب النبي صلی الله علیه وسلم وایې،ټولواکابرو علماو ؤ دغه ځای کې اودریدل اولی ښودلې، پدې وجه ددغې برکتناک ځای اهتمام کول پکاردی، البته کچیرې دڅه وجې څخه دغه ځای ته رسیدل ونه شي، نوبیاپه ټوله روضه شریفه کې چې چیرته یوځای کی تحیة المسجد وکړي نوصحیح دي.

(۲۳) - دتحیة المسجد فارغیدوڅخه ورروسته دالله تعالی په لکهونو شکریه به

اداکړي، چې هغه درته دغه لوی نعمت نصيب کړو،اودحج اوزيارت دقبليدو دعا به وکړي، که خوښه يې وي سجده دشکردوکړي عندالشوافع، که خوښه يې وي دوه رکعته دشکرانې مونځ دې وکړي عندالاحناف.

(۲۴)- کچيرې په جومات کې دداخليدوپه وخت فرض لمونځ کې شريک شي نوپه هغې کې دی دتحيةالمسجدنيت هم وکړي،نودتحيةالمسجد ثواب به هم ورته ورکولي شي، اوهمدارنګه کچيرې په داسې وخت کې جومات ته داخل شي کوم وخت کې چې نفل کول مکروه وي،لکه دمازيګرلمانځه څخه ورروسته نودغه وخت دهم تحية المسجد نه کوي عندالاحناف.

(۲۵) - دلمونځ له فارغيدوڅخه ورروسته به قبرشريف ته ورروان شي، په داسې حال کې چې زړه يې دَهرقسم خيرنوالي، وسوسو،اودنياوي خرفاتو څخه پاک وي، اوهراندام دې نبي کريم صلى الله عليه وسلم ذات مبارک طرف ته په پوره توجه متوجه کړي، ځکه چې کوم زړه ددنيا دزندګې اولهولعب ،شهواتونه، اوخواهشاتو نه ډک وي په هغه زړه باندې دهغه ځای دبرکتونوهيڅ اثرنه کيږي، بلکې دنبي کريم صلى الله عليه وسلم دغصې اواعراض خطره وي، الله تعالى دی په خپل فضل سره ددېنه مونږ اوزائرينوته پناه راکړي، لهذا دزړه خالي کولوپوره کوشش پکاردی، دالله تعالى دعفوی او کرم اميدساتلو، اودنبي کريم صلى الله عليه وسلم په وسيله سره دالله تعالى نه دمعافی طلب کوونکي دی حاضر شي.

(۲٦) – علامه ابن همام رحمه الله تعالى په فتح القدير کې ليکلې: چې زيارت کوونکې دهريو مړې زيارت کوي نودمړې دخپولطرفه دی ورته راځي،

لپاره ددې کچیرې الله تعالی مړې ته دراتلونکې کشف اودښکاره کیدو قوت ورکړي چې په لیدلوکي ورته اسانې وي،ځکه چې کله مړې په قبرکې په ښې اړخ ملاست وي نودهغه نظرقدمونوطرفته وي،کچیرې څوک دسر لطرفه راشي نومړي ته په کتلوکې تکلیف وي، لهذا ددې ضابطي موافق په مواهب کې یې لیکلې دي:چې زیارت کوونکې لپاره مناسبه داده چې دقبلې لطرفه د مواجه شریفه ته حاضرشي، لیکن کچیرې دپښنولطرفه حاضرشي نودآدب په لحاظ سره اولې بهتره ده، مگرځینې علماء کرامودعام ضابطې خلاف پدې ځای باندې دسرلطرفه حاضرې ته ترجیح ورکړیدی، ځکه چې تحیة المسجدریاض الجنة کې وکړي بیادپښنوطرفه مواجه شریف ته راځې نودطواف شکل جوړیږي، حال دا چې طواف کول پرته دبیت الله شریف څخه جائزندی، لهذادلته دسرلطرفه حاضرې اختیارکړلی شوه.

(۲۷) – کله چې په مواجه شریف باندې حاضرشي نودسرله طرفه ددیوال په گوټ کې چې کومه ستن ده دهغې نه ددریوڅلورولاسوپه فاصله باندې به اودریږي، اوشابه قبلې طرفته کړي، اوچپ طرفته به لږمائل شي لپاره ددې چې دده مخ مبارک سره بالکل مخامخ شي (کمافي زبده) اوصاحب داتحاف لیکلې: چې داستنه اوس دپیتلو(زیړو) ددیوال دننه راغلی ده، اوابن حجررحمة الله علیه ویلي دي: چې دسپینوزرومیخ چې کوم کړکی چې دسروزروخول دی هغه دمخ مبارک مقابل کې دی.

(۲۸)–ددیوال نه ددریوڅلوروگزوپه فاصله باندې به اودریږي،لهذاډیرنږدې دی هم نوي چې دآدبو خلاف ده، اونظر به یې ښکته وي یوه خوااوبله خوا

کتل په دغه وخت کي سخته بي ادبي ده، لاس ښکته ږدي او په کراره او وقار سره خوځوي، اوداخیال وفکربه کوي چې دده مخ مبارک داوخت زما مخامخ دی، اوخوږنبي کریم صلی الله علیه وسلم زمادحاضرۍ نه خبردی، اودنبي کریم صلی الله علیه وسلم دلوی شان اودلوړې مرتبې استحضاردی په پوره طورپه زړه کې رولي .

(۲۹) – لدینه وروسته به په نبي صلی الله علیه وسلم باندي صلاة او سلام وواېي، نودمناسکوپه کتابونوکې په مختصرواواوږدو الفاظو،او په مختلفوعنوانونو باندې صلاةوسلام لیکلې شویدي، نومونږبه يې عنقریب ان شاء الله تعالی یوعنوان درته ذکرکړو،خوځینې سلفوحضراتوبه ډیرپه مختصر الفاظو باندي صلاةوسلام وئیلو،نودآدب اودهیبت تقاضاهم داده،اوامام نووي رحمة الله علیه لیکلې دي: چې ابن عمر رضي الله تعالی عنهما وغیره نه ډیر مختصر الفاظ نقل کړې شویدی، اوحضرت ابن عمر رضي الله تعالی عنهما خوبه بس دومره ویل اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَارَسُوْلَ اللهِ السَّلَامُ عَلَيْکَ يَااَبَابَکْرٍاَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَااَبَتَاهُ.

(۳۰) – داډیره ضروري اواهمه خبره ده چې سلام وئیلوپه وخت به شور غوغا بالکل نه کوي، اونه به په زوره چغې وهي، بلکې په دومره آوازبه صلاةوسلام وايې چې دلته وړورسیږي، لکه ملاعلي قاري رحمة الله علیه لیکلي دي: چې نه خوبه په زیات زوره آواز صلاةوسلام وایی اونه بالکل په پټه ،بلکې متوسط (مینځ میانه) آوازسره به صلاةوسلام وايې، اوپه دې حالت کې به دزړه حضور اود خپلوبدوعملونو په وجه سره به دمبارک صلی الله علیه وسلم په حضورکی خیجل شرم کونکي ولاړوي،علامه قسطلاني

رحمة الله علیه په مواهب کې لیکلي: چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره دآدبو هغه معامله پکاردی کومه چې ددمبارک صلی الله علیه وسلم سره په ژوندکې وه،ځکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم په خپل قبرکې ژوندی ده .

(۳۱) - دسلام څخه وروسته به دالله تعالی نه دنبي کریم صلی الله علیه وسلم په وسیلی سره دعا وکړي، اودنبي کریم صلی الله علیه وسلم نه به دشفاعت درخواست وکړي، علامه ابن همام رحمة الله علیه په فتح القدیرکې لیکلې دي اودهغې نه حضرت ګنګوهي قدس سره په زبده کې نقل کړیدی، چې دسلام څخه وروسته دی بیادنبي کریم صلی الله علیه وسلم په وسیله سره دعا وکړي،اوشفاعت دوغواړي،اودالفاظ دی روایي:یَارَسُوْلَ اللهِ اَسْئَلُکَ الشَّفَاعَةَ ،وَاَتَوَسَّلُ بِکَ إِلَی اللهِ فِيِّ أَنْ اَمُوْتَ مُسْلِمًا عَلَی مِلَّتِکَ وَسُنَّتِکَ،ای دالله تعالی رسوله زه له ستانه شفاعت غواړم،اوستاپه وسیله سره دالله تعالی نه غواړم چې زمامرګ دستاپه دین،اوستاپه سنتوباندې وي .

(۳۲)-ددې مضمون نه داهم معلومه شوه چې ددې دعاپه وخت نبي کریم صلی الله علیه وسلم طرفته مخامخ کیدل پکاردی،اګرچې دعاآداب دادی چې مخ بې باید قبلې طرفته وي،لیکن په دغه وخت کی قبلې طرفته مخ کولوسره نبي کریم صلی الله علیه وسلم طرفته شاکیږي چې دغه دادب نه خلاف کارده،نو پدې وجه دغه وخت دهم نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته مخ کړي اودعادی وکړي.

(۳۳) - لدینه وروسته کچیرې بل چا دطرفه دنبي کریم صلی الله علیه وسلم په دربارکې دسلام عرض کولوپشنهاد کړی شوي وي (لکه زه

عاجزبنده ګل الرحمن حقاني بن عبدالرحمن [1] هم ستاڅخه خواست کوم چې زماسلام رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وړاندې کړې، زمادا یوعرض فقط أي زيارت كوونكى ورورہ قبول كړه چا درڅخه هیرنشم واجرک علی الله تعالی) نودهغه لطرفه دهمدارنګې داسې سلام عرض کړی: اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَارَسُوْلَ اللهِ مِنْ فَلَانِ ابْنِ فُلَانٍ يَسْتَشْفَعُ بِکَ إِلَى رَبِّکَ دلومړی فلان په ځای دهغې کس نوم واخلي، ددوهم فلان په ځای ددهغه دپلارنوم واخلي، کچیرې عربي کې ویل مشکل وي نوپه پشتوکې دعرض کړی، چې فلانکی سړی دفلانکي زوی ستاسوپه خدمت کې سلام عرض کوي، اودشفاعت درخواست یې کړیدې، علامه زرقاني رحمة الله علیه لیکلې: چې دا سلام رسول په ستا واجب دی ځکه چې داامانت ستاقبول کړیدي .

(۳۴) – په نبي کریم صلی الله علیه وسلم باندې دسلام ویلوڅخه وروسته تقریبًایولاس راسته (ښي) طرفته به شي په صدیق اکبر رضي الله تعالی عنه باندې به سلام وواېي، دمشهورقول مطابق دحضرت صدیق اکبر رضي الله تعالی عنه قبرمبارک دنبي کریم صلی الله علیه وسلم دقبراطهرروستو په داسې شان سره دې، چې دحضرت صدیق اکبر رضي الله تعالی عنه سرمبارک دنبي کریم صلی الله علیه وسلم داوږې مبارک مقابل دی، په دې وجه یولاس ښي طرفته کیدوسره دحضرت صدیق اکبر رضي الله تعالی عنه ته مخامخ کیږي .

(۳۵) – حضرت صدیق اکبر رضي الله تعالی عنه دسلام څخه فارغیدو وروسته به یولاس ښي (راسته) طرفته شي په حضرت فاروق اعظم رضي الله تعالی عنه

---

(۱) په شمول ددې کتاب کاتب میکائیل بن حاجي نادرخان چې اوقاري مجیب الرحمن بن عبد الرحمن اوفضل الرحمن بن عبدالرحمن دده هم دسلام خواست دی واجرکم علی الله

باندې به سلام ووايي، ځکه چې دمشهورقول موافق دحضرت فاروق اعظم رضي الله تعالى عنه قبرمبارک دحضرت صديق اکبر رضي الله تعالى عنه دقبر مبارک روستوپه داسې شان سره دی، چې دحضرت عمر رضي الله تعالى عنه سر دحضرت ابوبکرصديق رضي الله تعالى عنه داوږې مبارکې مقابل دی .

(۳۶) - ددې دواړوحضراتوپه خدمت کې هم که چادسلام عرض کولو درخواست کړی وي نودهريوپه خدمت کې دخپل سلام وئيلوځخه وروسته ،ددهغه درخواست کوونکی سلام به عرض کړی،زه ګل الرحمن بياهم خپل ناظرين کتاب ځخه خواست کوم چې زماسلام ددواړومبارکانوته ورسوي الله تعالى ددې ښه بدله درکړی آمین.

(۳۷) - ډيروعلماءکراموليکلې دي چې حضرت شيخين رضي الله عنهما باندې دجداجداسلام وئيلوځخه وروسته به بيا هم ددې دواړوحضراتوپه مينځ کې اودريږي، يعني حضرت عمر رضي الله تعالى عنه باندې سلام ځخه وروسته دهغې نه تقريباًنيم شرعي ګزچپ طرفته به اودريږي (دې لپاره چې دواړوپه مينځ کې شي) بيابه په دواړوباندې مشترک په يوځای سلام ووايي چې دهغې الفاظ په زبده کې ليکلي دي :اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمَا يَا ضَجِيْعَيْ رَسُوْلِ الله صلى الله تعالى عليه وسلم وَرَفِيْقَيْهِ وَوَزِيْرَيْهِ جَزَاكُمَا اللهُ اَحْسَنَ الْجَزَاءِ، جِئْنَاكُمَا نَتَوَسَّلُ بِكُمَا إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيَشْفَعَ لَنَا وَيَدْعُوْ لَنَا رَبَّنَا أَنْ يُّحْيِيْنَا عَلَى مِلَّتِهِ وَسُنَّتِهِ وَيَحْشُرَنَا فِيْ زُمْرَتِهِ وَجَمِيْعَ الْمُسْلِمِيْنَ، يعني په تاسو دواړو دسلام وي ای دنبي کريم صلى الله عليه وسلم په اړخ کې ځملاستونکيو،سلام دوي ای دنبي کريم صلى الله

علیه وسلم دواړو ملګریو،تاسو باندې دې سلام وي اى دنبي كريم صلى الله علیه وسلم دواړووزیرانو، تاسوته دالله تعالى زمونږلطرفه بهترینه بدله دستاسودا حسانا تودركړي، مونږتاسوته دې لپاره حاضر شوى يو،چې تاسونه دنبي كريم صلى الله عليه وسلم په دربارکې ددې خبرې سفارش غواړو، چې نبي صلى الله تعالى علیه وسلم زمونږلپاره دالله تعالى په دربارکې شفاعت وكړي، اودالله تعالى نه دادعا وكړي چې هغه مونږه دنبي كريم صلى الله عليه وسلم په دين باندې اودنبي كريم صلى الله عليه وسلم په سنتوباندې ژوندى وساتې، اومونږ اوټولو مسلمانانو حشردخوږنبي كريم صلى الله عليه وسلم په ډله کې وكړي.

(۳۸) – لدينه وروسته دبیاچپ طرفته راشي، بيا دى دوباره خوږنبي صلى الله علیه وسلم ته مخامخ اودريږي، اودالله تعالى ښه ثنااوصفت دوكړي، ددې لوې نعمت اودهغې ټولونعمتونوشكردى اداكړي،بيا دى ښه په ذوق اوشوق سره په نبي صلى الله علیه وسلم باندې درودشريف دوايي، اوبيادوى په وسيله سره دالله تعالى څخه دخپل ځان لپاره دخپل مور اوپلار،استاذانو او مشائخو،او بال بچ اوعيال،خپلو خپلوانواودوستانو اوملاقاتيانو اودهغې خلقو چې دعايې غوښتي وي،اوټولومسلمانانودژوندواومړولپاره به دعاوكړي،اوخپله دعا دى په امين باندې ختم كړي.(كما في شرح لباب)كچيرې مافقير ګل الرحمن په دعاكې يادكړى نوالله تعالى دې درباندې رحم وكړي.

(۳۹) – لدينه وروسته به داسطوانه ابولبابه رضي الله تعالى عنه ته راشي، دوه ركعته نفل لمونځ به وكړي اودعاوى به وكړي. (كما في زبده)

(۴۰) بيابه دوباره رياض الجنة کی نفلی لمونځونه وکړي، اودعا او درود شريف وغيره کې دې په خشوع اوحضوع سره مشغول شي.

(۴۱)لدينه ورروسته به منبرشريف ته راشي دعاوی به وکړي،علماؤ کرامو ليکلي دي چې منبرپه هغه ځای باندې ده لاس کيږدې کوم ته چې رمانه يعنې هغه موټی چې دانارپه شکل دمنبرپه غاړوباندې جوړشوی وه، اودعاوې به وکړي، ځکه چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم به دخطبې په وخت په دې ځای لاس مبارک کيښوده، ليکن ملاعلي قاري رحمة الله ليکلي دي:چې هغه رمانه اوس پاتې شوی نده،کله چې په مسجدنبوي شريف کې په دريم ځل اوررولګيده په هغی کې هغه سوزيدلی دی، په شفا دقاضي عياض اودهغې شرح لعلي القاري کی ليکلي دي:چې حضرت ابن عمررضي الله تعالی عنهماوليدلی شو،چې منبرباندې دنبي صلی الله عليه وسلم دناستې په ځای لاس را ښکلوبيايې خپل لاس په مخ باندې راښکلو.

(۴۲)-لدينه ورروسته به اسطوانه حنانه ته ورشي اودعاوی به وکړي كمافي لباب.

(۴۳) دادې کوشش دکوي چې ددغه ځای په قيام کې دی په مسجدنبوي شريف کې هيڅ يولمونځ د جمعې نه پاته نشي. (فتح القدير) ځکه چې قيام لږ دی او ثواب ډيرزيات دې، اودهم معلومه نده چې بيابه حاضري ورته نصيب شي اوکنه، لهذادمسجدنبوي شريف څخه بهر(خارج) بايد بي ضرورته وخت ضائع نه کړي.

(۴۴)-ددې خيال دې ساتې چې دزيارت په وخت کې دلاسونه په ديوالونو پوري نه لګوي چې دابې آدبي دی، اونه دی ديوالونوپورې ځان پيوست کوي، اونه دې ترينه طواف کوي ،ځکه چې طواف کعبې شريفې پورې

خاص دی، دقبرونه طواف کول حرام دی، اوملاعلي قاري رحمة الله علیه ليکلي: چې دجاهلانو تابعداري دې نه کوي، خواه که هغوی په شکل اوصورة سره بزرګان معلوميږي ، نه دقبرمخکې ټيټکيږي، نه دزمکه ښکلوي، اونه دقبرطرفته لمونځ کی مخ کوي پدې نيت سره چې دغې خواقبردي لمونځ وکړی، کچيرې دقبردتعظيم په لحاظ سره هغې طرفته مخ کړي لمونځ يې نه کيږي، په هغه سره کافرکيږي، البته دحجرې شريفې کوټې شاطرفته چونکه ديوال حائل په منيځ کې موجود دی په دې وجه دقبرشريف ارادې کولو پرته مونځ کول دلته جائزدي. کمافي شرح لباب .

(۴۵) پرته دسخت ضرورت نه زيارت شريف ته دشا هم نه کوي، نه په لمانځه کې اونه پرته دلمانځه نه (کما فی شرح لباب) بلکې په مونځ کې دی په داسې يو ځای کې اودريدلوکوشش وکړي چې نه يې زيارت شريف ته مخ وي، اونه يې شاوي، اوپرته دلمانځه څخه هغې زيارت شريف طرفته شاکولوخوبالکل څه وجه نشي پاتې کيدای.

(۴۶) – ددې لحاظ دې ساتې چې کله هم دزيارت شريف مخامخ تيريدل وي، نوهلته به اودريږي سلام دوکړي، بيابه مخکې ځې، حتی چې علماء ليکلي دي کچيرې دجومات نه بيرون د زيارت شريف په مخ کې تيريږي نوهلته به اودريږي سلام دې و کړي ، بيادمخکې ځي .

(۴۷) – دمدينې منورې په قيام کې دی زيارت شريف ته په کثرت سره دحاضري اهتمام ساتې،امام اعظم امام شافعي امام احمدرحمهم الله تعالی درواړو امامانوپه کثرت سره حاضري خوښ کړيده البته امام مالک رحمة الله

علیه په کثرت سره حاضري نده خوښه کړی، چې ددې وجې علماؤ کرام دافرمايي چې هسې نه چې په بيابياحاضري سره طبيعت کې چرته بې رغبتي پیداشي. (شرح لباب) .

(۴۸) که په مسجدنبوي کې وي نوحجرې شريفي ته، اوکه دمسجدشريف نه بيرون وي نوګنبدشريف ته چې دکوم ځای نه ښکاري باربارهغې ته کتل په هغې باندې نظرمضبوط ساتل هم بهتردی،اوانشاء الله تعالی باعث دثواب دی. (کمافی شرح لباب وشرح مناسک نووی) .ډيرپه ذوق شوق سره چپ چاپ پرې نظرمضبوط ساتې لکه سالک وايې :

وَاَبْرَحُ مَايَکُوْنُ الشَّوْقُ يَوْمًا + اِذَا دَنَتِ الْخِيَامُ اِلَی الْخِيَامِ

دټولونه به زيات شوق په هغه ورځ وي = چې کله دعاشقانوخيمي دمشعوق خيموته نږدې شي يوبل سالک وايې:

سکوت عشق کوترجيح هے اظهارالفت پر

مری ايهی رسانکلين په نالے بے اثرنکليی

يعنې دعشق خاموشی ته بهتروايې = حاصل دی دمحبت په ظاهرولو باندې زماساړه اسويلی رسيدونکې وختل اوژړافريادمې بې اثره وختل.

(۴۹) - دمدينې منورې قيام غنيمت وشماره، نوزيات وخت ذکرفکرمراقبه تلاوت اودرودشريف اواعتکاف کې تيره وه، دشپې زياته حصه ويښ اودسه کې تيره وه،اودسنت مکمله پيروي کوه،چې کوم دزده وي اودنورعلم حاصلو لو کوشش کوه، اوخپل نفس سره محاسبه کوه، اووعده وکړه چې دنبي کريم صلی الله عليه وسلم دسنتواشاعت به کوم، اودبدعاتو مقابله به کوم،

اوخپلې منځې شخړي به په شريعت باندې حل كوم، كفاروسره به جهادكوم، ترڅوچې دشهادت جام نوش كړم، الله تعالى دمونږته په دې ادابوباندې دعمل كولوتوفيق رانصيب كړي. امين يارب العلمين بجاه سيد المرسلين صلى الله عليه وسلم.

﴿ب:- دزيارت اقدس صلى الله عليه وسلم كولوطريقه﴾

محترمو! دپورتني (۴۹) آدابومراعات سره سره چې كله مدينې منورې ته ځي نوپه لاره كې به ډيرډيردرودشريف لولي، اومستحب دادی چې مدينې طيبې ته دننوتوپه وخت كې دې په غسل ياكم ازكم په اوداسه كې داخل شي، اوښې صفاجامې اوكالى به يې اغوستې وي، خوشبويي به يې لګولې وي، خضوع اوتواضع كې به هيڅ كمی نه كوي، اوسامان به دخپلواوسيدو په ځای كې كيږدي،اومسجدنبوي شريف ته به په مسنونه طريقه داخل شي، اوپه رياض الجنة كې به دوه ركعته تحية المسجد لمونځ اداكړي، اوروضې مباركې ته به ولاړشي، اودقبرمبارک ته موجهی شريفی كی به دی درې او ثلورولاسوپه فاصله اودريږې قبلې ته به شاكړي، اوپه عاجزۍ سره به اودريږي زيات نږدې هم نه چې لاس يې په ديوال لګولی وي، نودغه دآدب اوهيبت مقام دی، داخيال به ساتي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ژوندی دی، اومونږويني اومونږته مخامخ ولاړدی، اودابه هم تصوركې راولې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په لحدشريف كې قبله طرفته ملاست دی، زه شرمسارمذنب كوتاهي كوونكې دلته حاضرشوی يم، اوزړه به دټولودنياوي خيالاتوڅخه وزګاركړی، يو طرف او بل طرفته به نه

ګورى بلكه ښكته به ګورى، اوهيڅ دبې ادبې حركت به نه كوي، اوډيرپه ادب سره به اودريږي ډيرپه آدب سره به پرې درود اوسلام ووايې، په چيغو چيغو نه بلكې په قلاره قلاره اودسلام الفاظ دى ټول ياځومره چې كيدى شوه هغه هومره به پيش كړى، ، البته دسلام څه ټاكلې الفاظ نشته مختلفو حضراتومختلف الفاظ ليكلي:چامختصرالفاظ ليكلي چااوږده، اوما عاجزهم دا الفاظ انتخاب كړيدي: اَلسَّلاَمُ عَلَيْکَ اَيُّهَا النَّبِیُّ السَّيِّدُ الْكَرِيْمُ وَالرَّسُوْلُ الْعَظِيْمُ الرَّؤُوْفُ الرَّحِيْمُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُه، الصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ عَلَيْکَ يَا سَيِّدَنَا وَحَبِيْبَنَا وَقُرَّةَ اَعْيُنِنَا يَارَسُوْلَ اللهِ، الصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ عَلَيْکَ يَا حَبِيْبَ اللهِ، الصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ عَلَيْکَ يَا جَمَالَ مُلْکِ اللهِ، الصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ عَلَيْکَ يَا نُوْرَعَرْشِ اللهِ، الصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ عَلَيْکَ يَا خَيْرَ خَلْقِ اللهِ، الصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ عَلَيْکَ يَا شَفِيْعَ الْمُذْنِبِيْنَ، الصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ عَلَيْکَ يَا مَنْ اَرْسَلَهُ اللهُ تَعَالَى رَحْمَةً لِّلْعَالَمِيْنَ وَقَدْ قَالَ اللهُ تَعَالى فِي حَقِّکَ الْعَظِيْمِ "وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُواْ أَنفُسَهُمْ جَآؤُوکَ فَاسْتَغْفَرُواْ اللّهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ لَوَجَدُواْ اللّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا"، اَلصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ عَلَيْکَ يَا سَيِّدِيْ مُحَمَّدُ بْنَ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبْدُ الْمُطَّلِبِ بْنِ هَاشِمِ يَا طه يَايس يَا بَشِيْرُ يَا سِرَاجُ يَا مُنِيْرُ يَا مُقَدَّمُ جَيْشَ الاَنْبِيَاءِ وَالْمُرْسَلِيْنَ، وَهَا اَنَا يَا سَيِّدِيْ يَارَسُوْلَ اللهِ قَدْ جِئْتُکَ هَارِبًا مِنْ ذَنْبِيْ وَمِنْ عَمَلِيْ وَمُسْتَشْفَعًا وَمُسْتَجِيْرًا بِکَ اِلَى رَبِّيْ فَاشْفَعْ لِيْ يَاشَفِيْعَ الْأُمَّةِ يَا سِرَاجَ الظُّلْمَةِ اَجِرْنِيْ بِهِ يَا اللهُ مِنَ النَّارِ يَا نَبِيَّ الرَّحْمَةِ يَارَسُوْلَ اللهِ، اَتَيْنَاکَ زَائِرِيْنَ وَقَصَدْنَاکَ رَاغِبِيْنَ وَعَلَى بَابِکَ الْعَالِيْ وَاقِفِيْنَ وَبِحَقِّکَ عَارِفِيْنَ فَلاَ تَرُدَّنَا خَائِبِيْنَ وَلاَعَنْ بَابِ شَفَاعَتِکَ مَحْرُوْمِيْنَ يَاسَيِّدِيْ يَارَسُوْلَ اللهِ اَسْئَلُکَ الشَّفَاعَةَ

،وَاَسْئَلُکَ اللهَ تَعَالٰی لَکَ الْوَسِيْلَةَ وَالْفَضِيْلَةَ وَالدَّرَجَةَ الرَّفِيْعَةَ وَالْمَقَامَ الْمَحْمُوْدَ وَالْحَوْضَ الْمَوْرُوْدَ وَالشَّفَاعَةَ الْعُظْمٰی فِيْ الْيَوْمِ الْمَشْهُوْدِ، اَشْهَدُ أَنَّکَ يَارَسُوْلَ اللهِ قَدْ بَلَغْتَ الرِّسَالَةَ وَاَدَيْتَ الاَمَانَةَ وَنَصَحْتَ الأُمَّةَ وَکَشَفْتَ الغُمَّةَ وَجَلَيْتَ الظُّلْمَةَ وَجَاهَدْتَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ حَقَّ جِهَادِه وَعَبَدْتَّ رَبَّکَ حَتّٰی اَتَاکَ الْيَقِيْن جَزَاکَ اللهُ تَعَالٰی عَنَّا وَعَنْ وَالِدِيْنَا وَعَنْ اَهْلِ الاسْلَامِ خَيْرَ الْجَزَاءِ، اشْفَعْ لَنَا وَلِوَالِدِيْنَا وَلِجِيْرَانِنَا وَلِمَشَائِخنَا وَلِاَسَاتِذَتِنَا وَلِمَنْ اَوْصَانَا وَقَلَّدَنَا عِنْدَکَ بِدُعَاءِ الْخَيْرِ عِنْدَ الزِّيَارَةِ ،الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْکَ يَا سُلْطَانَ الْاَنْبِيَاءِ وَالْمُرْسَلِيْنَ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَکَاتُهُ.

﴿ج:—حضرت ابوبكرالصديق رضي الله تعالى عنه باندې دسلام كولوطريقه﴾

محترمو! درسول الله صلى الله عليه وسلم دسلام نه روستوبه يونيم ګزقدرې راسته (ښي) طرفته ته شي، په حضرت صديق اكبر رضي الله تعالى عنه باندې به داسې سلام شروع كړي:اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَا سَيِّدَنَا اَبَابَکْرِ الصَّدِيْقِ، اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَا خَلِيْفَةَ رَسُوْلِ اللهِ عَلَی ا لتَّحْقِيْقِ، اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَا صَاحِبَ رَسُوْلِ اللهِ ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْهُمَا فِيْ الْغَارِ، اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَامَنْ اَنْفَقَ مَالَهُ کُلَّه فِيْ حُبِّ اللهِ وَحُبِّ رَسُوْلِه حَتّٰی تَخَلَّلَ بِالْعَبَاءِ رَضِیَ اللهُ عَنْکَ وَاَرْضَاکَ اَحْسَنَ الرِّضَا وَجَعَلَ الْجَنَّةَ مَنْزِلَکَ وَمَسْکَنَکَ وَمَحَلَکَ وَمَأْوَاکَ اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَاأَوَّلَ الْخُلَفَاءِ وَتَاجَ الْعُلَمَاءِ وَصِهْرَ النَّبِيِّ الْمُصْطَفٰی وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَکَاتُه.

﴿د:—حضرت عمرفاروق اعظم رضي الله تعالى عنه باندې دسلام كولوطريقه﴾

محترمو!بيابه نيم ګز راسته(ښي)طرفته شي په فاروق ا عظم رضي الله تعالى عنه به داسې سلام ووايي: اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَا أَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ عُمَرُ ابْنَ الْخَطَّابِ،

اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَا نَاطِقًا بِالْعَدْلِ وَالصَّوَابِ، اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَاسِرَاجَ الْمِحْرَابِ، اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَا مُظْهِرَ دِيْنِ الاِسْلَامِ، اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَامُكَسِّرَ الاَصْنَامِ، اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَا اَبَا الْفُقَرَاءِ وَالضُّعَفَاءِ وَالاَرَامِلِ وَالاَيْتَامِ ، وَاَرْضَاکَ اَحْسَنَ الرِّضَا وَجَعَلَ الْجَنَّةَ مَنْزِلَکَ وَمَسْكَنَکَ وَمَحَلَّکَ وَمَاوَاکَ، اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَاثَانِيَ الْخُلَفَاءِ وَتَاجَ الْفُقَهَاءِ وَصِهْرَ النَّبِيِّ الْمُصْطَفَى وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُه.

﴿هـ :-دواړومباركانو رضي الله تعالى عنهما باندې دسلام كولوطريقه﴾

محترموادديې مقام څخه په فارغيدوبه بيادچپ طرفته لږغوندې وراخواشي، اود دواړوخليفګانومباركانوپه منيځ كې به اودريږي،اوپه دغې دواړو مباركانو باندې دې په شريكه سره داسې سلام عرض كړي: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمَا يَا وَزِيْرَيِّ رَسُوْلِ اللهِ صلى الله عليه وسلم ، اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمَا يَا مُعِيْنَيِّ رَسُوْلِ اللهِ صلى الله عليه وسلم ، اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمَا يَا ضَجِيْعَيِّ رَسُوْلِ اللهِ صلى الله عليه وسلم جَزَاكُمَا اللهُ اَحْسَنَ الْجَزَاءِ،جِئْنَاكُمَا نَتَوَسَّلُ بِكُمَا إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صلى الله تعالى عليه وسلم لِيَشْفَعَ لَنَا وَيَدْعُوْ لَنَا رَبَّنَا أَنْ يُّحْيِيْنَا عَلَى مِلَّتِهِ وَسُنَّتِهِ وَيَحْشُرَنَا فِيْ زُمْرَتِهِ وَجَمِيْعَ الْمُسْلِمِيْنَ آمين.

﴿و:- دوباره رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې دسلام كولوطريقه﴾

محترمو! لدينه وروسته به دوباره درسول الله صلى الله عليه وسلم دچهرې مباركې سره مقابل مخامخ اودريږي،دالله تعالى حمدوثنابه ووايې،درود شريف به ولولي،په توسل سره به دعااودشفاعت درخواست وكړي،اولاسونه به راپورته كړي، خپل ځان اووالدينو باقي عزيزانو بزرګانو دوستانو اوټولو مسلمانانوته به دعاوكړي، بهتر ده چې سلام نه وروسته دا ووايې: يَارَسُوْلَ

الله قَدْ قَالَ اللهُ سُبْحَانَهُ "وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُواْ أَنفُسَهُمْ جَآؤُوكَ فَاسْتَغْفَرُواْ اللّهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ لَوَجَدُواْ اللّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا"فَجِئْنَاظَالِمِينَ اَنْفُسَنَامُسْتَغْفِرِيْنَ لِذُنُوْبِنَا وَتَائِبِيْنَ إِلَى رَبِّنَا وَقَدْ سَمَّاكَ اللهُ تَعَالَى بِالرَّؤُوْفِ الرَّحِيْمِ فَاشْفَعْ لَنَا رَبَّنَا وَاسْئَلْنَا اَنْ يُمِيْتَنَا عَلَى مِلَّتِكَ وَسُنَّتِكَ وَاَنْ يَّحْشُرَنَا فِيْ زُمْرَتِكَ.

نو لدینه وروسته به دخپلې خوښې دعاګانې به په اخلاص سره وکړي، ما عاجز بیکسه ناظرینودمعراج الحجاج ته خواست دی چې خپلودعاګانو کې ماهم درسره شریک کړی، جزاکم الله تعالی خیرًا، چې کله دهغه مقام نه راوځي نواسطونه ابولبابه رضي الله تعالی عنه ته به راشي که وخت مکروه نوي دوه رکعته لمونځ به وکړي، اوبیابه په منبرشریف باندي لاس کیږدی دعااودرودشریف به ولولي، بیابه داسطوانه حنانه خواته راشي، اوهمچنان باقې ستنو خواته به راشي دعااواستغفاربه وکړي، اوتلاوت اوذکر به په کثرت سره کوی،اوصلوة اوسلام به وایې ،اوشپې به روڼه وي، اوپه مسجد نبوي شریف کې به مونځونه کوي، داوخت زیات غنیمت او فرصت وشماري، نور دمسجدنبوي شریف مکمل تاریخ مخکې ذکرشو فلانعیده لخوف التطویل. والله تعالی اعلم بالصواب. اللهم اغفرللمؤلف ولکاتبه ولمن سعي فیه ولجیمع امة حبیبک سیدالوري صلی الله علیه وسلم .

﴿ب:– د مقد سه مقابرو دزیارت کولوشرعی طریقه﴾

محترمو! علماءکرامو لیکلي: چې داهل بقیع اونورمشاهدومقاماتو مقدسو اودرسول اکرم صلی الله علیه وسلم مساجدواوکوهیانو زیارت کول مستحب دی، اوشرح لباب کې یې لیکلي دي چې زیارت کوونکوته روزانه اهل

بقیع ته حاضریدل پکاردی، اودمدینې منورې اوسیدونکوته دجمعې په ورځې حاضریدل پکاردي.

﴿۱﴾ - داهل بقیع دزیارت ترتیب اودسلام کولوطریقه

۱- جنة البقیع مقبري اهمیت:-

محترمو! شاهي مهمان خانه جنة البقیع هغه بي نظیره قبرستان ده، چې دلته داهل بیتوڅخه پرته تقریبًا لس زره صحابه کرام اوپه لکونو اولیاء کرام دفن دي، سبحان الله ددې اینچ اینچ ځای څومره متبرک ده چې چیرته درسول الله صلی الله علیه وسلم زامن، چیرته یې نمسي ،چیرته یې ترونه، چیرته یې بیبیاني ، اوچیرته دجنت شهزادګاني په اسوده خواب ویده دي، اوکوم خوش نصیب ته چې دبقیع خاوره کې تدفین نصیب شي هغه ته دجنت ضمانت ورکولی شي،لکه سیدناابي بن کعب رضي الله تعالی عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: چې کوم سړی زما پدې قبرستان کې دفن شي نوزه به دهغه شفاعت کوم، اودهغه په حق کې به ګواهي ورکوم. (۱) اوام المؤمنین عایشة صدیقه رضي الله تعالی عنها بیان کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه شپه ماسره تشریف فرماؤ،دسحرپه وخت کې بې دجنت البقیع زیارت ته تشریف یوړ،هغه سلام وړالدې کړو،اودعایې وکړه :اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ دَارَ قَوْمٍ مُؤْمِنِيْنَ وَاَتَاكُمْ وَمَا تُوْعَدُوْنَ وَاِنَّا اِنْ شَاءَ اللهُ بِكُمْ لَاحِقُوْنَ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِاَهْلِ بَقِيْعِ الْغَرْقَدْ. (۲)

---

(۱) اخبارمدینه ص ۱۵۱

(۲) مسلم شریف ج۱ ص۳۱۳ ، سنن نسائي ج۱ص ۲۰۶

اونبي الرحمة صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی: چې قیامت په ورځ جنت البقیع څخه اویازره افراد (کسان) اوچتیږي، چې هغوی مخونه به دڅوارلسم سپوږمۍ په شان ځلیږي، اوهغه خوش نصیب به بغیردحساب وکتاب نه جنت ځي. (۳)

امام نووي رحمة الله علیه لیکلي دي چې مستحب داده چې روازنه بقیع ته ورځي خصوصاًدجمعې په ورځ دضرورورځي: اوداحاضري به دنبي کریم صلی الله علیه وسلم دزیارت نه پس وکړي، یعني بیا به دټولواهل بقیع زیارت وکړي، خصوصاًچې دکوموکسانودقبرونوعلامات موجودوي دهغوی زیارت به هم وکړي، لکه حضرت ابراهیم، حضرت عثمان، حضرت عباس، حضرت حسن، حضرت علي بن حسین زین العابدین، حضرت محمدباقربن علي، اود جعفربن محمد وغیرا رضي الله تعالی عنهم اجمعین، اودټولونه په اخیرکې به دنبي کریم صلی الله علیه وسلم ترورحضرت صفیه رضي الله تعالی عنها قبر ته حاضرې وکړي، ځکه چې داهل بقیع دقبرونوفضیلت اوددوی دزیارت په باره کې ډیرپه کثرت سره احادیث راغلي دي، البته شرح لباب کې دا اختلاف هم منقول دی. چې په بقیع کې به شروع دزیارت دکوم ځای څخه وي؟ ځینو دحضرت عثمان رضي الله تعالی عنه څخه ښودلی، اوځینو دحضرت ابراهیم رضي الله تعالی عنها څخه، اوځینو دحضرت عباس رضي الله تعالی عنها څخه ځکه چې بقیع کې دټولو نه لومړی دده مبارک قبرراځي، له دې ځایه بې سلامه مخکې تلل بې ادبي ده،

---

(۳) کنزالعمال ج۱۲ ص ۲۶۲ ،وجمع الفواید ج۱ص ۲۰۲

لهذااولی دادی چې دده مبارک قبرڅخه مرتب زیارت کول شروع شي، اوهمدارنګه دجنت البقیع ددیوال قریب مشرق طرفته دوه مشهور قبرونه دي یودابوسعیدخدري رضي الله تعالی عنه اوبل دحضرت سعدبن معاذ رضي الله تعالی عنه، اودیوقول مطابق دحضرت علي کرم الله وجهه مورحضرت فاطمة بنت اسد رضي الله تعالی عنها هم د لته دفن ده ، اودې جنت البقیع کې دامام مالک اوامام نافع رحمهماالله تعالی قبرونه دامهات المومنین رضي الله تعالی عنهن تر څنګ دی، اوداسې نور،اوپه اخیرکې به سورة فاتحه اوسورة اخلاص ووایې دتمام اهل بقیع ارواحوته به یې ثواب وبښي.

۲- اهل بقیع باندې دسلام کولوطریقه

محترمو! کله چې جنت البقیع مقبري ته داخل شي دغه اجتماعي دعا به ووایې: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُم يَااَهْلَ الدِّيَار،مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُسْلِمِيْنَ، وَإِنَّاإِنْ شَاءَاللهُ بِكُمْ لَاحِقُوْنَ- وَيَرْحَمُ اللهُ الْمُسْتَقْدِمِيْنَ مِنكُمْ وَالْمُسْتَأْخِرِيْنَ- أَسْأَلُ اللهَ لَنَا وَلَكُمْ الْعَافِيَةَ اَللّٰهُمَّ لَاتَحْرِمْنَا اَجْرَهُمْ وَلَاتَفْتِنَّا بَعْدَهُمْ وَاغْفِرْلَنَا وَلَهُمْ.اوبیاد نورلو نه لومړی داهل بیتو چې حضرت عباس، فاطمة الزهراء،حضرت حسن، حضرت علي بن حسین زین العابدین، حضرت محمدباقربن علي، اود جعفر بن محمد وغیرا رضي الله تعالی عنهم اجمعین دي،سلام کول شروع کړي، چې ددوي مبارکانو قبرونه اولاً دلوي دروازې دداخل کیدلونه جنوب طرفته تقریبًا -۲۵- متری باندې راځي، نو دوي ته به داسې سلام ووایې: اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَاسَيِّدَنَا عَبَّاس رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْكَ يَاعَمَّ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ- اَلسَّلَامُ عَلَيْكِ يَاسَيِّدَةُ يَافَاطِمَةَ

الزَّهْرَاءِ اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَاسَيِّدَةَ نِسَاءِ الْعَالَمِيْنَ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ ،- اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَاسَيِّدَنَاحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ كَرَّمَ اللهُ وَجْهَهُ اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَاسَيِّدَاالشَّبَابِ اَهْلِ الْجَنَّةِ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، - اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَاعَلِيُّ بْنُ الْحُسَيْنِ زَيْنَ الْعَابِدِيْنِ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ ،-اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَاسَيِّدَنَا مُحَمَّدُ نِ الْبَاقِرُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ،- اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَاسَيِّدَنَاجَعْفَرُ الصَّادِقُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ،- اَلسَّلَامُ عَلَيْكُم يَااَهْلَ الْبَيْتِ نَبِيِّنَا وَسَيِّدِنَاصَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، جَزَا كُمُ اللهُ تَعَالَى عَنِّيْ وَعَنْ اُمَّةِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرَالْجَزَاءِ.

۱- محترمو! کله چې بيا دجنت شهزادګاني دنبي کريم صلی الله عليه وسلم لونړو ته راشي چې زينب ،رقيه،اوأُمّ کُلثوم رضي الله تعالی عنهنّ دي ،چې ددوي قبرونه تقريباً -۳۰- متره دلوي دروازی دداخل کيدلونه وروسته واقع دي، نوددوي ته به داسې سلام ووايې: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُنَّ يَابَنَاتَ نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، اَلسَّلَامُ عَلَيْكُنَّ يَابنَاتَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ اَللّٰهُمَّ ارْضَ عَنْهُنَّ وَاَكْرِمْ مَقَامَهُنَّ آمين.

۲- محترمو! کله چې بيا دنبي کريم صلی الله عليه وسلم بيبيانومطهراتو ته راشي چې حضرت عائشة صديقه، حفصة، أم سَلَمة، أم حبيبة، صفيّة، جُويريّة، زينب بنت جحش، زينب بنت خُزَيمة، اوسودة رضي الله تعالی عنهنّ دي ، چې ددوي مبارکانو قبرونه تقريباً -۸- متره وروسته دنبي کريم صلی الله عليه وسلم دلونړو نه واقع دي، نوددوي ته به داسې سلام ووايې: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُنَّ يَااَزْوَاجَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَحْمَةُ

وَبَرَكَاتُهُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُنَّ يَاأُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِينَ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ اَللّٰهُمَّ ارْضَ عَنْهُنَّ وَارْفَعْ دَرَجَتَهُنَّ وَاجْزِلْ ثَوَابَهُنَّ آمين.

۳- محترمو! كله چې بيا دنبي كريم صلى الله عليه وسلم ترو زامنو ته راشي چې ابي سفيان بن الحارث عُقَيل ابن ابي طالب وعبد الله بن جعفرالطيار رضي الله تعالى عنهم دي ، چې ددوي مباركانو قبرونه تقريباً -۵- متره ورروسته دنبي كريم صلى الله عليه وسلم بيبيانومطهراتو نه واقع دي،نوددوي ته به داسې سلام ووايې: اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَاسَيِّدَنَااَبَاسُفْيَانَ بْنَ الْحَارِثِ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَاسَيِّدَنَاعُقَيْلُ بْنُ اَبِي طَالِبٍ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَاسَيِّدَنَا عَبْدَ اللهِ بْنَ جَعْفَرٍذِي الْجَنَاحَيْنِ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَاأَبْنَاءَ عَمِّ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَى مَنْ حَوْلَكُمْ مِنْ اَصْحَابِهِ وَاَتْبَاعِهِ وَأُمَّتِهِ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، اَللّٰهُمَّ ارْضَ عَنْهُمْ وَارْفَعْ دَرَجَتَهُمْ وَاجْزِلْ ثَوَابَهُمْ آمين.

۴ - محترمو! كله چې بيا ددين لويوخدمتګارانوته راشي چې امام مالك اوامام نافع رحمهما الله تعالى دي ، چې ددوي مباركانو قبرونه تقريباً -۱۰- متره دنبي كريم صلى الله عليه وسلم دترو زامنو ورروسته شرق طرفته واقع دي، نوددوي ته به داسې سلام ووايې: اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَاسَيِّدَنَامَالِكُ بْنُ اَنَسٍ اِمَامُ دَارِ الْهِجْرَةِ وَصَاحِبِ الْمَذْهَبِ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ جزاك الله تعالى عَنَّا وَعَنْ اُمَّةِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرَالْجَزَاءِ، اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَاسَيِّدَنَا نَافِعُ مَوْلَى عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ شَيْخَ الْقُرَّاءِ وَشَيْخَ مَالِكٍ اِمَامُ دَارِ الْهِجْرَةِ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ اَللّٰهُمَّ اجْزِلْ ثَوَابَهُ وَاَكْرِمْ نُزُلَهُ.

۵- محترمو! کله چې بیا دنبي کریم صلی الله علیه وسلم مبارک زوی سیدنا ابراهیم رضي الله تعالی عنه اوکبارو صحاب کراموته راشي چې عثمان بن مظعون ،عبد الرحمن بن عوف، سعد بن ابي وقاص عبد الله بن مسعود،حنیس بن حذافة، اواسعد بن زرارة رضي الله تعالی عنهم دي ، چې ددوي مبارکانو قبرونه تقریباً -۲۰- متره دامام مالک اوامام نافع رحمهما الله تعالی ورروسته شرقي طرفته واقع دي، نوددوي ته به داسې سلام ووايې: اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَاسَيِّدَنَاابْرَاهِيْمُ بْنُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَاسَيِّدَنَاعُثْمَانُ بْنُ مَظْعُوْنٍ اَخِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ الرَّضَاعِ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَاسَيِّدَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ صَاحِبَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاَحَدَ الْعَشْرَةِ الْمُبَشَّرَةِ بِالْجَنَّةِ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ ، اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَاسَيِّدَنَاسَعْدُ بْنُ اَبِيْ وَقَّاصٍ صَاحِبَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاَحَدَ الْعَشْرَةِ الْمُبَشَّرَةِ بِالْجَنَّةِ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَاسَيِّدَنَاعَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْعُوْدٍ صَاحِبَ سِرِّ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسِوَاكِه وَنَعْلَيْهِ وَطُهُوْرِهِ فِي السَّفَرِ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَاسَيِّدَنَاخُنَيْسُ بْنُ حُذَافَةَ صَاحِبَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَاسَيِّدَنَااَسْعَدُ بْنُ زُرَارَةَ صَاحِبَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَااَصْحَابَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، اَللّٰهُمَّ ارْضَ عَنْهُم وَارْفَعْ دَرَجَتَهُمْ وَاَجْزِلْ ثَوَابَهُمْ آمين.

۶- محترمو! کله چې بیا شهداءالحرة رضي الله تعالی عنهم ته راشي چې

ددوي مبارکانو قبرونه تقريباً -۷۵- متره دعثمان بن مظعون رضي الله تعالى نه ورروسته شرقي طرفته واقع دي،اويواوږد ديوال تقريبًا يو ميترلوړ تري چاپيره دی،اودوي دمديني منوري نه په دفاع کی ديزيد په زمانه کي شهيدان شوي ور، نودوي ته به داسې سلام ووايې: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَاشُهَدَاءُ الْحَرَّةِ بِالْتَقيَاءِ يَانُجَبَاءُ يَاسُعَدَاءُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتَهُ وَجَزَاكُمُ اللهُ تَعَالى عَنِّيْ وَعَنِ الْاِسْلَامِ خَيْرَ الْجَزَاءِآمِيْن .

۷- محترمو! کله چې بيا حضرت عثمان ذي النورين رضي الله تعالى عنه ته راشي چې دده مبارک قبر تقريباً -۱۳۵- متره د شهداءالحرة رضي الله تعالى عنهم نه ورروسته شرقي طرفته واقع دي، نوده مبارک ته به داسې سلام ووايې: اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَا اِمَامَ الْمُسْلِمِيْنَ، اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَا ثَالِثَ خُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ، اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَا ذَا لنُّوْرَيْنَ، اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَا مُجَهِّزَ جَيْشِ الْعُسْرَةِ بِالنَّقْدِ وَالْعَيْنِ، اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَا صَاحِبَ الْهِجْرَتَيْنِ، اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَا جَامِعَ الْقُرْآنِ بَيْنَ الدَّفَتَيْنِ، اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَا صَبُوْرًا عَلَى الْاَكْدَارِ، اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَاشَهِيْدَ الدَّارِ، اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُه، اَللّٰهُمَّ ارْضَ عَنْهُ وَارْفَعْ دَرَجَتَهُ وَاَكْرِمْ مَقَامَهُ وَاجْزِلْ ثَوَابَهُ آمين.

۸- محترمو! کله چې بيا حليمة السعديّة رضي الله تعالى عنها ته راشي چې ددي مبارکي قبر تقريباً -۵۰- متره دحضرت عثمان ذي النورين رضي الله تعالى عنه نه ورروسته شمالي ته طرفته واقع دي،نودی مبارکی ته به داسې سلام ووايې: اَلسَّلَامُ عَلَيْکِ يَا حَلِيْمَةَالسَّعْدِيَّةَ مُرْضِعَةَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ تَعَالى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُه،وَجَزَاکِ اللهُ تَعَالى عَنِّيْ وَعَنِ الْاِسْلَامِ خَيْرَ الْجَزَاءِآمِيْن.

۹- محترمو! کله چې بیا ابوسعیدخدري رضي الله تعالی عنه اوحضرت سعدبن معاذ رضي الله تعالی عنه ته راشي چې ددوي مبارکانو قبرونه شمالي شرقیه طرف دحلیمة السعدیّة رضي الله تعالی عنها ته واقع دي، اودیوقول مطابق دحضرت علي کرم الله وجهه مورحضرت فاطمة بنت اسد رضي الله تعالی عنها هم دلته دفن دي نودوي ته به داسې سلام ووايې: اَلسَّلَامُ عَلَیْکَ یَااَبَاسَعِیْدِ الْخُدْرِيَّ صَاحِبَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَکَاتُه، اَلسَّلَامُ عَلَیْکَ رَاوِيَّ اَحَادِیْثَ نَبِيِّ اللهِ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَکَاتُه، اَللّٰهُمَّ اجْعَلِ الْجَنَّةَمَحَلَّکَ وَمَأْوٰکَ وَمَثْوَاکَ آمِیْن، اَلسَّلَامُ عَلَیْکَ یَا سَعْدَبْنَ مَعَاذٍ صَاحِبَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَکَاتُه، اَلسَّلَامُ عَلَیْکَ یَامَنْ اهْتَزَّلِمَوْتِهٖ عَرْشُ الرَّحْمٰنِ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَکَاتُهُ، جَزَاکَ اللهُ تَعَالٰی عَنِّيْ وَعَنْ اُمَّةِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَسَلَّمَ خَیْرَالْجَزَاءِ آمِیْن، اَلسَّلَامُ عَلَیْکِ یَاسَیِّدَةُ یَافَاطِمَةَ بِنْتَ اَسَدٍ اُمُّ اَمِیْرِ الْمُؤْمِنِیْنَ عَلِيٍّ کَرَّمَ اللهُ وَجْهَهُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَکَاتُهُ اَللّٰهُمَّ ارْضَ عَنْهَا وَارْفَعْ دَرَجَتَهَا وَاجْزِلْ ثَوَابَهَا آمین.

۱۰-محترمو!کله چې بیاواپسی کی راځي،نوهلته دنبي کریم صلی الله علیه وسلم تروږګاني چې صفیّة اوعاتکة رضي الله تعالی عنهما قبرونه دلوي دروازی دداخل کیدلونه شمال طرفته تقریبًا –۴۰– متری باندي دیوال سره متصل واقع دي نودوي ته به داسې سلام ووايې: اَلسَّلَامُ عَلَیْکِ یَاسَیِّدَةُ صَفِیَّةُ عَمَّةُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَلسَّلَامُ عَلَیْکِ یَااُمَّ الزُّبَیْرِرَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَکَاتُه، اَلسَّلَامُ عَلَیْکِ یَاسَیِّدَةُ عَاتِکَةُ عَمَّةُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَکَاتُهُ اَللّٰهُمَّ اجْزِلْ ثَوَابَهُمَا وَاَکْرِمْ نُزُلَهُمَا آمِیْن. اوهمدراز به حکمی ختم ، سورت یسن، اونوراذکاربه وواي اوثواب به یي ددغه اهل بقیع اونورو اهل الاسلام ته وبښي او په زړه کي به دوايي چې مونږهم لدې جهانه تلونکي اوله تاسوسره یو ی ځاي کیدونکي یو، یعني دغه زیارت کول دعبرت یولوي درس دي.والله تعالی اعلم بالصواب.

رب صل وسلم دا ئماابدًا + علي حبیبک خیرالخلق کلهم

فائده نافعه: محترمو! دجنت البقیع دمزراتونقشه لیکو، چې دمزراتو مبارکوومعلومات ترینه په آساني سره کیدلی شي، نوهغه نقشه دادي:–

قبر فاطمه الزهراء رض

قبر امام حسن رض

قبر علی بن حسین رض

قبر محمد الباقر رض

قبر امام جعفر الصادق رض

عایشة صدیقه رض

صفیه رض

ام حبیبه رض

حفصه رض

سوده رض

قبر عبدالله بن جعفر طیار رض

قبر عقیل رض

سفیان رض

قبر امام مالک بن انس رض

قبر صفیه رض

قبر خنیس بن حذافه رض

قبر عثمان بن مظعون رض

قبر عبدالرحمن بن عوف رض

قبر سعد بن وقاص رض

شهداء الحره رض

قبر دحلیمة السعدیة رض

قبر دسیدنا عثمان رضی الله عنه

قبر سعید الخدری

قبر سعد بن معاذ رض

مشرق

مغرب

﴿۲﴾- اُحد دفدیانواوشهیدانودزیارت کولو ترتیب﴾

۱ - دجبل اُحد مبارک اهمیت:-

محترمو! دمدینې منورې شمال ته تقریبًا ددوه میله په فاصله هغه مقدس غر پروت دی چې دریم-۳- هـ ق کال کې غزوه اُحد ددې په لمن کې واقع شویدی، اومحسن کائنات صلی الله علیه وسلم لدې غرسره قلبي تعلق اوطبعه لګیدله، لکه بخاری شریف کی داحدیث مبارک دی چې نبي کریم صلی الله تعالی علیه وسلم فرمایلې: هَذَاجَبَلٌ يُحِبُّنَاوَنُحِبُّهُ ، یعني ددې غرهٔ موږه خوښ یو، اودی مونږخوښ دی [(۱)] رسول اکرم صلی الله علیه وسلم به شهداء احدزیارت لپاره هرکال تللو،اوپه دې الفاظوبه یې ورته سلام عرض کولو: سَلَامٌ عَلَيْكُمْ بِمَاصَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّار، اودغه طریقه کاردصدیق اکبراوفاروق اعظم اوذوالنورین رضي الله تعالی عنهم هم ؤو،اوکله چې به سیدنا معاویة رضي الله تعالی عنه مدینه باسکینه ته راتللو نودشهداء احد زیارت ته به حاضریدلوپدې طریقه به یې سلام وړاندې کولو: سَلَامٌ عَلَيْكُمْ بِمَاصَبَرْتُمْ فَنِعْمَ اَجْرُالْعَامِلِيْنَ [(۲)]

اوامام غزالي رحمة الله علیه لیکلي دي: چې مستحبه داده چې دهرې پنجشنبې ورځ دشهداء احدزیارت وکړی، چې دسحرلمونځ په مسجد نبوي شریف کې وکړي،اوبیاروان شي دشهداء احدزیارت دی وکړی، خوچې ماسپښین بیرته مسجد نبوي شریف راشي، ځکه چې فرضی لمونځ دمسجد نبوي شریف ترینه فوت(تیر) نشي،اوصاحب اتحاف لیکلي چې دپنجشنبې

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ص ۵۸۵

(۲) وفاءالوفاء ج۲ص ۱۱۲

دورځي خصوصیت شاید پدې وجه وي چې دا واقعه په دغه ورځ کې واقع شویده، اویاپه دې وجه سره چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم دپنجشبې په ورځ دسحرامت لپاره دخیراوبرکت دعا وکړه، اوداسې نور،اوملاعلي قاري رحمة الله علیه لیکلي چې دجبل احد، اوشهداء احد،یعني ددواړو زیارت کولو نیت دی وکړي،ځکه چې دجبل احد فضائل هم احادیثوکې راغلي دي.

۲-اُحد شهیدانوباندې دسلام کولوطریقه

محترمو! څرنګه چې په دې غزوه اُحد کې اویاکسانو صحابه کرامو رضي الله تعالی عنهم دشهادت جام نوش کړیدې، په دوی کې سیدالشهداء حضرت حمزه رضي الله تعالی عنه هم شامل دی، اودسیدالشهداء سره عبدالله بن جحش رضي الله تعالی عنه اومصعب بن عمیر رضي الله تعالی عنه جوخت دفن دی، اودوخت دنزاکت اوددشمن دحملې دخطرې په وجه یویوقبرکې دوه دوه ،اودرې دري شهداء دفن شول، اوامام النجاراوامام مراغی رحمهما الله تعالی لیکلي: چې دزمانې دتغیراتو په وجه سیدناحمزه رضي الله تعالی عنه قبراطهرڅخه پرته دنوروقبرونو اثار ګډوډ شویدي، اواوس ترینه چاپیره دیوال تاؤشویدی. (۱) یوروایت دی چې کله په -۵۹- هـ کې دیوڅوشهداء وقبرونه دنهرکنستلولپاره اوسپړیدلي شول، نودهغوی جسمونه تروتازه ؤو،اوځینې شهیدانوخپل لاسونه په خپلوزخمونوایښي ؤو،اودلاس په پورته کولوبه تازه وینه ترې بهیده،اوچې لاس به دپرینبودونوبیابه هم په هغه زخم باندې لګیده اووینه به اودریده، نودډې

(۱) اخبارمدینه ص ۵۸، ومعالم دار الهجرت ص ۱۳۵

حضراتوزیارت ډیرپه سکون اواطمنان سره بائدوکړی شي، اودپوره پوره آدبو مرعات یې بائد وکړی شي، اوپه دې طریقه به سلام پرې ووایې اَلسَّلَامُ عَلَیْکَ یَا سَیِّدَ الشُّهَدَاءِ وَسَیِّدَ الْاَتْقِیَاءِ وَسَیِّدَنَا حَمْزَةُ عَمُّ نَبِيِّ اللهِ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَاَسَدُ اللهِ وَاَسَدُ رَسُوْلِهِ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَکَاتُهُ، اَلسَّلَامُ عَلَیْکَ یَاسَیِّدَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ جَحْشٍ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَکَاتُهُ،اَلسَّلَامُ عَلَیْکَ یَامُصْعَبُ بْنُ عُمَیْرٍ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَکَاتُهُ، اَلسَّلَامُ عَلَیْکُمْ یَا شُهَدَاءَ اُحُدٍ کَافَّةً وَعَامَّةً وَّرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَکَاتُهُ ،سَلَامٌ عَلَیْکُمْ بِمَاصَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَی الدَّارِ،اَشْهَدُ اَنَّ اللّٰهَ تَعَالٰی اخْتَارَکُمْ لِدِیْنِهِ وَاصْطَفَاکُمْ لِرَسُوْلِهِ، وَاَشْهَدُ اَنَّکُمْ قَدْ جَاهَدْتُّمْ فِي اللهِ حَقَّ جِهَادِهِ، وَاَشْهَدُ اَنَّکُمْ قُتِلْتُمْ عَلَی مِنْهَاجِ رَسُوْلِ اللهِ اَشْهَدُ اَنَّکُمْ لَنَا فَرَطٌ وَنَحْنُ بِکُمْ لَاحِقُوْنَ فَجَزَاکُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْ نَبِیِّهِ وَعَنِ الْاِسْلَامِ وَاَهْلِهِ اَفْضَلَ الْجَزَاءِ اَللّٰهُمَّ ارْضَ عَنْهُمْ وَارْفَعْ لَهُمْ دَرَجَتَهُمْ وَاَکْرِمْ مَقَامَهُمْ وَاجْزِلْ ثَوَابَهُمْ بِمَنِّکَ وَکَرَمِکَ یَا اَکْرَمَ الْاَکْرَمِیْنَ اَللّٰهُمَّ انْفَعْنِي بِزِیَارَتِهِمْ وَثَبِّتْنِي عَلٰی قَصْدِهِمْ وَتَوَفَّنِي عَلٰی مَا تَوَفَّیْتَهُمْ عَلَیْهِ، وَاجْمَعْ بَیْنِي وَبَیْنَهُمْ فِي مُسْتَقَرِّ دَارِ رَحْمَتِکَ، آمین. اوکه موقعه درته مساعده شي نودغزوه بدرمیدان ته هم حاضري وکړه ،چې دشهداءالبدر په زیارت سره هم مشرف شي. والله تعالی اعلم بالصواب.

﴿پنځم بحث:- دمدینې منورې مقدس مساجد﴾

محترمو! په مدینه منوره کې دمسجدنبوي شریف ځخه پرته په دې مقدس شهرکې ډیرمساجدداسې دي چې سیدالمرسلین محبوب رب العلمین صلی الله علیه وسلم خپله پکې لمونځونه کړیدی، یادده صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو رضي الله تعالی عنهم پکې مونځونه کړیدي، نوددې زیارت

هم مستحب دی،البته اوس ډیرمساجدرنګ شویدي،اوډیرآبادهم دي، لکن اوس دنبوي صلی الله تعالی علیه وسلم دزمانی تعمیروپه هیئت باندې کوم مسجد نشته، بلکې ډیرځلي يې تجدید شویدي، چونکه زمکه اوځایونه هغه دي، لدې وجې دغه آثاردبرکت اورحمت څخه خالي ندي، لهذامختصر طورباندې به دناظرینو دفائدې لپاره څو مشهورومساجدو تذکره وکړو-

﴿الف: - مسجد قبا﴾

محترمو! مدینې منورې جنوب مغرب کې دمسجدنبوي شریف څخه تقریبا دوه میله په فاصله باندې مسجدقبا شریف وا قع دی، دظهوراسلام څخه وروسته په تاریخ کې مسجدقبا ته صرف داولیت والي شرف حاصل دی، بلکې فخردوعالم صلی الله علیه وسلم پخپل لاس باندې ددې تعمیرکړیدی، لدینه پرته سرداردوجهان صلی الله علیه وسلم به ددې زیارت لپاره اهتمام سره تشریف وړلو،اوصحابه کرامو رضي الله تعالی عنهم به يې ددې مسجدقبا شریف زیارت ته تشویق کول،چنانچه عبدالله بن عمررضي الله تعالی عنهمابیان کوي: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم يَأتِيْ مَسْجِدَ قُبَاكُلَّ سَبْتٍ مَاشِيًا وَرَاكِبًا، یعنې رسول الله صلی الله علیه وسلم دامعمول ؤوچې دهرې شنبي ورځ به مسجدقبا زیارت لپاره کله سپورکله پیاده راتلو،دلته به يې پکې دوه رکعته لمونځ کولو.(۱)

دنبي کریم صلی الله علیه وسلم په پیروي کې صحابه کرامو رضي الله تعالی عنهم باقاعده سره حصه اخیستله، اودمسجدقباء زیارت څخه فیض یاب ؤ،لکه سیدناعبدالله بن دینار صاحب فرمایي چې سیدناعبدالله بن عمررضي الله

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ص ۵۹

تعالى عنه به دچاشت لمونځ هميشه به قباء كې كولو[١]. اوسيدنا سعد رضي الله تعالى عنه به فرمائل چې مسجدقبا كې دوه ركعته نفل اداكول دبيت المقدس زيارت ځخه ما ته زيات محبوب اوغوره دی. [٢]

يوحديث شريف كې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: اَلصَّلَاةُ فِيْ مَسْجِدِ قُبَا كَعُمْرَةٍ[٣] يعني په مسجدقباكې لمونځ كول ديوعمري برابردی،دحضرت سهل بن حنيف رضي الله تعالى عنه په روايت رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: مَنْ تَطَهَّرَفِیْ بَيْتِهٖ ثُمَّ اَتٰى مَسْجِدَ قُبَاءِ فَيُصَلِّیَ فِيْهِ صَلَاةً كَانَ لَهُ كَأَجْرِعُمْرَةٍ وفى رواية فَيُصَلِّیَ فِيْهِ رَكْعَتَيْنِ كَانَ لَهُ كَأَجْرِعُمْرَةٍ – يعني چاچې پخپل كوركې پاكې حاصله كړه اودس یې وكړ، بيامسجدقبا ته راغلواوهلته یې ځه لمونځ وكړ، نوهغه ته به ديوې عمرې هومره ثواب وركول كيږي ، دحديث شريف احمد نسايي ابن ماجه اوحاكم روايت كړي اوويلی چې اسنادیې صحيح دی. [۴]

دلمانځه ځخه وروسته به دادعاولولي:اَللّٰهُمَّ إِنَّ هٰذِهٖ قُبَّةَ الثَّنَايَا مُصَلّٰى نَبِيِّنَا وَشَفِعنَامُحَمَّدصلى الله عليه وسلم،اَللّٰهُمَّ كَمَابَلَغْتَنَا فِى الدُّنْيَا زِيَارَتَه وَمَاثِرُهُ الشَّرِيْفَةَ فَلَاَ تُحْرِمْنَا يَا اَللّٰهُ فِى الآخِرَةِ مِنْ فَضْلِ شَفَاعَتِهٖ مُحَمَّدٍ صلى الله عليه وسلم آمين ،

همچنان كله چې محبوب كائنات صلى الله عليه وسلم دمكې مكرمې ځخه هجرت وكړ،نوځوارلس ورځې یې قبا كې قيام وكړ.[٥] نوپه دې دوران كې

---

(١) صحيح مسلم ج١ص٤٤٨

(٢) ابن ابي شيبه ج١ص ٣٧٣

(٣) سنن ترمذي ج١ص٧٤

(۴) وسنن الكبري ج۵ ص ۲۴۸ بحواله ترغيب ج۲ص۲۱۷

(۵) صحيح البخاري ج ١ص ٣٦٠

یې داسلام اولنی دوره دمسجدپه تعمیرباندې وفرمائیله، نوپه ابتداء کې چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم بنی عمروبن عوف ریس کلثوم بن عدم په کورکې اوسیدلو، نودسیدناعبدالله بن عباس رضي الله تعالی عنهما دروایت مطابق لمونځ به یې په همدې مقام کې کولو، لدینه وروسته دحضرت کلثوم بن الهدام یوپرته زمکه وه چې هلته دکجوروچ مانړونه ؤو،نودلته یې دمسجد قباجوړولوحکم وفرمائیلونوپه بارګاه احدیت یې قبولیت حاصل کړو،ددې رفعت شان تذکیره قرآن مجیدکې په دې نظم سره شویدی "لَمَسْجِدٌ اُسِّسَ عَلَى التَّقْوَى" الاية یعنې هغه مسجدچې هغه بنیادپه تقوی باندې شویده [1] البته اوس زمانې کې ډیرخوبصورت اودلکش مسجد جوړشویدی، چې مسجدقبادمدینې منوری جنوب مغربي کې ددروکلومیړو په فاصله کې واقع دی، چې پیاده سړی تقریبًاڅلویښتودقیقوکې هلته رسیدلی شي .

﴿ب: — مسجد جمعه﴾

محترمو!کله چې فخرعالم صلی الله علیه وسلم څوارلس ورځوقیام څخه وروسته مدینې طیبې ته سره دسلونفروصحابه کراموروان شو،نوهغه روانګې یې دجمعې په ورځ باندې وه،کله چې قبیله بنوسالم وادې ته ورسیدودجمعې لمونځ یې دلته اداکړو.[2]نوپه دې لحاظ سره مدینه منوره کې اول دجمعی ورځی لمونځ وه،لدینه وروسته په دې ځای باندې مسجدجوړشوچې مسجدالغنیب ،مسجدعاتکه،مسجد الوادي،اومسجدالجمعه باندې مشهورشو،دمسجدقباء نه نیم میل مدینې منورې طرفته دسړک لمرخاته طرف په دوه نیم سوه فته

---

(۱) وفاء الوفاء ج۱ ص۱۸۱
(۲) اخبار مدینه ص۶۸

ژورځای کې واقع دی،یعنې دقباپه لاره جالب مشرق ته واقع دی .

﴿ج: — مسجد غمامه﴾

محترمو! مسجدغمامه دنبي کریم صلی الله علیه وسلم عیدګا وه، یعنې دعیدینو لمونځونه به یې دلته اداکول، نوپه دې وجه ورته مصلي هم ویلی شي، دمسجد نبوي شریف باب السلام جنوب مغربي طرفته تقریبا پنځلس سوه فټه په فاصله باندې دا مسجد واقع دی، رسول انور صلی الله علیه وسلم په ۲هــ ق کال کې لومړی ځلی عیدالفطر اوعید الاضحي لمونځونه دلته اداکړل. [(۱)] دځینې روایاتومطابق رسول الله صلی الله علیه وسلم دلته داستسقاءلمونځ هم اداکړي.

﴿د : — مسجد سیدناابوبکرالصدیق رضي الله تعالی عنه﴾

محترمو!امام زین العابدین مراغي المتوفي ســ۸۱۶هــ رحمه الله تعالی لیکلي: چې مسجدمصلي العید شمال کې قبة عین الازرق ته متصل یو مسجد دی چې اوس وخت کې مسجدابوبکر رضي الله تعالی عنه په نامه یادیږي، ممکن دی چې صدیق اکبر رضي الله تعالی عنه پخپل عهدخلافت کې په دې مقام کې داختر لمونځ اداکړی وي. [(۲)] یعني دا موجوده مسجد کل رقبه۹۵ ، ۲۳۷،مربع میټره، دمسجدغمامه او مسجدابوبکر رضي الله تعالی عنه په مینځ کې صرف یو سړک اورود،فاصله دې،په بهردروازې باندې په یوتیږي(کاڼي)باندي داعبارت لیکلی دی:مسجدسیدناابي ابکرالصدیق رضي الله تعالی عنه اسس ۱۳۵۴هــ ق.

---

(۱) فتح الباري ج۱ص ۴۴۹

(۲) معلم دارالهجرت ص ۱۴۳

﴿هـ :- مسجد سیدنا عمرفاروق رضي الله تعالی عنه﴾

محترمو! مسجدشریف سیدنا عمرفاروق رضي الله تعالی عنه دمسجدغمامه جنوب غربي طرف کې واقع دي اګرچې په دې مقام باندې سیدنا عمرفاروق رضي الله تعالی عنه دعیدلمونځ اداکولوثبوت نشته، لیکن دامعلومه ده چه پدې مقاماتوفخرزمین وزمان صلی الله علیه وسلم وقتا فوقتًا دعیدلمونځ کړیدی، په دې بناء وروسته خلفاء راشدینودلته دعیدونو لمونځونه اداکړي دي اوپه دې باندې دغه مسجدونه جوړ شویدی.

﴿و:- مسجدعلي کرم الله وجهه﴾

محترمو! امام زین الدین مراغي صاحب لیکلي: چې دمسجدابوبکرالصدیق رضي الله تعالی عنه دشمال طرفته دمسجدعلي بن ابی طالب رضي الله تعالی عنه واقع دی،اګرچې په دې مقام باندې سیدناعلي المرتضیرضي الله تعالی عنه دعیدلمونځ اداکولوثبوت نشته،لیکن دامعلومه ده چه پدې مقاماتوفخرزمین وزمانصلی الله علیه وسلم وقتافوقتًادعید لمونځ کړیدی،په دې بناءوروسته خلفاءراشدینودلته دعیدونو لمونځونه اداکړي دي،اوپه دې باندې دغه مسجدونه جوړشویدی.[1]

دمسجد په برون دروازې باندې دالفاظ لیکلي شویدي :مسجدسیدناعلي رضي الله تعالی عنه اُسس ۸۸۱هـ ق

﴿ز:- مسجد مشربه ام ابراهیم رضي الله تعالی عنهما﴾

محترمو! مسجدمشربه ام ابراهیم رضي الله تعالی عنهما دمسجد نبوي شریف مشرقي جانب ته درې کلومیټر په فاصله کې واقع دی، اودیته قریب

---

(۱) معالم دارالهجرت ص ۱۴۳

مشرقي جانب حره زهره دی،یعني په دې مقام باندې ام المؤمنین سیده ماریه قبطیه رضي الله تعالی عنها رهایش اوباغ وؤ،اورسول الله صلی الله علیه وسلم به دلته تشریف راوړلودغه ځای کې به یې لمونځ کولو،چونکه سیده ماریه رضی الله عنهادبطن اطهرنه درسول الله صلی الله علیه وسلم ځوی سیدناابراهیم رضي الله تعالی عنه پیداؤو، لدې وجې څخه ددی مسجد نوم مشربه ام ابراهیم باندې مشهورشو. (۱) یعني دمسجد مشربه ام ابراهیم رضي الله تعالی عنهما دمسجد قریظه څخه شمالي جانب حره شرقیه ته نږدې واقع دی.

﴿ ح: – مسجد قبلتین ﴾

محترمو!دمشهورمورّخ امام سهودی صاحب د تحقیق مطابق دامسجدپه داسې مقام باندې واقع دی، چې هلته قبیله بني سواد بن عتم ابن کعب اوسیږي. (۲) اوامام ابن نجارصاحب وایې: چې دغه مسجد بیررومه یعني بئرعثمان رضي الله تعالی عنه ته قریب واقع دی. (۳) نوداهغه مسجد دی چې د لمانځه په دوران کې دتحویل قبله حکم نازل شو،په دې وجه دوه رکعته لمونځ بیت المقدس اودوه رکعته بیت الله شریف ته اداشو، لهذاپه مسجد قبلتین باندې مشهورشو، لکه امام ابن سعد صاحب وایې چې محبوب کائنات صلی الله علیه وسلم یوځلي قبیله بنوسلمه دیوې ښځې ام بشیربن البراء بن معرورمریض پوښتنه لپاره تشریف وړی ؤو،اوهغوی هلته ورته دخوراک (ډیکاله) انتظامکړی ؤو، اوپه دې مینځ کې دماسپښین وخت راغلوهغه صلی

(۱) المدینه الماضي والحاضر ص۲۲۹،۲۳۸

(۲) وفاء الوفاء ج۲ ص ۴۵

(۳) اخبارمدینه ص ۱۱۵

الله علیه وسلم اوصحابه کرام رضي الله تعالی عنهم سره لمونځ باجماعت اداکولو، نولومړی دوه رکعته لمونځ کي يې بیت المقدس طرفته مخ مبارک ؤو اوادا یې کړل، اوکله چې کعبې شریفې ته دمخ ګرځیدلوحکم راغی، نو فوراً هغه صلی الله علیه وسلم کعبې شریفې ته مخ مبارک راوګرځولو، اوباقیه دوه رکعته لمونځ يې بیت الله شریف طرفته پوره کړو، اوداواقعه دهجرت ١٧ میاشتي وروسته اودرجب په ١٥ددوشنبه په ورځ واقع شویدی. (١)

دادجمهوروعلماء کراموقول دی،ځینې روایاتوموافق دمازدیګرلمونځ کې داواقعه شوی ده،اودمقتدیانو له جملې څخه لسو جنتي یارانو(عَشَرَةُ مُبَشَّرَةُ) د لمونځه په ترځ کې بې له کومې خبرې دده پیروي وکړه اومخونه يې مکې مکرمې ته کړل، اودوي ته دجنت زیری راغی نوځکه دعَشَرَةُ مُبَشَّرَةُ ونومول شول، دهغوي نامونه دادی: ابو بکرصدیق، عمر فاروق، عثمان ذوالنورین،علي مرتضی، سعد، سعید،زبیر،طلحة، ابوعبید اوعبد الرحمن رضي الله تعالی عنهم ،اوس يې محراب شمالي باندې دلومړی قبلې علامات لیکلې دی.

﴿ط:- مسجد ذُوالْحُلَيْفَةِ﴾

محترمو! امام زین الدین مراغی صاحب لیکلي: چې مدینه باسکینه ته څلور یاشپږمیله په فاصله باندې دامسجد ذُوالْحُلَيْفَةِ واقع دی،اوحلیفه تصغیر دالحلفه دی چې واحد دی الحلفاء دی، نن ورځ دامقام په بیرعلي باندې مشهوردی، دمدینې منورې اوسیدونکولپاره دامیقات هم دي. (٢)

---

(١) طبقات ابن سعدجلدثاني عنوان تحویل قبله

(٢) معالم دارالهجرت ص١٥٧

نبي کریم صلی الله علیه وسلم ذوالحلیفه مسجدکې لمونځ کړی،اوس اکثرحجاج په دې ځای کې دحج اوعمرې احرام تړي اودغسل خانو وغیره ضرورویاتو مکمل انتظام پکې موجوددی، چې اوس ډېرخوشنما جومات جوړشوی.

﴿ ي: – مسجد فتح ﴾

محترمو! مسجدفتح جبل سلع غربي حصه باندې واقع دی،او جنوب طرفته نورپنځه واړه مساجد هم دي، چې دحضرت سلمان فارسي رضي الله تعالی عنه او حضرت علي رضي الله تعالی عنه،حضرت عمررضي الله تعالی عنه،حضرت سعدبن معاذ رضي الله تعالی عنه اودحضرت ابوبکر رضي الله تعالی عنه په نومونوباندې یادیږي، چې مساجدفتح ورته وايي، اودیته مسجد اَحزاب او مسجد اَعلٰی هم وايي، په دې مسجدکې ددعاپه برکت الله تعالی مسلمانانو ته فتح ورکړی وه لدې وجې ځکه ورته مسجدفتح وايي، اوداقول هم دی چې په دې مسجد شریف کې سورة فتح نازل شوی. (۱)

په- ۵ سنه هـ ق کې ټولو عربو قبائیلواجتماعي طورباندې په مدینه منوره باندې دحملې پروګرام جوړ کړ،لس زره لبنکریې مدینې منورې طرفته روان کړ،چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم ته خبروشوه،نونبي کریم صلی الله علیه وسلم دخپل تحفظ اودفاع په خاطرانم ذی العقده کې ۵هـ ق کې درې زره قدسې صفاتوصحابه کراموپه ملګرتیاکې راووتلو،اودمدینې منورې درې اطرافوکې دخورماکجهوروباغونوقدرتي طورباندې دشهرپناه کولوکارکولو، خوصرف شمالي طرف خالي وونونبي کریم صلی الله علیه وسلم په دې منطقه کې تقریبًادرې میله اوږدخندق ایستلوحکم نافذکړو،چې داخندق صرف شلوورځو کې تیارشو،لدینه وروسته یومیاشتې پورې محاصره وه،کله چې مسلمانانو باندې سختې انتهایې درجې ته ورسیدله نوتاجدارشاه حرم صلی الله علیه وسلم متواتردرې ورځې مسجدفتح

(۱) وفاء الوفاء ج۲ص ۳۹

کې په نهایت عاجزۍ انکساری اوالحاح سره دعاکوله: چې ای پروردګاره: احزابوته شکست فاش ورکړې، اومسلمانانو په فتح نصرت سره سرخرویې کړه،ددوشنبې سه شنبې چهارشنبې ورځو پورې ددغه دعاسلسله جاره وه، په دریمه ورځ دماسپښین اومازدیګرپه مابین کې مجیب الدعوات دخپل حبیب لبیب ددعاشرف قبولیت وکړو،نبي کریم صلی الله علیه وسلم خوشحاله صحابه کراموخواته راغی،اودفتح زیری یې ورکړ، اودجنګ په دې ورځ دومره سنګین ؤچې کفارودهرجانب څخه دټیرواو غشوګذارونه کول، دسخت تیر اندازۍ له وجې نبي کریم صلی الله علیه وسلم اوصحابه کرامو رضي الله تعالی عنهم داسې په جهادکې مصروف ؤچې دومره لمحه مهلت نه پیداکیدلوچې لمونځ یې کړی وای، لهذاڅلور لمونځونه ترینه قضاشول چې هغوی بیاماسخوتن وخت کې قضایي راوړه . (۱)

اوهمچنان ددې ترڅنګ مساجدوپه ارتباط مختلف روایات دی،خوخلاصه یې داده:چې مسجددسیدنا سلمان فارسي رضي الله تعالی عنه سیدناعلي رضي الله تعالی عنه سیدنا صدیق اکبررضي الله تعالی عنه مساجددصحابه کراموپه زمانه کې موجود ؤ،اوپه دې کې دسرورکائنات صلی الله علیه وسلم لمونځ کول ثابت دي ،البته مسجدعمررضي الله تعالی عنه او مسجدفاطمه رضي الله تعالی عنها.دواړه ۱۳۲۹هـ څخه وروسته جوړشوی دی،دکوم غرض وغایت په خاطرڅکه چې هلته ابادۍ نه وه،ددې حقیقت الله تعالی ته معلوم دی مؤرخین حضرات ددې وضاحت څخه خاموش دی،دامقامات اوس په مساجد خمسه باندې شهرت لري چې جبل سلع غربي کناري جګی باندې واقع دی .

فائده:غارسجده : دجبل سلع په یوکوټ کې یوغاردی، هلته رسول کریم صلی الله علیه وسلم دامت سره دبنه سلوک کولوپه زیری سره دشکریې یوه اوږده سجده وکړه، اوس هم دغه نبنې موندی شي اودیته پیادل تلل دي.

---

(۱) دروایت دبخاري شریف اول جلدیې موجوددی

﴿ک: — مسجد سقیا﴾

محترموا!باب عنبریه چې مدینې منورې څخه مکه مکرمه ته تللولاره باندې چې نږدې یې ریلوې یواستشن هم ده دلته ننه یوه قبه ده چې ورته قبة الروس وايې، اودلته یوکوهي هم ده چې بیرالسقیاء ورته وايې، دمسجد شریف سقیا دلته واقع دی، اودیوروایت مطابق غزوه بدرته تشریف وړلو وخت کې رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې ځای کې دجیش بدرمعائینه وکړه، اودلته یې لمونځ اداکړو، اواهل مدینه ډلپاره یې دبرکت دعاوکړه.

﴿ل: — مسجد بنوحرام﴾

محترموا! چې کله مسجد شریف فتح ته لاړشی، نودجبل سلع یو طرف کې ده مسجد شریف واقع دی رسول الله صلی الله علیه وسلم دلته لمونځ وکړو، اودلته قریب یوغاردی دلته په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې وحې نازله شوه، چې غزوه خندق په ورځوکې به شپې رسول الله صلی الله علیه وسلم دلته ارام کولو، داغارهم زیات باعث دشرف اوسعادت دی.

﴿م: — مسجد ذباب﴾

محترموا! دجبل اُحُد په لاره ثنیة الوداع لاندې جانب کی جبل ذباب دی، نودلته دغه مسجد شریف واقع دی ،چې دیته مسجدرایه هم وايې، یوروایت مطابق غزوه خندق کې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم خپله خیمه دلته اودروله اودلته یې لمونځ اداکړو.

﴿ن: — مسجد الفضیح﴾

محترموا!دعوالي مشرق طرف کې دغه مسجدشریف واقع دی،چې دیهودودیوقبیله بنونضیردمحاصره په وخت کې محسن کاینات اکرم صلی الله علیه وسلم دلته لمونځ کړی دی،اوبنونضیروته یې شکست ورکړیدي،اودلته شپږورځې دیره ؤو،اودیته مسجد شمس هم وايې چې مدینې منورې څخه تقریبًادرې میله جنوب مشرق ته آباددې،

اوپه دې لارکې مشهورمیدان خاک شفاء هم راځي،اوفضیح دخورماکجهورو شرابوته وایې،حضرت ابوایوب انصاري رضي الله تعالی عنه دتحریم څخه مخکې دیوډلې سره شراب نوشي کې مشغول ؤوکله چې تحریم شراب آیت شریف نازل شو،او ده ته خبروشونوفوراًیې دشرابوټول متونه واړول،نولدې وجې ورته مسجدفضیح وایې.

﴿ س:- مسجد بني قریظه ﴾

محترمو! مسجدفضیح نه مشرق جانب ته په لږه فاصله باندې دغه مسجد شریف واقع دی، چې دیهودوقبیله بنوقریظه دمحاصرې په وخت کې محب کاینات صلی الله علیه وسلم به دلته قیام کولو،دحضرت سعدبن معاذرضي الله تعالی عنه دیهودوپه هکله حکم اودافصیله صادره، اوواوررولي شوه

چې نارینه یې قتل کړی،اوماشومان اوښځې یې بندیان کړی .

﴿ ع:- مسجد اجابه ﴾

محترمو! دامسجد شریف دبقیع هدیرې نه یومیل شمال مشرق طرف کې واقع دہ، داهغه جومات دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په کې دلمانځه نه وروسته درې اهمې دعاګاني وکړې، یوه داچې یاالله زماامت په قحط مه وژنه، بله داچې یاالله تعالی زماامت اوبوکې په غرقیدلومه وژنه، اوبله داچې یاالله تعالی زماامت دیوبل سره دوینې بهیدواووژلوڅخه وساتې، نواولی دوه دعاګاني قبولې شوې، دریمه قبوله نشوه.

﴿ ف:- مسجد اُبيّ رضي الله تعالی عنه ﴾

محترمو! بقیع ته نږدې دابي بن کعب رضي الله تعالی عنه کور ؤو، فخر دوعالم صلی الله علیه وسلم به اکثردلته راتلو، اولمونځ به یې کولو.

﴿ ش:- مسجد بنو ظفر ﴾

محترمواد بقیع څخه مشرقي جانب حره واقم په کناري کې دمسجد شریف بنوظفر

یامسجدالبغله واقع دی، اوقبیله بني ظفردلته اوسیدل یوځلې نبي کریم صلی الله علیه وسلم دلته راغلی دی لمونځ یې کړی، اویوصحابي رضي الله تعالی عنه ته یې دقران مجید دتلاوت حکم وکړ،چې کله قاري صاحب"فَکَیْفَ إِذَا جِئْنَا مِن کُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِیدٍ وَجِئْنَا بِکَ عَلَی هَـؤُلاء شَهِیدًا" ته ورسیدونوپه نبي صلی الله علیه وسلم باندې ژړاطارشوه .

فائده:محترمو إخني هغه مساجدچې دمدینې منورې څخه مکې مکرمې ته څې دادي:-

(۱) - مسجد ذی الحلیفه :چې داهل مدینو لپاره داحرام تړلو میقات دی.

(۲) - مسجدالمعرس.

(۳) - مسجد الروحاء صغیروکبیر،اوهلته بئرروحاء هم دی چې اوبه یې دزیاتومرضوشفاء ده .

(۴) - مسجدعرق الظبیة.

(۵) - مسجدالعزالة .

(۶) - مسجدالصفراء.

(۷) - مسجدبدر.

(۸) - مسجدالحجفه چې دغه درې مساجد دي لومړی یې دحجفه په اول ابادي کې دی، اوبل یې په اخیرکې دي، اودریم یې درې میله لرې ده .

(۱۲) - مسجدسیرة .

(۱۳) - مسجدبمرّالظهران اومسجدفتح یې هم بولي .

(۱۴)-مسجدسرف چې اوس په هغه ځای کې قبراوروضه دحضرت میمونه ام المؤمنین رضي الله تعالی عنها چې حالاً دهغه ځای نوم الماریه دي.

(۱۵)-مسجدالتنعیم چې په مسجدعایشه رضي الله تعالی عنهاباندې شهرت لري، اودعمرې احرام تړلومیقات دی،چې ددې مساجدوزیارت کول هم مستحب دی. والله تعالی اعلم بالصواب.

بعض المواقع
التاريخية في المدينة النبوية

المسجد النبوي
مسجد الغمامة
مسجد القبلتين
المساجد السبعة
مسجد عمر بن الخطاب
مسجد الجمعة
مسجد قباء

﴿شپیږم بحث:- آبار(کوهیان) متبرکه﴾

محترمو!امام نووي رحمة الله علیه لیکلي: چې مستحبه دادی چې دمدینې منورې دمتبرکومقاماتوزیارت وکړی شي کوم چې تقریبًادیرش (۳۰) ځایونه دي، اواهل مدینه هغه پیژني، اوهمدارنګه دهغوي نه اووه (۷) کوهیان (څاه) هم راغلي دي، دکوم نه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم اودس یاغسل کړیدی، ځینې علماء کرامولیکلي: چې داولس (۱۷) کوهیان دي،البته مشهوریي دلاندیني دي.

﴿ الف:- بئراریس ﴾

محترمو! بئراریس څاه مسجد قباء ته متصل غربي جانب کې واقع دی، په دې کوهي کې نبي کریم صلی الله علیه وسلم خپلې لاړې مبارکې اچولي دي، او دحضرت عثمان رضي الله تعالی عنه څخه دنبي کریم صلی الله علیه وسلم دنائب مهر خاتم (ګوتمۍ) په دې څاه (کوهي) کې ولویده، اودڅه حکمت الهي په وجه پکې ورکه شوه، ځینې علماء فرمايي چې ددې کوهي اوبه دآب زمزم په څیربرکت اوشرافت لري، چې په هرنیت څوک داوبه وڅکي دهغه لپاره دې، لهذا لدې څاه څخه اودس وکړی اودهغې اوبه وڅکې .

﴿ ب:- بئرعریس ﴾

محترمو! بئرعریس څاه ځاي قربان کې مسجدقباء څخه تقریباڅلورفرلانګه دشمال مشرقي طرف کې واقع دی،چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغه څاه (کوهي) اوبه څښلي دي، اوهم یې لاړې مبارکي پکې توف کړي، اوهم یې داودسه اوبه اودغسل اوبه پکې تویې کړي، اوهم یې وصیت کړیدی چې زماغسل به په دغه اوبوبالدې کوی، نودوصال څخه ورروسته غسل په دغه اوبوبالدې ورکړل شو، اوهم نبي صلی الله تعالی علیه وسلم ددې څاه په برخه کې فرمایلي دي: چې دادجنت دچینودجملې څخه دی.

﴿ ج :- بئربصه ﴾

محترمو! بئربصّه څاه چې دبقیع په تقریب دقباء په لاره دخرماؤپه باغ کې واقع دی، اودلته یوبل کوهی (څاه) هم دی چې یولوی اوبل وړو کې دی، نوښه به داوي چې ددواړوتبرک حاصل کړي،چې نبي صلی الله علیه وسلم ددغه کوهي په او بوخپل مبارک سرمینځلی دی،اودسرمبارک اوبه یې په دی څاه کې اچولی دي.

﴿ د:- بئربضاعه ﴾

محترمو! بئربضاعه څاه دمسجد نبوي شریف دشامی دروازي څخه بهرباغ جمل اللیل کې واقع دی، چې په شرعي ګزسره یې شپږګزه دخولي قطردی، اورسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم یې په اوبوباندي اودس تازه کړیدی، لاړی مبارکې یې پکې اچولي دي، اودبرکت دعایې ورته کړی ده،چې درسول الله صلی الله علیه وسلم په حیات کې به مریضانوپه دغه اوبو غسلونه کول ، اورب العزت جل جلاله به هغوی ته شفاورکوله،اودامشهورکوهی(څاه)دی.

﴿هـ- بئربئرحاء﴾

محترمو! بئرحاء څاه دمسجد نبوي شریف باب مجیدي ته مخامخ فصیل څخه بهردی، چې دلته دحضرت ابوطالحه رضي الله تعالی عنه باغ وو، اورسول مقبول صلی الله علیه وسلم به اکثردلته راتلواوددې څاه اوبه به یې څښلي، نودوقف واقعه خو یې مشهوره ده، اوس وخت کې دلته باغ نشته ،صرف دوه کجوري ولاړي دی، دغه وخت کې کوهي یوګوښه مکان سره دی چې دې سره څه قطعه زمکه خالي ده، البته حالاً دمسجد نبوي شریف توسیع کی داخل شویدي .

﴿ و:- بئررومه ﴾

محترمو!بئررومه څاه دمدینه منورې شمال اوغرب کې وادې عقیق په کناري څنګل کې واقع دی،چې دمدیني منوري څخه تقریبًا درې میله فاصله باندې واقع

دی،نوداڅاه دیهودوؤ،په پیسو(روپیو)به یې اوبه خرڅولې،اومسلمانانو ته داوبو زیات تکلیف وؤ، نونبي کریم صلی الله علیه وسلم صحابه کرامووددې اخستلوته تشویق اوترغیب کړل، پس حضرت عثمان رضي الله تعالی عنه په ۱۲۰۰۰ درهمه نیم واخیست اومسلمانانو ته یې وقف کړو، په نوبت سره به یوه ورځ مسلمانانو اویوه ورځ به یهودواوبه ایستلې،کله چې یهودو ولیدل چې مسلمانان په یوه ورځ کې ددوو ورځو کارترې اخلي، نوډیر پریشان شول حضرت عثمان رضي الله تعالی عنه ته یې درخواست وکړچې بقیه نصیف (نمایي) هم واخله، نوده په اته زره درهمه واخیست، اوټول کوهي یې الله تعالی لپاره وقف کړ.

﴿ ز:- بئرعهن ﴾

محترمو! بئرعهن عوالي کې مسجدقباء څخه مشرق طرفته مسجدشمس ته قریب واقع دی، نودلته هم رسول الله صلی الله علیه وسلم اوبه څښلې دي، دیته بئرالیسیره هم وایي، اوپه دې اوم کوهي کې اختلاف ده چې بیرسقیابئرعهن ،بیرجمل کې کوم یودی،دینه پس صاحب اتحاف دټولوکوهیانومتعلق احادیث ذکرکړیدي،اوصاحب لباب فرمایي: چې دنبي کریم صلی الله علیه وسلم داوبواستعمال چې دکوموکوهیانوڅخه نقل شویدی هغه ټول اولس -۱۷- دې چې هغه ټول مشهورندی، لکه بئرانا: چې اوس موجودندی، بئراعواف، بئرانس، بئرالحضارم، بئرالسقیا، بئرابي ایوب، بئرعروه، بئرزردان چې لبید یهودي په نبي کریم صلی الله علیه وسلم باندې سحر کړي وو، اوبیا یې دلته دفن کړي وو، بئرالقویم، بئرالصّفیه، بئربویطه، بئر فاطمه، اوخصوصًا بئرعلي کرم الله وجهه چې په ذې الخلیفه څای کې واقع دی، نوکه څه هم ددې څاه نسبت حضرت علي کرم الله وجهه ته ثابت ندی، بلکې صرف په همدې نامه مشهورشویدی البته ددې کوهي اوبه رسول الله صلی الله علیه وسلم څښلې دي، چې بیایې مسجدذی الحلیفه ته تشریف

راوړي، چې دلته يې لمونځ هم پکې اداکړي دی، اواحرام يې هم دلته تړلي دی، لهذا دغه متبرکه کوهیانونه به تبرک حاصل کړی. والله تعالی اعلم بالصواب.

﴿اوم بحث: وطن ته دواپسۍ اداب﴾

﴿ الف:- سلام وداع ﴾

محترمو! کله چې سرداردوعالم تاجدارمدينه اقای نامدارصلی الله علیه وسلم دزيارت، اودمشاهداومساجدوودزيارت څخه فارغ شي،اودخپل وطن په لورنيت وکړي، نودااداب به په نظرکې ونيسي:-

۱-دتبرک په نيت به کجوري(خرما)اوځه نوري تحفي اوهديي دخپل اقتصادي طاقت په اندازي دکور،اقاريبو، دوستانو،اودراتلونکوخلقولپاره دشکردنعمت داداکولو،اودصله رحمې دمراعات کولوپه نيت واخلی، بشرط چې شرعي ممنوعات څخه نوي لکه بتان،عکسونه،ريډيوئي وي، ټيپ ريکاډوغيره .

۲- مسجد نبوي شريف کې به دوه رکعته نفل الوداعی (درخصتيدو) وکړي، که په رياض الجنة کې وکړي نوبهتره ده، چې په اول رکعت کې به سورة قل ياايهاالكافرون اودوهم رکعت کې به سورة اخلاص ولولي، اودينه وروسته به مواجه شريفي ته په زيات افسوس اوغم اوفراق درخصتی لپاره ورشي لکه مخکې ادابوکې يي بيان تيرشويدی، اوهم دهغه ترتيب په مراعات کولوسره به سلام وکړئ، دصلوة وسلام څخه وروسته به دخپلو ضرورياتودپاره دعاګانې وکړئ، اودحج اوعمرى اودزيارت قبليدو دعاګانې به وکړي،اوخيروخيرت سره وخپل وطن ته درسيدودعابه وکړي، وائي به : اَلْوِدَاعُ يَارَسُوْلَ اللهِ، اَلْفِرَاقُ يَانَبِيَّ اللهِ، لَاجَعَلَهُ اللهُ تَعَالَى آخِرَ الْعَهْدِ لَامِنكَ، وَلَامِنْ زِيَارَتِكَ، وَلَا مِنَ الْوُقُوْفِ بَيْنَ يَدَيْكَ إِلَّا وَمِنْ خَيْرٍ وَّ عَافِيَةٍ وَّ صِحَّةٍ وَّسَلَامَةٍ وَّ إِنْ عِشْتُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى جِئْتُكَ، وَإِنْ مِتُّ فَاَوْدَعْتُ عَنْكَ شَهَادَتِي وَاَمَانَتِي وَعَهْدِي وَمِيْثَاقِي مِنْ يَوْمِنَا هٰذَا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ

وَهِيَ شَهَادَةُ أَنْ لَاإِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لَاشَرِيْكَ لَه وَاشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ، اَللّٰهُمَّ لَاتَجْعَلْ هٰذَا آخِرَ الْعَهْدِ نَبِيِّكَ وَمَسْجِدِهِ وَحَرَمِه، وَيَسِّرْلِيْ الْعَوْدَ إِلَيْهِ وَالْعُلُوْفَ لَهُ بِهِ، وَرَازُقْنِيْ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، وَرُدَّنَا إِلَى أَهْلِنَا سَالِمِيْنَ غَانِمِيْنَ آمِيْنَ بِرَحْمَتِكَ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ.

نودرخصت کیدو په وخت کې به داوښکوبهیدوکوشش وکړي، چې دادقبولیت دنښوڅخه دي، که ژړا ته ورځي بیادهم دژړیدونکي په شان شکل وصورت جوړ کړي، په افسوس اوخفګان اوعمرکولوسره به بیرته لاړشي، بیابه راروان شي او دادعابه کوي: اَللّٰهُمَّ إِنَّا نَسْئَلُكَ فِيْ سَفَرِنَا هٰذَا اَلْبِرَّ وَالتَّقْوٰى وَمِنَ الْعَمَلِ الصَّالِحِ مَا تَرْضٰى، اودتللوپه وخت کې که څه طاقت يې دصدقې وي هغه دی هم ورکړي، اوبیاچې کله په هرځای راتیریږي په لوړوژوروهاندې راځي تکبیرونه، اوکلمه طیبه،اودامبارک الفاظ به وائي: لَاإِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لَاشَرِيْكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٍ آئِبُوْنَ تَائِبُوْنَ عَابِدُوْنَ سَاجِدُوْنَ لِرَبِّنَا حَامِدُوْنَ صَدَقَ اللهُ وَعْدَهُ وَنَصَرَ عَبْدَهُ وَهَزَمَ الْاَحْزَابَ وَحْدَهُ (١) نوربه دادابولحاظ ساتي ترڅوچې خپل ښاراوطن ته روغ وسلامت د الله تعالی په فضل سره ورسیږي.

٣-کله چې خپل وطن ته راشي،یاخپل وطاق(کوټې)ته راشي دهغې مذکورې دعا په اخرکې به دالفاظ هم ورزیات کړي چې:اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ فِيْهَا قَرَارًا وَّرِزْقًا حَسَنًا،اوهم به خپل کورته دخپل ورتللواحوال ورولیږي،چې داستقبال اود سفرسامان وغیره کې ورسره همکارشي، اوداستقبال کونکي به حاجی صاحب ته وائي چې اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ قَبِلَ اللهُ مِنْكَ نُسُكَكَ وَاَعْظَمَ اَجْرَكَ وَاخْلَفَ نَفَقَتَكَ وَاغْفِرْ ذَنْبَكَ (٢). کله چې يې حاجی صاحب ته دادعاوکړه،

---

١ اخرجه البيهقي والستة إلا النسائي.

٢ - اخرجه الطبرانى فى الاوسط.

بیابه دحاجی صاحب څخه دخپلوحوائجوپوره کولواودګناه ښنبلودعاوغواړي، چې الله تعالی یې معاف کړي، اوټول امت مرحومه لپاره به دعا وکړي .

۴ - که شرائط مساعدوو، نوکورته دتلوڅخه مخکې به محلې په جومات کې دوه رکعته نفل لمونځ وکړي،اودخدای پاک شکربه اداءکړي چې دالوئ نعمت یې ورته نصیب کړ،اوټولوحاضرینواميدلرونکوته به دعاګانې وکړي، که مافقیرګل الرحمن په دعاکې یادکړئ نوالله تعالی دخیرجزاء درکړي.

۵ -بیابه خپل کورکې اول دوه رکعته لمونځ وکړي، اوبیابه دخپلې کورنې مناسباتوپه چاروبوخت شي، که څه دخیراوصدقې طاقت یې وي لکه اوښ یاپسه وغیره نوالله فی الله به یې ذبحه اوحلال کړي، دحج ولیمه به وکړي چې داسنت پرځای کړي،اوچې رسم رواج اوریاڅخه خالي وي. (اخرجه البخاری والبیهقی) اوبیا به دخپلې توبې په ساتلواوټینګولوباندې زیاته پاملرنه کوي، چې دمقبول حج علائم پکې موجود وي، اوتاته ښه معلومه ده چې داعمالوارزښت په القابواشکالوکې نه بلکې په قبلیدوسره دي.

﴿ ب:- دحاجیانواستقبالیه ﴾

محترمو! امام غزالی رحمة الله علیه په احیاء العلوم صفحه ۲۱۶جلد۱- کې لیکلي: چې دسلف صالحینوترتیب داوؤ چې حاجیانواستقبال لپاره به ورتلل، اود دواړو سترګو مینځ کې به یې ښکلول،اودعابه یې ترینه غوښتله، او په ګناهونوباندې دخیرن کیدلوڅخه مخکې به دوي دده استقبالیه ته بیړه کوله ، دابن عمررضی الله عنهما څخه روایت ده چې کله حاجی صاحب سره سترې مشي کوئ، نوسلام اومصافحه به ورسره کوئ مخکې لدې نه چې خپل کورته داخل شي، او ددعاګانوخواست به ترینه کوئ، ځکه چې دهغه ګناه ښخښلې شوي وي. (۱)

---

(۱) قاله العزیزی.

البته مخکې دکورداخلیدوڅخه یې ملاقات کول اولی دی. [(۱)]

اوامام نخعي صاحب فرمائی: چې دابهتره ده ورنه کورته دداخلیدو څخه وروسته هم طلب داستغفارترینه ترلسم دربیع الاول پورې کولی شي،البته بیایې وروسته ترینه نشي طلب کولې، همدارنګه طلب ددعاترینه په ذی الحجه، محرم الحرم، اوصفرالمظفرمیاشتوکي اودځینې ربیع الاول میاشت کي کولې شي. [(۲)] اوصاحب تفسیرعزیزي صفحه ۲۷۹) جلد۱- دې حدیث لاندې چې اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْحُجَّاجِ وَلِمَنْ اسْتَغْفِرَ لَهُ الحَاجُ -فرمائی چې په دې کې دحاجی صاحب څخه تاکید دطلب داستغفاردي ، ددې لپاره چې درسول کریم صلی الله علیه وسلم په دعاکې داخل شي، نوبهتروخت مخکې دداخلیدودکورڅخه دي لکن وروسته دعاغوښتلو کې هم څه حرج نشته، لدې روایت څخه ثابت دي، [(۳)] لهدادذی الحجه ،محرم، صفراولسم دربیع الاول پورې وخت ښودلې شویدی،نوددې روایت څخه دحجاجو استقبالیه،اوددوی څخه ددعاغوښتل ثابت دي،په جوازکې دچا شبه او اختلاف نشته،البته نني عصر کې دحجاجواستقبال اهتمام کولې شي خو دریا فخر اواذیت اوحماقت جهالت رسوم رواجونه پکې ترسره کیدای شي،ځینې مجلسونو کې ناروااسازوسامان دښځوبې حجابې هم داخله وي،خصوصاًحاجی صاحب دضعف طبعی یابیمارې اودکثرت ملاقات په وجه زیات په تکلیف کې ګرفتاروي، اګرچې حاجی صاحب دمروت په وجه اظهارنکوي،لهذا استقبال دحاجیانوباید

---

(۱) رواه احمدمشکوة .

(۲) صفحه جلد۱ ۲۱۸ احیاءالعلوم .

(۳) وفی الحدیث اورده الاصبهانی فی ترغیبه یغفرله بقیة ذی الحجة ومحرم وصفر وعشرمن ربیع الاول موقوفا عن ابن عمررضی الله عنهما قال ابن العمارروه احمد مرفوعاوالبیهقی قال المنادی وکذاالحاکم عن ابی هریرة رضی الله عنه وقال صحیح .

په مسنونه طریقه باندې وکړی شي چې باعث دثواب وګرځي.

﴿ ج:- دحج اداکولوځخه وروسته قابل اهتمام نصائیح ﴾

(١) - حج کې دافتخاراواشتهارځخه ځان ساتل البته که چاپوښتنه (ټپوس) وکړ، یا کوم مصلحت په خاطرې بیان کړنوبیا یې کومه مضایقه نشته، لکن بې فایدې یاپه فخر اوریا په وجه یې بیان کول عظیم جرم ده.

(٢) - دحج تذکیره دهرچاسره کول پکارندي، لهذاخلق په دې وجه په درې قسمه دي، یوهغه چې حج ورباندې فرض وي دهغه په مخکې ترغیبي خبرې دحج جائزبلکې مستحب دي؛ دوهم هغه خلق چې حج ورباندې فرض نوي خودحج کولوطاقت اوګنجائش یې وي، اوحج ته دتللوځه مانع هم ورته نوي، نودهغه په مخکې دحج کولوبیان جائزدی، دریم هغه خلق دي چې حج ورباندې فرض نوي اوحج ته تللوکې ورته هم مانع وي،اومالي استطاعت یې هم نوي، اومشقت باندې دصبراوتحمل قدرت هم نلري، نو دوئ ته دحج بیان اوترغیبي مضامین بیانول چې دحج شوق ترینه پیداکیږي جائزندي، ځکه چې دعدم استطاعت په وجه په پریشانۍ کې مبتلاء کیږي، بلکې په مایوسی اوناجائزو اوموروکې دمبتلاء کیدلوخطره هم وي .

(٣)- دحج دسفرتکالیف به نه بیانوي، ځکه داتکالیف ددی نعمت عظمی په مقابل کې هیڅ ندي، بلکې پدې سره ثواب هم ورکول کیږي، اوبل پدې بیان سره دخلقوهمت اوشوق ماتیږي، چې ددې ایت شریف وعیدلاندې به داخل شي- یَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِیْلِ اللهِ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ-یعني بندوي دالله تعالی دلارې اومسجد حرم ځخه خلق، البته کچیرې کوم عقلمندهوش یارسرې په مخکې دتکالیفو اظهاروکړي چې نوروخلقوباندې یې اثرنه غورځي، چې هغه ددې

تکالیفو دحل انتظام وکړي یعنې دمخنیوي انتظام ، اوصحیح تدبیر ورته جوړکړي نوبیا به پکي کومه مضائقه نشته .

(۴) دحج کولوڅخه وروسته بایدچې حاجي صاحب داعمال صالحه ډزیات اهتمام وکړي، چې هغه ددنیاڅخه بې رغبتي اوداخرت طرفته رغبت دی،او داعمالواواخلاقوبه خاص خیال ساتي،اوپه طاعت اوعبادت کې به بنه سعي اوکوشش کوي،اودمعصیت اواخلاق رزیله څخه به نفرت اواجتناب کوي.

(۵) دکتاب خاتمه په دی دعا کووچې الله تعالی دې موږاوستاسي حجونه مبرور اوګناهونه مغفوروګرځوي.اوالله تعالی دې موږاوستاسي کوشش اوهلې ځلې قبولې کړي، اوهم خپلوکوراولاد واووطن ته روغ رمټ ورسوي،اوالله تعالی دزما دغه سعي اوکوشش دتألیف هم پخپل عظیم دربارکې قبول اومنظورکړي،اوالله تعالي دی راته ددنیا اواخرت دعزت اونجات ذریعه وګرځوي، اودټولوحاجیانو اوعمره کوونکولپاره یې رهنماجوړکړي،اوناظرینوته درخواست دی چې خپلوټولودعاګانو کې موياد کړئ واجرکم علی الله تعالی؛وجزاکم الله تعالی خیرالجزاء ، والله تعالی اعلم وعلمه اتم واحکم والحمدلله علی البدایةوالنهایةتمت بالخیربفضل الله وحسن توفیقه والله الموفق المعین.سنه – ۲۳ ذی الحجه ۱۴۲۳ ھ ق/ ۲۰۰۳م/ یوم الاثنین قبیل العصر/اللهم لک الحمد ولک الشکر اللهم لااحصی ثناء علیک انت کمااثنیت علی نفسک وآخردعواناان الحمدلله رب العالمین والصّلاة والسّلام علی سیدالمرسلین وعلی آله وصحبه واتباعه الی یوم الدین وسبحانک اللهم وبحمدک،أشهد ألا إله إلا أنت،أستغفرک وأتوب إلیک.العبدالمفتقرابوالولی ګل الرحمن حقانی المهاجر مدني غفرله ولوالدیه واحسن الیهما والیه آمین یارب العالمین بجاه سیدالمرسلین صلی الله علیه واله واصحابه اجمعین.

الفاظ ضروريه:

عربی	پشتو	عربی	پشتو
برید	ډاکخانه	ملعقه	څمڅه
کتاب	خط	ابریق سیاره	لوټه،بګنی
ورقه	کاغذ	سکین	چاړه
فراش	بستره	فُلفل	مرچکی
طیاره	هوائي جهاز	بطاطس	آلو
حمال	مزدور	کوفیه	ټوپی
شارع	لاره	خیاط، خیط	ستن،تار
باب	دروازه	کندر	چونه
حبل	رسی	منديل	رومال
مصلی	جانماز	ثلج	واوره
سبحه	تسپی	ماء	اوبه
کُحل	رانجه	سمن	غوړی
تمر	کجوره	بیضه	هګی
ساعت	کهړی"ګنټه	لبن	پی،ماسته
حِناء	نکریزه	شکر	بوره،چینی
خبز	ډوډي	رح	ځه
سوق	بازار	لحم	غوښه
دقیق	اوړه	حلیب	شیدی،پی
ارز	وریژی	شاء	چای
عدس	دال	مؤز	کیله
حبحب	هندوانه	بقر	غوا
تفاح	منه	جمَل	اوښ

رجل	سړی		
حریم	ښځه	فنجان	پیاله
بکر	صبا	الیوم	نن
رسوم	ټیکس	رباط	مسافرخانه
ذراع	گز	واحد	یو
ما هذا؟	داڅه دی	اثنین	دوه
بکم هذا؟	ددی قیمت څه دی	ثلثة	دری
فی	تاسوسره شته	اربعة	څلور
مااسمک	ستاڅه نوم دی	خمسة	پنځه
کم الساعةالآن	اوس څه وخت دی	ستة	شپږ
این تسکن	ته چیرته اوسیږی	سبعة	اوه
کم لبست فی المدینه	په مدینه کی څومره معطل یی	ثمانیة	اته
جمعه	جمعه	تسعة	نُهه
سبت	هفته،خالی	عشر	لس
احد	یکشنبه،اتوار	عشرین	شل
اثنین	دوشنبه،گل	ثلاثین	دیرش
ثلثاء	سه شنبه،نهی	اربعین	څلویښت
اربعاء	چهار شنبه،بدهه	خمسین	پنځوس
خمیس	پنجشنبه،زیارت	ستین	شپیته
المرکب	سوارلی	سبعین	اویا
المصلی	عیدگاه	ثمانین	اتیا
المستشفی	هسپتال	تسعین	نوی
سهل الشرطة	تهانه،عسکری پوسته	مائة	سل
الاضحیة	قربانی	اکتری	په کرایه نیول
الفتور	ناشته	الفاکهة	میوه

دضرورت په وخت کی ان شاءالله تعالی دحج اوعمری په موقعه څه ناڅه استفاده کولی شی(حقانی عفی عنه)

تصنيفات شيخ علامة ابوالحبيب كل الرحمن المهاجرالمدني الحقاني الأريوبي مدّظله العالى.

١= تفسيرالأريوبي المسمى زبدة االتفاسير الجلد الأول، والثالي، والآخر---

٢= معراج العقائد شرح شرح العقائد--------------------------------------

٣= معراج الواعظين پشتو--------------------------------------

٤= معراج الواعظين فارسي--------------------------------------

٥= معراج الاسلام پشتو--------------------------------------

٦= معراج الاسلام فارسي سياست وحكومت --------------------

٧= معراج الاصول شرح حسامي --------------------------

٨= معراج المنطق--------------------------------------

٩= معراج التصوف--------------------------------------

١٠= معراج الحجاج والمعتمرين پشتو--------------------------

١١= معراج الحجاج والمعتمرين فارسي--------------------------

١٢= معراج الحجاج والمعتمرين أردو--------------------------

١٣= معراج الصرف --------------------------------------

١٤= معراج النحو--------------------------------------

١٥= الرسالة الحقانية العالية--------------------------------------

١٦= زبدة المسائل في توضيح مسائل البيوع پشتو ----------------

١٧= زبدة المسائل في توضيح مسائل البيوع فارسي ----------------

١٨= تنويرالمسلمين في حكم تلفيزون پشتو --------------------

١٩= تنويرالمسلمين في حكم تلفيزون فارسي--------------------

٢٠= سيف القهارعلى المستهزئين الكفار پشتو ------------------

٢١= سيف القهارعلى المستهزئين الكفار فارسي------------------

٢٢= دكستاخ رسول په وړالدي دمسلمانانو مسؤليت----------------

٢٣= مرام نامه--------------------------------------

٢٤= ملفوظات--------------------------------------




٢٥= كفاية النحو شرح هداية النحو تحت الطبع--------------------


٢٦=زادالمسافر پشتو=--------------------------------------





٢٧=زادالمسافر فارسي=--------------------------------------

٢٨=زاد المسافر أردو=--------------------------------------




سیاست او حکومت

معراج الواعظين

معراج الاسلام



معراج الواعظين

معراج الاصول

ملفوظات

تنویر المسلمین
اسلام
او
تلویزون

معراج النحو

زبدة المسائل



پښتو
معراج المنطق
الحاج مولوی گل الرحمن حقانی


سيف القهار

زاد المسافر

تنویر المسلمین
اسلام
او
تلویزون

زبدة المسائل